إسلام
او
سياست

تاليف

حضرت مولانا مطيع الله عائل صاحب
(دامت بركاتهم)

خپرونكى:
باختر كتاب فروشى سيټلائټ ټاون
بالمقابل مسجد ختم النبوه
كوئټه

مکتبة الفکر الاسلامی

لصاحبها عائل

سلسله نمبر ۳

إسلام او سیاست

تالیف

حضرت مولانا مطیع اللّٰه عائل صاحب (دامت برکاتهم)

ـ فاضل جامعه فاروقیه کراچی ـ خریج الجامعة الاسلامية مدينه منوره

ـ کتاب می په سرو ستر کو منلی او ډیر شکر گزاریم.

مولانا عبدالعلی دیوبندی صاحب

ـ "د جامعی لپاره یو ستر، نایابه او دوخت ډیر محتاج الیه کتاب"

مولوی شهاب الدین دلاور صاحب

ـ د اسلامی تولنی لپاره یو جامع او صحیح کتاب دی

داکتر مفتی نظام الدین شامزی صاحب

ـ ډیر دقدر ور، ضرورت پوره کونکی کتاب چی تولنی ته مفید او ضروری دی

مفتی عبدالرؤف خان افغانی صاحب

ـ کتاب (اسلام او سیاست) ډیر مفید دی.

مولوی عبدالحکیم الحقانی صاحب

خپرونکی: باختر کتاب فروشی، نوی کوته، مقابل مسجدِ ختم نبوت کوته

د طبع او ترجمې حقوق
د مؤلف سره محفوظ دي

کتاب : .... اسلام او سیاست
تالیف : .... مولوی مطیع الله عائل
اشاعت : .... باختر کتاب فروشی سټلایټ ټاون کوئټه
طبع : .... اوله
تعداد : ۱۰۰۰
کمپوزنګ : .... عائل کمپیوټر فون نمبر ۸۳۲۵۸۳-۰۸۱ کوئټه پاکستان
کمپوزر : .... محب احمد صادق
د چاپ کال : .... ۱۴۲۲ هـ موافق ۲۰۰۱ م

د کتاب د ترلاسه کولو پته

۱- باختر کتاب فروشی سټلایټ ټاون بالمقابل مسجد ختم النبوة کوئټه.

۲- مکتبة حبیبیة کانسی روډ کوئټه.

۳- المکتبة الغفاریة ارګ بازار قندهار.

د موضوعاتو فهرست (لړ لیك)

نمبر	عنوان	صفحة
١-	دسیاست تعریف پېژندنه	٣
٢-	دسیاست أهمیت	٦
٣-	اسلامی سیاست	٩
٤-	دحکومت معنی او مفهوم	١٠
٥-	دمقتدر اعلی خصوصیات	١٣
٦-	داسلامی حکومت ـ أمیر تعین	٢٦
٧-	د أمیر یا خلیفة صفتونه یا معیارونه	٤٧
٨-	مسئله إقتداء دضعیف په قوی پسی	٥٦
٩-	د امام غزالی رح په نزد د أمیر صفتونه	٦٣
١٠-	د انتخاب او بیعت تر مینځ فرق	٦٥
١١-	د مسلمانانو د أمیر وظائف او مسؤلیتونه	٦٩
١٢-	اول د اسلام قانون په مکمل دول نافذ کول	٦٩
١٣-	درهم دجمعی، اخترونو، دجنازی لمونځونه او خطبه ویل ...	٧٥
١٤-	دریم خپلو رعایاؤ ته دحج امکانات برابرول	٨٣
١٥-	څلورم دین لرونکی او أهل مامورین مقرر کول	٨٤
١٦-	پنځم دخپلو مامورینو څارنه کول	٩١

نمبر	عنوان	صفحة
۱۷	شپږم د أمن راوستل	۹۹
۱۸	أووم دعدل قائمول	۱۰۲
۱۹	أتم د قانون حفاظت کول	۱۰۵
۲۰	نهم دتعليم وسائل او زمينه برابرول	۱۰۷
۲۱	لسم دسرحدونو حفاظت	۱۰۹
۲۲	يوولسم دشورئ جوړول	۱۱٤
۲۳	د اسلامی شوری د ارکانو صفات	۱۲۰
۲٤	دولسم دبيت المال جوړول	۱۲۵
۲۵	وأمير ته د زکوة ورکولو حکمت	۱۳۰
۲٦	د اسلامی بيت المال موارد	۱۳٤
۲۷	د زکوة أغراض او مقاصد	۱۳۵
۲۸	اول تزکية النفس	۱۳۵
۲۹	دوهم د الله درضا لپاره به وی	۱۳٦
۳۰	دريم دحلالی کټی څخه به وی	۱۳۷
۳۱	څلورم احسان نه بلل	۱۳۹
۳۲	پنځم دغريبانو کفالت کول	۱٤۱
۳۳	د زکوة شرطونه	۱٤۳

نـمبر	عنوان	صفحة

٣٤- د زكوة قسمونه ١٤٤
٣٥- دوهم دتجارت مالونه ١٤٨
٣٦- دریم حیوانات یا څاروی ١٥٠
٣٧- څلورم کښتونه میوی او دانی ١٥١
٣٨- د عشر مقدار ١٥٦
٣٩- د زکوة مستحقین یا حقداره ١٦٢
٤٠- غنی ته دزکوة ورکولو حکم ١٧٥
٤١- دخراج نصاب او مقدار ١٨١
٤٢- حضرت عمر فاروق رضی الله عنه او خراج ١٨٣
٤٣- خراج او مالیه ١٨٨
٤٤- مالیه او عشر ١٩٣
٤٥- د افغانستان ځمکی خراجی؟ ١٩٦
٤٦- د افغانستان دینی او مذهبی حالات ١٩٦
٤٧- د افغانستان حدود او اداری تشکیل ١٩٧
٤٨- په افغانستان کی دخلفاء راشدینو فتوحات ١٩٩
٤٩- د هرات فتح ١٩٩
٥٠- د سیستان فتح ٢٠٣

نمبر	عنوان	صفحة

٥١- دکابل فتح ٢٠٤
٥٢- د أمویانو ددوری فتوحات ٢٠٥
٥٣- په عباسی دوره کی افغانستان ٢٠٧
٥٤- دخراج یا مالیی دزیاتولو حکم ٢١٠
٥٥- ظالم فاسق امیر ته زکوة، عشر، مالیه، ورکولو حکم .. ٢٢٢
٥٦- راجح، غوره نظر او لاره ٢٣٦
٥٧- د بیت المال دمواردو څخه غنیمت دی ٢٣٩
٥٨- د غنیمت دمصرف ځایونه ٢٤٢
٥٩- د بیت الما دمواردو څخه جزیه ده ٢٤٦
٦٠- د جزیی شرطونه ٢٥٠
٦١- د جزیی دوجوب وقت ٢٥١
٦٢- د بیت المال دمواردو څخه فیء دی ٢٥٢
٦٣- د فیء دمصرف ځایونه ٢٥٣
٦٤- ٦مورد رکاز دی ٢٥٤
٦٥- ٧مورد کراء الأرض ٢٥٥
٦٦- ٨مورد عشور یعنی ګمرکی محصول ٢٥٥
٦٧- د مسلمانانو څخه دګمرکی محصول اخستلو حکم ... ٢٥٨

صفحة	عنوان	نمبر

٦٨- ٩ أموال فاضله ٢٦٦

٦٩- ١٠ مورد أوقاف ٢٦٧

٧٠- ١١ مورد نوائب وضرائب ٢٦٨

٧١- ١٢ مورد بی مالکه مالونه ٢٧٢

٧٢- داسلامی بیت المال مصارف ٢٧٢

٧٣- اسلامی ټولنه او سوال ٢٧٤

٧٤- د أمیر یا إمام حقوق ٢٧٨

٧٥- ١= د ظالم أمیر داطاعت کولو حکم ٢٨٠

٧٦- ٢= نصرت او کومك ورسره کول ٢٨٤

٧٧- ٣= نصیحت ورته کول ٢٨٨

٧٨- د أمیر دعزل یا لیری کولو أسباب ٢٩١

٧٩- خاتمه ٢٩٣

٨٠- مأخذونه ٣٠٢

٨١- دممتاز دینی فقهي، سیاسی، علماؤ تقریظونه ٣٠٥

اهدا

١- دحق دلاری مســافرانوتــه

٢- دقرآنی نظام غوښــتونکو مفکرینوتــه

٣- داسلامی نظام عملی کونکو مجاهدینوتــه

٤- داسلامی علومو زده کونکو طالبانوتــه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذی أنزل علی عبده الکتاب و لم یجعل له عوجا، وهدی للمتقین الذین اتخذوه مسلکا ومنهجا، والصلوة والسلام علی من أرسله الله بالحق بشیرا ونذیرا ورحمة للعالمین، وعلی آله وأصحابه الذین اهتدوا بهدیه أجمعین.

أما بعد:

خرنګه چه اسلامی ټولنه له ډیرو وختو راهیسی دسیکولرزم (لادینیت) په اورلولپه سویده، نوله همدی أمله ډیر پوه کسان هم داسلامی سیاست طرز انتخاب، حکومت، نظام مالیات، شوری، اهل العقد والحل، اوداسی نورو مهمو مسئلوسره نابلده شوی، اوډول ډول تعبیرات اوورانديزونه ئی کوی، څکه ډیر ځله مونږ له ډیروښو اوغوره عالمانو دین پوهانو څخه په مجلسونو، اویادسوال په حواب کی اورو، چه وایی سیاست معنی درواغ، چل، فریب، دوکه آن تردی چه وایی سیاست معنی شیطانت اوداسی نور، اوبیا وینوچه ډیر پردین مین تقوی لرونکی شیخان په خپلو خانقاوکی ناست خپل متعلقین، اودوستان دسیاست څخه لیری ساتی، اووایی چه دایوکفری شیطانی دنده اوکار دی، اوکوشش کوی چه دوی په خپله اوهغه کسان چه ددوی سره تعلق لری، دټولنی اوټولنیزکارو څخه ګوښه اوپه څنګ وساتی، اووایی (السلامة فی الوحدة) سلامتیا په یوازی والی کی ده، هغوی دهیڅ قسم حکومت سره مخالفت نه لری اونه یی کوی.

خوله بله اړخه بیایو بله ډله اسلامی علماء، پوهان، پردین مین بزرگان په خپله په سیاست کی کارکوی، شپه اوورځ زحمتونـــه گـــالی، اونـــورو مسلمانو اودوستانوته وایی، چه بشپړه دین پرته له سیاسته اوحکومته نســی راتلای، مطلب داچه سیاست اوحکومت ددین یومکمل جز شمیری، اوبی له دغه جزڅخه دین نیمگړی بولی، هغوی پرهرمسلمان باندی پــه سیاســت اوحکومت کی ونډه اخستل فرض گڼی، نوځکـــه دعاموخلقوڅخـــه لاره ورکه سړی، اونه پوهیږی چه باید څه وکړی، اوڅه بیا داســـی تنظیمونـــه سته، چه داسلام دنوم څخه په استفاده سره، ذهنی یاوضعی افکـــاراوقوانین پرخلقو داسلام په نوم عملی کوی، دعاموخلقو دناخبرتیاڅخه استفاده کوی، نوځکه غواړم چه دخپل علمی توان په انـــدازه، پرداسی موضوعاتو لکـــه دسیاست تعریف پیژندنه، دسیاست أهمیت، په اسلام کی داقتـــدار أعلـــی خاوند اوسرچینه، دحکومت معنیٰ اومفهوم، په اسلام کـــی د انتخابـــاتو حکم، داسلامی أمیر، اودشوری دارکانو مواصفات اودنـــدی، أهل العقـــد والحل، دښځی امارت، دشوری أهمیت، دمالیی اومحصول حکم، اوداســی نورو... په هکله دمعتبرو اومستندو کتابوپـــه حواله، څه ناڅه بحث وکـــړم، ترڅودسیاست دلمړنیوزده کونکو لپاره لاربښود وی، اوعام خلك وکـــولای سی، چه دخپل ځان لپاره لاره غوره کړی، اوپه اســـلامی تنظیمونوکـــی دکارکونکو لپاره یومعیارسی، اوزموږلـــخوا داهم واسلامی ټولنی ته عمومـ

اودپښتوژبې لپاره خصوصاً یو خدمت سـوی وی، الله جـل جلالـه دی قبول کړی، او زموږ لپاره دی د آخرت نیکه او ښه زخیره وګرځوی. آمین

دسیاست تعریف (پېژندنـه)

سیاست یوه عربی کلمة ده، دساس یسوس سیاسة دباب څخه ده، معنی ئی ده دبّر یدبّر تدبیراً. مثلا ویل کېږی ساس زید الأمر: یعنی زید دیوکار تدبیر وکړی، معلومه سوه چه سیاست په لغت کی تدبیرته ویل کیږی. (۱)

په اصطلاح کي دسیاست مختلف تعریفونه سویدی.

الف - دسیاست تعریف دفقهاؤ په نظرکی.

۱- هی العمل بماتقتضیه المصلحة، مالایخالف أصول الدین، وإن لم یقم علی ذالك دلیل خاص. یعنی سیاست وهغه عمل تـه ویـل کـیږی چـه دمصلحت په خاطر وی، او د اسلام د اصولو څخه مخالف نه وی، که څه هم پر دغه باندی خاص دلـیل نـه وی.

۲ - ځنی فقهاء چه غواړی پر حاکمانو دقدرت کړه تنګه کړی وایی "لاسیاسة شرعیة إلامانطق به الشرع " یعنی شرعی سیاست نه دی مګـر هغه دی چه شریعت په ناطق وی.

۳ - ځنی نور فقهاء ئی داسی تعریف کوی ،،السیاسة فعل شیئ من الحاکم، لمصلحة یراها، وإن لم یرد بذلك الفعل دلیل جزئي،، یعنی سیاست

۱- المصباح المنیر ص۳۷۸ ج ۱

دحاکم هغه فعل ته ویل کیږی، چه دده په نزد مصلحت وی، که څه هم پرهغه جزئی دلیل هم نه وی. (۱)

با = دسیاست تعریف دغیراسلامی پوهانوپه نظر کی!

۱- جان سیلی، اوډاکټرسټیفنز لیکاك وایی: سیاست دحکومت علم ته وایی.

۲- کټیل اکیریز وایی: سیاست دحکومت اوریاست علم ته وایی.

لکن دغه دواړه تعریفونه ډیرمحدود دی، مثلا داول تعریف څخه ټول هغه علوم چه دریاست متعلق دی، څنی وزی لکه څپله ریاست اویادریاست آغاز، اوبل داچه په سیاست کی خوبوازی دهغه کسانوڅخه بحث نه کیږی، چه په حکومت کی دی، بلکه دهرفرد داخلاقو، حقوقواو کردارڅخه بحث کیږی.

اودوهم تعریف هم جامع نه دی، څکه ډیرموضوعات سته، چه دهغوی څخه په سیاست کی بحث کیږی، لکه ازادی، مساوات، اقتصاد اوداسی نور، اوداټول ترذغه تعریف لاندی نه راځی. (۲)

ج = سیاست داسلامی پوهانو په نظر کی.

۱- أبوالوفاء ابن عقیل بغدادی وایی: السیاسة ماکان من الأفعال، بحیث یکون الناس معه أقرب إلی لمصلحة، وأبعد من الفساد: یعنی سیاست هغه تدبیرونو، اوافعالوته ویل کیږی، چه په هغوی خلك واصلاح ته نژدی،

۱- السیاسة الشرعیة: ص۱

۲- سیاست وریاست: ص۷

او دفساد څخه لیري سي.

۲- إمام راغب اصفهاني وايي: السياسة عمارة الأرض، وتنفيذ أحكام الله، ومكارم الشريفة: یعنی سیاست ددروشیانو څخه عبارت دی: دځمکی آبادول، دالله تعالی داحکامو نافذول، دښواخلا قو اختیارول.

۳- شاه ولي الله رحمة الله علیه وائي: السياسة هي الحكمة الباحثة عن كيفية الربط الواقع بين أهل المدينة: یعنی سیاست دهغه علم او فن نوم دی، او دهغه تدبیرونو څخه بحث کوی، چه دهغوی په واسطه دټولنی دخلقو ترمنځ تړون او اړیکی ساتل کیږی.

دپورتنیو تعریفونو څخه داسی معلومیږی، چه سیاست یو فن او علم دی، چه دحکومت او ریاست نظم او نسق ئي موضوع ده، غرض او مقصدئي دمصالحو ساتنه، او دخلقو ترمینځ اړیکی او ارتباط دیوی قاعدی او قانون په واسطه کنټرولول دی.

دپورته تعریفونو څخه دشاه ولي الله صاحب تعریف ډیر جامع معلومیږی، ځکه په دغه تعریف کی صرف د ټولني یادریاست تصورنه، بلکه دریاست سره دفرد تعلق، او ددغه تعلق دکامیابولو لپاره د ټولو ممکنه صورتونو ګنجایش موجود دی، او داسی معلومیږی چه داسی یوه منظمه ټولنه جوړه شی، چه وټولو افراد وته زیاتی آسانتیاوی برابری سی. (۱)

۱- اسلامی سیاست: مولانا ګوهر الرحمن ص۱۷ پښتو ترجمه

د سیاست أهمیت

دیومضمون داهمیت انـــدازه ددی څخه معلومیږی، چه څومره عـــام اوجامع دی، علم سیاست داسی یومضمون دی، چه دماقبل تاریخ څخه بیاتر نن ورځی پوری رارروان دی، اوپه هردورکی داسی اشخاص سته چه دغـــه چراغ یه روښنا نه ساتلی دی، اود عالم انسانیت هیڅ یوه ټولنه نسته، چه هلته دی دا علم نه وی، حتی دافریقا اواسترالیا ځوانیو اوسیدونکوهم دخپلو حالاتو مطابق ددغه علمه څخه ناخـــه برخـــه درلودلـــــه، دنومـــوړی علـــم أهمیت په لاندی ټکوکی خلاصه کوم.

۱- دانسانی ټولنی منظم کول.

د دی مضمون د اهمیت بنیادی او اساسی وجه داده، چـــه دا دانسانی ټولنی دمنظم کولوعلم دی، ارسطوډیرښه ویلی دی، چه انسان پخپلـــه یوکوچنـــی مملکت دی، اوپه یوکوچنی مملکت کی ژوند کوی، چه هغه عبارت دهغـــه دکورڅخه دی، چه پکښی وده اوژوند کوی، هرانسان چه په یوکورکـــی پیدا کیږی، اوسترګی خلاصوی، هلته یو پلاردحکمران په صفت، اویوه مور دهغه دمشاور په صفت موجودوی، اودغه کوردخپل معاشـــی، تعلیمـــی، اقتصادی، صحی، داخلی، خارجی، سفارتی، اوزراعتی امورو دمنظم کولـــو ضرورت لری، اوددی منظم کورنوم وړوکی ریاست دی، کوم چـــه علـــم سیاست د هغه د منظم کولو څخه بحث کوی، لکه څرنګه چه یوی اجتماع

اوټولنې ته ضرورت سته، همداشان دهغې منظم کولو، اوتقویت کولوته هم ضرورت سته، علم سیاست دسیاسي ټولنې دقائمولو اودهغې دمستحکم ساتلو دلاره یقو څرخه بحث کوی.

۲- بااحساسه اوباشعوره فرد دجوړول.

دغه علم د ټولنې فرد ته دا ورښوی، چه په ټولنه کې دده څه فرائض اومسؤلیتونه دی؟ ځکه چه پر دغه ذمه واریو اوفرائضو باندی نه یوازی دریاست بقاء موقوفه ده، بلکه خپله ددغه فرد بقاء هم پرموقوفه ده، که په یو کورکی دکورمشر اویا بل فرد، دخپلو فرائض او واجباتو احساس نه کوی، نولکه څرنګه چه هغه کورد خرابۍ اوبربادی سره مخامخ کیږی، خپله هغه فرد هم دقسم قسم مشکلاتو سره مخامخ کیږی، اوبالآخره بربادیږی، دبا احساسه فرد څخه مراد دا دی، چه دښو اخلاقو خاوند وی، اودکورنې قانون پابند وی، اود اهل نمایندګانو انتخاب کړلایسی، اوپه ټولنیز کارونو کی ونډه اخلی. لکه څرنګه چه دکور یو فرد په کورنی ټولو کارونو کی دیو فرد په حیث کار کوی، همدا شان باید د ټولنې په هر ټولنیز کار کی برخه واخلی، او بی تفاوته پاته نسی، لکه یوسړی چه دکور په نفع اونقصان کی بې تفاوته نسی پاته کیدای، همدا شان باید دټولنې په حال هم ځان خبر کړی، اودا باید ځانته معلومه کړی، چه حکومت څرنګه چلیږی، اوڅه پالیسی ئې ده، اوپردغه پالیسی باندی څه مفادات، نقصانات، اونتائج مرتب کیږی؟

٣- دحقوقـو څخه خبـرتـيا.

داعلم هرفرد دخپلو حقوقوڅخه خبروي، اوڅه وخت چه دی په ټولنه کـــی دخپلو حقوقوڅخه خبرشی، نوپه پوره استعداد سره دخپلو حقوقوحفـــاظت کوی، اوپه ټول توان دهغه حالاتومقابله کوی، کوم چه دده حقوق غصبوی.

٤- دظلم ختـــمول.

دا علم که دیوه طرفه فرد دخپلو حقوقو څخه خبروی، خوله بله طرفه ئـــی داسی باشعوره اوباحساسه جوړه وی، چه دهیڅ ظالم ظلم نسی منلای، اوله بله طرفه حاکمه طبقه هم په دی آګاه کوی، چه دظلم پالیسی نه یـــوازی داچه دټولنی لپاره دبربادی سبب ګرځی، بلکه خپله دحاکمی ټولی لپـــاره هم ترخی تجربی لری، اودظلم دپالیسی نتیجه همیشه دانقلاب په صـــورت کی راوری، او انقلاب ټول هغه څه له منځه وړی، کوم چه دده په مخکـــی راځی، اوحائل واقـــع کیږی.

٥- صحیح اومناســبه وفـاداری.

دفرد د ټولنی دټولوحالاتو سره څه ناڅه تعلق ضرورسته، هغه لکه کورنـــی، مذهبی، اقتصادی، امنیتی اوداسی نور ... اوپه ټولنه کـــی دمختلفوسیاســی تنظیمونو سره داسی ارتباط ساتل، چه دهغوی په منځ کی هـــم فکـــری، او تعاون پیداسی، اود هغوی په مینځ کی تصادم اوټکر رانسی، ځکـــه کـــه د هغوی په مینځ کی ټکر اوتضاد پیدا سی، نوهم ټولنه د خرابی او بربادی سره

مخ کیږی . او هم د فرد پر حالاتو خراب اثرات مرتب کیږی، لکه څرنګه چه دیو کورخاوند دځپلو مختلفو خپلوانو او دوستانو سره همیشه داسی تعلقات ساتی، چه د هغوی په مینځ کی مناسبت ښه وی، او د هغوی دغم اوخوشحالی په مناسباتو کی شرکت کوی.

د پورتنیو نقاتو څخه معلومه سوه، چه دسیاست علم داسی علم دی، چه دهغه مقصد دفرد، ریاست اوانسانیت اصلاح دد، او د ټولنی ټولو وګړوته دابښیی، چه دمختلفو ادارو سره څرنګه خپله وفاداری ساتلایسی، اودهغوی څخه څرنګه فائدی اخستلایسی؟ ددی نه علاوه داعلم دانسان عقل فکر اوذهن روښانه کوی. (۱)

اسلامی سیاست

غواړم چه دسیاست لمړنیو زده کونکونه، اسلامی سیاست په لاندی څوټکوکی بیان کړم، ترڅو فهم په آسانه سی.

د سیاست د مختلفو تعریفونو څخه خلاصه مطلب داسی معلومیږی، چه سیاست هغه علم یاتد بیرونو ته ویل کیږی، چه دهغوی په ذریعه دټولنی د افرادو ترمینځ اړیکی ساتل کیږی، اودحکومت اوریاست نظم، نسق اود مصالحو ساتنه، اود اضرارو څخه ژغورنه په کیږی، اوداټول دیوقاعدی اوقانون په شکل وی، نودغه ټول قوانین که دده هری نظریی وی، نوسیاست

(۱) سیاست وریاست: ص۲۷-۳۰ پروفیسر فاروق اختر نجیب

هُم وهغه تــه منسوب کېږي، د مثال په ډول که دغه قوانین اوأصول داسلام اواسلامي قانون مطابق وي، نوورته اسلامي سیاست ویل کـېږي، اوکـه دکمونیزم د أصولو مطابق وي، نو ورته کمونستي سیاست ویل کېږي، اوکه د امپریالیزم وي، نو ورته امپریالیستي سیاست ویل کېږي اوداسې نور.. نـو اسلامي سیاست هغه دي، چه داسلام دقانون قــرآن، حدیــث، اوفقهــي احکامو تابع وي.

دحــکومت معنی اومفهــوم.

دحکومت لفظ په خپل مفهوم کې دری لفظه نور لــري حــاکم، حکــم، محکوم، چه بیله دغودرواجزاوڅخه دحکومت لفظ کومه معنی نه لري، یعنی که یوځای انسانان وي، حاکم نه وي، اویاحاکم وي، حکم یعنیقانون نــه وي، او یا یوسړی دځان سره قانون هم ولري خوداسې څوك نه وي، چــه دی حکم پر وکړي، داسې یوه ته هم حکومت نه ویل کېږي.

په دنیا کې مختلف ادیان، نظریې، مذاهب وخودلري، هریــود دغــو الفاظو مختلفي معناوې کوي، اسلام هم دهریوه لپاره خپل مفهوم اومعیــار ښودلی دی، کیدایسې چه دهریوه دتوضیح اوبیان نــه وروســته، اســلامي سیاست اونظام حکومت ښــه روښــانــه سي.

الف:- حاکم اویاد لوړقدرت خاوند.

دا چه په انساني ټولنه کې حاکم یا د لوړقدرت خاوند څوك دی؟ یعنی پــر

انسانانو پاندی به دچاحکم چلیږی؟ یعنی انسانانوته دحلال حرام، روا، ناروا، کولو، نه کولو، حکم څوك ورکوی؟ اویا د انسانانو ترمینځ به دحق اوباطل فیصله دچاپه آمرکیږی؟ په دی هکله دهری ټولنی عالمان، پوهان دخپلی نظریی اوعقیدی مطابق تصور وړاندی کوی، دچا په نزد بادشاه وی، دچاپه نزد رئیس جمهور وی، دچاپه نزد وزیرأعظم وی، دچاپه نزد پارلمان وی، مطلب دهرچا ځانته نظروی.

اسلام په دی هکله ځانته مستقله، اوخاصه نظریه لری، هغه داچه اسلام دین اوسیاست یودبل څخه جلانه بولی، بلکه دین ته پرسیاست فوقیت ورکوی، اوسیاست ددین تابع بولی، داځکه چه اسلام یوازی دیوڅومعتقداتو مجموعه نه ده، بلکه د انسان دژوندانه یومکمل قانون دی، اسلام نه یوازی دا چه دخالق لایزال درضائیت لپاره څه عقائد اوعبادات مقررکړیدی، بلکه حقوق العباد، اخلاق، دنیوی اوټولنیز حقوق، اوفرائض، جرم اوسزا، حدود اوتعذیرات ئی هم مقررکړیدی، همدا شان ئی دریاست داقتدارأعلی مسئله هم په ډیرواضح ډول روښانه کړیده، هغه داچه حاکم أعلی پادلوړقدرت خاوند صرف الله تعالی دی، لکه څرنګه چه الله تعالی فرمایی: أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللهَ لَهُ مُلْكُ السَّمٰوَاتِ وَالأَرْضِ، وَمَالَكُم مِّن دُونِ اللهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ. (۱)

ترجمه: آیا نه پوهیږی ته، چه بیشکه الله لره دی، سلطنت اوباچاهی د آسمانو

۱- سورة البقرة آیت ۱۰۷

او ځمکې، اونسته تاسې ته غير له الله نه، هيڅ دوست چه وموسـاتي لـه بلياتو، اونه مددګار، چه له نازله عذابه موخلاص کړي.

په دغه آيت کې الله تعالى اعلان کوي، چه په ټولو کائنـاتو کې دالله تعالى اقتدار أعلى قائم دی، اوپه دغه حاکميت کې دهيڅا حصـه نسـته، اوفرمايي آيا تاسې نه پوهيږی، چه حاکميت دمـځکو اوآسمانو صرف دالله تعالى دی.

په بل آيت کې فرمايي: لَهُ غَيبُ السَّمٰوَاتِ وَالأَرضِ، أَبصِرْبِهِ، وَأَسمِـع مَالَهُم مِن دُونِهِ مِن وَلِيٍ، وَلَايُشرِكُ فِي حُكمِهِ أَحَداً. (١)

ترجمة: خاص هم ده لره دی، پټ أسراردآسمانو، اودمـځکې، څه ښه ليدونکی دی الله تعالى، د هرموجود، اوڅه ښه اوريدونکی دی دهرمسموع، اونسته دوی ته بې له ده نه، هيڅ دوست متولى داموررو، اونه شريك کوي په خپل حکم کې بل هيڅوك.

يعنې دآسمانو اوځمکو دټولو پټو شيانو علم صرف الله تعالى لـره دی، اوبندګانو ته د الله تعالى نه بغيرهيڅ مددګار نشته، اوالله تعالى دخپل ځان سره په حکم کې هيڅوك نه شريك کوي، يعنې لکه څنګه چه دده علم محيـط دی، دده قدرت اواختيارهم پرټولو حاوي دی، اوکيدايسې يو شي تاسو تـه ناخوښه وی، اوهغه ستاسو لپاره خير وی، اوکيدايسي يوشي ستاسو خوښ

١- سورة الكهف :آيت ٢٦

وی، او هغه ستاسو لپاره شروی، الله تعالی پوهیږی او تاسو نه پوهیږی.

دپورتنیو آیتونو څخه معلومه سوه، چه اسلام وخپلو منو نکوته دادرس ورکوی، چه دلوړ قدرت خاوند یوازی الله تعالی دی، انسان که په هر صفت وی، هغه حاکم أعلی یا د لوړ قدرت خاوند نه سی جوړېدای.
څکه مقتدر أعلی باید لا ندینی خاصیتونه ولری چه هغه غیر د الله تعالی څخه په بل چاکی نسی پیدا کیدای هغه څه په لاندی ډول دی.

د مقتدرأعلی خصوصیات.

قرآن کریم دمقتدرأعلی خصوصیات پـه لانـدی ډول بیان کړیـدی.
اول - د قدرت یووالی.

یعنی دده سره به په قدرت کی بل څوك شریك نه وی، څکه که بل شریك ولری، ضرور به د هغوی ترمینځ نزاع او اختلاف راځی، نوڅکـه د اسلام له نظره مقتدرأعلی یا حاکم أعلی صرف یوالله دی، چه په خپل قدرت کی هیڅ شریك نه لری: لکه چه فرمایی: وَلَایُشرِكُ فِی حُکمِه أَحَداً. (۱)
هغه په خپل حکم کی هیڅوك نه شریك کوی.
په بل ایت کی فرمایی: انِ الحُکمُ إلاّ للهِ. (۲)
دحکم کولو اختیارهیچاته نسته صرف الله تعالی لره دی.
په بل آیت کی فرمایی: لَم یَکُن لَّهُ شَرِیكٌ فِی المُلكِ. (۳)

۱- سورة الکهف آیة ۲٦ - ۲ سورة الأنعام آیة ۵۷ - ۳ سورة الفرقان ۲

يعني په مملکت کې دهغه سره هيڅوك شريك نسته.

دوهم- د قدرت عام والی.

يعني يو ذات چه قدرت عامه ونه لری ، هغه مقتدر أعلی نسی کيدای، ،

علامة راغب اصفهانی وائی چه قدرت عامه يوداسی خصوصيت دی، چه

دهغه مکمل نسبت د الله تعالی نه بغير هيچاته نسی کيدای، ځکه په دی هکله

الله تعالی فرمايی: إِنَّ اللهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ: الله پرهرشي بانـدی قادردی.

دريم - آزادی.

مقتدرأعلی بايد دحکم په نافذولوکی مکمل آزادوی، اودغه صفـت

يوازی الله تعالی ته حاصل دی، ځکه الله تعالی فرمايی: وَيَفْعَلُ مَايَشَاءُ. (١)

يعنی هغه چه څه غواړی هغه کوی.

په بل آيت کی فرمائی: وَمَاكَانَ اللهُ لِيُعجِزَهُ مِن شَيْءٍ فِي السَّمَوَاتِ

وَلَافِي الأَرضِ، إِنَّه كَانَ عَلِيماً قَدِيراً. (٢)

يعنی الله تعالی داسی نه دی چه يوشي دی عاجز کړی، نه په اسمانوکی

اونه په ځمکه کی، هغه ښه عالم اودقدرت خاوند دی.

څلورم - په هغه کی به تعطيل نه راځی.

يعنی که يووخت هم معطلی پکښی راتله، هغـه مقتدرأعلـی نسي

کيدای، دا صفت هم د الله دی، ځکه چه فرمايی: لَاتَأخُذُهُ سِنَةٌوَلَا نَومٌ. (٣)

١ سورة ابراهيم آية ٢٧- ٢ سورة فاطر آية٤٤- ٣ سورة البقرة آية ٢٥٥

يعنې الله تعالی ته نه خوب راځي، اونه پریشاني بلکه همیشه فعال دی، یوه لـــمحه هم تعطیل نه پکښې راځي.

دقرآن کریم د پورته ذکرسوی آیتونو څخه ثابته سوه، چه داقتدارأعلی مالك صرف یوازې الله تعالی دی، هغه چه کومه لاره راښــودلې ده دهغــې څخه دیو زیښته په آندازه آخوا دی خوا انحراف کول جائز نه دی، نه په هغه کې اضافه، اونه کم والی کیدایسی.

باء - حکم یاقانون.

الله عزوجل دکائناتو او انسانانو یوازې د پیدا کولومقتدرأعلی نه، بلکه دټولو سیاسي، قانوني، حاکم أعلی اومدبرهم دی: لکه څرنګه چه الله تعــالی پــه قرآن کریم کې فرمایي: قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ مَلِكِ النَّاسِ، إِلَهِ النَّاسِ. (١)

ووایه ای محمده! چه زه پناه غواړم د انسانانو پــه رب، د انســانانو بادشاه، د انسانانو پــه معبود سره.

په بل ځای کې فرمایي: قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَـــاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ. (٢)

ووایه ای محمده! یاالله دبادشاهی مالکه، ته چه چاته وغواړې بادشاهي ورکوی، اوچه وغواړې دچاڅخه بادشا هي اخلې.

په اسلام کې دقانون جوړولو اختیارصرف یوه الله تعالی لره دی محکه

١- سورة الناس، آیة ١ -٣ ٢- سورة آل عمران آیة ٢٦

الله تعالی په قرآن کریم کی څوځایه داسی فرمایی: وَاللهُ يَحكُمُ لاَمُعَقِّبَ لِحُكمِهِ وَهُوَ سَرِيعُ الحِسَابِ. (۱)

یعنی الله تعالی حکم کونکی دی، هیڅوك نسته چه دده حکم ترشا وغورځوی، اودی ډیر ژرحساب کونکی دی.

په بل آیت کی فرمایی: إِنِ الحُكمُ إِلاَّ لِلّهِ أَمَرَ أَن لاَّ تَعبُدُوا إِلاَّ إِيَّاهُ. (۲)

یعنی حکم نسته بغیرد الله نه، اوهغه امر کړیدی چه دبل چا عبادت مه کوی.

په بل آیت کی فرمایی: مَاكَانَ لِبَشَرٍ أَن يُؤتِيَهُ اللهُ الكِتَابَ، وَالحُكمَ، وَالنُّبُوَّةَ، ثُمَّ يَقُولُ لِلنَّاسِ كُونُوا عِبَاداً لِّي. (۳)

یعنی هیڅ انسان ته داحق نسته چه د الله کتاب، حکم اونبوت ورکړه سوی وي، اوخلقوته ووائی چه زما عبادت وکړي.

دپورته آیتونوڅخه معلومه شوه، چه د حکم اوقانون جوړولو اختیارالله عزوجل صرف دخپل ځان لپاره محفوظ ساتلی دی، اوانسان ئی پرمځکه خلیفه کړیدی او هغه ته ئی دژوندانه احکام ورکړیدی، ترڅودا انسان دهغه له مخی خپل ژوند عیار، او ترتیب کړی، دآدم علیه السلام څخه بیاتر محمد صلی الله علیه وسلم پوری، دهردور اوهرقوم دلارښونی لپاره الله تعالی دخپلو پیغمبرانو په واسطه قانون اوشریعت نازل کړیدی، ترڅوئی دپوره انسانیت دلارښونی لپاره، اوترقیامته پوری دټولومسائلواحاطه کونکی، مکمل قانون، اوشریعت

۱سورة الرعد آیة ٤۱ -۲ سورة یوسف آیة ٤۰ -۳ سورة آل عمران آیة ۷۹

دقرآن کریم په صورت کی، پر محمد صلی الله علیه وسلم باندی نازل کړی، اوپه هغه کی ئی دانسانی ژوندانه دټولو مسائلو حل، اعمال، اوافعال تعین کړیدی، اوانسانان ئی له دی څخه منعه کړیدی چه غیرله دغه قانون څخه بل قانون دځان، اویاد نورو انسانانو لپاره جوړ کړی.

څکه الله عزوجل فرمائی: أَفَغَيْرَ اللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا وَهُوَ الَّذِي أَنزَلَ إِلَيْكُمُ الْكِتَابَ مُفَصَّلًا. (١)

ترجمة: آیاپس بی له الله څخه، زه وغواړم حکم کو نکی عادل، چه زما اوستاسی په منځ کی فیصله وکړی، اویا بل څوك منصف جوړ کړم، په داسی حال کی چه الله هغه ذات دی، چه وتاسوته ئی یومفصل کتاب قرآن کریم نازل کړیدی، حال داچه په هغه کی حق اوباطل واضح کړه سویدی.

او د عقل تقاضا هم دا ده، چه دانسانانو لپاره دقانون جوړولو اختیار باید دهغه ذات په واك اواختیار کی وی، چه هغه دانسانانو په ټولو حالا تو، او خواصو، اوضرورتونو خبروی، په انسانی فطرت باندی تر الله تعالی بل هیڅوك بنه خبر نه دی، څکه الله تعالی د دغه انسانیت خالق اورب دی، هغه ډیر بنه پوهیږی، چه د دغه انسانانو په مینځ کی تعلقات باید څنگه وی، اوڅنگه نه وی، کوم شیان ورته نفع یاضرر لری، اوکوم شیان ددوی لپاره خیر اویاشر دی، دانسان علم خو د خپلو حالا تو احاطه هم نسی کولای، اوپه

١- سورة الأنعام آية ١٤

خپل خیر اوشر هم نه دی خبر، اوخپل د نفع اونقصان درك هم نشی کولای، نودی به دوروانسانانو لپاره څر نگه داسی یوقانون جوړ کړی، چه هغه دټول انسانیت لپاره په ټول عمر کی لاربنودنه وکړی، اودا یو منل سوی حقیقت دی چه دیوشی لپاره هغه څوك کتلاك یالاربنود جوړه ولایسی، چه هغه شی بی جوړ کړی وی، یوانسان چه ده یوشی په هکله هیڅ معلومات ونه لری، نودهغه لپاره یو کامل لاربنود هم نه سی جوړولای.

جیم = محکوم.

یعنی هغه کسان چه پرهغوی حکم کیږی، ښکاره خبره ده، چه حکم پرانسانانو کول کیږی، اوانسانان ټول دالله تعالی مخلـــوق دی، اواســـلام دالله تعالی قانون دی، چه دټولو انسانانو دژوندانه د ښیگړی لپاره یی را لیږلی دی، نو ځکه د اسلام له نظره محکوم، یعنی انسانان ټول یوبرابردی، ځکه دټولـــو انسانانو په منځ کی عدالت کول، داسلام یوامتیازی خصوصیت دی، همدغه وجه ده چه واسلام ته دین عدل هم ویل کیږی، په دنیاکی اسلام لمړنی نظام حیات دی، چه اعلان ئی وکړی، چه ټول انسا نان دآدم علیه الســـلام اولاد دی، اوټول دانسان په حیث یوبرابردی، اود قانون دنگاه نه هم ټول باید یـــو برابروی، لکه څرنگه چه په قرآن کریم کی فرمایی: یَـــابَنِی آدَمَ إِمَّا یَـــأْتِیَنَّکُم رُسُلٌ مِّنکُم یَقُصُّونَ عَلَیکُم آیَاتِی فَمَنِ اتَّقَی وَأَصلَحَ فَلَاخَوفٌ عَلَیهِم وَلَاهُـــم یَحزَنُونَ، وَالَّذِینَ کَذَّبُوا بِآیَاتِنَا وَاستَکبَرُوا عَنهَا أُولَئِكَ أَصحَابُ النَّارِ هُم فِیهَا

خَالِدُونَ. (١)

ترجمة: أی د آدم اولاده، که راسی تاسو ته رسولان له تاسی څخه، چه لولی دوی پر تاسی باندی آیتونه دکتاب ز ما یعنی شرعی احکام، نو هرڅوك چه ځان وساتی له تکذیب څخه، او اصلاح کړی عمل خپل، نو نه به وی هیڅ قسم ویره پردوی باندی، او نه به دوی غمجن کیږی، په نقصان دجزا سره، اوهغه کسان چه نسبت د دروغو وکړی زموږ آیتونو ته، او کبر سرکشی کوی له قبلولو دهغه آیتونو، هم دغه کسان صاحبان ملګری د اوردوزخ دی، هم دوی په دغه اورکښی همیشه وی.

په پورتنی دوو آیتونو کی، الله تعالی ټول بنی آدمانوته (یعنی دآدم علیه السلام ټول اولاد نر ښځه، لوی کوچنی، أمیر مامور، حراوعبد، کافر مسلمان) ته اواز کوی. له هم دی څخه معلومه سوه چه د اسلام له نظره دټولوانسانانو لپاره یوهغه قانون دی، چه الله عزوجل ددوی دلارښودنی لپاره ورته را لیږلی دی، اود ټولولپاره دثواب، اوعذاب یومعیاردی، چه هغه په دغه نازل سوی قرآن باندی عمل کول، اویادهغه څخه انکارکول دی.

په بل آیت کی الله تعالی د عدل او انصاف په هکله تاکید کوی او فرمائی: إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُم أَن تُؤَدُّوا الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا، وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُوا بِالعَدْلِ .(٢)

١- سورة الأعراف آية ٣٦ ٢- سورة النساء آية ٥٨

ترجمة: بیشکه الله امر کوی په تاسو د دی، چه وسپاری تاسی امانتو نه اهل دامانتونوته، یعنی خاوندانوته، اوکله چه حکم کوی تاسی (ای قاضیانو اوحاکمانو) په مینځ دخلقوکی، نوامر کوی الله، چه حکم وکړی، په انصاف اوعدل سره، یعنی چه څه وخت تاسو دخلګو په مینځ کی حکم اوفیصلـــه کوی، نوپه عدل اوانصاف سره ئی کوی.

په پورتنی آیت کی دیأمرکم اوحکمتم صغی دواړی دجمع مخـــاطب دی، چه خطاب وټولو بنی آدمانو، نر، ښځه، حاکم، محکوم، حر، اوعبد، ته دی، اوبل داچه بین الناس څخه هم معلومه سوه، چه ټول بنی آدمان مـــراد دی، هغه هر څوك چه وی، خپل که پردی، لیری که نژدی، کافر که مسلمان وی، دیأمرکم دلفظ څخه داهم معلومه سوه، چه دا لازم امردی دالله تعالی له طرفه، یعنی هرچاکه دهرچا په هکله حکم یافیصله کوله، پرهغه دالله تعالی له طرفه لازم دی، چه په عدل اوانصاف سره دی فیصله اوحکم کوی حتـــی خپله نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته د هغه یهودانو په هکله، چه دبل دپاره ئی جاسوسی کوله، اویابه ئی په ښکاره ویل چه موږمؤمنان یو، خوپه حقیقت کی مومنان نه وه، داسی امرسوی دی، وَإِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْــطِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ. (١)

ترجمة: اوکه حکم پریکړه دی کوله، نوحکم وکړه په منـــځ د دوی

١- سورة المائدة آیة ٤٢

کی په عدل او انصاف سره، بیشکه الله عدل کونکی دوست او خوښ گڼی، چه ثواب به ور کوی.

تفسیر: قرآن کریم ځو ځلی د دی خبری تاکید کړی دی، چه نه بنایی ستاسی دعدل اوانصاف لمن دهیڅچا په جبر، ظلم، او بی انصافی ککړه سی، که څه هم هغه سړی ډیر شریر، ظالم، اوخراب هـم وی، ځکـه عـدل، انصاف، اوحق وحقدارتـه رسول بیله زیاتوب او نقصانه، داسی یو صفت دی چه دمځکی او اسمانو او دټول جهان نظام پرقائم او ولاړ دی.

دا پورتنی آیت د یهودانو اومنافقانو په هکله نازل سوی‌دی، اوپـه دی آیت کی هم الله عزوجل فاحکم صیغه د امر فرمایلی ده، چه وخپل حبیب د اسلام پیغمبر او رسول علیه السلام ته امر کوی، چه دخپلو دښمنانو په مینځ کی هم عدل اوانصاف کوه، داسلامی نظام دعدالت دایوخصوصیت دی، چه مسلم او غیرمسلم، خپل اوبیگانه، دوستانو اودښمنانوته د یوه شان عدالت تضمین کوی، لکه چه په دی آیت کی الله عزوجل ټول امیران اوقاضیـان، بلکه ټول انسانان له دی شخه منعه کوی، چه د یوچا سره د دښمنی په خاطر عدل اوانصاف پریږدی، لکه چه فرمایی: وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰ أَلَّا تَعْدِلُوا، اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ، وَاتَّقُوا اللَّهَ، إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ. (۱)

ترجمة: او نه دی باعث کړی تاسی، دښمنی دیوقوم په دی باندی، چه

۱– سورة المائدة آية ۸

عدل اوانصاف به ونه کړی، عدل او انصاف وکړی تاسی، همدا عدل ډیر نژدی دی تقوی ته، او وویریږی تاسی له الله، بیشکه چه الله خبردار دی په هغو اعمالو چه کوی ئی تاسی.

تفسیر: یعنې داسی عدل او انصاف وکړی، چه مخه یی هیڅ ډول دوستی او دښمنی نسی نیولی، اودهغه په غوره کولو سره انسان په آسانی سره متقی کیدایسی، دتقوی دحصول یوازنی لارد الله تعالی ویره ده، اودهغه له انتقام څخه خوف دی، اودا خوف د إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ په مضمون کی له ځوځوځلی تفکر اومراقبت کولوڅخه پیداکیږی، کله چه دیوچاپه زړه کی دا یقین سی چه زما هیڅ پټ او ښکاره حرکت، اوخبره له الله تعالی څخه نه ده پټه، نودهغه په زړه کی دالله جل جلاله له ویری اضطراب پیدا کیږی، اودهغه نتیجه به داسی، چه دی به په ټولو معاملوکی دعدل اوانصاف لاره غوره کړی، اودالله تعالی داحکامو په امتثال کی به همیشه قائم ووسی.

نومعلومه سوه چه دټولو انسانانو ترمینځ عدل اوانصاف نهایت ضروری اولازم دی، دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په دربارکی، چه کومی فیصلی سوي دی، هغه ټولی دعدل اوانصاف نمونی دی، اوبل داچه نبي کریم صلی الله علیه وسلم په عملی طوردمریانو اوآزادوخلکوترمینځ فرق ختم کړ، اومریانو ته ئی عزت نفس ورکړ،حتی چه څه مریان ئی پر آزادو خلقو باندی امیران مقررکړه، چه د عربو غټو سردارانو به ئی په اطاعت فخر

کاوه، اودا فیصلې دنبی کریم صلی الله علیه وسلم د وصال نه پس، دټولو مسلمانانو لپاره محلانده لاربنونې دی، داسلامي نظام د انصاف یوخصوصیت دا هم دی، چه دقانون څخه هیڅوك هم مستثنی نه دی؛که چیری بادشاه اویا د حکومت مشردکړمی فیصلی لپاره محکمی ته طلب کړل سی، نوهغه به بي چون اوچرا ددغه حکم تعمیل کوی، اومحکمی ته به حاضریږي، اوپه محکمه کی به هم دده سره امتیازی سلوك نه کیږی، بلکه دنورو عامو خلګو په شان به معامله ورسره کیږي، د خلفاء راشد ینو څو واقعات د تاریخ پر پاڼوموجود دی، چه هغوی محکموته طلب کړل سویدی، اود هغوی سره دعاموخلګو په شان معامله سویده، اومحکمی دخلیفه په خلاف فیصله کړي ده، اوهغوی په ډیره خوشحالی قبوله کړیده.

دعدل او انصاف د دغه اصولو په ساتلو سره اسلامی حکومت مستحکم او همیشه ساتل کیږی، په کومه اسلامی ټولنه کی چه ددغه اصولو مراعت سوي دي، هغه ټولنه اوحکومت مستحکم اومضبوط دی، اوچیری چه دغه اصول نه دی ساتل سوی، هغه ټولنه اوحکومت دخرابی اوبربادی سره مخامخ سوي دی، نومعلومه سوه چه هره ټولنه اویاحکومت، چه د ژوندانه په ټولو امورو کی، د الله تعالی په احکامو باندی عمل کوی، اود الله تعالی رضاء یی په هرخوبښ ناخوبښ کی معیاراوپیمانه وی، وهغه ته اسلامی ټولنه اویا اسلامی حکومت وائی.

خلاصة مطلب: دپورتنی تحقیق څخه معلومه سوه، چه اسلامی سیاست یا اسلامی حکومت هغه ته وایی، چه دهغه د افرادو په ټولو معاملاتو کی، د الله تعالی حاکمیت أعلی تسلیم اومنل شوي وی، او د ژوندانــه ټول مسائل د هغه د قانون او هدایاتو په رڼاکی حل کیږی، او د ټولنی دټولــو افـرادو ترمینځ الهی عدالت او انصاف مراعت وی، دا ځکه چه الله تعالی دهیڅ یـو قوم اویا افرادو سره، ځانګړی قرابت نه لری، د هغه په نزد ټــول انســانان یوبرابر دی، نوځکه دالله عزوجل قانون بالکل بی طرفه، اودټولو انســانانو د حالاتو مطابق جوړسوي دی، اوله همدی قانون څخه هریو انســان برابـره فائده اخستلاي سی، اما هغه قانون، کوم چه دانسان په لاس جــوړ ســوي وی، هغه بی طرفه بالکل نسی پاته کیدای، ځکـــه انســان ضروردخپـل کورني، ګوند، اوقوم د افرادو لپاره په قانون کی څه ناڅه مراعتونه کــوی، نوځکه د هغه څخه ټول انسانان فائده نسی اخستلای، ځکه موږ وینو، چه د انسان په لاس جوړ سوی قانون کی، دحکومت مشران دقانون څخه لوړ بلل سوی دی، دمثال په ډول دبرطانیی دحکومت مشر هیڅ محکمی تــه حتــی دشاهدی ورکولولپاره هم نسی راغوښتلای، اوپرهیڅ یوســرکاری مــامور باندی ترهغه وخته پوری دعوی نسی دائریدلای، ترڅو دهغه دمربوطه اداری څخه اجازه وانه خستل سی. مګر په اسلامی قانون کی تراهی حـــاکمیت لانــدی، داسی هیڅ استثناء وجود نــه لری، هرشي او هرڅوك ترحاکمیت

لاندې دي، حتى ديوحکومت مشربه هم ديوعام انسان پـــه شـــکل، دلاس
دپري کيدلو لپاره خپل ځان واسلامي محکمي ته سپاري.

معلومه سوه چه صرف الهی حاکميت يو داسي نظريه ده، چه د انسان
څخه د انسان حکومت ختم کوي، اوټولـــو انســـانانوته دآزادي ضمـــانت
ورکوي، داسي آزادي چه دهغه څخه ټول انســـانان فـــائده اخستلايســـي،
اونجات اوخلاصون حاصله رلايسي، ځکه ددغه قدرت په مقابل کي نورټول
قدرتونه هيڅ نه دي.

د مضمون خلاصه.

۱ - حاکميت أعلى صرف ديوه الله دي، بل هيڅ فرد، ټولي، يا قوم بلکـــه
ټول انساني عالم دحاکميت أعلى أهل نه دي، ځکه چه دالله تعالى قـــدرت
پرټولو غالب دي.

۲ - قانون جوړول، اوحکم کول صرف دالله تعالى حق دي هيڅوك
دهغه په قانون کي نه رد اوبدل کولايسي، اونه ئې منسوخ کولايسي.

۳ - په اسلام کي دسياسي اوقانوني حاکميت هيڅ فرق نسته، انسان
ته په دغه معامله کي هيڅ اختيار نسته، سياسي اوقانوني حاکميت صـــرف
دالله تعالى دي.

٤ - داسلامي حکومت خليفة يا امير، په هيڅ صورت تر قانون لوړ نه
بلل کيږي، بلکه هغه په خپلو ټولو انفرادي او اجتماعي امورو کي، د الله رب

العزت نه علاوه، عامو خلقوته هم په جواب ورکولو مکلف دی. (١)

د اسلامي حکومت د أمیرد تعین لاری.

تمهید د قرآن کریم د مطالعی څخه داسی معلومیږی، چه الله عزوجل د دغه کائناتو یوازنی خالق اومالك دی، اوپردغه کائناتو باندی د حکمرانی حق هم یوازی الله تعالی ته ثابت دی، اوپر دغه ریاست باندی دبل چـا حکمرانـی کول، د الله عزوجل د اقتدارأعلی خلاف دی، البته دالله عزوجـل درالـیږل سوی نظام د چلولو یوازنی طریقه دا ده، چه انسان د هغه د نائب یاخلیفه په حیث صرف د هغه احکام پر ځمکه د ده پر مخلوق باندی، په عملی ډول نافذ کړی، لکه څرنګه چه الله عزوجل فرمائی: وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً. (٢)

ترجمة: اویاد کړه ای محمده! هغه وخت چه وویـلی پروردګـار سـتا فرشتو ته، چه بیشکه زه ګرځونکی یم په ځمکه کی د یوخلیفـه، همدغـه خلیفه ابو البشر د انسانانو پلارآدم علیه السلام ئـی را ولـیږی، نوځمکـه د خلافت دنده دانسان په غاړه ترقیامه دقیامت پاته ده.

او بیا د انسانانو دجملی څخه د یوانسان انتخاب، ددغه احکامو د نافذ کولو اوچلولو لپاره صرف د الله تعالی حق دی، چه په مختلفو اوقاتو او حالاتو کی ئی مختلف انسانان د أنبیاؤ اود رسولانو په صفت په مختلف ډول منتخب

١- سیاست او ریاست ص ١٣٤
٢- سورة البقرة آیـة ٣٠

کوله، یعنی د چاسره ئې په خپله خبرې وکړې، لکه موسی علیه السلام، او څوك په میراثی ډول لکه څه انبیاء دبنی إسرائیلو، اوڅوك دوکیل په واسطه لکه رسالت دمحمد صلی الله علیه وسلم، چه دجبرئیل أمین په واسطه انتخاب سو، او هریوه ته به ئې دهغوی دحالاتو اوضروریاتو مطابق احکام اوډژوندانه د تیره ولو قوانین په مختلف ډول را لیږل، چاته په لیکل سوی شکل لکه توراة، چاته دوړو صحیفو په شکل، او چاته لږ لږ د وحی په واسطه لکه قرآن کریم.

لکن څه وخت چه د الله عزوجل د علم مطابق، کائنات او انسانان دتکامل مرحلی ته ورسیدله، نوإلهی هدایات هم د انسانانو د ضرورت مطابق مځکی ته راولیږله، او خپل آخری رسول محبوب رب العالمین، محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ئې خپل خلیفه انتخاب کړی، اوترقیامه د قیامت دټول انسانیت لپاره کامل قانون، د قرآن کریم په صورت کی ورته را ولیږی، اوپه دغه قانون کی ئې ټول انسانانو ته داسی حکم وکړی: وَمَاآتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَانَهَاكُم عَنهُ فَانتَهُوا، وَاتَّقُوا اللهَ إِنَّ اللهَ شَدِيدُ العِقَابِ. (۱)

ترجمة: اوهغه څه چه درکړی تاسی ته د الله رسول، نووائی خلی قبول ئې کړی، اوهغه څه چه منع کوی رسول الله تاسی له هغه څخه، نوبیرته سی، اومه ئې غواړی، او ویریږی له عذابه د الله په ځان ساتلو د الله دنافرمانی

۱- سورة الحشر آیت ۷

بیشکه د الله عذاب ډیر سخت دی. په دی آیت کی الله عزوجل، ټولو انسانانو ته حکم وکړی، چه تاسو ته دغه زما رسول هر څه وایی هغه به منی، او د ټولو هغه شیانو څخه چه تاسی منعه کوی پرهیز کوی، او مه نی کوی، څکه چه د الله درسول نافرمانی د الله نافرمانی ده، او د آیت په آخر کی الله عزوجل وټولو انسانانو ته اختار ورکوی اوفرمایی: د الله څخه وبیریږی د الله اودهغه درسول دحکم نافرمانی مه کوی، څکه بیا الله تعالی عذاب درکوی، او د الله تعالی عذاب ډیرسخت دی.

په بل آیت کی الله تعالی د خپل رسول پوره نمایندګی بیانوی اوفرمایی وَمَايَنطِقُ عَنِ الـهَوَى، إِن هُوَ إِلَّاوَحيٌ يُوحَى، عَلَّمَهُ شَدِيدُ القُوَى. (١)

ترجمة: اوخبری نه کوی (محمد صلی الله علیه وسلم) له خپلی هوا څخه، نه دی دغه قرآن مګر وحی دی، چه وده ته لیږلی شوی دی، ښوولی دی ده ته، دسختو قوتونو مالك.

په یوبل آیت کی الله تعالی ټولو انسانانوته ترغیب اوتشویق ورکوی، اوفرمایی: لَقَدكَانَ لَكُم فِي رَسُولِ اللهِ أُسوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَن كَانَ يَرجُوالله وَاليَوم الأَخِرِ وَذَكَرَ اللهَ كَثِيراً. (٢)

ترجمة: په تحقیق سره دی تاسوته ای انسانانو! په رسول الله پسی اقتداکول، غوره اونیکه، دهغه چا لپاره چه د الله تعالی د رضاء، ثواب

١- سورة النجم آیة ٥ ٢- سورة الأحزاب آیة ٢

نعمتونو، او د ورځی د آخرت د لقاء امید لری، او یادوی الله ډیر، په خوله په زړه، به راحت، هم په زحمت. یعنی په رسول الله پسی اقتداء کول، او د هغه اقـوال او اعمال زده کول، او پـه هغوې باندی عمل کول، نیك عمـل دی، الله عزوجل دهغه څخه راضی کیږی، او وهغه ته ثواب ورکوی.

دپورتنیو آیتونو اویا د دوی په شان نورو آیتونو څخه معلومیږی، چـه الله عزوجل د خلیقه د انتخاب دنده نوره وخپل محبوب ته وسپارله، اوټـول انسانیت ئی په دی مکلف کړی، چه دی څه وای او یاڅوك پرتاسـی امـیر یاخلیفه کوی د هغه اطاعت به کوی.

قائد انقلاب اسلامی محمد مصطفی صلی الله علیـه وسـلم چونکـه بشروو، نودده د رحلت په صورت کی ئی بیا دغه اختیار وخپلـو خلفـاء راشدینو، اوټولو صحابه کرامو ته په داسی الفاظو وسپارله.

عن العرباض بن سارية رضى الله عنه يقول: وعظنا رسول الله صلى الله عليه وسلم موعظة، ذرفت منها العيون، ووجلت منها القلوب، فقلنا يارسول الله! إن هذه لموعظة مودع، فما ذا تعهد إلينا ؟ قال قد تركتكم على البيضـاء ليلها كنهارها، لا يزيغ عنها بعدى إلاّ هالك، من يعش منكم فسيرى اختلافا كثيرة، فعليكم بما عرفتم من سنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين، عضوا عليه بالنواجذ، وعليكم بالطاعة وإن عبدا حبشيا، فإنما المؤمن كالجمل الآنف حيثما قيد انقاد . (۱)

(۱- رواه ابن ماجه ص ١٦ ج ۱)

ترجمة: دالعرباض بن سارية رضی الله عنه څخه روایت شویدی، وایی یوه ورځ موږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم داسی نصیحت وکړی، چه د ټولو خلقو سترګی څخنی په اوښکو ډکی شوی، اود ټولو خلقو زړونه څخنـــی وویریدل، موږ وویل یارسول الله! په تحقیق سره داسی معلومـــیږی، چـــه دا آخرنی نصیحت دی، نوته موږ ته په څه شی باندی امر کوی؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په تحقیق سره ما تاسی پر داسی روښانه لاره شریعت باندی پری ایښی یاست، چه شپه ئی دورځی په شان روښانه ده، ددی څخه به هیڅوك مخالفت نه کوی، مګر هلاك سوی، که څوك ستاسو څخه ژوندی پاته وو، هغه به ډیر اختلافات ووینی، نوپه داسی وخت کی پرتاسی لازمـــه ده، چه په هغه څه منګولی ولګوی، کوم چه زماڅخه مـــو زده کـــړي دی، اوزما دهدایت کونکو خلفاؤ دسنت اتباع وکړی، اوډیرټینګ ئی ونیسی، اود هر هغه امیر اطاعت وکړی، کوم چه پر تاسی مقررسی، که څه هم یوحبشی مریی وی، ځکه چه مومن دیو نافرمانه اوښ په شان دی، چه هرڅومره مقید سی هغو مره اطاعت کوی.

د پورتنی تحقیق څخه معلومه سوه چه دامیر انتخاب اول الله تعالی پخپله کاوئ، اوبیایه داوظیفه وخپل رسول حضرت محمد مصطفی صلی الله علیـــه وسلم ته وسپارله، دپورتنی حدیث څخه معلومه سوه، چه هغه بیـــا وخپـــل روزل سوی شاګردانو صحابه کرامو رضوان الله تعالی علیهم ته پریښودلـــه،

کله چه بیا مورږد خلفاء راشدینو اوصحابه کرامو تاریخ مطالعه کوو، نو مورږته د اسلامی حکومت د أمیر د انتخاب لپاره، څو مختلفی طریقی په نظر راځی.

۱ = د امیر تعین :بیعت په ذریعه. ۲ = دانتخاب په واسطه.

۳ = د استخلاف پــه واسطه. ٤ = دشوری په واسطه :

٥ = د استـیلاء پــه ذریعه. ٦ = دتوکیل په واسطه :

اول - درسول الله صلی الله علیه وسلم آمارت دبیعت په ذریعه.

دنن څخه څوارلس سوه کاله مخکی، څه وخت چه محمد مصطفــــی صلی الله علیه وسلم، تبلیغ اودعوة شروع کړی، لږزمانه پس ئی مســـلمانوته امروکړ، چه یثرب (مدینة منورة) ته هجرت وکړی، اوخپله نبی کریم صلـــی الله علیه وسلم هم ترهجرت کولو نه وروسته، چه کله یثرب ته را ورسیدی، ترهرڅه نه مخکی یی مسجد نبوی تعمیرکړی، ترڅود مسلمانود یوځای کیدلو ځای معلوم سی، اوپه ښکاره لمونځ وکړایسی، مواعـــظ اونصـــائح واوری، اودنورو مشکلاتو دحل لپاره په دغه ځای کی مشوری وکـړی، تدبیرونـــه ونیسی، اود مسلمانو دارالخلافه معلومه شی، بیاده مبارك دیثرب داوسیدونکو سره یوه معاهده لاسلیك کړه، چه دهغه په نتیجه کی دیثرب نوم مدینة منورة سو، اوپه ټولوئی دمدینی دساتلومعاهده ولیکله، اوبل یــــه د مهـــاجرینو او انصارو ترمینځ دوروری معاهده لاسلیك کــړه، ټولومهـــاجرینو اوانصـــارو ورسره بیعت وکړی، دهمدغه عام بیعت په واسطه لمړنی اسلامی خلافت او

رياست په نړۍ کي، دمځکي پرمخ دحضرت محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم تر نيادت لاندي جوړ سو.

دسيرت کتابونه ليکي، چه همدغه بيعت د عبدالله بن أبي بن سلول دمنافقت سبب وګرځيدی، ځکه په دغه وخت کي په مدينه کي دده دحکومت نوبت وو، کله چه مهاجرينو او انصارو د نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره بيعت وکړی، او دده ځخه حکومت ولاړی، نو دهٔ د نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره منافقت اختيار کړی.

تردغه بيعت وروسته، نبي کريم صلى الله عليه وسلم خپل سياسي اوحکومتي چاری منظمي اوترتيب کړی.

۱ - مدينه منوره ئې حرم وګرځوله، يعني په دغه ښار او شاوخواکي به جنګ نه کيږی.

۲ - ديهودو سره ئې مختلفي دفاعي معاهدی لاسليك کړی.

۳ - دمسلمانانو دسياسي حکمران په حيث ئې دفارس روم حبشه او نورو حکومتونو مشرانو ته خطونه ليږل.

٤ - چه کله به دمديني ځخه دباندی تلی، نوبه ئې خپل نائب ټاکی.

٥ - دمسلمانو په نورو ځايونو، اوښارونو کي، لکه مکه، طائف، بحرين او نورو کي ئې خپل واليان مقرر کړل.

٦ - د حکومت په شان ئې کابينه جوړه کړه، او وزيران ئې وټاکل،

چه دځــه وزیرانــو نومونــه پــه دی ډول وه.

۱ - ابوبکر صدیق رضی الله عنه ئی دامن عامــه، قــانون شــریعت اوجهادی امورو وزیر تعین کړی.

۲ - حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دعدل وزیر وو.

۳ - حضرت ابوعبیدة بن جراح دمالیی اودبیت المال وزیر وو.

٤ - حضرت علی رضی الله عنه دتحریراتو او وثائقو وزیر وو.

۵ - حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه دعامو تعلقــاتو او دغــیر ملکــی دعوتــنامو وزیر وو.

٦ - ددفتر دکاتبانو په حیث ئی څونفره ټاکلی وه، لکــه حضــرت معاویة بن ابی سفیان، علاء بن الحضرمی، اوابی بن کعب رضی الله عنهم.

۷ - د یو سربراه مملکت په حیث به دنورو ملکونو سفیران ورته راتلل پرسیاسی، اقتصادی، امن، سلامتی، اوداسی نورو موضوعاتو به ئی خــبری، اومعاهدی ورسره کولی.

دقریشو سفیر، عروة بن مسعود ماهرسیاسیات، چه څه وخت ولاړی، قریشو ته ئی داسی ریپورټ وړاندی کړی، چه ما د قیصر اوکسری حکومتونه هم لیدلی دی، لکن دمحمد صلی الله علیه وسلم په شان حکومت می هیــڅ ندی لیدلی، ستاسوخوبنه ده، چه څه مناسب بولی هغه وکړی. (۱)

۱- رهبر ورهنما ص۳۵-۳٦ ضیاء الرحمن فاروقی

خلاصه داچه دنبی کریم صلی الله علیه وسلم امارت، دعامومهاجرو اوانصارو دبیعت په ذریعه وشو، دنبی کریم صلی الله علیه وسلم سره بیعت نارنه اوبنځو دواړو کاوه، البته دبیعت طریقه، او الفاظ به جدا وه.

دوهم _ دابوبکرصدیق خلافت دانتخاب په واسطه.

د انتخاب معنی ویوشی ته ترجیح ورکول دی، دخلیفه دانتخاب مفهوم دادی، چه موږیوشخص ته دخلیفه دمنصب لپاره پر نورو ترجیح ورکړو، لکن محض په ترجیح سره دخلافت انعقاد نه کیږی، ترڅوچه معاهده دبیعت ونشی، بیعت یوقسم معاهده ده، چه دامیر اورعیت تر منځ کیږی، أمیر به داعهد کوی، چه زه به د الله تعالی احکام اوقوانین په عملی توګه نافذکوم، او رعیت به دا عهدکوی، چه ترڅه وخته پوری دی د الله تعالی احکام نافذکوی، دوی به ئی اطاعت کوی.

په اسلامی حکومت کی خلیفه اورعیت دواړه په یوشان په الهی احکامومکلف دی، دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم تر رحلت او وفات وروسته، داول خلیفه ابوبکر صدیق رضی الله عنه ټاکنه اوتعین د انتخاب په واسطه وشوه، څه وخت چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفات وکړی، سیاسی خلاءپیدا سوه، دانسانی فطرت مطابق پردغه موضوع باندی اختلاف پیدا کیدل یوفطری امروو، ځکه نبی علیه سلام په دغه هکله څه خاص هدایات نه وه پری ایښی، او په قرآن کریم کی هم په دی هکله واضح

هدایات موجود نه وه، ددغه خلاء دپوره کولو لپاره، په سقیفه بنی ساعده نومی یو ځای کی، دمهاجرو او انصارو عالمان پوهان اهل حل وعقد سره راټول سول، اود ډیر بحث کولو اوحالاتو ځیړلونه وروسته، حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دحضرت عمر فاروق، اوحضرت عبیدة بن جراح رضی الله عنهما نومونه وړاندی کړل، چه د دغه دووشخصه یود خپلو ځانو لپاره أمیر یاخلیفه وټاکی، هغوی وویل معاذ الله چه ته زموږ په منځ کی موجود ئی، موږ ته داحق نسته، ته ترموږ حقداره ئی، ځکه دنبی کریم صلی الله علیه وسلم سره ستا محبت ترموږ ځکی دی، او ته دمهاجرو افضل ئی، اودنبی کریم صلی الله علیه وسلم سره په غار، اوسفر کی ملگری وی، اوپه لمانځه کی ئی خلیفه وی، اولمونځ په اسلام کی بهترین رکن دی، لاس راکړه چه بیعت درسره وکړو، اول د انصارو د قبیلی مشر حضرت قیس رضی الله عنه وروړاندی سو، اوبیعت ئی ورسره وکړی، اوبیا دلته ناست خلگو ټولو بیعت ورسره وکړی .

تر دغه بیعت نه وروسته بیامسجد نبوی ته راغله، هلته عام خلک په انتظار وه، حضرت ابوعبیدة بن جراح ورته وویل چه بیعت دابوبکر صدیق سره وسو، حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ورته وویل چه ولاړسی تول بیعت ورسره وکړی، نوټولو په خپل نوبت بیعت ورسره وکړی.

په دغه بیعت کی صرف دبنی هاشمو د قبیلی شخصه حضرت علی رضی

الله عنه، اوحضرت عباس رضی الله عنه، اوددوی څو نوروملګرو بیعت ونکړی، اوخپلو کورونو ته ولاړل، بیا حضرت عمر فاروق، حضرت اسید بن حضیر، اوحضرت سلمة بن اسلم هغوی ته ورغله، اوراضی ئی کړه، او بیرته ئی مسجد ته راوستله، او بیعت ئی وکړی، په دغه طریقه دحضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه انتخاب وسو. (١)

خلاصه مطلب

١- معلومه سوه چه د ابو بکر صدیق رضی الله عنه سره دوه بیعتمه وسوه، اول دخاصو خلقو په سقیفة بنی ساعده کی، او دوهم دعامو خلقو په مسجد نبوی کی.

٢- دا انتخاب دزور یا د قبیلوی حیثیت پر بنیاد نه، بلکه د اهلیت، عدالت، علم، اوتقوی پربنیاد وو.

٣- دقرآن اوحدیث په دی هکله خاص هدایات موجود نه وه، که وای نودومره اختلاف او بحث ته به ضرورت نه وای، بلکه د اسلام دنورو احکامو په شان به ئی بیله کوم تردیده منلی وای.

٤- که څه کسان ناراض شی، د هغوی راضی کیدل ضروری دی.

دریم _ دعمرفاروق خلافت داستخلاف په ذریعه.

داستخلاف معنی ده، چه یوخلیفه دخپل ځان دوفات نه وروسته یوبل

١- الإمامة والسياسة ص١٦-١٨ أبی محمد عبد الله بن مسلم بن قتيبة

ځوك ولی عهد کړی. یعنی یو عادل خلیفه په خپل ژوند کی یو عادل سړی خپل حای نشین مقرر کړی او وصیت وکړی.

د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه تاکنه اوتعین په دغه طریقه وسو، ځکه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دخپل مریضی په وخت کی حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه راوغوښتی، او ورته وئی ویل: قلم او کاغذ را واخله، چه وصیت درته ولیکمه، په وصیت کی ئی داسی ولیکله، چه پرتاسی باندی حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه خلیفه ګرځوم، که هغه عدالت کاوه، دا زماګمان دی پرده باندی، اوزما امید دی دده ځخه، اوکه دده ظلم کاوه، نوزما خو تاسوته د خیر اراده ده، په غیبو نه یم خبر.

دا وصیت ئی مهر کړی، اوحضرت عثمان رضی الله تعالی عنه ته ئی ورکړی، اوبیا ئی امر وکړی چه خلك راټول کړی، کله چه خلك راټول سول، هغوی ته ئی داسی وینا وکړه.

ای خلقو! تاسی وینی چه زه قضاء الهی ته نژدی سوی یم، اوتاسو دیوامیر ځخه چاره نه لری، نوکه ستاسوخوښه وی، نو زه به تاسو ته خپله رأیه ښکاره کړم ، (والله الذی لآ إله إلا هو) زما دی قسم په هغه الله وی چه غیر دهغه ځخه بل معبود حق نسته، زه پرتاسو هغه ځوك أمیر کوم، چه زما په نزد ستاسو لپاه خیر دی، په دغه وخت کی ده مبارك وژړل، اونورو خلقو هم وژړل، او خلقو ورته وویل، چه ته ئی راته تعین کړ د، معلومه سوه چه

خلقودی د أمیر په تعین کی وکیل کړی، اوبیا ئی حضرت عمر فاروق رضی الله عنه را وغوښتی، اوپرهغه باندی ئی خلافت عرض کړی، هغه ورته وویل چه زه خلافت تـه ضرورت نه لرم، حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنـه ورته وویل، چه خلافت تاته ضرورت لری، اوبیا ئی هغـه وصیـت نامـه وركړه، او ورته وئی ویل، چه ورسه خلقوتـه، اوهغوی په دی خـبر کړه، اود هغوی څخه ستا د اطاعت په هکله پوښتنه وکړه. (۱)

حضرت عمر فاروق چه خلك راټول کړه، ورته وئی ویل: ای خلقو! بیشکه زه خپل ځان ترتاسو ښه پیژنم، ما هیڅکله پرتاسوباند ی دحکومـت کولوخواهش نه دی کړی، لکن حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ماتـه وصیت کړی دی، الله عزوجل دده په زړه کی دا خبره وراچـولی ده، اوزه دغه امانت هغه چاته نه ورکوم چه هغه ددغه اهل نه وی، زه دغه امانت هغه چاته ورکولو ته تیار یم، چه هغه ئی اهل وی، اود مسـلمانانو دعـزت د لوړولو اراده لری، داسی خلك دنورو په نسبت زیات مستحق دی. (۲)

او بیا ئی لاس پورته کړی د عائی وکړه. اللهم حببهم إِلَيَّ وحببنـی إِلیهم، ای الله دوی وماته محبوب وګرځوی، اومادوی ته محبوب وګرځوی.

خلاصه مطلب

۱- دحضرت عمر فاروق ټاکنه داستخلاف په واسطه وشوه.

۱- الإمامة والسیاسة ص۲٤-۲٥ ۲- اسلام کا سیاسی نظام

۲ - حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دعمرفاروق دخلیفه کولو په هکله د خلقو څخه وکالت واخیستی، خپله رایه ئی نه ده مسلته کړی.

۳ -صرف په وصیت ئی اکتفاء ونکړه، بلکه د ټولوڅخه ئی په عـــام محضرکی رأیه واخستله، داهم یو نوعه بیعت بلل کیږی.

۵ - حضرت ابوبکر صدیق خپل وصیت کافی ونه باله، اونه ئی خپله رأیه پرخلقو وتپله، بلکه ده پخپله دخلقوڅخه وکالت واخیستی، اوحضـــرت عمر فاروق ئی هم امرکړنی، چه ورسه د خلقو اطاعت معلوم کړه.

څلورم ـ دحضرت عثمان بن عفان خلافت دشوری په واسطه.

څه وخت چه حضرت عمرفاروق رضی الله تعالی عنه، دابولؤلؤلخوا په خنجر ووهل سو، اوزخمی سو، دجوړیدوحالت ئی په نظر نه راتلی، نو خلك راټول سول، اوغوښتنه ئی وکړه، چه زموږلپاره خلیفه تعین کړه، ده ورتـــه وویل، زه څوك نه خلیفه کوم، لکن زه داسی یوټولی ستاسو لپاره تعین کوم، چه رسول صلی الله علیه وسلم دوفات په وخت کی څخنی راضی وو.

هغه ټولی دغه کسان وه ۱- علی بن ابی طالب رضی الله عنـــه ۲- عثمان بن عفان رضی الله عنه ۳- طلحة بن عبید الله رضی الله عنه ٤ - زبیر بن العوام رضی الله عنه ٥ - سعد بن ابی وقاص رضی الله عنـــه ٦- عبـــد الرحمن بن عوف رضی الله تعالی عنه.

ودوی ته ئی وویل: چه زما بـــه نظرپه خلقوکی اختلاف نسته، کـــه

راتلی هغه به ستاسو داختلاف په سبب راځی، او بله خبره داده، چه تاسی به دری ورځی مشوره کوی، او په درو ورځو کی به ستاسو څخه یو خلیفه کوی، تر درو ورځو زیات وخت به نه تیروی، او بل داچه دانصارو دمشرانو سره به مشوره کوی، خو دانتخاب حق نه لری، او دحسن بن علی، او عبد الله بن عباس رضی الله عنهما سره به مشوره کوی، دانتخاب حق نه لری، او بل زما زوی عبد الله به هم درسره وی، خو د انتخاب حق نه لری، او بل ئی ورته وویل که ستاسو دجملی څخه یوه یا دوو مخالفت وکړی، سرونه ئی په توره پریکړی، او که دری یوی خواته سوه او دری بلی خواته سوه، نو بیا دحضرت عبد الله رضی الله عنه رأیه چه دهری ډلی سره وه، نو هغه به څلورسی، بیا داکثریت پربنیاد د هغه رأیه قبوله کړی، او خلیفه به د هغوی څخه وی، که هغه پاته درو د اکثریت د رأیی څخه انکار وکړی، د هغوی سرونه په توره پریکړی، او بیا ئی حضرت علی کرم الله وجهه ته وکتله، او ورته وئی ویله! که شوری ستا د علم، فقاهت، شرف او دنبی کریم صلی الله علیه وسلم سره د قرابت په خاطر ته وټاکلی، نو زما ستا څخه خواست دی، چه ته به بنی هاشم دخلقو پرغاړو نه سپروی، او بیا ئی حضرت عثمان ته وکتله، او ورته وئی ویله! که شوری ستا دشرف، عزت او دنبی کریم صلی الله علیه وسلم سره دقرابت په خاطر ته وټاکلی، نو ته به بنی امیه دخلقو پر غاړو نه سپروی، یعنی دواړه ئی د اقرباء پرستی څخه منع کړه.

اوبل ئی دشوری اعضاء تلقین کړه، چه انتخاب باید داهلیت پربنیاد وی، د ذاتی تعلقاتو پر بنیاد به نه وی، اوپه اخیر کی ئی دا دعاء وکړه. اللهم ألفهم، واجمعهم علی الحق، لاتردهم علی اعقابهم، وولّ أمر أمة محمد صلی الله علیه وسلم خیر هم. ای الله! په دوی کی الفت پیداکړی، اودوی پرحق سره یوځای کړی، اودوی پرشا مه راولی، اومحمد صلی الله علیه وسلم دامت کارددوی وخیرته وسپاری.

ددی دعاء په کولوسره ئی دوی رخصت کړه، اودی مبارك په داغه ورځ وفات سو.

دده تر وفات وروسته دغه شپږو نفروسره دخپلومشاورینو دوی ورځی بحث وکړی، خوبیا هم هیڅ نتیجی ته ونه رسیدله، په دریمه ورځ حضرت عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه ورته وویل، چه نن اخیری ورځ ده، نوکه تاسی ماته اختیار راکوی ، نو زه به یو فیصله وکړم، هغوی ټولو اختیار ورکړی.

داختیارد اخستلونه وروسته، دی دمدینی کوڅوته راووت، اودمهاجرو او انصارو د ټولوخلقو سره ئی مشورد وکړه، اودهغوی رأیه ئی معلومه کړه، دټولو رأی پرحضرت عثمان رضی الله عنه باندی وه، اوبیایه د حضرت علی، اوحضرت عثمان رضی الله عنهماسره علیحده علیحده ملاقات وکړی، اود هریوه څخنه ئی داعهد واخستی، که موږستاسره بیعت وکړو، ته به پرموږ

باندی د الله تعالی کتاب، اودنبی کریم صلی الله علیه وسلم سنت، اودحضرت ابوبکر، اوحضرت عمر رضی الله عنهما سنت نافذکوی، اوبل دا که موږغیر لتاسوڅخه دبل چاسره بیعت وکړو، تاسوبه ئی منی، اوپه راضی کیږی بـه، هغوی دواړو وعده ورسره وکړه، اوبیائی دحضرت عثمان رضـی الله عنـه لاس راکش کړی، اوورته وئی ویل چه موږستاسره بیعت کـوو، دهغـی وعدی پربنیاد چه کړی دی وه، چه ته به پرموږ کتاب الله اوسنة رسـول الله اوسنة صاحبیك من قبلك چه حضرت ابوبکر اوحضرت عمـر رضـی الله عنهما دی نافذکوی، اودهغه شرط پربنیاد چه حضرت عمر رضی الله عنـه پرتا ایښی دی، چه بنی امیه به د خلقو پر غاړونه سپروی.

په دغه ځای کی دشوری ټولو ارکانو بیعت ورسره وکـړی، اوبیـا حضرت عبد الرحمن بن عوف مسجدته راووتی، او ټولو خلق ئی راټول کړه، او تبلیغ ئی ورته وکړی، اوبیائی دحضرت عثمان رضی الله عنه سره بیعـت وکړی، اوټولو خلقو ورسره بیعت وکړی. (۱)

خلاصة مطلب

۱- دشوری دارکانو انتخاب خپله د امیر لخوا جائز دی.

۲ = دشوری دارکانو انتخاب به داهلیت پربنیاد وی، دقرابت، قـوم، یاذاتی شخصیت پربنیاد به نه وی.

۱- الإمامة والسیاسة ص۲-۲۹

٣ = دشورى اركان د داسى خلقوڅخه مشوره اخستلاى سى، چه د انتخاب حق نه لرى .

٤ = په اکثريت فيصله کول جائز، او مخالفت کول ئى ناجائزدى.

٥ - دشورى اركان به دفيصلى په وختكى دعامو خلقو رأى اومصالح په نظر کى نيسى، خپل شخصى منافع به په نظر کى نه نيسى.

٦ - دشورى ترفيصلى وروسته هم دعامو خلقو دبيعت ضرورت سته.

٧ - دامير سرد مشروط بيعت کول جائزدى، لکه نفاذ شريعت او داسى نور.

پنځم: دحضرت على رضى الله عنه خلافت داستيلاء په ذريعه.

د استيلاء معنى ده غلبه ، اوداپر دوه ډوله ده: اول داچه يوانسان دخپل علم، تقوى، تدبر، اوتأليف قلب په واسطه په خلقوکى داسى مقبول سى، چه هغوى ټول په خپله خوښه دده قيادت ته قائل سى.

دوهم دا چه يوانسان دزور او قوت په واسطه خلق دځان قيادت ته قائل کړى، د غه طريقه د اسلام له نظره جائزه نه ده، اوله طريقه جائزه بلل کيږى، څکه د حضرت عثمان رضى الله عنه ترشهادت وروسته، دهغه لمړنيو څلوروطريقوڅخه يوه هم په کار ونه لويدله، بلکه حضرت معاوية رضى الله عنه په شام کى دخپلونيکوصفاتو، اوښواخلاقو پربنياد دعامو خلقودغوښتنى په سبب اميرسو، اوحضرت على رضى الله عنه ته په مدينة منورة کى خلق راټول سول، اودخلافت غوښتنه ئى ځنى وکړه، اول ځل ئى انکار وکړى،

خوبیا د خلقود ډیر اصرار په خاطرئ دا وظیفة قبوله کړه، او په مدینه منوره کی خلیفه مقرر سو، اود ټولو مسلمانانو په اتفاق دغــه دواړه حکومتونــه برحق اواسلامی بلل کیږی. (١)

شپږم - د حضرت معاویه رضی الله عنه خلافت دتوکیل په واسطه.

دتوکیل معنی ده: چه یو سړی په یوه خاصه معامله یاعقدکی دخپــل ځان لخوا بل سړی وکیل کړی، اود هغه د فعل یا عقد ذمه قبولــه کــړی، داسی وکیل دروډل په ټولو عقدونوکی شرعا جائز دی، دأمیرسره بیعت هــم یوعقد دی، دا هم دوکیل په واسطه کیدایسی، اوشرعا جــائز دی، ځکــه حضرت حسن رضی الله عنه پخپله دحضرت معاویة رضی الله عنــه دبیعــت لپاره نه ورغلی، بلکه عبدالرحمن بن سمرة، او عبدالله بن عامر رضی الله عنهما ئی دخپل طرفه دوکیلانو په توګه ورولیږل، او د دوی په ذریعه ئــی خپــل خلافت وحضرت معاویه رضی الله عنه ته تسلیم کړی، اوهغوی دحضــرت حسن له طرفه دحضرت معاویة رضی الله عنه سره بیعت وکړی، دغه طریقة هم په اجماع د امت، جائزه او اسلامی بلل کیږی، اوهیڅوك دغه حکومــت ته غیر اسلامی نسی ویلای. (٢)

ملاحظة: په اوسنی عصرکی چه په کومو ملکونو کی انتخابات کیږی هغه ټول دتوکیل حیثیت لری، ځکه که یوسړی دکومی منطقی څخه دخلقو

١- اسلام کاسیاسی نظام ص٢٥٢ * ٢- اسلام کاسیاسی نظام ص٢٥٢

په رأیه منتخب کیږی، نوهغه ددی لپاره نه دی، چه دی أمیر یا خلیفة دی، بلکه ددی لپاره دی، چه دی ددغه منطقی دخلقو وکیــل دی، دأمیر یاخلیفة په انتخاب کی، اوبیا د هغه سره په بیعت کولوکی.

دا چه څه علماءکرامو لیکلی دی، چه عام انتخابات په اسلام کــی ناجائز دی، هغه به داسی دتوکیل انتخابات نه وی، بلکه هغه به داوی چه په دنیاکی ورته (ریفرنلم) وائی معنی داچه دأمیرانتخاب براه راست دعاموخلقو نراوښځی، مسلمان اوکافر، حر، اوعبد په رایه، چه په څه ملکونوکی کلـه کله کیږی جائزنه بولی.

دپورتنی تحقیق اوتفصیل دفهم نه وروسته دا نتیجه احستلای سو چــه اسلام د أمیرد انتخاب معامله وأمت ته سپارلی ده چه هغوی دخپلوحــالاتو مطابق دخپلی خوښی لپاره أمیر یاخلیفة وټاکی، اوعقل هم دافیصله کوی که دا اسلامی أمت ته نه وایی سپارل سوی، نودنوروأحکاموپه شان به لی صریــح اوواضح لاربنونه کړیوایی ، اودهغه څخه به لکه دنورواحکامو پــه شـان مخالفت کول جواز نه درلودای، اونه به صحابه کرام رضوان الله تعالی علیهم دنبی کریم صلی الله علیه وسلم درحلت په ورځ د أمیرد انتخاب دمشــکل سره مخامخ کیدلای، اوبل دا که په دی هکله واضح هدایات موجــود وای، نوولی صحابه کرامودإپورتنی مختلفی لاری خپله ولی؟ اوبل داچه څه علمــاء کرام دری طریقی لکه بیعت، انتخاب، او استخلاف جائزبولی اوغیرلــه دی

ثخه ناجائز بولی، باید وویل سی چه وجه دحصر نه معلومیږی، که حصر موجود واي نو صحابه کرامو به دهغه ثخه مخالفت نه کولاي، سره لدی چه مخکی مو وویل خپله دصحابه کرامو په زمانه کی هم په مختلفو طریقو سره د أمیر تعین سوي دی، البته په اسلام کی معیارترهرڅه مهم دی داچه په ځینو ملکونو کی معیار بالکل وجود نه لري، اوپه کومو ملکونو کی چه معیار شته، هغه هم داسلامی معیارخلاف دی، او یاپکښی دپارټی اوتنظیمی معیارونه معلوم سویدی. معلومه خبره ده چه دکوم معیارسړی وی هغه به کوی، ځکه وایی چه څه کری هغه به ریبی. که دوکیل لپاره اسلامی معیارونه وټاکل سی اودټاکل سوی معیارونومطابق یوسړی په انتخاباتو کی ودریږی ، خدای دی وکی چه هرڅوك ووټ اورأیه ورکړی خونتیجة به ئی بیرته هغه مطلوب شي راوزی، چه هغه مکمل اسلامی شخصیت دی. اوداعین ممکنه ده چه په یومنطقه کی دوه یادری یازیات خلق ددغه معیارونومطابق وی، دهغوی له مینځه ثخه دخلقوبه رأیه سره تشخیص کول کومه بده خبره نه ده، ځکه دغه رأیه ورکول ویوچاته دهغه سړی پرأهلیت باندی شاهدی ویل دی . وبل دا چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی:

عن أبی خلف الأعمی قال سمعت انس بن مالك یقول سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول إن أمتی لاتجتمع علی الضلالة، فإذا رأیتم اختلافا فعلیکم بالسواد الأعظم. (١) - ١- رواه ابن ماجة کتاب الفتن حدیث نمبر ٣٩٤٠

حضرت أبی خلف أعمی وایی: چه ما د انس بن مالك واوریدل چه ویل ئی: مادرسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل: چــه ویلــی زمــاأمت پرضلالت اوگمراهی باندی نه جمع یوځای کیږی، کله چــه تاســو اختلاف ووینی، نو تاسو د غټی ټولی سره ملگری سی.

څه کسان دبهانی لپاره دا دلیل وړاندی کوی: چه موږ وینو چه ډیرو خلقو داسلام مخالف سړی ته رأیه ورکړیده. باید وویل سی چه داهم ددغــه ځایه پیښه ده چه معیاروجود نه لری، د اسلامی معیارمخالف کســانوته پــه انتخاباتو کی حق ورکول سویدی، که داسلامی معیارونو مخالف سړی ته حق ورنه کول سی، نو دغه خلق به د اسلام مخالف سړي ته رأیه نه ورکوی.

دأمیر یاخلیفة صفتونــه یامعیارونــه

اسلام که د أمیرپه انتخاب گولوکی په خاصه اومعینه طریقه سره أمت نه دی مکلف کړی، خود اسلامی ټولنی د أمیرصفات ئی په ډیر تفصیل سره بیان کړیــدی، چــه څــه ئی پــه لانــدی ډول دی.

اول صفت: اســلام = داسلام له نظره داسلامی حکومت دچلولــو حقدار هغه څوك دی. چه مسلمان وی، لکه څرنگه چه الله عزوجل فرمایی: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الأَمْرِ مِنكُم. (١)

ترجمة: ای هغه کسانوچه ایمان موږاوړي دی، تاسو د الله تعالی اوذهغه

١- سورة النساء آيــة ٥٩

د رسول اطاعت کوی، او د هغه أمیراطاعت کوی چه هغه ستاسو دجملی څخه

وی. یعنی مسلمان وی، څکه دمنکُم دلفظ څخه صریح معلومیږی چه

مسلمانانو أمیربه د دوی دجملی څخه وی. په بل آیت کی الله عزوجل

فرمائی: وَلَن يَّجعَلَ اللهُ لِلكَافِرِينَ عَلَى المُؤمِنِينَ سَبِيلاً. (٢)

ترجمة: الله تعالی هیڅکله کافرانو ته پرمسلمانانو باندی د فوقیت،

حجت، او حکومت کولو حق نه ورکوی.

او بل دا چه موږ وویل چه دمسلمانانو أمیر به د الله قانون او د هغه

درسول نظام دالله تعالی پرمخلوق چلوی، نوجه دی په خپله وهغه ته عقیده نه

لری نو پرنورو ئی هم نسی نافذ کولای.

دوهم صفت: تقویٰ - دتقویٰ معنی ده د الله تعالی أمرونه او حکمونه

پرځای کول، او دمنهیاتو څخه ځان ساتل، لکه څرنګه چه الله عزوجل

فرمائی: إِنَّ أَكرَمَكُم عِندَاللهِ أَتقَاكُم. (١)

ترجمة: په تحقیق سره د الله په نزد مکرم او محترم هغه څوك دی، چه

متقی وی. په بل ځای کی الله عزوجل دمتقی تفصیل داسی بیان کړیدی:

ذَالِكَ الكِتَابُ لَارَيبَ فِيهِ هُدًى لِلمُتَّقِينَ. اَلَّذِينَ يُؤمِنُونَ بِالغَيبِ وَيُقِيمُونَ

الصَّلٰوةَ، وَمِمَّارَزَقنَاهُم يُنفِقُونَ. وَالَّذِينَ يُؤمِنُونَ بِمَاأُنزِلَ إِلَيكَ وَمَاأُنزِلَ مِن

قَبلِكَ. وَبِالآخِرَةِ هُم يُوقِنُونَ. ترجمة: دا کتاب، چه هیڅ شك په کی نسته چه

١- سورة النساء آية ١٤١ ٢- سورة الحجرات آيت ١٣

دا د الله تعالی له طرفه نازل شوي دی، لارښوونکی دی دمتقیـــانو، هغــه کسان چه ایمان لری په غیبو، اوقائمه وی دوی لمونځ، اوڅه دهغه شیانوڅخه چه موږ ورکړي دی صدقه کوی ئی، د الله درضا لپاره، اوهغه کسان چــه ایمان لری په هغه کتاب، چه نازل سوي دی تاته، اوپه هغه کتابونو چه دتا له مخه نازل شوي دی، اوپه آخرت یقین کوی چه ضرور راتلونکی دی.

پــه دی آیتونو کی الله تعالی په خپله دمتقی صفات بیان کړي دی چه ١- ایمان بالغیب ٢- اقامت الصلوٰة ٣- ایتاء الزکوٰة ٤- ایمان بــــالقرآن ٥- ایمان په نورو نازل شوی کتابونو٧- اوایمان په ورځ دآخرت دی.

یوسړی چه دغه پورتنی صفات ونه لری، او یاعقیده ورباندی نه لری هغه ته مسلمان نه ویل کیږی، او نه پرمسلمانانودحکومت کولو حق لری.

دریم صفت: امانت اوعدالت = دغه دواړه صفتونه الله عزوجل په یوه آیت کی بیان کړي دی: إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكُم أَن تُـــؤَدُّوا الآمَانَـــاتَ إِلَىٰ أَهلِهَـــا، وَإِذَاحَكَمتُم بَينَ النَّاسِ أَن تَحكُمُوابِالعَدلِ. (٢)

ترجمة:په تحقیق سره الله تعالی تاسوته حکم کوی، چه تاسی امانتونـــه وخپل أهل ته وسپاری، او کله چه تاسی دخلقوپه مینځ کی فیصله کوی نو په عدل سره فیصله کوی.

داسلام له نظره حکومت، أمارت یوأمانت دی، رعایا په دی امرسوی

١- سورة النساء آیـــة ٥٨

دی چه دأمیردتاکلو په وخت کی دغه أمانت وأهل ته وسپاری، اوحاکم یا أمیرته أمرسوي دی چه دأمارت ترتسلیمدو وروسته، دایوأمانت وبولی دالله تعالی قانون د الله عزوجل پرمخلوق باندی نافذ کړی، اوهم داچه دخلگو پــه مینځ کی عدالت وکړی، اوبل دا چه أمانت أمین سړی ته سپارل کـیږی، اوأمین وهغه چاته ویل کیږی چه په ورسپارل سوی شی کی خیانت نه کوی.

داچه أمیران هم انسانان دی، اوپــه انســانانو کی د انتقــام، اوغــچ اخستلوماده سته، کیدایسی د قدرت په وخت کی، دخپل مخالفینو څخه دخپل نفسی انتقام اخستلوپه وختکی دعدالت لمنه ایله کړی، نو الله تعالی دخپل علم مطابق دوی دداسی کارڅخه منع کوی، اوفرمائی: لَایَجرِمَنَّکُم شَنَآنَ قَــومٍ عَلَی أَن لَاتَعدِلُوا، اِعدِلُوا هُو أَقــرَبُ لِلتَّقــوَی. وَاتَّقُــواالله. إِنَّ الله خَبِــیرٌ بِمَاتَعمَلُونَ. (١)

ترجمة: اونه دی باعث کوی تاسی دښمنی دیوقوم، په دی باندی چــه عدل او انصاف به ونه کړی تاسی، عدل اوانصاف وکړی تاسی، هم داعدل ډیر نژدی دی تقوی ته، او وویریږی له الله، بیشکه چه الله ښه خبردار دی، په هغواعمالوچه کوی ئی تاسو.

په دغه آیت کی د انسانانو خالق اود دوی په ټولو حالاتو خــبر الله عزوجل أمیر اورعایا ټول ددی څخه منعه کوی، چه دیو قوم سره دخپل

١- ســورة الــمائــدة: آیــة ٨

شخصي دښمني پر بنیاد عدالت مه پریږدی، ځکه عدالت عین تقوی ده، اوبل دا چه تاسی د الله تعالی څخه وبیرېږی، یعنی د مخلوق د دښمنی پرځای د الله سره دښمني مه اختیار کوی، ځکه که تاسو د خپل دښمنی په خاطر عدالـت پریږدی، نو الله بیا د هغه پوښتنه ضرور کوی، اوپه آخرکـی الله عزوجـل دا اطلاع ورکوی، چه زه ستاسو په ټولو اعمالو خبریم، دتقـوی دحصـول بوازنی لاره د الله تعالی څخه ویره ده، او د هغه له انتقام څخه خـوف دی، اودا خوف د (إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ) په مضمون کی له څوڅوځله تفکـر اومراقبت کولونه وروسته پیداکیږی، کله چه دیومومـن پـه زړه کـی دا مستحضر سی چه زما هیڅ پټ اوښکاره حرکت د الله تعالی څخه پټ نـه دی، نودهغه په زړه کی د الله تعالی څخه ویره پیداکیږی، اودهغی نتیجه بـه دا وی په ټولوکاروکی به انصاف کوی، اود الله تعالی حکمونه به پرځای کوی.

دپورتنی آیت څخه دغه لاندی صفات هم ثابتیږی: ۱-أمیرباید دظلم څخه پرهیز وکړی، ځکه ظلم خلق پرانتقام اخستلو مجبورکوی، او انتقـام دحاکم اوحکومت دواړولپاره ډیرخطرلری، ۲-أمیرباید قوت برداشت ولری دیو چادښمنی په خاطر د عدل او انصاف لمنه ایله نه کړی.

<u>څلورم صفت:</u> ددینی علومو عالم به وی = داسلامی ټولنی دحاکم یا أمیر لپاره نهایت ضروری ده چه ددینی علوموماهربه وی، ځکه داسلام لـه نظره دی پر ځمکه باندی د الله خلیفه دی، چه پرخلقو د الله تعالی قانون نافـذ

کړي، اودنبي کريم صلی الله عليه وسلم وارث دي چه دهغه په هداياتو ټخپله هم عمل وکړي، او پر بل باندي ئي هم نافذکړي، نوچه دي ټخپله نــه پــو هيږي نو ځرنګه به ئي پر ځان اوبل نافذکړي؟ اوبل داچه يوځوك ديوملك په قانون نه پوهيږي، نو دي به دهغه ملك مشري څنګه کوي؟ ځکه کله کلــه په ټولنه کي داسي مسائل مينځ ته راځي، چه د هغوي لپاره په قرآن اوحديث کي صريح حکم نه وي، نو په دغه وخت کي اجتهاد ته ضرورت وي ، که څه هم دا اجتهاد په مذهب کي دننه وي. دومره اهليت بايد پکښي وي چه دحق او باطل، صحيح اوفاسد، عدل اوظلم تميز په علمي ډول کولايشـــي. اودا ټول بيله قرآني، اواسلامي علوموصرف په عقل سره نشي معلوميـــداي، اود اسلام له نظره صرف په دي هم اکتفا نه شي کيداي چه ديـنـــي عالمـــان دځان سره دمشاورينو په ډول کښينه وي، ځکه که مشاورترده پوه اوعـــالم وي، نوبيا امارت هم د هغه حق دي، ځکه نبي کريم صلی الله عليه وســــلم فرمائي: عن بن عباس رضي الله عنهما عن رسول الله صلی الله عليه وسلم من استعمل رجلاعلی عصابة، وفي تلك العصابة من هوأرضي منه، فقدخان الله، وخان رسوله، وخان المؤمنين. رواه الحاکم

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما روايت کوي درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه چه فرمائي: که چايو سړي د انسانانو پر يو ټولي باندي أمير مقررکړ، او په دغه ټولي کي ترده ښه اوپوه سړي وو، نوده دالله سره خيانت

کړیدی، اوداللّه درسول سره ئی خیانت کړیدی، اودمومنانو سره ئی خیانت کړیدی.

دېورتنی حدیث له مخی داچه مشاورین ترده پوهان وی، اودی په خپله نه پوهېږی داهم خیانت بلل سویدی.

اوبل دا چه ددنیا دعلومو اوحالاتو څخه به خبروی، څکه داسلام لـه نظره دټولنی د ټولو مفاداتو تحفظ کول پـر أمـیر لازم، او ضـروری دی، نوضروری‌ده چه دټولنی أمیردوخت مطابق په ملکی اوبین المللی مسائلو پـوه وی، اوداننظامی اوموړو صلاحیت ولری، نوکله چه یوأمیرپخپله په سیاســی، اقتصادی، تجارتی، اداری ، نظامی، اودینی امورو علم ونه لری، او همیشه ئی د بل په مشوره تکیه کړي وی، هغه هیڅکله کامیاب أمیرنشی جوړي دای، څکه ده پوه اوناپوه ترمینځ فرق اللّه عزوجل په قرآن کی داسی بیانــه وی، اوفرمایی: قُل هَل يَستَوِی الَّذِينَ يَعلَمُونَ وَالَّذِينَ لايَعلَمُونَ. إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُــو الأَلبَابِ. سورة الزمر آیـة ۹

ترجمة: ووایه ای محمده آیا برابردی سره هغه کسان چـه پوهـېږی اوخاوندان دعلم دی، اوهغه کسان چه نه پوهېږی جاهلان وی، بلکه برابرنه دی ، بیشکه چه پند اخلی خاوندان دخالصو عقلونو. یعنی آیا عالمان خلــق دبي علمه خلقو سره برابرداي شي؟ هیڅکله نه.(دااِستفهام انکــاری دی) اوبه دی دعقل خاوندان پند اخلی، اوټول دعقل خاوندان په پوهــېږی.

معلومه خبره ده چه د علمه څخه مراد هرهغه علم دی، چه د انسانانو لپاره د دنیا او آخرت نفع رسونکی وی.

اوپه بل آیت کی الله عزوجل ټولو انسانانو ته لارښوونه کوی او خپله رأیه ښکاره کوی فرمایی: يَرْفَعِ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُم وَالَّذِينَ أُوتُوا العِلمَ دَرَجَاتٍ. (١)

ترجمة: پورته کوی الله هغه کسان چه ایمان یی راوړی دی، له تاسی څخه، اوخاص پورته کوی هغه کسان چه ورکړی شوی دی دوی ته علم (پوه) په درجومرتبو کی، یعنی ستاسودجملی څخه هغه کسان چه ایمان اوعلم ورکړه سویدی، په څودرجو د الله تعالی په نزد لوړ، اوقدر وړدی.

او په بل آیت کی الله عزوجل د دغه لوړ والی علت بیانوی اوفرمایی :
إِنَّمَا يَخشَى اللهَ مِن عِبَادِهِ العُلَمَاءُ، إِنَّ اللهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ. (٢)

ترجمة: بیشکه چه ویرېږی له الله څخه، ده بندګانو د دغه الله پوه، عالمان، بیشکه الله ښه غالب قوی دی، په انفاذ د احکامو، ښه مغفرت کونکی دی دخطیاتو: یعنی په تحقیق سره د الله تعالی دبندګانودجملی څخه په هرڅاکی چه پوه او علم په هره درجه وی، په هم هغه درجه به دی د الله تعالی څخه ویرېږی، په هغه ځاکی چه خوف اوویره نه وی، هغه فی الحقیقت د دی خبری مستحق نه دی چه ورته عالم وویلی سی.

١- سورة المجادلة آية ١١ * ٢- سورة فاطر آية ٢٨

حضرت شاه ولی الله صاحب لیکلی دی چه ټول انسانان ویریدونکی نه دی، له الله تعالی څخه ویریدل د پوهانو عالمانو صفت دی او کاردی، اود الله تعالی معامله هم پردوه ډوله ده، الله غالب اوقوی دی چه په هره خطـا سړی نیسی نیولی ئی سی، اوغفوررحیم هم دی، کـه ګنهګـاران بخښـی بخښلای یه هم سی، نو په دواړو حالتونوکی انسان ته ښایی چه د الله تعـالی څخه ویریږی، څکه چه نفع اونقصان دواړه د الله تعالی په اختیار اوقبضه کی دی، نو علماء پوهان د الله تعالی څخه ویریږی، هرڅوك چه د الله تعالی څخه ویریږی، هغه د الله تعالی قانون هم ښه عملی اونافذ کولاي شی، اود الله جل جلاله دمخلوق ترمینځ ښه عدالت کولاي شی. نومسلمانانوته دادرس ورکوی چه دوی خپل دجملی څخه ښه عالم پرخپلو ځانوأمیر وټاکی، اوهغه څـوك وټاکی چه ددوی په حقوقو اومصالحو عالم او پوه وی.

څکه علامه ابن خلدون رحمة الله علیه د أمیر د صفاتو دجملی څخـه لیکی، چه د أمیرلپاره دومره علم ضروری دی چـه دمسـائلو پراسـتنباط قادروی، اوپه احتهادی مسائلوکی درأیی ورکولوأهلیت ولری، اوپه دینـی مسئلوکی خپله فیصله کولاي شی، اودقرآن اوحدیث صحیح ترجمـان وی، اوپه اخلاص سره ددین محمدی حفاظت وکړی، اوپر روزمره أمورو بـاندی دقیق علم ولـری. (١)

١- اسلام کا سیاسی نظام ص٥٦ اسرار الرحمن بخاری

مسئلة: اقتداء د ضعیف په قوی پسی.

د اسلام له نظره إمامت پردوه ډوله دی، امامت صغریٰ، او امامت کبریٰ، دامامت صغریٰ ځخه دلمانځه امامت مراد دی، دامامت کبریٰ څخه امارت مراد دی، دحنفی فقه لـه نظره ده لمانځه په امامت کی دقوی اقتداء پـه ضعیف پسی جائز نه ده، دا مسئله د حنفی فقه په معتبروکتابونوکی داسـی لیکلی سوي ده، (ولايقتدى الطاهر بصاحب العذر، ولاالقارئ بالأمي. وأصله أن صلاة المقتدى تبنى على صلاة الإمام صحة وفسادا، لقوله عليـه الصلاة والسلام (الإمام ضامن) أى ضامن بصلاته صَلاة المؤتم، وبناء النـاقص على الكامل يجوز، وبناء الكامل على الناقص لايجوز، لأن الضعيف لايصلح أساسا للقوى، لأنه بقدرالنقصان يكون بناء على المعدوم، وإنه محال، إذاعرف هـذا فنقول: حال الطاهر أقوى من حال صاحب العذر، وحال القارئ أقوى مـن حـال الأمي. (١)

ترجمة: اقتداء دی نه کوی پاك سړی دعذرپه خاوند پسی، اونـه دی قاری په امی پسی کوی، د دی دلیل دا دی چه د مقتدی د لما نځه صحت او فساد د امام پر لمانځه بناکیږی، ځکه علیه الصلوة والسلام وایی (امام ضـامن دی) یعنی امام په خپل لمانځه سره دمقتدی دلمانځه ضامن دی، اوبـل داچـه دناقص بنا پر کامل رواده، اودکامل بنا پرناقص جائز او روا نه ده، اوبل داچه

١- الاختيار فى تعليل المختار ص٦٠ ج ١

ضعیف ددی صلاحیت نه لری چه دقوی لپاره اساس جوړ سی، اوبل داچه دنقصان په اندازه بناپرمعدوم راځی اوداممحاله ده، نوکله چه دا معلومه سوه، نو وایو چه دطاهر حال اقوئ دی دعذرترخاوند، اوډ قاریٔ حال اقویٔ دی د امی تر حال.

په بل ځای کی بیا وایی: فإن أمّ أمّی قارئین وأمیین فسدت صلاة الکل. وقالا: تجوز صلاة الإمام ومن بحاله لاستوائهم، کما إذا انفردوا، ولأبی حنیفة رحمة الله تعالی علیه أن الجمیع قادرون علی القرائة بتقدیم القاری، إذقرأة الإمام قرأة لهم بالحدیث، فقد ترکوا القرائة مع القدرة علیها، فتبطل صلاتهم، وعلی هذا العاجز عن الإتیان ببعض الحروف. (۱)

ترجمة: که امی وداسی قوم ته امامت ورکوی چه په هغه کی قاریان اوامیان دواړه وی، نودحضرت امام ابوحنیفة رحمة الله تعالی علیه په نزد دټولولمونځ فاسد دی، اود امام محمد اوامام ابو یوسف رحمة الله تعالی علیهما په نزد د امام اودهغو کسانوچه دده په شان دی لمونځ صحیح دی، ځکه دوی سره برابردی، لکه دوی چه یوازی لمونځ کوی، اودامام ابوحنیفة رح دلیل دادی چه وایی دوی ټوله دقرأت پرویلوقادروه چه قاری امام په مخکی کړی وای، ځکه د حدیث له مخی د امام قرأت دمقتدی لپاره قرأت دی، نودوی دقدرت سره دا قرأت پرېښودی، نو ځکه د ټولو لمونځ باطل سو. همدا شان

۱- الاختیار تعلیل المختار ص۶۰ ج ۱

مسئله ده که داسی امام چه څه حروف په غلط ویله د سمو حلقو لمونځ پسی صحیح نـه دی.

دا چه اقتدا دقوی په ضعیف پسی صحیح نه ده دحنفی فقه یوبل ډیـر معتمد کتاب کی داسی لیکی: وفسد اقتداء رجل بامرأة، اوصبي، وطـاهر بمـعذور، وقارئ بـأمی. (١)

ترجمة: فاسـده ده اقتداء دسړی په ښځی پسی، او په صغیر نابالغـه پسی، او د پاك پـه معذورپسی، اودقاری پـه أمی پسی.

دهمداغه مسئلی په هکله دحنفیفقه په یوبل کتاب کی داسی لیکـی (ولا يصلی القاری خلف الأمی ولا المکتسی خلف العاری لقوة حالهما).(٢)

ترجمة: لمونځ دی نه کوی قاری په امی پسی، اونه دی لمونځ کـوی هغه سړی چه جامی په اغوستی وی په هغه چاپسی چه لـوڅ وی، ځکـه دقـاری اود جـامو اغوستونکی حالت قـوی دی.

دداغه مختنی کتاب په یوبل ځای حاشیه کی لیکی: وذکر فی المحیط أن القاری إذا اقتدی بالأمی، قال بعضهم لایصیر شارعا حتیٰ لوکـان فـی التطوع لایجب القضاء، وقال بعضهم یصیرشارعا، ثم یفسد حتی لوکان فـی التطوع یجب القضاء، والصحیح هـو الأول. (٣)

ترجمة: په محیط کی ذکر سوي دی: که قاری په امی پسی اقتدا وکړه،

١- کنز الدقائق ص٢٩ ج١ * ٢- الهداية ص١١٣ ج١ * ٣- الهداية ص١١٣ ج١

څه علماء وايي چه دي په لمانځه کي بيخي داخل سوي نه دي، که دا لمونـځ نفلي ووقضايه نه واجبيږي، اوڅه علماء وايي چه دي په لمانځه کي داخل سو، وروسته فاسد سو، که دغه نفلي ووقضايه پرسته، هغه اول قول صحيح دی.

دداغه مسئلي په اړه په دي حديث سره دليل ويل کيږي: عن عائشـة رضی الله تعالی عنها فی الحديث (يؤمهم أقرأهم لکتاب الله .....) (١)

ترجمة: دحضرت عائشة صديقة ځخه په يوحديث کي روايت سوي دي، چه امامت به هغه ځوك ورکوي، چه دالله دکتاب ښه قاري وي.

عن ابن مسعود قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم يـؤم القـوم أقرأهم لکتاب الله تعالی، فإن کانوا فی القرأة سواء فأعلمهم بالسنة، فإکـانوا فی السنة سواء فأقدمهم هجرة، فإن کانوا فی الهجرة سواء فأقدمهم سلما وفی رواية سنا. الحديث رواه مسلم ١٠٧٨ کتاب المساجد

ترجمة: حضرت ابن مسعود رضی الله تعـالی عنـه روايـت کـوی اوفرمايي: چه رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل ديوقوم إمامت به هغـه ځوك کوي چه دالله تعالی دکتاب ښه قاري وي، که په قرأت کـي سـره برابروي، بيابه هغه ځوك امامت کوي چه دسنتو ښه عالم وي، که په سنت کي سره برابروه، بيابه هغه ځوك امامت کوي چه په هجرت کي مخکـي، اول وي، که په هجرت کي سره برابر وه، بيا هغه ځوك وی چه پـه اسلام

١- رواه البخاری باب إمامة العبد

راوړلو کی اول وی، اویاپه سن، عمر کی مخکی وی.

حضرت عمرو بن سلمة رضی الله تعالی عنه په یوحدیث کـــی نقـــل کوی اوفرمایی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل (إذا حضرت الصلوة فليؤذن أحدكم، وليؤمكم أكثركم قرآنا) رواه: كتاب الأذان النسائی ٦٣٢

ترجمة: چه لمونځ حاضرسی نو یو ستاسوڅخه دی اذان وکـــړی، او امامت دی تاسو ته هغه څوك درکړی چه ډیر قرآن یه زده وی.

د پورتنیو آیتونو، حدیثونو، اود فقهاو د اقوالوڅخه ثابته سوه چه پـــه امامت صغریٰ کی اول حقدار هغه څـــوك دی، چـــه د الله تعـــالی دقـــرآن ډیر حافظ، اوښه قاری وی، اود رسول الله صلی الله علیه وسلم د دین اوسنتو ښه عالم وی، نو په امامت کبریٰ کی په طریق اولی دا مراعت کول لازم، او واجب دی، ځکه د یوه لمانځه مسئله او دټول دین، اومخلوق مسئله داهمیت له نظره ډیر تفاوت لری. نوکه مشاور تر أمیر پوه، اوعالم وی، بیا اقتداء د قوی په ضعیف پسی راتګی دا هم پـــه اسلام کی جائـــز نـــه ده.

پنځم صفت: نارنه به وی ښځه به نه وی.

ځ، څه هم دا موضوع د علماؤ په نزد ډیره غټه ده، چه دښځی امارت صحیح دی که نه ؟ اوپه دی هکله مفصل کتابونه لیکل سویدی، خوهغـــه کسان چه دښځی امـــارت صحیح نه بولی هغوی په دی آیت دلیل وایـــی:

قال الله تعالی اَلرِّجَالُ قَوَّامُـــونَ عَلَى النِّسَاءِ، بِمَافَضَّلَ اللهُ بَعضَهُم عَلَى بَعضٍ،

وَبِمَا أَنفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ.(١) سورة النساء آيـة ٣٤

ترجمة: سړی حاکمان دی پر ښځوباندی، په سبب د دی، چه فضیلت لويی ورکړي دی الله ځينی ددوی ته پرځينی نوروباندی، اوپه سبب ددی چه نفقه کوی دوی پردغو ښځو له خپلو مالونو.

تفسیر: په دی آيت کی الله عز وجل دنارينه اوښځی درجی راښيی، چه دنارينه درجه دښځی ددرجی څخه لوړه ده، پـه دی آيـت کـی الله عز وجل دنارينه پرښځی باندی دلوړ والی دوی وجه ويلی دی، ١- لويـه اوموهو به وجه دا ده چه الله تعالی په اصل کی ځينوته پرځينو نورو: يعنـی نارينه ته پرښځه باندی فضيلت لويی ورکړي ده، چه دهغوی تشـريح پـه احاديثوکی په تفصيل سره شته، (يعنی په علم، عمل، صـبر، حلـم، آذان، اقامت، جماعت، امامت، جمعه، خطبه، نبوت، وحی، قوت، سـخا، عـزم، اوداسی نورسره) ٢ -کسبی وجه داده چه نارينه پرښځی باندی خپل مـال صرفوی، اود مهر، خوړو، کاليو، اونورو ضروورياتو تکفل کـوی. مطلـب داچـه ښځولره ښايی چـه دنـارنـه حکمونـه ومنی.

اود دی آيت د شان نزول په هکله مفسرين ليکی: چه يوه صحـابی خپله ښځه دنافرمانی په وجه يوه څاپړه ووهله، ښځه ولاړه خپل پلارته ئـی وژړل ، پلارئی درسول الله صلی الله عليه وسلم په خدمت کی حاضرسـو، اود دوی حال ئی ورته ښکاره کړی، رسول الله مبارك وفرمايل: چه دا دی

هم له خپل خاوند څخه بدل واخلي، په دې منځ کې دا آیت نازل سو، نورسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چه زموږ خوښه بله وه، اود الله تعالی اراده بله سوه، څه چه د الله تعالی اراده ده په هغه کې خیر دی . (١)

د پورتنی آیت څخه وجه د استدلال دا ده، چه د (قَوَّامُونَ) ترجمة په حاکم سره سوي ده، نویو سړی حاکم او محکوم نسی کیدای، که دښځی حاکمیت صحیح سی، نود قرآنی آیت دحکم په خلاف سړی محکوم ګرځی، لودا دفقه د أصولو خلاف دی.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: عن ابی بکرة رضی الله عنه قال عصمنی الله بشیئ سمعته من رسول الله صلی الله عیه وسلم لما هلك کسری، قال من استخلفوا ؟ قالوا بنته، فقال النبی صلی الله علیه وسلم لن یفلح قوم ولوا أمرهم إمرأة. قال فلما قدمت عائشة رضی الله عنها یعنی البصرة، ذکرت قول رسول الله صلی الله علیه وسلم فعصمنی الله به. (٢)

ترجمة: حضرت ابی بکرة رضی الله عنه وایی چه زه الله تعالی په هغه شي وساتلم، چه مادنبی صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلی وو، کله چه کسریٰ هلاك شو، نوعلیه السلام وویل څوك ئی خلیفه کړی ؟ دوی وویل چه دده لور. نونبی عیه السلام وویل: هغه قوم هیڅکله نشی کامیاب کیدلای، چه د هغوی حکومت او قدرت ښځی ته حواله سی،نوابی بکرة

١- تفسیر کابلی: جلد ١ ص٤٦٦- ٢- رواه الترمذی، حدیث نمبر ٢١٨٨

وایی چه کله حضرت عائشة رضی الله عنها بصری تهٔ راغله (د جنګ جمل په واقعه کی) نو وایی زما دعلیه السلام دغه قول رایادسو، اوزه الله تعالی په دغه سره وساتلم: یعنی په جنګ جمل کی د اشتراك کولوڅخه الله تعالی وساتلم، جنګ می وه نه کړی.

دپورتنی آیت اوحدیث څخه معلومه سوه چه دښځی امارت اوحکومت صحیح اوجائز نه دي.

د امام غزالی رحمة الله تعالی علیه په نزد د أمیرصفتونه.

امام غزالی رحمة الله تعالی علیه د أمیردصفاتو دجملی څخه دا هم لیکی چه ١- د اداری امورو د چلولو صلاحیت به لری ٢- عاقل او زکی به وی ٣- دټولنی د ټولو افرادو سره به بیله امتیازه دنسل او مذهب پوشان عدالت کوی ٤- مدبر به وی، اوپه معمولی خبره به نه په غصه کیږی ٥- دخپلورعایاو سره به محبت لری ٦- شجاع به وی، دملك دفاع به کولاي شی، دظالم لاس به دمظلم څخه بند ولاي شی ٧ - قوت ارادی به لری ٨- په حالاتو حاضره به مکمل علم لری ٩- سخی اورحم دله به وی ١٠- ذهنی یاعصبی کمزوری به نه لری ١١- حر او بالغ به وی.

خلاصة مطلب

١- د اسلام له نظره حاکمیت أعلی صرف الله تعالی لره دی.

٢- اود الله تعالی پر مخلوق باندی صرف د الله تعالی اود الله تعالی درسول

دعدل قانون اونظام چلیږی، بل څوك ددی قانون اونظام مخالف قانون اونظام دحوړولـــوحق نـــه لری.

٣- اسلام خپل منونکی مسلمانان دخلیفه یاأمیر د انتخاب لپاره پـــه خاصه طریقه نه دی مکلف کړی، بلکه دا مسئله یه وأمت ته سپارلی ده، چه په خپله خوښه دخپلوحالاتو مطابق دخپلوځانو لپاره خلیفه یا أمیر وټـــاکی، هغه چه په هره طریقه وی، پردرو، څلورو، یازیات وکم طریقـــو بـــاندی دحصر کوم خاص دلیل نستـــه.

٤- اسلام د اسلامی نظام چلو نکو لپاره صفات ښودلی دی، اوتاکید په کړی دی چه په دغه صفاتو هرڅوك متصف وی دهرځای، قوم، اونســـل څخه وی، هغه د الله عزوجل د قانون دچلولو لپاره مقرر کیدایسی.

٥- په اسلام کی د حکومت دجوړولو لپاره معیارمهم دی، طریقـــه انتخاب مهمه نه ده، ځکه طریقه انتخاب دحالاتو اوشرائطو پر بنیاد بدلیږی، اومعیارترڅو چه قرآن، حدیث، اوفقه موجود وی، نه بدلیږی، دا هـــم د الله تعالی عین رحمت دی پردغه امت باندی، اوداد دی امت خصوصیـــت دی، ځکه په سابقه امتونوکی به أمیرد پیغمبرپه شکل د الله تعالی له طرفه ورتـــه رالیږل کیدی .

٦- اسلام دین اوسیاست جدانه بولی، بلکه سیاست اوحکومت ددین تـــابع بولی، ځکه خپلـــه رسول الله صلی الله علـــیه وسلم، اود ده خلـــفاء

الراشدین، ټول دیني اوسیاسي مشران، اوحاکمان وو.

٧- په اسلام کې هرهغه میراثي، خانداني، اوجمهوري حکومت چه دنوموړو معیارونو اوصفاتو مطابق نه وي، مردود او ناجائزدي.

دانتخاب اوبیعت ترمینځ فرق

د اوسني عصر اسلامي سیاست پوهان، د اوسني عصر د حالاتو په نظر کې نیولو سره، اود خلفاء راشدینو د انتخاب کونکو کسانو د صفاتو په مراعات کولو سره د انتخاب اوبیعت ترمینځ فرق کوي او وایي: چه د أمیر سره بیعت هرعاقل بالغ، نر اوښځه کولای سي، خو انتخاب ئې نسي کولای، ځکه دیو کس یایوشي انتخاب هغه څوک کولای سي، چه دهغه شخص یاشي تشخیص کولای سي، اود هغه شخص، اوشي په خواصو، اومحاسنو پوهیږي. لکه دمثال په ډول موټر هرسړی رانیولای سي، عقدپه کولای سي، خو انتخاب یه هرسړی نه سي کولای، بلکه ئوبدیه هرسړی نه سي معلومه ولای، ځکه په خواصو، اومحاسنو ئې نه پوهیږي، نو ضروربه یه مستري انتخاب کړي، ځکه هغه په پوهیږي. اویا دیوموټر لپاره موټروان پکاروي، نوضرور دهغه دسابقه تجربې پوښتنه کوي، بې تجربې سړي ته موټرپه لاس نه ورکوي.

همدارنګه دیوې اسلامي ټولنې دأمیر انتخاب هم هرسړی نسي کولای، بلکه داسې کسان به ئې کوي چه دغه لاندنۍ صفات ولري.

١- انتخاب کونکي اشخاص به د داغه ټولنې افرادوي، چه مصالح.

اومنافع به سره شریك وی، ضرر اونقصان به سره یو وی.

٢- د انتخاب کونکی امتیاز اوفوقیت به دعوامو په مینځ کی د أهلیت، علمی قابلیت، اوصلاحیت پربنیادوی، دصنف، سمت، قبیلی، ژبی، قرابت، زور او وهم پربنیاد به نه وی.

٣- دعامو خلقو دحقوقو محافظین، اودټولنی مصلحین به وی، خپل دشخصی ملحوظاتو ساتنه به نه کوی.

٤- هغوی به دحیثیت، مقام، اورتبی له نظره دأمیر محتاج نه وی.

٥- دهیڅ قسم زور، أمیدونو، او تأثیرلاندی به نه راشی.

٦- دعلمی اوذهنی ښه والی سره به اخلاقی ښه والی هم لری.

٧- خپل درأي خاوند به وی، دبل درأي تابع به نه وی.

٨- دکوم نظام دنافذ کولو لپاره چه دی دأمیرانتخاب کوی، دی به پخپله هم وهغه نظام ته عقیده لری، اوهم به په هغه نظام پوه اوعالم وی، ترڅو داسی یو کس انتخاب وکړای سی، چه په هغه کی ددغه نظام دچلولوصلاحیت موجود وی.

٩- دغه انتخاب به دطرفداری، تقلید، او احساساتو پربنیاد نه وی، بلکه دفهم، فراست، اوتجربي پر بنیاد به وی.

دنومړو صفاتو خاوندان چه یوڅوك منتخب کړی، بیاعام خلك پخپله یادوکیل په واسطه بیعت ورسره کولاي سی. اسلام کاسیاسی نظام:ص ٢٥٠

کیدایسی څه کسانوته داوهم پیداسی، چه داسی خلك به چیری اوڅرنگه پیداکیږی ؟ باید ووایو چه دا به پریوه ټولنه باندی بد ګمانی وی، ځکه په یوه ټولنه کی څومحدود داسی کسان ضرور موجود وی، اوپه دی باندی اکتفا ونه سی چه هرڅوك راغلی‌نو ووایو څه وکړوداغه لاغنیمت دی.

حقیقت دا دی چه په اسلامی ټولنه کی دداسی خلقوکمی نسته، دا چه څوك فرصت نه ورکوی، هغه ځانته خبره ده، اویادا چه هریود قدرت خاوند خپل ځان، قریبان، یا ملګری مداحان تر هر څا ښه یوه بولی، نورخلق ټول دځان مخالفین بولی، اوکوشش کوی چه ورك سی. بلکه دا صفت لرونکی کسان باید میدان ته راووزی، اوفرصت ورکړل سی، ترڅو د خپلی ټولنی خدمت وکړی اوخپل اسلامی مسؤلیت پوره کړی، د قدرت خاوندان دخپل قدرت مراعت ونه کړی، بلکه د الهی اوامرو، او قرآنی اصولو، اونبوی هدایاتو سره سم امانتونه وخپل اهل ته وسپاری، ځکه داسلام له نظره وظائف ټول امانتونه دی اودامانانوپه هکله الله عزوجل فرمایی: (إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا) ترجمه: بیشکه الله امر کوی تاسی ای مومنانو! چه وسپاری امانتونه اهل دامانانو ته.

او وظیفه واهل ته نه سپارل د الله رسول صلی الله علیه وسلم خیانت بللی دی، لکه چه فرمایی: عن بن عباس رضی الله عنهما عن رسول الله صلی الله علیه وسلم من استعمل رجلا علی عصابة، وفی تلك العصابة من هو

أرضى منه، فقد خان الله، وخان رسوله، وخان المؤمنين. رواه الحاكم

ترجمه: حضرت ابن عباس رضى الله عنهما روايت کوی درسول الله صلى الله عليه وسلم څخه، چه فرمائي که څایوسړی د انسانانو پریوټولی باندی أمیرمقرر کړی، اوپه دغه ټولی کی ترده ښه اوپوه وو، نوده دالله سره خیانت کړي دی، اود الله درسول سره ئي خیانت کړي دی، اودمومنانوسره ئي خیانت کړي دی.

اوبل دا چه ناأهله انسان چاته اجتماعی نفع نسی رسولای، په غلطو مشورو خپل ځان، امیر، اوټولنی ته ضرر رسوی، اود مسلمانانوأمیر باید تر خپل ځان زیات د اسلامی ټولنی، اوأمت مراعات وکړی، ځکه د اسلام له نظره دی مسؤول دی، دخپلو رعایاوپه هکله، څرنګه چه د اسلام رسول صلى الله عليه وسلم فرمایی: عن ابن عمر رضى الله عنهما قال سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول كلكم راع، وكلكم مسؤل عن رعيته، الإمام راع ومسؤل عن رعيته: والرجل راع فى أهله ومسؤل عن رعيتـه، والمرأة راعية فى بيت زوجها ومسؤلة عن رعيتها، والخادم راع فى مال سيده ومسؤل عن رعيته، قال وحسبت أن قد قال والرجل راع فى مال ابيه ومسؤل عن رعيته، وكلكم راع ومسؤل عن رعيته.(١)

ترجمه: حضرت عبد الله بن عمر رضى الله عنهما روايت کوی، چه

١- مختصر صحيح البخارى كتاب الجمعة ص١٢٢

مادرسول الله صلی الله علیه وسلم ځخه واوریدل ، ویل ئی: هر یوله تاسی ځخه حافظ، او امین مقرر دی، اوهر یو له تاسی ځخه مسؤل دی (پوښتل کیږی) دحق ځخه دده درعیت (هغه چه حفاظت ئی پر لازم دی) امیر اوپادشاه حافظ، اوامین مقرر دی اوپوښتل کیږی دحق ځخه دده درعیت، اوسړی حافظ او امین مقرر دی په خپل عیال اوکورنی کی، اوپوښتل کیږی دحق ځخه دده درعیت، اوښځه حافظه اوامینه مقرره ده دخپل میړه په کور کی، اوپوښتل کیږی دحق ځخه ددی درعیت، اوخادم حافظ اوامین مقرردی دخپل مالك په مال کی، اوپوښتل کیږی دحق ځخه دده درعیت، عبد الله بن عمر رضی الله عنه وویل، زه ګمان کوم چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائل: او سړی حافظ او امین مقرردی دخپل پلار په مال کی، او پوښتل کیږی دحق ځخه دده درعیت.

اوبل دا چه خپله امیراودده مشاورین ټوله فانی دی، اسلام اواسلامی ټولنه ترقیامه دقیامت باقی پاته دی، نوځکه باید د اسلام اواسلامی ټولنی دبقافکر وکړی، یوازی خپل دقدرت، اومنافعو دساتلوپه فکر کی نسی، اوخپل رعایا د الله عزوجل مخلوق اوبندګان وبولی، اودا چه الله تعالی یه پوښتنه راځخه کوی.

د مسلمانانو د أمیر وظائف او مسؤلیتونه

اول - د اسلام قانون په مکمل ډول نافذ کول.

د اسلامي حکومت لمړنی وظیفه اوفریضه داده چه الهی قانون (اسلامی شریعت) په مکمل ډول نافذکړی، معتقدات، عبادات، حــدود، دعــوت، تبلیغ، اونورشرعی احکام، ترڅو چه هیڅ یوفرد دهغه امورو مرتکب نســی کوم چه الله عزوجل حرام بللی دی، لکه غــلا، زنــا، شــراب خــوړل، قمارکول، اوداسی نور.

پدی هکله الله عزوجل فرمایی: اَلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمْ فِــى الْأَرْضِ أَقَــامُوا الصَّلَوٰةَ وَآتَوُا الزَّكَوٰةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ.وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ. (١)

ترجمة: دغه مهاجرین هغه کسان دی،که موږدوی ته قدرت ورکــړو په ځمکه کی، نوقائمه وی به دوی لمونځ، او ورکوی به زکوٰة، اوأمر به کوی خلقوته په نیك شرعی کارسره، اومنعه کوی به خلق له بــد کارڅخــه، اوخاص د الله پــه اختیارکی ده آخره خاتــمه دټولو کارونــو.

تفسیر: دا یوازی دهغومسلمانانوبیان دی، چه ظلمونه پرشــوي دی، اوله کورونوڅخه استل شوی‌دی، یعنی الله تعالی به ولی ددوی سره مرسته نه کوی؟ چه دوی داسی قوم دی که الله دوی ته دځمکی دمخ ســلطنت هــم ورکړی، خوبیاهم دوی د الله تعالی له یاده نه غافل کیږی، په خپله هم پــه بدنی اومالی نیکو اعمالو مصروف دی ، اوکوشش کوی چه نورهــم پــه همدغه سمه لاره برابرکړی. لــه دی آیت څخه د صحابه کرامو رضوان الله

١- سورة الحج آيــة ٤١

تعالی علیهم خصوصا دمهاجرینو، اوپه هغو کی په خاص ډول دخلفاء راشدینو حقانیت، مقبولیت، اومنقبت ثابت شو، ځکه دوی هریوه په خپل نوبت، داسلام ټول شعائر، خصوصا دغه په آیت کی ذکرسوی په ډیره ښه اومکمله توګه اداکړه.

وَلِلّٰهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ - اوخاص د الله تعالی په اختیار کی ده آخره خاتمه دټولو کارونو، یعنی که څه هم نن مسلمانان کمزوری او کفار غالب اوقوی ښکاری، لیکن دغه کار د الله تعالی په واك او اختیارکی دی، چه بالآخرمسلمانان په دوی غالب اوبریالی کړی، یائی دا مطلب چه همدغه امت به د الله تعالی دین تریوی مودی پوری قائم ساتی، یا خدای جل جلاله عالم دی. اویاپه دی سره الله جل جلاله ټولوانسانانوخصوصا وامیرانوته خبرور کوی، چه دشخصی ګټواومنافع په خاطر، یادوهم، بیری، اوقرابت داری، اویادقدرت دحفاظت په خاطر، الهی دین، اوقانون تر پښولاندی نه کړی، اود عدالت لمنه ایله نه کړی. (۱)

په بل آیت کی الله عزوجل فرمائی: كُنْتُم خَيْرَ أُمَّةٍ أُخرِجَت لِلنَّاسِ تَأمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ. (۲)

ترجمة: یئ تاسی ای محمدی امته! خیرد هغه امت چه ایستل شوي دی دپاره د خلقو، چه حکم کوی تاسی هرچا ته په معروف نیکی سره، او منع

۱- تفسیر کابلی ص۲۱۶ ج۲ * ۲- سورة آل عمران آیة ۱۱۰

کوی تاسی، هرڅوك له منکر بدی ګڼحه، او ایمان لری پر الله تعالی باندی، په دوام او ثبات سره.

تفسیر: په منکر کی ټول خراب کار ونه لکه کفر، شرك، بدعتونه، قبیحه رسوم، هر راز بد اخلاق، او غیرمعقولی خبری شاملی دی. له دی منکراتو څخه مخالفت هم په څو ډولونو (طریقو) وی کله په ژبه، کله په لاسونو، کله په قلم، کله په توره ټوټك او په اکبر جهاد سره، الغرض هر راز جهاد په دی کی داخل دی: دا صفت په داسی عمومیت او اهتمام سره چه په محمدی امت کی لیده کیږی، په پخوا نیو امتونو کی د هغه مثال او نظیر نه مونده کیږی. (۱)

که څه هم پورتنی آیتونه عام او ټول امت ته شامل دی خو کله چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا حدیث ورسره یوځای کړونو بیا د امیر وظیفه او مسؤلیت نورهم زیاتیږی.

عن ابن عمر رضی الله عنهما قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول کلکم راع، وکلکم مسؤل عن رعیته، الإمام راع ومسؤل عن رعیته، والرجل راع فی أهله ومسؤل عن رعیته، والمرأة راعیة فی بیت زوجها ومسؤلة عن رعیتها،...... (الحدیث) (۲)

ترجمه: حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما روایت کوی، چه ما

۱- تفسیر کابلی ص۳٤۱ ج۱* ۲- صحیح البخاری کتاب الجمعة ص۱۲۲

درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل ، ویل ئی هریو له تاسی څخه حافظ اوامین مقرردی، اوهریو له تاسی څخه مسؤل دی (پوښتنل کیږی) دحق څخه دده درعیت (هغه چه حفاظت ئی پر لازم دی) امیراوپادشاه محافظ اوامین مقرردی او پوښتل کیږی، دحق څخه دده درعیت، اوسړی محافظ او امین مقرردی په خپل عیال او کورنی کی، اوپوښتل کیږی دحق څخه دده درعیت، اوښځه محافظه اوامینه مقرره ده دخپل میړه په کورکی، اوپوښتل کیږی دحق څخه ددی درعیت.

دپورتنی حدیث څخه په ښکاره ډول معلومه سوه چه دمسلمانانو أمیردټولو رعایاؤ د محافظ اوچوپان حیثیت لری، اودرعایاؤ د ټولو دحقوقوپوښتنه څنی کیږی، او بل دا معلومه سوه چه د اسلام د نظره ټول مشران واړه وی اوکه غټ مسؤل دی، اودهغوی څخه دخپل مسؤلیت پوښتنه کیږی.

په یوبل حدیث کی رسول الله صلی الله علیه وسلم دیومنطقی ووالی اومسئول ته داسی لائحه عمل ورکوی اوفرمایی: عن بن عباس رضی الله تعالی عنهما أن النبی صلی الله علیه وسلم بعث معاذا إلی الیمن: فقال ادعهم إلی شهادة أن لآإله إلاالله وأنی رسول الله، فإن أطاعوا لذالك، فاعلمهم أن الله افترض علیهم خمس صلوة فی کل یوم ولیلة، فإن أطاعوا لذالك، فاعلمهم أن الله افترض علیهم صدقة فی أموالهم، تؤخذ من أغنیائهم وترد فی فقرائهم، فإن

اطاعوا لذالك فإياك وكرائم أموالهم، واتق دعوة المظلوم، فإنها ليس بينها وبين الله حجاب . رواه ابن ماجه حديث نمبر ٥٦٧

ترجمة: کله چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم حضرت معاذ رضی الله عنه یمن ته لیږی، ورته وئی ویل چه دوی به دعوت کړی ودی ته چــه دالله عزوجل پر وحدانیت اوزما پررسالت شاهدی ووایی، کله چه دوی دغه ومنی بیا دوی ته دعوت وکړه، چه الله تعالی پر دوی په ورځ اوشپه کی پنځه لمنځونه فرض کړې دی، کله چه دا ومنی بیا دوی دعوت کړه چــه الله عزوجــل ددوی په مالونو کی زکوة فرض کړي دی، چه دغنیانو څخه اخستل کـېږی اوددوی پرفقیرانو توزیع کېږي، کلـــه چــه دوی داومنـــی بیانوتــه ددوی دښومالونو څخه ځان وساته، (یامعنی داچه په زکات کی ده دوی څخه هغه ښه مالونه مه اخله، اویاداچه دزکوة نه علاوه د دوی د مالونوڅخــه ځــان وساته، په زورظلم نورمه څنی اخله) اودمظلوم دښراڅخه ځان وساته، ځکه دمظلوم دښرا اود الله تعالی تر مینځ هیڅ حجاب اوپرده نسته. یعنی که مظلوم ستادظلم څخه ښرا بد دعا درته وکړی، الله عزوجل دمظلوم ښرا قبلـــوی، بیابــه نــه تــه ئی، اونــه ســتا زور اوظلم .

دپورتنی حدیث څخه معلومه سوه چه امیرکه یوڅوك پریو ځای مقرره وی، وهغه ته به دکارلائحه عمل ورکوی، اوبل داچه دامیر اودهغه دنائبـانو لمړنی وظیفه داده چه خلقوته معتقدات، اوبیا عبادات، اوبیامعاملات وروښیی،

نو داکار هغه څوك کولا یسی چه ټوله عالم وی او عقیده ورته لری، معلومه سوه چه د اسلام له نظره امیر او د هغه نائبان په ټول عالمان وی، او بل داچه خلقو د مالونو، او د ظلمه به ځان ساتی، او که مظلوم ژړا وکړی الله یې قبلوی. او دا حدیث نن هم د ټولو امیرانو لپاره، روښانه قانون دی.

دوهم = دجمعی، اخترونو او دجنازی لمونځ او خطبة ویل.

دامام ابوحنیفة رحمة الله تعالی علیه دمذهب مطابق دجمعی، اخترونو، او جنازی د لمانځه امامت ورکول، او خطبة ویل دامیر دوظائفو څخه ده. دامسئلی دحنفی فقه په ډیرو مشهورو او معتبرو کتابونو کی لیکلی سویده، دجمعی دلمانځه په هکله دکنز الدقائق عبارت داسی دی: وتودی فی مصر والسلطان او نائبه. (۱)

ترجمة: دجمعی لمونځ اداکیږی په ښار کی، او سلطان یادهغه نائب به ئی امامت کړی. او دا مسئله په هدایه شریفه کی داسی لیکلی ده: ولایجوز اقامتها إلاللسلطان، اولمن أمره السلطان، لأنها تقام بجمع عظیم وقد تقع المنازعة فی التقدم والتقدیم، وقد تقع فی غیره فلابد منه تتمیما لأمرها. (۲)

ترجمة: دجمعی دلمانځه اقامت یاامامت روانه دی، مګر امام او یادهغه نائب ته، ځکه دجمعی لمانځه ته ډیر خلق یوځای کیږي، نو ددوی په مینځ کی کله کله پر امامت ورکولو، یعنی څه خلق به وای فلانی دی امامت

۱- کنز الدقائق ص۴۳ ج۱ * ۲- الهدایة ص ۱۵۱ ج۱

ورکړی، اونوربه وایی فلانی‌دی ورکړی ، اویوبه وایی زه ده امامت حق لرم، او بل به وایی زه حقداریم) اوکله په مخکی کیدلو (یعنی یوبه وای وختی دی او بل به وایی نا وخته دی) اوکله بیا په نورو شیانو باندی اختلاف راځی، نود امام دحضورڅخه چاره نسته، ترڅو دجمعی امرپوره سی، داسی اختلافات کله کله دلویی جګړی، فساد، اودلمانځه دتعطیل باعث ګرځی، (اوډیرخپل د سترګولیدلی حال دی چه یوورځ په ملتان کی دجمعی دلمانځه لپاره یو جامع مسجد ته ولاړم، نوکله چه امام منبرته وخوت اوخطبه یه شروع کړه، یوبل امام راغلی په محراب کی کښیناستی، یوډله خلق راپورته سوله اودا امام یه راکش کړی د منبرڅخه یه راښوه کړی، ویل مونږبه تاپسی لمونځ نه کوو، یوبله ډله خلق بیا دداغه امام په حمایت راپورته سوله، چه پدی کی وهل ټکول شروع سول، اودجمعی لمونځ پاته سو، اوزه خپله دڅه کسانو سره بل مسجد ته ولاړم، اوهلته می لمونځ وکړی) نودداسی اختلافاتو دمخنوی لپاره دسلطان یادهغه دنائب حضورکه څه هم دداغه لمانځه لپاره نائب مقررسوی وی، ضروری اوواجب دی. دهدای دپورتنی عبارت شرحه په فتح القدیرکی داسی لیکلی سوی ده: ولایجوزاقامتها إلاللسلطان أی الـوالی الذی لاوالی فوقه وکان ذالك الخلیفة، أولمن أمـره السـلطان وهوالأمیر، أوالقاضی، اوالخطباء. (۱)

۱– فتح القدیرشرح الهدایة ص۲٦ ج۲

ترجمة: دجمعي دلمانځه قائمول بيله سلطانه جائز نه دی، دسلطان څخه هغه والي مراد دی چه تر ده فوق لوړ والي نه وی، هغه نو خليفة دی، او يا بيله هغه چاچه سلطان ورته امر کړی وی، هغه نو دمنطقی أميران، قاضيان، او خطيبان دی.

او فتح القدير د حضرت حسن رضی الله تعالی عنه دا قول هم را نقل کړي دی: وقال الحسن أربع إلى الإمام وذكر منها الجمعة والعيدين. يعنی حضرت حسن رضی الله عنه فرمايي: څلور شيان وإمام ته مفوض دی چه دهغوی دجملی څخه دجمعي او اختر لمونځ دی.

او داختر دلمانځه په هکله داسی وايي: تجب صلوة العيد على من تجب عليه الجمعة بشرائطها. (۱)

ترجمة: داختر لمونځ واجب دی پرهغه چاچه دجمعي لمونځ واجب وی، دجمعي دټولو شروطو سره، چه يو دشرطو څخه امامت د سلطان ياد هغه دنائب دی.

دجنازی دلمانځه په هکله داسی واي: السلطان أحق بصلاته يعنی دجنازی په لمونځ ورکولو کی اول حقداره سلطان دی.

داچه دڅه کسانو په نزد دسلطان کلمه عامه ده هرهغه څوك مراد دی چه پرميت ولايت لری لکه دميت ولي او يا امام الحي، نو څکه په دغه ځای

۱- كنز الدقائق ص۴۵ ج۱

کی دعینی په حاشیه کی لیکلی دی: (نص علیه ابوحنیفة رح بقوله الخلیفــة اولی إن حضر، فان لم یحضر فإمام المصر) یعنی امام ابوحنیفة رحمة الله تعــالی علیه تصریح کړی ده، چه خلیفة اولی دی که حاضر سو، او که حاضر نه سو بیا د هغه ښار حاکم او امام اولی دی.

په هــدایه کی داسی لیکی: وأولی الناس بالصلوة علی المیت السلطان إن حضر، فإن لم یحضر فالقاضی، فإن لم یحضر فیستحب تقدیم إمام الحی ثــم الــولی. (۱)

یعنی دجنازی دلمانځه په إمامت اول حقدار أمیر، خلیفة دی، که هغــه نه وو بیا قاضی، که هغه نه وو بیا مستحب دی چه دکلی امام مخکی ســی، او که نــه بیا دمیت قریب حقداردی.

دپورتنیو عباراتو، او حوالو څخه ثابته سوه، چه دجمعی، اختر، جنازی دلمونځونو امامت کول د امیر یا د هغه دنائب د وظائفو څخه دی.

مسئلة: د امام او یانائب امام حضورودغو لمنځوته شرط دی په اتفــاق سره، د (فلابد منه تتمیما لأمرها) او(ولایجوزاقامتها إلاللسلطان) اوددی پــه شان دنورو عباراتو څخه معلومیږی چه دا شرط دصحت دی، مخکــه فتــح القدیر یوحدیث نقل کړیدی چه فرمایی: (قوله صلی الله علیه وســلم مــن ترکها وله امام جائر اوعادل، ألا فلاجمع الله شمله، ولابارك له فی أمره، ألا

۱- الهدایــة ص۱٦۲ ج۱

ولاصلاة له، الحدیث؛ یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: چاچه امام ظالم یاعادل درلودی، اوده جمعة پریښودله، خبراوسی چه دده پاشلی، قوت دی الله نه یوځای کوی، اودده په کارکی دی الله برکت نه اچوی، اوخبراوسی چه دده لمونځ نه دی سوی. اوبل داچه هدایة اونورو کتابونوچه کم علت لیکلی دی، هغه دا چه دا لمنځونه ټول په اجتماع اوډله سره کیږی، که امام یانائب امام نه وی مفضی ومنازعی، فساد، جنلړ ته ګرځی. داصول فقه له نظره هر هغه شی چه مفضی ومنازعی اوفسادته وی هغه فاسد یاباطل دی. اوبل دا چه مخکی مو وویل چه د امیردوظائفو څخه اقامت د لمانځه دی، نوربه هم پرلمانځه دروی، اوخپله امیربه هم دغولمنځوته دیومسلمان په حیث حاضریږی، څکه پرده هم فرض او واجب دی، کله چه دی حاضرسی، نوبیا بیله اجازی د أمیردبل چا امامت ورکول: د امیراستخفاف دی، اوداجائزنه دی اوهرچاته چه امیر اجازه وکړی هغه د امام نائب بلل کیږی، بیا جائزدی.

داچه اسلامی ټولنه له ډیره وخته دسیکولر یا لادینیه حکومتونوترتسلط لاندی راغلی ده، اوډیرداسی مشران دمسلمان په نامه پرمسلط سوي دی، چه هغوی نه عالمان اونه واسلامی اوصولوته عقیده لری، بلکه تر الهی اصولو ورته خپل دقدرت ساتنه اهمیت لری، خبرنه دی چه دا قدرت الله تعالی راکړیدی. اوهغه یه برته راڅخه اخستلایسی، نوځکه نن اسلامی امیرانو خپلی ورسپارل سوی اسلامی دندی پری ایښی، اوکم کسان چه د مکمل

اسلامی حکومت جوړولودعوه کوی هغوی هم وداسی مهمو وظیفوته نـــه دی متوجه، اودا دنده په داسی بی مهاره پری ایښی ده، نو ځکه هغه اساســی دندی چه امیر یادده نائب اجراکړی وای، دداسی ناأهلو خلقوپه لاس کیدی، چه نه یوازی دمسلمانانو د :میرلپاره بلکه دټولی اسلامی ټولنی لپاره داختلاف اوکمزوری باعث ســوي دی.

دامام د لفظ څخه دوه امامته مراد دی یو امامت کبریٰ دی چه أمیرلره دی، اوبل امامت صغریٰ دی چه دمسجد اوکلی امام لره دی، کوم چه دأمیر نائب بلل کیږی، که هر یوځپله دنده یاوظیفه په صحیح توګه ادا کړی، پـه اسلامی ټولنه کی به تر ډیره حده الهی أوامر پرځای سی، اوهم به دمنکراتـــو مخه ونــیول سی، اولکه څرنګه چه په امامت صغریٰ کی دامام دلمانځه پــه فسادسره دټولو مقتدیانو لمونځ فاسدیږی، همدارنګه په امامت کبریٰ کی هم دامام په فسادسره ټول رعایا مأخوذ بلل کیږی.

باید ووایو چه دکلی ملا امام دداغه کلی دټولو اوامرو او نواهیومسؤل دی، هغه دکلی دامیر یا ولسوال اوقاضی حیثیت لری، اود امیردنائب په توګه وظیفه اجراء کوی، همدا وجه ده چه دټولوفقهاؤ په نزد د جمعـــی، اخــتر، اوجنازی په لمنځونو کی د امام نائب بلل کیږی، نه یوازی د لمانځه په ورکولو کی بلکه پــه ټــول امورو کی لمړی وامیر ته او بیا په ورځ د قیـــامت والله عزوجـــل تـــه مســؤل دی.

باید په ډیرافسوس سره ووایو چه نن دکلیو ملا امامان د أمیرد نائب په توګه نه بلکه دکلیو د خلقو او اوسیدونکو دمزدورانو پـــه توګـــه وظیفـــه اجراءکوی، دتعجب خبره داده چه دیوی خوا دجمعی اواختر لمنځونه اوخطبی دامیرد نائب په توګه ادا کوی، خوله بلی خوا ئی عزل او نصب، یعنی دروول او لیری کیدل دکلی داوسیدونکو په واك کی دی، امیر په خبرهم نه وی، دا چه دکلی ملا امام دکلی داوسیدونکوپه خوښه دریږی لیری کـــیږی، پـــه اسلامی ټولنه کی دڅوخرابیوسبب ګرځیدلی دی، څه ئی په لاندی ډول دی.

۱- که دجمعی، اختر، اوجنازی لمونځ ورکول، اوخطبه ویل، دامـــیر یادنائب امیروظیفه وی، لکه څرنګه چه دفقه په کتابو نو کی لیکل سویدی، اودا امامان دامیر نائبان نه وی، نوبیا به دجمعی، اخترونواوجنازی دلمنځونـــو دورکولو صحت څرنګه دی ؟

۲- دا چه دکلیو خلق دملا امام سره داعقد کوی چه دامامتی په بدل کی به تاته خپل زکاتونه اوعشرونه درکوو، څکه بل څه خونسته، دازکوتونه اوعشرونه د ملا امام مزدوری، اوأجرة شو، حال داچی فرضی زکواة اوعشر د هیڅ عمل په بدل کی صحت نه لری، دفرضی لمنځونو اوعباداتو په بـــدل کی بایـــد پـــه هیڅ صورت جـــواز ونلری.

۳- داچه فرضی زکاتونه اوعشرونه خالص دبیت المال اوبیا دفقـــیرانو اومحتاجانو حق دی هغه ټوله بی ځایـــه مصرفیږی، وهغو مستحقینو ته نـــه

رسیږی کوم چه د اسلام قانون قرآن کریم په صریحو او ښکاره الفاظو سره ښودلی دی.

٤- دا چه ملا امامان دامیر لهٔخوا ټاکلي نه، بلکه دکلیوالو لخوا تعین کیږی، نوځکه معیاربیخی ورك سو، ځکه موږ وینو چه دملا امام مقررکیدل په ډیروځایونوکی دمعیاراو اهلیت پر بنیاد نه وی، بلکه دشخصی تعلقاتو او یا نورو ملحوظاتو پر بنیاد وی.

٥- دا طبعی خبره ده چه هر چاته خپل شخصی منافع ترهرڅه نه زیات اهمیت لری، داچه دی دهغوی دمزدور په حیث کارکوی، همدا وجه ده چه دی پخپل کلی کی د أمر بالمعروف او نهی عن المنکر وظیفه په صحیح توګه نشی ادا کولای، په ډیرو ځایونو کی ملا امام دکلی داوسیدونکو دعاداتو اورسوماتو تابع وی. (إلاماشاء الله تعالیٰ)

٦- دا چه اکثره ملا امامان خپله وظیفه یا دنده چه امر بالمعروف اونهی عن المنکر، اویاخلقو ته داسلامی احکامو ورزده کول دی، نه اجراء کوی او یائی نسی اجراء کولای، په اسلامی ټولنه کی جهالت زیات سو، ځکه موږ وینو چه په هر کلی کی ملا امام سته، خو بیا هم که دکلی اوسیدونکی وپوښتل سی نو ډیرخلق داسی دی چه په خپلو معتقداتو او عباداتوهم خبر نه دی، معاملات او کورنی ژوند ټوله دعادت مطابق کیږی.

٧- دا چه موږ وینو او اورو ډیر داسی خلق د دغه مبارك دین دعوت

اوتبلیغ کوی، چه دقرآني آیتونو اونبوی احادیثو ترمنځ اویا په احادیثو کې دصحیح، ضعیف اوموضوعی فرق اوتوفیر نشي کولای، همدا وجه ده چه نن د اسلام دا روښانه دین د غلطو اونا اهلو ترجمانانو له لاسه داختلاف سرچنه ګرځیدلی دی، او مسلمانان په یو قسم بی احتیاطی اوبی پرواهی اخته سویدی.

دپورتنیو څو نمونه وی مثالونو په شان نورهم داسی مشکلات سته چه اصلاح ئې دامیر د لمړنیو وظائفوڅخه ده، اوهم دا ئې فریضه ده چه دا دین دداسی نا اهلو کسانو دمنګولو څخه ازاد کړی، چاچه فقط دخپل نامه، خواهشاتو، او معاش ذریعه ګرزولی دی. که په اسلامی دولته کی امیردا مهمه وظیفه داسی بی مهاره پرېږدی لکه په نوروسیکولر یا لادینه حکومتونو کی، نو بیا به د اسلامی حکومت اویو سیکولرحکومت فرق په څه شی سره کیږی؟ څکه موږ وینو چه په کفری اولادینه حکومتونو کی هم دومره آزادی سته ده، چه یوڅوك خپل د دین څه ناڅه عبادات اوتبلیغ، دعوت اوعمل وکړی.

دریم - خپلورعایاوته دحج امکانات برابرول.

حج داسلام دپنځوارکانوڅخه یورکن، اودپنځوبناوڅخه یوه بناده، داچه دمسلمانانو امیرداوظیفه لری، چه ددین ارکان، اواحکام په مکمله توګه نافذ اوعملی کړی، نوڅکه دا لازم او واجب ده چه د خپلو مسلمانو

رعایاو لپاره دحج امکانات برابر کړی، که ټوله درسول الله صلی الله علیه وسلم، اود خلفاء راشدینو زرین تاریخ مطالعه کړو، وبه وینو چه ټوله رسول الله صلی الله علیه وسلم اوددخلفاؤ هر یوه په ټوله یادنمابنده په ذریعه دحاجیانود قافلی قیادت کاوه.

حکمت او غرض دا دی: چه په حج کی ډیرخلق یوځای کیږی، احتمال دنزاع اواختلاف سته، نوځکه د أمیر یانائب أمیرحضور یکښی شرط ضروری دی، لکه په نورو اجتماعی عباداتو کی: لکه جمعة اواختر او جنازه.

بل داچه دخلفاء راشدینو په زمانه کی دایو موسمی اجتماع وه، دټولو منطقو أمیران اوشکایت لرونکی رعایابه یوځای کیدل، اوهلته به شکایت لرونکو د منطقی دأمیر په خلاف خپل شکایت وړاندی کاوه، اوأمیر المؤمنین به درعایاوشکایتونه اوریدل اوازاله به یی کوله، بل دا چه د مسلمانانو په خپل مینځو کی، اود أمیرانو او ددوی ترمینځ به تعارف اوپیژندګلوی کیدله.

<u>څلورم - دین لرونکی، اوأهل مامورین مقرر کول.</u>

ښکاره خبره ده چه د مملکت ټول کارونه یوازی أمیر یاخلیفه نه شی کولای، ونورو عمالو اوکارکونکو ته ضرورت لری، په دی هکله د أمیر یاخلیفة مهمه وظیفه داده، چه داسی کارکونکی عمله مقرر کړی، چه په مکمل ډول ددین د اصولو تابع وی، اود ور سپارل شوی وظیفی پوره أهلیت ولری، ځکه داکارکونکی نه یوازی داچه دأمیر نمائنده ګان دی، بلکه

دده دايمان، تقوى، اوأهليت عكاسى كوى، بل داچه داسلام له نظره داوظيفه يو أمانت ده، اود أمانت په هكله الله عزوجل فرمايى: إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكُم أَن تُؤَدُّوا الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا.(١)

ترجمة: بيشكه الله أمر كوى په تاسو، اى مومنانو اددى چه وسپارى تاسى أمانتونه أهل دأماناتو ته.

اوپه بل آيت كى الله عزوجل فرمايى: وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِن بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ. (٢)

ترجمة: په تحقيق ليكلى دى موږ په زبور كى وروسته له نصيحت څخه داچه بيشكه دغه ځمكه مالكان به ئى بالآخر زما هغه بندګان وى، چه نيكان دى، اوپه ميراث به ئى وړى.

تفسير: يعنى دكاملو وفادارو بندګانوسره الله وعده كړيده، چه دهغوى په برخه ددنيا اوآخرت برى اوكاميابى ده، اودوى ددنيا دځمكى، اودجنت وارثان ګرځول كيږى.

په بل آيت كى هم فرمايى: قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ اسْتَعِينُوا بِاللهِ وَاصْبِرُوا، إِنَّ الأَرْضَ للهِ يُورِثُهَا مَن يَشَاءُ مِن عِبَادِهِ. وَالعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ.(٣)

ترجمة: وويل موسىٰ خپل قوم ته! مدد وغواړى د الله څخه اوصبر كوى په طاعت اومصيبت كى، بيشكه د غه ځمكه خاص الله لره ده، وارث ګرځوى

١سورة النساء آية ٥٨ *٢- سورة الأنبياء آية ١٠٥ * ٣- سورة الأعراف آية ١٢٨

الله ددی ځمکی هغه څوك چه اراده ئی وفرمـــائی لـــه بندګانو خپلو څخـــه، اوعاقبت (ښه خاتمه) پرهیزګارانو لره ده. یعنی هیڅ دویریدو خبره نه ده، دالله تعالی په مخ کی دهیچازور، اوقوت نه چلیږی, ملك اوسلطنت دالله تعـــالی دی چه هرچاته ئی پیرزو شی هغه ته ئی ورکوی، نوځکه دظالمانوپه مقـــابل کی له پاك الله څخه مدد او مرسته وغواړی، اوهغه ته دأمید سترګی ونیسی، اوتل تری ویرېږی اودصبراوتقوی لاره اختیار کړی، یقین اوباور وکړی چـــه وروستنی کامیابی، اوبری یواځی د متقیانو لپاره دی.

په بل آیت کی الله عزوجل فرمایی: وَعَدَ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُم وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَستَخلِفَنَّهُم فِي الأَرضِ كَمَااستَخلَفَ الَّذِينَ مِن قَبلِهِم وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُم دِينَهُمُ الَّذِي ارتَضَى لَهُم وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِن بَعدِ خَوفِهِم أَمنًا. يَعبُدُونَنِي لاَ يُشرِكُونَ بِي شَيئًا. وَمَن كَفَرَ بَعدَ ذَالِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الفَاسِقُونَ. (١)

ترجمة: وعده کړیده الله له هغو کسانو سره چه ایمان ئی راوړی دی له تاسی، او کړي دی ښه عملونه، قسم دی خامخا به خلیفګان کړی الله دوی په ځمکه کی، لکه چه خلیفګان کړی ئی وه هغه کسان چه پخواوو له دوی نه، او خامخا ثابت قوی به وګرځوی خامخا دوی ته دین د دوی (هغه دین داسلام) چه غوره کړیدی الله دوی ته، اوهرومرو بدل به کړی دوی ته وروسته لـــه ویری د دوی له دوښمنانوأمن، اطمینان، عبادت به کوی دوی زما، شریك به

١- ســورة النور آیــة ٥٥

نه پیداکوی له ماسره هیڅ څیز، اوهرڅوك چه کافر شوپسله دغولویوانعامو، نو پس دغه کسان هم دوی غټ فاسقان دی.

تفسیر: دغه خطاب په د رسول الله د زمانی خلقوته فرمایلی دی، یعنی هغه ذوات چه ددوی په مینځ کی په أعلی درجه نیکان، اودسید الإنس والجن کامل پیروان دی وروسته له رسول الله به دوی ته د مځکی حکومت ورکول کیږی، او د اسلام دغه دین چه د الله تعالی خوښ دی ، ددوی پـه لاســونو خوروی اوقائم وی، لکه د استخلاف په لفظ کی دی طرف ته اشاره ده چه دغه کسان به تش ددنیوی باچاهانوپه شان نه وی، بلکه درسول الله خلیفـــه ګان به وی، دسماوی حکومت إعلان به کوی، اودحق دین أساس به قائمـــه وی، اوپه بر، بحر، اوهرڅیری به ددوی أحکام اوتصرفات جاری کیږی. پـه دغه وخت کی به مسلمانان دکافرانوڅخه نه بیریږی، اوپه پوره أمن اوسکون به د الله تعالی په عبادت کی مشغول اوسیږی، اوپه دنیاکی به دأمن اوأمـــان زمانه اودوره وی، ددغومقبولو، اومعززوبندګانوممتازشان به دغه وی، چــه دوی به خاص دالله تعالی عبادت اوبندګی داسی کوی، چه په هغه کـــی بـه دیوی ذری په اندازه هم دشرك اواختلات أثر نه وی، دجلی شـــرك ذکـــر اونسبت خوله د غوسره امکان نه لری، دخفی شرك لږآثار، اوعلائم به هم په دوی کی نه لیدل کیږی، دوی ټول به دیوه الله تعالی بندګان وی، اویـــوازی به دالله تعالی څخه بیریږی، اویوازی پرهغه به توکل اواعتماد کوی، اوهغه ته

به هیله کوی، د الله تعالی درضا په لاره کی به ژوند کوی، او په همدغه لاره کی به خپل ځانونه قربانوی، د الله تعالی نه بغیر به دبل هیچا ویره ددوی په زړونو کی نه وی، اونه به دبل چا دخوښی اوخفگیان پرواکوی.

د دغه استخلاف له آیت څخه دڅلورو وارو خلفاء راشیدینو رضی الله عنهم ډیرلوی فضیلت اومنقبت معلومیږی. ابن کثیر ددی آیت په تفسیر کی د نبوت له منوره عهده راحستی تر عثمانی عهده پوری ئی اسلامی فتوحات درجه په درجه بیان کړي دی.(۱)

په بل آیت کی الله تعالی فرمایی: إِنَّ فِي هَذَا لَبَلَاغاً لِّقَوْمٍ عَابِدِينَ. (۲)
ترجمة: بیشکه په دی تیربیان کی خامخا سبب دوصول دمطلب دی دپاره دقوم عبادت کونکو.

تفسیر: یعنی ددی قسم بشارتونوله اوریدوڅخه دیوه الله عبادت کونکی خپل مطلب ته رسیږي، یادغه لوی قرآن چه پرداسی عظیمو بشارتونو او هدایاتومشتمل دی، دعبادت کونکو د پاره پوره فائده اوکامیابی ده، یاپه تحقیق سره په دی قرآن کی خامخا کفایت دی په دخول دجنت کی، دپاره دهغه قوم چه عمل کونکی دی په دی قرآن سره. (۳)

دپورتنیو آیتونو دترجمی، او تفسیر څخه معلومه سوه، چه د الله عزوجل دا وعده ده چه صالحان، عابدان، اوصادقان به ددی ځمکی دحکومت کولو

۱- تفسیر کابلی ج۲ ص۳۳۲-۲- سورة الأنبیاء آیة ۱۰۶- ۳- تفسیر کابلی ج۲ ص ۲۸

وارثان گرځوی، لکه چه ددی محمدی أمت کامل وفاداران، اوصادقان تر یوی اوږدی مودی پوری د ځمکی وارثان وه، دغو صالحانو، صادقانو په شرق اوغرب کی آسمانی دین اوسلطنت قائم کړی، هرځای یه دعدل او انصاف بیرغونه ودرول، دحق دین ړوغ ئی په ټوله دنیاکی پورته کړی، که اوس هم څوك دإسلامی ټولنی أمیر ځان بولی، او دخلفاء راشدینوپه شان دعدالت حکومت جوړ کړی، اود الله تعالی پر مخلوق باندی د الله تعالی لوی قانون قرآن کریم نافذکول یاچلول وغواړی، نوهغه ته په کاردی چه أول خپل ځان پر إلهی أصولومطابق کړی، اویا خپل ټول عمال اوکارکونکی پر إلهی قانون برابر کړی. اوداسی خلکوته وظیفه ورکړی چه هغوی په قرآنی أصولو پوهیږی، اوخپله هم عمل پری کوی، أمانت لرونکی، صادقان، صالحان، عابدان او... ورسپارل شوی وظیفی أهل وی، داځکه چه درعایاو په ځمکی همدغه کارکونکی دهنداری مثال لری، هغوی د أمیر أهلیت، تقوی، اوأمانت داری ددوی په أعمالوکی لټوی.

اود داسی أمیرانو په هکله چه ناأهله عاملان پرخلقو مسلط کوی. نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی: عن بن عباس رضی الله عنهما عن رسول الله صلی الله علیه وسلم: من استعمل رجلاعلی عصابة، وفی تلك العصابة من هوأرضی منه، فقد خان الله وخان رسوله، وخان المؤمنین. رواه الحاکم

ترجمة: حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما روایت کوی

درسول الله صلى الله عليه وسلم څخه چه فرمايي: که يوچا دانسانانوپريوه ټولی باندی يوسړی أميرجوړکړی، اوپه دغه ټولی کی ترده ښه أهل سړی وو، نوده د الله تعالى سره خيانت کړي دی، او د الله تعالى درسول سره ئی کړي دی، اود مومنانو سره ئی خيانت کړي دی.

په بل حديث کی رسول الله صلى الله عليه وسلم د داسی عمل جزابيانوی. عن أبي بكر رضى الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم: ومن ولى من أمر المسلمين شيئا، فأمرعليه أحدا محاباة، فعليه لعنة الله، لايقبل الله منه صرفا، ولاعدلا، حتى يدخله جهنم. رواه أحمد والحاكم

ترجمة: حضرت ابوبکرالصديق رضي الله عنه روايت کوی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: که يوچاته د مسلمانانو أمارت ورکړه سو، اوهغه بياد خپل شخصي محبت اوتعلقاتو پر بنياد ترده کښته واليان اوأميران مقررکړل، (يعنى أهليت تقوى پکښی مراعات نه وه) نوپرده باندی د الله لعنت دی، او الله تعالى دده هيڅ قسم تصرف دعدل اوظلم نه قبلوی، ترڅوچه دی جهنم (دوزخ) ته داخلوی.

دپورتنيو روښانو، اوواضحو قرآني آيتونو، اونبوی أحاديثو سره سره بياهم موږ وينوچه په ډيرو اسلامي حکومتونو اوتنظيمونوکی ددغه ښکاره دلائلوپه خلاف عمل کيږی. يعنى صرف دشخصی اعتماد په خاطر، يادسابقه احسانونو دبدلی ورکولو پربنياد، اويا د تنظيمی سابقه داری پرأساس

وظائف ورکول کیږی. ډیر کم وأهلیت ته کتل کیږی، دتعجب خبره داده
چه خپلی دنیایی معاملاتی وناأهلوخلقوته نه ورکوی، دمثال په ډول دخپل
موټر لپاره بی تجربی موټروان، نه مقرره وی، ځکه په هغه کی دده دموټر،
اوژوند خطروی. خود الله تعالی ددین اوقانون دعملی کولو لپاره دالله عزوجل
پرمخلوق باندی داسی کارکونکی مسلط کړی، چه نه د الله تعالی په قانون
پوهیږی، اونه د الله تعالی حقوق پیژنی. ښکاره خبره ده ناأهله سړی چه
هرڅومره اعتماد پروسی، بی فائدی دی، ځکه ناأهله سړی دفاندی او ګټی
پرځای ضرر رسوی، لکه ناأهله موټروان چه موټرټکر کړی موټرهم خرابه
وی ، ځان، اومالك ته هم تاوان رسوی.... همداشان ناأهله مامورین خپل
ځان ته، أمیر ته، رعایاو ته، ملك ته تاوان رسوی، ځکه ملك یوداسی کښتی،
ده چه ټول پکښی سواره دی، که دا کښتی غرقیږی، بیاټول غرقیږی،
ترڅوبالآخر دناأهلو مامورینو داعمالو په وجه، خلق تنګ سی، پاڅون
وکړی، اودا پاڅون بیاپه انقلاب، کشت اوخون بدل سی.

ښه خبره به داوی چه دغوخپلوانو ته، که ډیرضروری وی، اول کار
ورزده کړل سی اوبیا مقررسی، اویا د تنخوا دورپیدا کولو لپاره، ددوی سره
مناسبه وظیفه ورکړه سی، ترڅود الله تعالی دعذاب څخه هم وساتل سی،
اود خلقو د حسد اومخالفت سره هم مخامخ نه سی.

<u>پنځم = دخپلومامورینو څارنه کول.</u>

دأميردا فريضه ده چه د خپلو مامورينو او كاركونكوڅخارنه او نيگراني وكړي، اودهغوى دحاله ځان خبر كړي، چه درعاياوسره دهغوى څرنگه چلـن دى، اودهولو واقعاتو اوحالاتو څخه معلومات ولري. كله چه موږد خپلـو ستـرو لارښوونكوخلفاء راشدينو سيرت اوتاريخ مطالعه كوو، وينوچه هغوى په دى هكله ترهرڅه نه زيات اهتمام كاوه، د مثال په ډول دحضرت عمرفـاروق رضى الله تعالى عنه په هكله تاريخ نقل كوى اووائى: كان عمر رضـى الله تعالى عنه شديد المراقبه لعماله، كثير السؤال عن سيرتهم وأخبارهم، يقيم عليهم العيون يوافون بأخبارهم، ولايتركون خبرسوء يبلغه عن أحدهم، دون تحقيقـه والتثبت فى شأنه تثبتا لايدع للشك مجالا، ولايغفل أن يرسل إليهـم الأوامـر تباعا أن يعدلوا ولايظلموا ولا يأخذوا بالظنة ولايغوا ولايغدروا. (١)

ترجمة: حضرت عمر فاروق رضى الله تعالى عنه بـه خپـل دعمـالو اوكاركونكو ډير سخت مراقبت كاوه، اوهميشه به ئـى ددوى دأخلاقـو، اوأخبارپوښتنه كوله، هغه په دى ډول چه ځانته به ئى مخصوص نفرمقرر كړى وه، هغوى به په وطنو كى گرځيدل، اومعلوماتونه به ئى راټولول، اوبيابه ئـى أميرته ويله، اوكله چه به دته د عمالو په باره كى يوبدخبر ورسيدى، دهغه به ئى داسى تحقيق اوتثبيت كاوه، چه دشك به هيڅ ځاى پكښى پاته نـه وو، اوهميشه به ئى ودوى ته أوامرورليږل، چه عدالت كوى، ظلم مه كوى، پـه

١ - الخلفاء الراشدون ص٢٢٨

کمان باندی څوك مه نیسي، بغاوت اوفریب مــه کوی.

تاریخ لیکي چه یوه ورځ حضرت عمرفاروق رضی الله تعــالی عنــه خطبه وویل: په دی خطبه کــی ئــی دخپلوعمالوماموړینو پــه هکلــه وعاموخلګوته داسی ویناوکړه: یآ أیها الناس إنی والله ماأرسل عمالی إلیکــم لیضربوا أبشارکم، ویأخذوا أموالکم، ولکن أرسلهم لیعلموکم دینکم، ویقضوا بینکم بالحق، ویــحکموا بینکم بالعدل، فمن فعل شیئا سوی ذالك فلــیرفع إلیّ، فوالذی نفس عمر بیده لأقصنه منه. فوقف عمروبن العاص فقــال: یاأمیر المؤمنین أرأیت إن کان رجلا من أمراء المسلمین علی رعیتــه، فــأدب بعض رعیته، إنك لتقصنه منه ؟ قال: إی والذی نفس عمربیده إذن لأقصنــه منه، وکیف لا أقصنه منه، وقدرأیت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقتص من نفسه؟ ألا لاتضربوا المسلمین فتذلوهم، ولاتجمروهم، فتفتنوهم، ولاتمنعوهــم حقوقهم، فتکفروهم. (۱)

ترجمة: أی خلقو زمادی قسم په الله وی، چه زه خپل عمال تاســوته ددی لپاره نه درلیږم، چه ستاســوبدنونه ووهــی، اونــه ددی لپــاره چــه ستاسومالونه واخلی، بلکه زه ئی ددی لپاره تاسوته درلــیږم چــه تاســوته ستاسودین دروښوی، اوستاسوپه مینځ کی په حق فیصلی وکړی، اوستاسوپه مینځوکی پــه عدل سره حکم وکړی، که هرچا ددی په خلاف کاروکړی

۱ -. الــخلفاء الراشــدون ص ۲۲۸

نوهغه ماته راورسیږی ، زمادی په هغه ذات قسم وی چه دعمر نفس ئی په قبضه کی دی، چه زه به دهغه قصاص اوبدل ځنی اخلم.

حضرت عمروبن العاص ولاړسو اووی ویل : یا امیر المؤمنین! که د مسلمانانو یو امیر خپل درعایتوڅخه یوسړی دادب لپاره ووهی دهغه څخه ته قصاص اخلی؟ حضرت عمر وویل هو، زمادی قسم په هغه ذات وی چه زمانفس دهغه په قبضه کی دی، بیابه هم زه دهغه څخه قصاص اخلم، ولی به زه قصاص نه اخلم، ماپه خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم لیدلی دی چه دخپل ځان څخه ئی قصاص اخستی، خبراوسی مسلمانان مه وهی، په دی سره تاسو دوی ذلیله کوی، اوپه ډېرو یه مه ولی، په دی‌سره تاسودوی په فتنه کی اچوی، ددوی حقوق مه منع کوی ، په دی سره دوی کافران کوی.

اوحضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه به همیشه درب العزت څخه دخپلوعمالوپه هکله داسی دعاءکوله: اللهم إنی لم أبعثهم لیضربوا أبشارهم، من ظلمه أمیره فلا إمارة علیه دونی.(١)

ترجمة: یا الله زه دوی ددی لپاره نه لیږم، چه دوی بدنونه ددوی ووهی، هغه څوك چه ظلم وکړی پرده باندی امیردده، نوأمارت نشته پرده باندی غیرله ماڅخه.

او حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه خپلو ټولو عمالو ته دا

١- الخلفاء الراشدون ص ٢٢٩

أمر کړی وو، چه موسم حج ته به راځی اوټول هغه کسان چه شکایت لری، اویاددوی لخوا ظلم پرشوی وی، هغه به هم ټول راځی، اوبیابه دعمالوپه مخ کی وحضرت عمر فاروق ته خپل شکایتو نه وړاندی کړی، نو هلتــــه بــه بیامظلوم خپل شکایت کاوه، اودمظلوم شکایت به اوریدل کیدی، نوټــول عمال به د دغی ورځی د یوځای کیدوڅخه ډیر ویریدل، همداوجه ده چه په هغوی کی ظلم تر ډیره حــده کم، او یا بیخی نــه وو.

او حضرت عمرفاروق رضی الله تعالی عنه ډیر داسی عمال چه دډیــر عزت اواحترام خاوندان وه، دخلقو دشکایت له وجه، دخپلو وظیفوڅخــه لیری کړل، لکه سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه چه دنبی کریم صلی الله علیــه وسلم دماماګانوڅخه وو، اودقادسیه ، عراق، فارس، اوکوفی فــاتح وو، دده څخه څه رعایاوو شکایت وکړی، نوئی محمد بن مسلمة چه دأمیر المؤمنــین خاص سړی وو، د تحقیق لپاره ورولیږی، اوهغه سعدبن ابــی وقــاص اودده څخه شکایت کونکی خلق وأمیر المؤمنین ته راوستل، که څه هم سعد پــه دغوشکایتونو کی بری سو، خوبیائی هم سعد رضی الله عنه دخپلی وظیفــی څخه ددی لپاره لیری کړی، چه عقده ئی ورسره پیدا نــه سی.

دهمدی په شان مغیرة بن شعبة رضی الله عنه چه یولوړ رتبه محدث، او لوی فاتح وو، پربصرة باندی أمیروو، خلقوځنی شکایت وکړی، نوهغه تــه ئی داسی خط ولیکی: أمابــعد فقد بلغنی نبأ عظیم, فبعثت أباموسی أمــیرا,

فسلم مافی یدك، والعجل والعجل. فقدم علی عمر ومعه الشهود الذین شكوه فلم تثبت التهمة علیه وأقام عمر الحد علیهم بما فرضه الله لمثلهم. (١)

ترجمة: وروسته په تحقیق سره ماته یو لوی خبر رسیدلی دی، نوما ابوموسی دأمیر په حیث درولیږی، نوته هرهغه څه چه ستاپه لاس کی دی وده ته تسلیم کړه، په تلوار په تلوار. نومغیرة اوشکایت کونکی ټول دحضرت عمر په مخکی حاضرکړه سول، هغوی پرمغیره باندی هغه تهمت ثابت نه کړی، نوحضرت عمر پرهغه کسانو هغه حد نافذکړی، کوم چه الله تعالی دداسی کسانو لپاره مقررکړي دی.

وكان عمرإذا بلغه عن عامل من عماله ربة فی معصیة لم یمهله أن یعزله لأن استصلاح الرعیة بضرره بالعزل خیر من الإبقاء علیه مع ضرر الرعیة.

ترجمة: كله چه به حضرت عمر رضی‌الله تعالی عنه ته دیوعامل دنافرمانی په هكله څه ورسیدله، نودهغه په معزوله كیدوكی بی ځنډه نه كاوه، ځكه درعایتواصلاح دده دمعزول كیدوترضررخیر دی، دده ترپاته كیدو، درعایتودضررسره. یعنی درعایتو ترضرر دده لیری كیدل ښه دی.

أن عمربن الخطاب كان إذا بعث عماله شرط علیهم: أن لاتركبوا برذونا، ولاتأكلوا نقیا، ولاتلبسوا رقیقا، ولاتغلقوا أبوابكم دون حوائج الناس، إن فعلتم شیئا من ذالك حلت بكم العقوبة. (٢)

١- الخلفاء الراشدون ص٢٣٠-

٢- الخلفاء الراشدون ص ٢٣١

ترجمة: حضرت عمر رضی الله تعالی عنه چه به خپل مامورین مقرره ول، نو پر هغوی يه دغه شرطونه ايښودله: ١- پر بر ذون (حيوان) به نه سپريږی ٢- او خاص خواړه به نه خوری ٣- او نرمی جامی به نه اغوندی ٤- او خپلی دروازی به دخلقو دحاجتونو پرمخ نه تړی، کمود دی څخه يوشئ وکړی نا سوته به عذاب در کول کيږی.

که پورتنيو څو نمونوی مثالوته وګورو، نومعلوميږی چه دخلافت راشده په ټول دورکی دمسلمانانو هر امير په هروخت او ځای کی چه ووهمداسی سيرت او اخلاق دخپلو عمالو او مامورينو په هکله خپل کړی وه.

څکه رسول الله صلی الله عليه وسلم وخپل ټول امت او بيا خاص وأميرانوته داسی خطاب کوی او فرمايی: عن العرباض بن سارية رضی الله عنه يقول: وعظنا رسول الله صلی الله عليه وسلم موعظة ذرفت منها العيون، ووجلت منها القلوب، فقلنا يارسول الله إن هذه لموعظة مودع، فماذا تعهد إلينا ؟ قال قد تركتكم على البيضاء ليلها كنهارها، لايزيغ عنها بعدی إلا هالك، من يعش منكم، فسيرى اختلافا كثيرا ، فعليكم بماعرفتم من سنتی وسنة الخلفاء الراشدين المهديين، عضوا عليه بالنواجذ، وعليكم بالطاعة وإن عبدا حبشيا، فإنما المؤمن كالجمل الآنف حيثما قيد انقاد. (١)

ترجمة: د العرباض بن سارية رضی الله عنه څخه روايت سوي دی،

١- رواه ابن ماجه ج ١ ص١٦

8A

وایی یوه ورځ موږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې نصیحت وکړی، چه دڅولو خلقو سترګې ځنې په اوښکو ډکې شوې، اودڅولو خلقو زړونه ځنې وویریدل، موږ وویل یارسول الله په تحقیق سره داسې معلومیږی چه دا آخرنی نصیحت دی، نوته موږته په څه شي باندی امر کوی؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په تحقیق سره ماتاسی پرداسی روښانه لاره (شریعت) باندی پرې ایښې یاست، چه شپه ئی دورځې په شان روښانه ده، ددی څخه به هیڅوك مخالفت نه کوی مګرهلاك شوی، که څوك ستاسوڅخه ژوندی پاته وو، هغه به ډیر اختلافات وویني، نوپه داسی وخت کی پرتاسی لازمه ده، چه پرهغه څه منګولې ولګوی کوم چه موزماڅخه زده کړیدی، اوزما د هدایت کونکو خلفاو دسنت اتباع وکړی، او ډیرټینګ ئی ونیسی، اودهر هغه امیراطاعت وکړی کوم چه پرتاسی مقررشی، که څه هم یوحبشی مریی وی، ځکه چه مومن دیونافرمانه اوښ په شان دی، چه هرڅومره مقید شی هغومره اطاعت کوی.

اودنبی کریم صلی الله علیه وسلم د أمرونو په هکله الله عز وجل داسی فرمایی: وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ، وَمَا نَهَاكُم عَنهُ فَانتَهُوا، وَاتَّقُوا اللهَ، إِنَّ اللهَ شَدِيدُ العِقَابِ. سورة الحشر آیة ۷

ترجمة: اوهغه څه چه درکړی تاسوته رسول د الله، نو وائی خلی قبول ئی کړی، اوهغه څه چه منع کړی رسول دالله تاسی له هغه څخه، نو بیرته

شی، مه ئی غواړی، اوویرېږی له عذابه دالله په ځان ساتلو له معاصیو، بیشکه د الله عذاب ډیر سخت دی.

دتجربی له مخی وېلای سوا کوم مشر چه دخپلو کشرانو په حال ځان نه خبروی، اودهغوی دأخلاقو اوکردارپو ښتنه نه کړی، هغه دیولړمشکلاتوسره مخامخ کیږی، حتی چه کله کله د دوی له لاسه دخرابی اوبر بادی وکنـدی ته لویږی، که دځه ملکونو د انقلابونو عوامل وڅیړو ښکاره کیږی، چه رعایا د مامورینو د ظلم له لاسه راپاڅی، اودخپل حکومت په مقابل کی بغـاوت یاقیام کوی، اوبالآخرهغه په یوانقلاب بدل شی، نوځکـه لازمـه ده چـه هرأمیرخاص بیاچه یوڅوك داسلامی أمارت دعوه کوی، اووایـی چـه زه خالص اسلامی حکومت غواړم، اویایه جوړوم، درعیاو اودمامورینوپه حـال ضرور ځان خبره وی، چه دا ددهٔ، د حکومت، دین، اودنـیا پـه ګټه ده.

شپږم = دأمن راوستل.

د اسلامی حکومت بله مهم ترینه وظیفه دا ده چه په ټولنه کی أمن تـأمین کړی، ځکه دأمن نه بغیر د هیڅ یوخوشحاله حکومت تصور نه سی کیدای، الله تعالی په قرآن کریم کی څوځایه دفتنه انګیزی اوفسادڅخه منع کړیـده، لکه چـه فرمایی: وَلَاتَعْـثَوْا فِی الأَرْضِ مُفْسِـدِینَ سورة هود آیـة ۸٥

ترجمة: اومه لټوی تاسی خرابی په ځمکه کی په دغه حال کـې چـه فسـادکونکی ئی.

اوپه بل آیت کی الله تعالی فرمایی: إِنَّ اللهَ لَايُصلِحُ عَمَلَ المُفسِدِينَ.(۱)

ترجمة: بیشکه الله جل جلاله نه جوړوی کاردفساد کونکو، ځکه د الله تعالی دعادت اوحکمت څخه خلاف دی، چه دمصلح اومفسد دمقابلی په وقت کی دمفسدانو، شریرانو خبروته څه اثر ورکړی، یادحق کلمه مغلوبه کړی.

اوپه بل آیت کی فرمایی: وَلَاتَبغِ الفَسَادَ فِی الأَرضِ إِنَّ اللهَ لَايُحِبُّ المُفسِدِينَ. سورة القصص آیت ۷۷

ترجمة: او مه غواړی فساد په تکبر، ظلم سره په ځمکه کی، بیشکه چه الله تعالی نه خوښوی فسادکونکی، یعنی دالله تعالی پرځمکه دمطیعانوپه شان ګرځه، د الله تعالی په ملك کی‌فتنه او فساد مه جوړه وی. که څه هم دا آیت دقارون په هکله نازل سوی دی، خوبیاهم د اصول تفسیر له مخی چه وایی دآیت مورد خاص خوحکم یه عام دی، ویلاي سو چه داحکم وټولو مسلمانانو ته متوجه دی.

په بل آیت کی الله عزوجل وټولو مسلمانانو ته، اوخاص بیا وأمیرانو ته دفساد ورکولو لپاره أمر کوی اوفرمایی: وَقَاتِلُوهُم حَتَّی لَاتَكُونَ فِتنَةٌ، وَيَكُونَ الدِّينُ لِلّٰهِ، فَإِنِ انتَهَوا فَلَاعُدوَانَ إِلَّاعَلَی الظَّالِمِينَ. (۲)

ترجمة: اوجنګ کوی تاسی له دوی سره ترهغه پوری چه پاته نسی فتنه (شرك اوفساد) اوسی دین (حکم) خاص الله لره، پس که چیری

۱- سورة یونس آیـة ۸۱ ٭ ۲- سورة البقرة آیـة ۱۹۳

وګرځيدل دوی له شرکه اوفساده ، نوتاسي تجاوز مه کوی پردوی بـــاندی،
نونشته هيڅ تيری ، مګرخوشته جزا دظلم پرظالمانو باندی.

تفسير: يعنی له کفاروسره له دی أمله جنګ وکړی چه ظلم اوتـــيری
بيخی ورك شی، اوخاص د الله تعالی احکام جاری وی، که دوی له شــرکه
څخه مخ واړوی نوتيری، اوزيادت پرېل هيچا نسته، پرته له ظالمانو څخــــه،
هو هغه کسان چه له فتنی څخه نه اوړی نوهغوی وژنی. (١)

د پورتنيو څو دلائلو له مخی بايد ووايو چه په ټولنه کی دأمن راوســـتل
دمسلمانانو دأمير مهمه وظيفه ده، څکه ديوأمير په انتخاب کی مهم حکمت
اوغرض هم داغه دی ، چه په ملك کی أمن راولی. خو دابايد ياد وساتی چه
أمن راوستل هم په هغه طريقه چه الله عزوجل په خپل لوی کتاب قرآن کريم
کی رابښودلی ده ، چه هغه دحدودو په نافذکولوسره ، اويا په نورو هغوطريقو
سره چه دفقه په معتبرو کتابونو کی په تفصيل ذکرسويدی ، په هغوطريقــــو
سره نه لکه په نورو کفری هيوادونو کی ، چه په قسم قسم عذابونـــو وی،
اويا په قسم قسم عقوبت خانی ورته جوړی کړی وی.

په ډيرافسوس بايد ووايو چه نن په اسلامی هيوادونو کی هـــم دهغــه
عقوبت خانو، اوتعذيبو څخه کاراخستل کېږی ، چه تردوی نه مخکی ظالمانو
جابرانو دکفارو په مشوره د مسلمانانو د تعذيب لپاره جوړی کړی دی.

١- تفسير کابلی دوه جلدی ج١

اُمن په داسې طريقو سره راوستل چه هغه دالله عزوجل ترحدودو زيات وي، او يادفقه اوشريعت څخه خلاف وي هغه ته الله تعالى ظلم ويلى دى. لكه په دې آيت كې چه فرمايي: وَمَن يَعصِي اللهَ وَرَسُولَهُ وَيَتَعدَّ حُدُودَهُ يُدخِلهُ نَاراً خَالِداً فِيهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُهِينٌ. سورة النساء آية ١٤

ترجمة: اوهرڅوك چه نافرماني كوي دالله اودرسول دده، او وزى له حدودو دالله، نوداخل به كړي الله دغه معندى اورته، چه هميشه به وي دى به هغه اورد دوزخ كې، اوشته ده لره عذاب ډيرسپكونكى.

اوښكاره خبره ده چه دظلم پاى بغاوت وي، اودبغاوت پاى انقلاب وي، چه نه بيا دى وي، اونه ئې حكومت اودولت، اونه عزت وي, ددنيا اوآخرت ذلت اورسوائي يــه پــه نصيب شي.

اووم = دعــدل قائمول دى

دمسلمانانود أميربله مهمه فريضه اووظيفه، په اسلامي ټولنه كې عدل قائمول دي، اوپه دې هكله الله عزوجل په قرآن حكيم كې دقــدرت وخاوندانوتــه داسې أمر كوي اوفرمايي: وَإِن حَكَمتَ فَاحكُم بَينَهُم بِالقِسطِ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ المُقسِطِينَ. ســورة المــائــدة آيــة ٤٢

ترجمة: اوكله چه حكم او پريكړه كوى، نوحكم وكړه ددوى په مينځ كې په عدل اوانصاف سره، بيشكه الله خوښوى عدل كونكى په حكم كې، چــه ثواب وركوى.

تفسير: الله عزوجل په قرآن کريم کې څو څو ځله د دې خبرې تاکيد کړي دی، چه بايد ستاسي دعدل او انصاف لمن دهيڅچا په جبر، ظلم، او بې انصافۍ ککړه نه سي، اګرکه هغه سړی شرير، ظالم هم وي، ځکه عدل، اوانصاف، اوحق وحقدارته رسول بيله زيادته اونقصانه داسي يوصفت دی، چه دځمکې اوآسمانو اودټول جهان نظام پرقائم دی. (١)

که څه هم داخطاب ونبی کريم صلی الله عليه وسلم ته دی، خوبياهم هرهغه حاکم اوأميرته متوجه دی، چه دالله تعالی پرمځکه دالله تعالی پرمخلوق دحکومت کولوموقع ورکول سي.

اوبيا دا چه أمير هم يوانسان دی، طبعي خبره ده چه دده به هم ډير چاسره دښمنی او مخالفت وي، اوبيا د قدرت په وخت کې دخپل قدرت څخه ناوړه استفاده وکړي، اودعدل اوانصاف لمنه ايله کړي، نوځکه الله عزوجل په قرآن کريم کې ټول انسانان خاص بيا أميران له دې کاره څخه منع کوي اوفرمايي: وَلَايَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ، عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا، اِعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى. وَاتَّقُوا اللّٰهَ إِنَّ اللّٰهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ. (٢)

ترجمة: اونه دې باعث کوي تاسي دښمنی د يوقوم، په دې باندې چه عدل انصاف ونه کړی تاسي، عدل انصاف وکړی تاسي، هم داعدل ډير نژدې دی تقوی ته، او وويرېږه تاسي له الله څخه، نوظلم مه کوی، بيشکه

١- تفسير کابلی ج١ ص ٦٤٢ * ٢- سورة المائدة آية ٨

الله ښه خبردار دی په هغو اعمالوچه کوی ئی تاسی.

تفسیر: یعنی داسی عدل اوانصاف وکړی چه مخه ئی هیڅ ډول دوستی اودښمنی نسی نیول، اودهغه له غوره کولوڅخه انسان په اسانی سره متقی کیدای سی، دتقوی دحصول یوازنی لاره دالله تعالی ویره ده، اودهغه له انتقام څخه خوف دی، اودا خوف د (إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ) په مضمون کی له تفکر کولو څخه پیداکیږی، کله چه دانسان په زړه کی دایقین شی چه زما هیڅ پټ اوښکاره حرکت اوخبره، له الله تعالی څخه نه ده پټه، نودهغه په زړه کی د الله تعالی ویره پیداکیږی، اودهغه نتیجه به داسی، چه دی به ټولو معاملوکی دعدل انصاف لاره غوره کوی، اود الله تعالی داحکاموپه امتثال کی په کلکه دریږی، بیا په نتیجه کی ده ته هغه ثواب اوثمره وربه برخه سی، چه د هغه بیان الله تعالی په دی آیت کی بیانه وی.

(وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنهُم مَّغفِرَةً وَأَجراً عَظِيماً) . (۱)

ترجمة: وعده کړیده الله له هغو کسانو سره چه ایمان ئی راوړیدی، اوښه عملونه ئی کړی دی، چه مقرردی دوی ته مغفرت، اوډیرلوی أجر، جنت اود الله تعالی رضا اودیداردی.

الله عزوجل دی زموږ د ټولو مومنانو، اوخاص بیا زموږ د حاکمانو اوأمیرانو په نصیب کړی. آمین

۱- سورة الفتح آیة ۲۹

اتمه

وظيفه - دقانون حفاظت کول

هسې خو پر هر حاکم او أمير لازمه ده چه دخپل ملك دقانون حفاظت او ساتنه وکړی، خو داسلامی ټولنې پر مسلمان أمير باندې د الله تعالى له طرفه دا لازمه سوې ده، چه دإلهى قانون ساتنه وکړی ، دیو قانون ساتنه داده، چه په هغه عمل، او دحکم په وخت کی دهغه مطابق حکم وکړه سی، داسې نه چه هغه ته څو پوښونه ورکړی، او په لوړځای کی ئی په احترام کښیږدی، او څو څو ځله ئی په ورځ کی ښکلوی، په دی هکله الله عزوجل أمر کوی اوفرمايی: وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ، مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ، فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَاأَنْزَلَ اللهُ، وَلَاتَتَّبِعْ أَهْوَائَهُمْ عَمَّا جَائَكَ مِنَ الْحَقِّ. سورة المائدة آية ٤٨

ترجمة: او نازل کړې دی موږ تاته ای! محمده قرآن په حق سره، چه مصدق دی دهغه، چه نازل شوې دی په مخ دده کښې له کتابونو څخه، او ساتونکی دی پر مضامنو د هغه، يعنى شاهد دی په حقانيت دجنس دهغه کتاب، نو حکم کوه ای! محمده په هغه شی چه ليږلی دی الله تاته، او مه کوه متابعت د دوی د آرزو ګانو، او مه اوړه له هغه چه راغلی دی تاته له حقه.

او په بل آية کی الله تعالى فرمايی: يَا دَاوُدُ إِنَّا جَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِى الْأَرْضِ، فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ، وَلَاتَتَّبِعِ الْهَوَى، فَيُضِلَّكَ عَنْ سَبِيلِ اللهِ، إِنَّ الَّذِينَ يَضِلُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللهِ، لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا نَسُوا يَوْمَ الْحِسَابِ. سورة ص آية ٢٦

ترجمة: اې داوُده بیشکه موږ گرځولی یې ته خلیفه په ځمکه کې، چه لوی سلطنت مو درکړی دی، نو حکم وکړه په مینځ دخلقو کې په حق سره، او متابعت مه کوه دنفس او هوی په احکامو کې، پس گمراه به کړی دغه هوا تا له لاری دالله، بیشکه هغه کسان چه گمراه کیږی له لاری دالله، شته دوی ته عذاب سخت په سبب دهیرولو د دوی دورځی دحساب .

تفسیر: یعنی عموماً دنفسانی خواهشاتو متابعت او پیروی ددی وجه کیږی، چه دانسانانو دحساب او کتاب ورځ هیره سی، که دغه ورځ ئی تل پیادوی، چه زه خامخا یوه ورځ ده الله تعالی سره مخامخ کیدونکی یم، اود یوی زری حساب به له ماسره کیږی، نوانسان به هیڅکله خپل خواهش د الله تعالی پر رضا اوقانون مخکی نه کړی. (١)

ملاحظة: که څه هم په اول آیت کې خطاب وحضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ته دی، او په دویم آیت کې خطاب وحضرت داود علیه السلام ته دی، خو بیا هم داصول تفسیر لمخی ویلای سو چه دقرآن کریم مورد خاص ، خو حکم ئی عام دی ، داخطاب وټولو هغو کسانو ته دی، چه هغوی ته دحکم کولو دنده ورسپارل سوی وی، ځکه الله عزوجل چه وخپلو رسولانو ته یو خطاب یا أمر کوی، نو دغه حکم په حقیقت کې ددوی اتباعو ته هم متوجه وی.

١- تفسیر کابلی ج١ ص٨٧١

اوبیا د هغو کسانو په هکله چه د الله په قانون حکم نه کوی، خپل دهوا پربنیاد، اویایه په بل قانون حکم کوی، الله عزوجل فرمایی: وَمَن لَّم يَحكُم بِمَآأنزَلَ اللهُ، فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ. سورة المائدة آية ٤٥ ،

ترجمة: اوهرچاچه حکم ونه کړی، په هغه چه نازل کړی دی الله ، نودغه کسان هم دوی دی ظالمان.

دپورته دلائلو څخه ثابته سوله, چه د اسلامی ټولنی دأمیر دا وظیفه اوفریضه ده، چه د اسلامی قانون قرآن کریم په داسی ډول حفاظت وکړی، چه خپلی ټولی فیصلی اوحکمونه د الله تعالی په قانون وکړی، په هم دی کی د أمیر اورعایاؤ د دنیا او آخرت کامیابی ده.

نهمه وظیفه - دتعلیم وسائل اوزمینه برابرول.

دا یو منل سوی حقیقت دی، چه په دنیاکی هغه فرد, یاټولنه دکامیابی پړاوته رسیږی، چه دعلم او پوهی په زیور ښائسته وی، اوبل دا چه تعلیم داسلام له نظره فرض بلل سوی دی، لکه څرنګه چه داسلام پیغمبرحضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایی: طلب العلم فریضة علی کل مسلم.(١) یعنی دعلم حاصلول پرهر مسلمان باندی فرض دی.

په قرآن کریم کی الله تعالی فرمایی: هَل يَستَوِي الَّذِينَ يَعلَمُونَ وَالَّذِينَ لاَيَعلَمُونَ. یعنی أیابرابردی، هغه کسان چه علم لری، اوهغه کسان چه علم

١- رواه ابن ماجة حديث نمبر ٢٢٠ عن أنس بن مالك

نه لري، يعني نه دي يو برابر، بلکه خاوندان دعلم فضيلت لــري هــم پــه دنیاکی اوهم په آخرت کی.

اوپه بل آیت کی الله عزوجل فرمایی: لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ، إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولاً مِنْ أَنْفُسِهِمْ، يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ، وَيُزَكِّيهِمْ، وَيُعَلِّمُهُــمُ الْكِتَــابَ وَالْحِكْمَةَ، وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ. سورة آل عمران آیــة ١٦٤

ترجمة: په تحقیق احسان کړی دی الله پرمومنانوباندی، کله چه مبعوث کړی الله، په دوی مؤمنانوکی رسول، له جنس څخه ددوی، چه لولی دغــه رسول پردوی باندی آیتونه دالله، اوپاکوی دوی په توحید سره لـــه گناه اوشرکه، اوښیی دوی ته کتاب قرآن اوحکمت (شــرعی احکــام، ژوری خبری) اوبیشکه وه دوی له دینه مخکی هرومرو په گمراهی ښکاره کی.

تفسیر: په دغه آیت کـــی الله عزوجــل درســول دوظائفوڅخــه څلورشیان دلته بیان کړیدی ١- د الله تعالی دآیتنو تلاوت (لوستل اواورول) چه دعربی ژبی خاوندان په پوهیږی اوعمل په کوی،٢ - دنفوسو تزکیــه، یعنی دشرك اومعصیت ده ټولو مراتبو څخه ددوی دزړونو پاکول، ٣- تعلیم الکتاب یعنی هغوی ته دالله تعالی دکتاب مراد اومطلـــب وربښودل، ٤ - دحکمت تعلیم یعنی د قرآن کریم په غامضو اسرارو، اود شریعت په لطائفو، دقیقو اوعمیقو علتونو باندی ئی تصریــحا یا اشارة مطلع کول.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی په توفیق دا پاته، او بی علمه

قوم، دعلم اوعمل په أعلی مراتبو باندی فائز کړی، چه له سلهاو کلونو په انتهائی جهل، وحشت، اوضلالت کی ډوب وه، درسول الله صلی الله علیه وسلم په څو ورځنی صحبت او تعلیم په برکت، دده صحابه کرام رضوان الله تعالی علیهم، دټولی دنیا لارښوونکی اومعلمان جوړ شوله. (۱)

نودا چه د اسلام له نظره د مسلمانانو أمیر پراسلامی ټولنه، درسول الله صلی الله علیه وسلم نائب اوخلیفه بلل کیږی، نو دا پورتنی څلور وظائف ده ته هم ورپاته دی، اودی مکلف دی چه عملی یه کړی؛ اودده داوظیفه ده چه خپلورعایاو ته د دین اومذهب په رڼا کی د داسی تعلیم زمینه برابره کړی، چه دهغه په نتیجه کی بته عالمان فقهاء، مفسرین، محدثین، دسیرت اواسلامی تاریخ پوهان جوړشی، اوبه دین لرونکی مسلمانان سیاست پوهان، طبیبان، انجنیران، ساینسدانان، اوتخنیکی ماهران جوړشی ترڅو اسلامی ټولنه د دښمنانو د احتیاج اوغلامی څخه خلاصه سی.

پنځمه وظیفه - دسرحدونو حفاظت کول

داسلامی حکومت دأمیر دا فریضه او وظیفه ده چه د اسلام او اسلامی ټولنی د دښمنانو څخه، دخپل ملك دسرحدونو حفاظت وکړی، دا چه اسلام یونظریاتی اوعقیدوی دین دی؛ اوعقیده اونظریه ترهرڅه نه مخکی ده، څکه په اسلام کی مخکه اوخاوره د دی لپاره مهمه ده چه انسان د خپلی عقیدی،

۱- تفسیر کابلی ج۱ ص۲۹۳

اومذهب مطابق ژوند پکښې وکړي، نوځکه مسلمانانوته دعقیدوی، اوځکنی دواړو سرحدونو ساتل ضروری دی.

باید ووایو چه د اسلام اومسلمانانو دښمنان نن څو قسمه مبارزه اوجګړه کوی، اول عسکری جنګ، چه په دی کی دتعلیم لرونکو عسکرو، اوډول ډول سلاح څخه کار اخستل کیږی، چه په دي جنګ کی دمسلمانانو ټول سلاح، اقتصاد، تعلیم لرونکی انسانان، اوروزلی ځوانان، اوټولی شتمنی ئی له مینځه ځی، اومسلمانان دضعف، غربت، افلاس، دربدری سره مخامخ کیږی.

دوهم فکری جنګ، کله چه دښمن په عسکری جنګ کی ناکامه سی، یاپوه سی چه نورمسلمانان دغربت افلاس له وجهی دمقابلی توان نه لری، نوبیا دوی په فکری مبارزه اوجنګ لاس پوری کړی، لکه څرنګه چه موږپوهیږو، په هرجنګ کی ومیدان جنګ، روزل سوی عسکرو، اوسلاح ته ضرورت سته, هم دارنګه په فکری جنګ کی د انسانانومعنویات عقل، فکر، دین مذهب، اخلاق عادات میدان جنګ دی، ددی جنګ لپاره هم دعسکری جنګ په شان، تعلیم یافته متخصیصن روزلی سوی دی، او په هرهغه سلاح ئی سمبال کړي دی،کوم چه په دغه جنګ کی ددوی دتعین سو اهدافو دتحقق له پاره په کار راځی، ودغه جنګ ته غزو فکری ویل کیږی، یعنی دانسانانو پر زړونو، اوعقلونو باندی غلبه حاصله ول.

نن غیر اسلامی افکار کوشش کوی چه د مسلمانانو سره په خپلو وطنو کی فکری جنګ وکړی، ترڅو پر مسلمانانو باندی خپل اسلامی تاریخ، میراث، ژبه، او قرآن کریم مختل او ګډ وډ کړی، اودوی نن تر هرڅه نه زیاته وفکری جنګ ته أهمیت ورکوی، ځکه مصرف یې کم او فائده ئې زیاته دہ، نو مسلمانان هم باید دخپلو دښمنانانو سره په همدی میدان کی جهاد وکړی، او په فکری سلاح خپل ځانونه مسلح کړی، ځکه الله عزوجل وه اسلامی امت ته امر کوی او فرمایی: وَأَعِدُّوا لَهُم مَّااستَطَعتُم مِن قُوَّةٍ وَمِن رِبَاطِ الخَيلِ، تُرهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللهِ وَعَدُوَّكُم وَآخَرِينَ مِن دُونِهِم، لَاتَعلَمُونَهُم، اللهُ يَعلَمُهُم، وَمَاتُنفِقُوا مِن شَيءٍ فِي سَبِيلِ اللهِ يُوَفَّ إِلَيكُم، وَأَنتُم لَاتُظلَمُونَ. (۱)

ترجمة: اوتیاروی ای مومنانو! لپاره دجنګ د دی کفارو ځومره چه توانیږی؛ جمع کولای شی، تاسی له قوت اوله روزل شوو، ساتل شوو آسونو، لپاره دجهاد، چه ویروی تاسی په دغه قوت سره دښمنان دالله، او دښمنان ستاسی، او نور کسان بیله دوی نه، چه نه پیژنی تاسی هغوی، الله عالم دی په عداوت دهغوی، او هر هغه څه چه نفقه کوی تاسی له یوشی، په لاره د الله کی لپاره دترقی ددین، پوره بدل دهغه به درکړه شی تاسی ته، حال دا چه پرتاسی به ظلم ونه کړه شی، د ثواب په لږوالی، اودعذاب په ډیر والی کی.

باید ووایو چه دقوت ځخه هرهغه قوت مراد دی چه ددښمن دقوت په

۱- سورة الأنفال آیة ٦٠

مقابل کی وی، یعنی دښمن چه په کوم قوت راسره جنګیږی، موږ ته هم لازمه ده، چه په هغه قوت خپل ځانو نه سمبال کړو، هغه مادی، او که فکری قوت وی.

او موږ یقین لرو چه اسلام داسی دین او عقیده ده، چه د انسانانو فکری روزنه کوی، او د بشریت د نیك بختی ضامنه ده، او د فرد او اجتماع د حقوقو ساتونکی ده، او په دی یقین لرو چه اسلام د خپلو قوی دلائلو سره چه د ځان سره ئی لری، نه ناکامه کیږی. ځکه الله عزوجل په قرآن کریم کی داسی اطمنان راکوی او فرمایی: وَلَاتَهِنُوا وَلَاتَحزَنُوا، وَأَنتُمُ الأَعلَونَ، إِن كُنتُم مُؤمِنِينَ. سورة آل عمران آية ١٣٩

ترجمة: او مه سستیږی تاسی، او مه خپه کیږئ تاسی، او هم داتاسی غالب یاست، که تاسو په حق مومنان یاست. که څه هم دا آیت د أحد د غزا پر موقع نازل سویدی، خو بیا هم ویلای سو چه د قرآن کریم حکم عام دی په هر وقت او زمان کی د مسلمانانو لپاره تسلی او وعده ده، چه تاسو به همیشه پر خپلو مخالفینو، دښمنانو باندی لوړ، او په هر میدان کی به غالب یاست، خو په دی شرط که تاسو په حقه مومنان سی، یعنی په إلهی قانون، او د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په هدایاتو عمل وکړی.

په یوبل آیت کی الله تعالی فرمایی: وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصرُ المُؤمِنِينَ. (١)

١- سورة الروم آية ٤٧

يعنى زموږ دفضل اوكرم پر بنياد، دمومنانو نصرت كول پر موږ حق دى.
همدارنګه به په هر ميدان كى مسلمانان كامياب، باطل اودهغه پيروان بـه ناكام اوذليل وى، په دى شرط كه مسلمانان په خپلو اسـلامى اوصولـو، اوقواعدو ځانونه پوه كړى، اوده پوهى اوعلم، تجربى په سلاح خپل ځانونـه مسـلح كـړى.

همداوجه ده چه: حضراتو فقهاؤ رحمة الله تعالى عليهم، په اسلامى ټولنه كى دكفارو داوسيدلو لپاره، ډير روښانه اصول په تفصيل سره بيان كـړي دى، چه اول بايدكافر په كومواصولو واسلامى ملك ته راسى، اوبيا په كومو اصولودلته واوسيږى، كه ئى يوځل ذمه قبوله كړه بيابه هيڅكله خپل وطن ته نشى تلاى، ځكه د جاسوسى خطره ورسره ده، او داسى نور احكام چه په فقه كى په ډير تفصيل سره ذكر سـوى دى.

دپورتنى څه تفصيل نه وروسته بايد ووايو، چه دمسلمانانو دأمـيرداپو مهمه فريضة اووظيفة ده، چه په دى هكله هم د اسلامي فقه زرين اصـول خپل كړى، اودكفارو سره هغه معامله وكړى، كوم چه په فقه كى په ډيرښه تفصيل سره بيان سوي دى، ترڅود اسلامى ټولنـى دفكـرى سـرحدونو حفاظت سوى وى، اوپه خپل اسلامى غيرت كى صـادق وى، اودټولـو هغواعتباراتو اوقيوداتو څخه آزادوى كوم چه دمسـلمانانوعقل، نفـس، او اسـلامى وانسانى كرامت ذلـيله كـوى، او پـه فكرى مـيدان كى هم

وټول جهان ته د اسلام اومسلمانانو، قدرت اوحاکمیت وروښیي، پــه دې باب ډېره زیات لیکلو، یوازنۍ وجه دا ده، چه دمشاهدې له مخې لیدل کیږي چه داسلام اومسلمانانو أزلي اوبــد بخته دښمنان، لکه یهود اونصــارې نــن ترعسکرې میدان زیات په فکرې میدان کې مبارزه کوي، په مختلفو هیلــو بهانو، واسلامي هیوادوته دموسسو اوانساني خدماتو په بهانوراځي، اودلتــه ډیو ډېر پیسو په مقابل دمسلمانانو اسلامي غیرت ترپښو لاندې‌کوي، اوخپل شوم أهداف لاس تــه راوړي، اوخپل ځان ته روزلي نوکران پــیداکوي. دټولو داسې دښمنانو څخه خپل دهیواد ځمکنې اوفکــرې ســرحدونو ســاتل داسلامي حکومت مهــمه وظــیفه ده.

<u>یوولسمه وظیفه = دشــورئ جوړول</u>

په اسلامي سیاست کې ترهرڅه مهم اوأساسي أصل شورئ ده، په اســلامي ټولنه کې دخود سرۍ، آمریت، اوخود غرضۍ هیڅکله اجازت نه ده ورکول شوي، ټولنیزمسائل خوپرپرده دکورني مسئلودحل لپاره ئې هــم دمشــوره کولو أمرکړي دی، په قرآن کریم کې د دغه ضرورت أهمیت داسې بیــان سوي دی: وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَوٰةَ وَأَمْرُهُمْ شُــورَىٰ بَيْنَهُــمْ، وَمِمَّارَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ. ســورة الشــورى آيــة ٣٨

ترجمــة: یعنــي دمومنانودصفاتوڅخــه یوصفــت دادی، چــه دالله تعالیٰ‌حکمونه به مني، اولمنځونه به کوي، اوپه خپلو مینځو کې به یوله بل سره

مشوره کوی، اود هغه شیانو څخه، چه موږ دوی ته ورکړی دی، د الله په لاره کی نفقه کـوی.

مشوره کول د هر مومن صفت دی، آمروی که مـامور، مشـوره اخستل دهرمسلمان حق دی، او مشوره ورکول پرهر مسلمان فـرض دی، ځکه په یوحدیث کی نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی: ومن استشـار أخاه فأشار علیه بأمر وهو یری أن الرشد غیر ذالك فقد خانه. (۱)

ترجمة: وایی که څوك ده خپل مسلمان ورورڅخه مشوره وغـواړی اودی پرداسی شی مشوره ورکړی، چه دی پوهیږی چه خیر ئی په هغه بـل طرف کی دی، نوده خیانت ورسره وکړی.

اوپه آیت کی الله عزوجل د اسلام لارښود محمد مصطفی صلـی الله علیه وسلم ته امرکوی، او فرمائی: فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللهِ لِنتَ لَهُم، وَلَو كُنتَ فَظًا غَلِيظَ القَلبِ لَانفَضُوا مِن حَولِكَ، فَاعفُ عَنهُم وَاستَغفِرلَهُم، وَشَاوِرهُم فِـي الأَمرِ فَإِذَاعَزَمتَ فَتَوَكَّل عَلَى اللهِ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ المُتَوَكِّلِينَ. (۲)

ترجمة: نو یوازی په رحمت د الله، چه پرتاسویدی، ای محمده! تل نرمی کوی ته دوی ته، اوکه وی ته ای محمده! بدخویه بدزړه، نوخامخا به تارپـه تارسوی وای، اصحاب ستا دشاوخواڅخه، نوعفوه وکړه دوی تـه، ددوی دتجاوزنه پرتا، او مغفرت وغواړه له الله دوی ته د تقصیراتو د دوی، اومشوره

۱- مسـند أحمد حدیث ۸٤۲۱ عن ابی هریرة * ۲- سورة آل عمران آیـة ۱۵۹

وکړه له دوی سره ای محمده په کار کی، نو کله چه دي ټینګه اراده وکړه، ای محمده! دبو کار کولو ته، نو توکل اعتماد وکړه پرالله باندی، بیشکه الله خوښوی توکل کونکی، چه برپالی کوی یې، اودرشد اوصلاح لاره ورښیی.

تفسیر: الله تعالی مسلمانانو ته دهغوی په تقصیراتو تنبیه وفرمایله، اودعمومی عفو داعلان نه وروسته ئې دوی ته نصیحت وکړ، چه بیادی ځلې په خبروباندی چه دلستوني ماران دی مه تیروځی.

شان نزول: داحد په غزاکی له مسلمانانوڅخه سخته غلطی اوزیات تقصیرسوی وو، بنایې چه درسول الله صلی الله علیه وسلم زړه په خفه سوی وی، اودابه ئې په خپل زړه کی ګرځولی وی، چه وروسته له دی به ددوی څخه مشوره نه اخلم، اوبیله مشوری به کارکوم، نوځکه الله عزوجل په ډیره عجیبه اوغریبه توګه، د مشوری سپارش وکړی، اول ئې دخپل لوری دمعافی اعلان وفرمایه، ځکه چه الله تعالی ته معلومه وه، چه درسول الله دا غم یوازی د الله تعالی درضادحصول لپاره وو، بیائې وفرمایله: (فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللهِ لِنتَ لَهُم) یعنی د الله تعالی څومره زیات رحمت پرتاسو اودوی باندی دی، چه تاغوندی شفیق اونرم زړه رسول ئې هغوی ته استولی دی، که ستاسی زړه سخت اومزاج کی موشدت وای، نو دا قوم کله ستاسی په شاوخوا ټولیدی، که له دوی څخه کومه غلطی کیدایسی، اوتاسو له دوی سره سختی کولای، نود شرم اودهشت له امله به ستاسو په مخ کی نسوای راتلای،

نوله دی امله به دوی ددېره لوی خیر او سعادت څخه بې برخې پاته کېدلای، او د اسلامي ټولنې پیوالی به ټوټه ټوټه سوی وای، لیکن الله تعالی تاسو غوندی نرم زړه پیداکړی، چه د اصلاح په غرض د دوی له تقصیراتو څخه اغماض یا سترګې پټوی، نو دا تقصیر هم ورمعاف کړی، او د دوی د زیاتی خوښی لپاره تاسی له موږ څخه مغفرت وغواړی، یوازی دا معافول نه بلکه دېخواپه شان په معاملاتو کی له دوی سره مشوره کوه، وروسته له مشوری چه کله دیو خبری پخه اراده وکړی، نو بیا پر الله باندی توکل وکړه، څکه الله تعالی متوکلان خوښوی، او دهغوی کارونه جوړه وی.

دحضرت علی کرم الله وجهه څخه روایت دی،چه د رسول الله علیه السلام څخه دعزم په باره کی پوښتنه وسوه، هغه وویل: (مشاورة أهل الرأی ثم اتباعهم) یعنی درأی دخاوندانو سره مشوره کول،او بیا دهغوی اتباع کول.

روی فی ابن کثیر ومجمع الزوائد عن علی بن ابی طالب رضی الله عنه قال ...قلت یارسول الله إن عرض لي أمر لم ینزل فیه قضاء فی أمره ولاسنة،کیف تأمرني؟ قال تجعلونه شوری بین أهل الفقه والعابدین من المؤمنین، ولاتقض برأیك خاصة.

یعنی حضرت علی کرم الله تعالی وجهه فرمایی: چه ما دنبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه، ای د الله رسوله که چیری ماته داسی معامله پیښه سی چه دهغه په هکله صریح فیصله نه وی نازله شوی،

اونه په حدیث کی وی، نو ته ماته څه امر کوی، نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائل: چه تاسو دعالمانو، اوعبادت کونکو مؤمنانو سره مشوره کوی، اوتاسی پخپله رأی هیڅکله هم فیصله مه کوی.(۱)

نبی کریم صلی الله علیه وسلم دخپلواصحابو سره مشوره کوله، لکه دبدر- احد اوخندق په غزاوکی، اویا دبندیانودبدر په باره کی، اوداسی نورمثالونه.

څکه حضرت أبی هریرة رضی الله عنه فرمائی: مارأیت أحدا أکثر مشورة لأصحابه من رسول الله صلی الله علیه وسلم.(۱)

یعنی ابو هریرة رضی الله عنه وایی چه ما داسی څوك نه دی لیدلی، چه درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دی زیات دخپلواصحابوسره مشوره کونکی وی.

او په بل حدیث کی راځی: عن ابی هریرة قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم إذا کانت أمراءکم خیارکم، وأغنیائکم سمحائکم، وأمورکم شوری کم بینکم، فظهر الأرض خیر لکم من بطنها.(۲)

یعنی کله چه ستاسو حکمرانان ستاسو دښو خلقوڅخه وی، او ستاسی دولتمند خلق سخیان وی، اوستاسی چاری دمشوری په اساس وی، نو دمځکی مخ ستاسی لپاره خیردی ترنس دمځکی.

۱- رواه الترمذی حدیث ۱٦۳٦ * ۲- رواه الترمذی حدیث ۲۱۹۲

په دغه حدیث کی ئی دآرام ژوند د ترلاسه کولو لپاره دری شیان ډیر ارزښتناکه ښوولی دی، چه همدغه دری شیان داسلامی ریاست اوصــالحی ټولنی بنسټ دی: ۱- صالح قیادت، ۲- دغریبانو کفــالت، ۳- دشــوری نظام. څکه په بل حدیث کی نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی: مــا شقي عـــبد قط بمشورة وماسعد باستغناء رأی.

یعنی دسهل بن سعد الساهلی رضی الله عنه څخه روایت دی، چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: مشوره کونکی سړی هیڅکلـــه دحـــق څخه نه بی برخی کیږی، او خپله رأی خوښونکی سړی هیڅکله سعید یـــا نیکبخته نه کیږی، یعنی آمریت مطلقه دشقاوت اوبدبختی لاره ده.(۱)

وکانت الأئمة بعد النبی صلی الله علیه وسلم یستشیرون الأمناء مـــن أهل العلم فی الأمور المباحة ليأخذوا بأسهلها فإذا وضع الكتاب اوالســـنة لم يعتدوا إلى غيره إقتداء بالنبی صلی الله علیه وسلم. (۲)

دنبی کریم صلی الله علیه وسلم نه وروسته دمسلمانانو امیرانو بـــه پـــه مباح کارونو کی، دهغه خلقوسره مشوره کوله، چه پخپل دیانت اوامـــانت کی به داعتماد وړوه، اوددین په هکله به پوره پوه اوعلم ورته حـــاصل وو، ترڅو اسانه لاره پیداکړی، اوپـــه هغه عمل وکړی، کومه مسئله چه به قرآن یاحدیث کی موجوده وه، په هغه به ئی عمل کاوه ترهغه به نه تیریدل، ترڅو

۱- اسلامی سیاست ص۳۹٤ *۲- رواه البخاری باب قول الله تعالی وأمرهم شوری

په علیه السلام پسی اقتداء وسی. پدی هکلــه دخلفــاء راشدینودمشــوری مجلسونه، اود شوری دفیصلی وعملی کولوتــه غــاړه ایښــودل، اوداســی نورمثالونه په ډیرتفصیل اوکثرت سره په تاریخونو کی لیکل سوي دي.

خلاصه مطلب

١- داسلامی سیاست اوحکومت بنیاد دشوری نظام دی، او دمطلق آمریت خلاف دی.

٢- دشورئ پــه ذریعه دعامــو خلقود رأی اظهار کــیږی.

٣- پــه شــورائی فیصلو عام خلق مطمئن کــیږی.

٤- دشــورئ پــه واسطه ګــټوری نتیجی پــه لاس راځی.

٥- په شورئ کی باید یوسړی دخپل علم اوقابلیت پر بنیاد رأیه ورکړی.

٦- غلطه مشــوره ورکول خــیانت دی.

٧- په کوم کارکی چه مشوره مطلوب وی، دهغه کاردماهرانو سره بــاید مشوره وسی، ځکه که یو سړی د هغه کارپه ماهیت اوحقیقت نه پوهــیږی نود هغه شخه مشوره اخیستل بی فائدی، او د نقصان سبب ګرځی.

داسلامی شورئ دارکانو صفات

مشورد یوامانت دی لکه څرنګه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی: المستشار المؤتمن. (١) دیجا شخه چه مشوره اخیستل کیږی هغه به امین وی.

١- رواه ابن ماجة عن أبی هریرة حدیث ٣٧٣٥

په یو آیت کی الله جل جلاله فرمائی. إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا. سورة النساء آیة ۵۸

یعنی الله تعالی عزوجل تاسو ته حکم کوی چه تاسو امانتونه هغو خلقوته ورکړی چه هغوی ئی اهل وی.

دشوری د مجلس رکنیت څه داسی حق ندی، چه پر خلقو مساوی تقسیم شی، اوبیله کومه شرطه څوك درکنیت دعوه وکړی، اویا درأی داخستلو لپاره په انتخاباتو کی ودرېږی هغه ته به حق ورکول کېږی، بلکه دا یوفرض او امانت دی، چه دوی به ئی دامت دوکیلانو په حیث پوره کوی.

ښکاره خبره ده چه فرض اوامانت وهرچاته نشی سپارل کیدای، بلکه د هغه داهلیت معیاربه معلوم وی.

دمعیاراونمائندګۍ شرطونه په لاندی ډول دی.

اول: <u>ایمان</u> - داسلامی ریاست دشوری دارکانودوظائفو څخه یو کار، دریاست دمشر اود هغه د وزیرانو ټاکل دی، دوهم داسلامی قانون تشریح او تعبیردی، دریم په نوی مسائلو کی احتهاد کول دی، څلورم د اسلامی نظام دعملی کولولپاره ښه تدبیرونه نیول دی، دغه ټول ددی شوریٰ دوظائفو څخه دی، نوهغه څوك چه دسره واسلام ته هیڅ عقیده نه لری، نوهغه ته څرنګه دا وظیفه ورسپارل کېږی؟ بل داچه دهر یونظریاتی ریاست دأمیرانو اومشرانو لپاره دا ضروری ده، چه دهغه ریاست پربنیادی اواصلی نظریه یقین

ولري، همدا شان داسلامي رياست دڅانګنډګانولپاره هم ضروري ده، چه پرتوحيد، رسالت ختم نبوت اودقرآن اوحديث پرقطعي احكاموباندي غيرمتزلزل اعتقاد ولري.

دوهم: فقاهت - دهرملك اورياست دشورئ داركانو لپاره دا ضروري ده چه د هغه رياست داساسي قانون سره ښه ناڅه بلد وي، اود هغه څخه علم ولري، داسلامي رياست اساسي قانون قرآن اوحديث دي، يوڅوك چه ددغه قانون علم ونلري نوهغه به ددغه رياست دشوري دمجلس ركن څرنګه جوړي دايشي؟ ښكاره خبره ده چه داسلامي شوري داركانو لپاره په قرآن اوحديث، اسلامي تعليماتو، اوعلوموكي مطالعه ضروري ده.

اورسول الله صلى الله عليه وسلم د فقهاوڅخه دمشوري اخستلو حكم كړيدى عن أبي هريرة رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من تقول على مالم أقل فليتبوأ مقعده من النار، ومن استشاره أخوه المسلم فأشار عليه بغير رشد فقد خانه، ومن أفتى بفتيا غيرثبت فإنما إثمه على من أفتاه. مسند أحمد حديث نمبر ۷۹۱۸

ترجمة: حضرت ابوهريرة رضى الله تعالى عنه وايي: چه رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: كه چا پرما هغه څه وويل، چه مانه وي ويلي، نوهغه به دوزخ كي ځانته ځاى جوړه وي، اوكه چا دمسلمان ورورڅخه مشوره وغوښتله اوهغه بيله علمه مشوره وركړه، نوخيانت يه ورسره وكړى،

او که چاپیله علمه چاته فتوی ورکړه، ګناه یـه پرهغه چاده چه فتـوی یـه ورکړی وی. اوخلفاء راشدیـنوبـه هم دعلماؤ ځخه مشوره اخستله.

دریم: عدالت او دیانت = رسول الله صلی الله علیه وسـلم مشـوره ورکونکی خلک امناء، مؤتمن خیار الناس یعنی بهـتره خلـق بللـی دی. اوقرآن کریم اسلامی امت دمسرفینو، مترفینو، فساقو اوفجـارو داطـاعت کولو ځخه منع کوی، اودفقهاؤ په نیزد فاسق او فاجر نـه شاهد کیدایسـی اونه قاضی، نودقانون جوړونکی اداری رکن هم نسی کیدای، یعنی دشریعت له مخی چه، فاسق، فاجر، خائن د قانون چلونکی نـه سـی کیدای، قـانون جوړونکی هم نسی کیدای. یوځوك چه دلمانځه، روژی حج، زکوة، پابند نـه وی، داخلاقی جرمونوعادی وی، قاتل، غل، سـودخور، اوقیماربـازوی، اویاددی په شان په نورو غټوګناهونو اختـه وی، هغـه نـه دمسـلمانانو معتمدکیدایسی، اونه مخلصانه مشوره ورکولای سی، داسی خلق همیشه پـه خودغرضی، نفس پرستی، او اقرباء پروری اختـه وی.

دعدالت اودیانت ځخه خالی خلقوته دملك او ریاسـت معـاملات اوچاری په لاس ورکول، په حقیقت کی دملی خـود کشـی، اودتولنـی دهلاکت سبب ګرځی.

ځلورم: عقل اوبلوغ = داسلامی شوری دمجلس رکن به عاقل او بالغ وی، ځکه په ذهنی ډول مریض اونابالغه دخپل مال اختیار نلری، لکه ځرنګه

چه الله تعالی عزوجل فرمائی: وَلَاتُؤتُوا السُّفَهَاءَ أَموَالَكُم، الَّتِی جَعَلَ اللهُ لَكُم قِیَامًا. سورة النساء آیة ٥

یعنی تاسو وبی عقلانو ته خپل هغه مالونه مه ورکوی چه سبب گرځولی دی الله ستاسو دگزران، یعنی دناپوهو هلکانو په لاس ددوی هغه مالونه مه ورکوی، چه ستاسی په تصرف کی دی، او الله تعالی هغه انسانانو لره دمعیشت سامان جوړ کړیدی. نودوی ته به دولتی چاری او دریاست امور څنگه ورسپارل کیږی؟ معلومه سوه چه دشوری دمجلس دغړی لپاره دا ضروری ده، چه درأی خاوند به وی، او دمعاملاتوفهم به لری، ذهنی پختگی به لری، اوبل دا معلومه سوه چه دعمرشرط هم ورسره ضروری دی چه هغه دبلوغ عمردی.

پنځم: دعرف عام څخه به خبروی = حضرت ابن عابدین شامی او جلال الدین سیوطی رحمهما الله تعالی لیکلی دی، چه عرف عام او رواج ته هم په شریعت کی ځای سته، په غیر منصوصی امورو کی په عرف، عادت، رسم، اورواج باندی هم فیصله کیدایسی. نوکوم خلق چه درسم، اورواج څخه خبرنه وی، اونه دموجوده حالاتو علم لری، اونه په بین المللی امورو باندی خبر وی، نوهغه سړی دملك په هغه مهم ترینه قانون جوړونکی، اوپالیسی جوړونکی اداره کی خپله وظیفه په مکمله توگه، او ایمانداری سره سر ته نه سی رسولای.

دپورتنیو ذکر سوی شرائطو څخه ددرو بنیادی اواصلی شـــرائطوذکر امام ماوردی رحمه الله تعالی، اوقاضی ابو یعلی رحمه الله تعالی کړیـــدی، ۱- عدالت او دیانت، ۲- علم پوه او هو ښیاری، ۳- دمعاملاتو فهم.

امام قرطبی لیکلی دی باید د داسی عالم څخه مشوره واخستل سی چه په دینی او قانونی امورو کی ماهر وی، دیانتدار وی، په دنیوی او انتظـــامی امورو کی تجربه ولری، او رأی خاوند وی.(۱)

دوولسمه وظیفه - دبیت المال جوړول.

حکومت دمختلفو ضرورتونو دپوره کولو لپاره څه مصارفو او مـــواردو تـــه ضرورت لری، دمواردو اومصارفو منظم کولوته په شرعی اصطلاح کی بیت المال وایی، دا چه درسول الله صلی الله علیه وسلم ، اودحضـــرت ابوبکـــر الصدیق رضی الله تعالی عنه په زمانه کی موارد اومصارف کم وه، ځکه پـــه هغه وخت کی، دبیت المال منظم کولوته ضرورت نه وو، په لـــمړی ځـــل دحضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه په زمانه کی چه کله دمســـلمانانو دحکومت ساحه پراخه سوله، فارس اوروم فتحه سوله، موارد اومصـــارف زیات سوله، نوځکه حضرت عمرفاروق رضی الله تعالی عنـــه ددی لپـــاره منظمه اداره جوړه کړله، چه هغوی به دمـــواردو اومصارفو باقـــاعده ثبـــت وسجل، حساب کتاب ساتی. د اسلامی حکومت د امـــیر یوه مهمه وظیفه

۱- اسلام کا سیاسی نظام: ص ۲۷۲ اسرار الرحمن بخاری

د اسلامي اصولو مطابق د اسلامي بيت المال جمع كول اوبيا دهغه مصرفول ، يعني په خپل دولتي عوائدو او مصارفو كي تــوازن پيداكــول، داســلامي حكومت يــوه مهمه وظيفه ده.

اودا وظيفه دأمير لپاره په خپله الله تعالى اود هغه رسول تعين كړي ده. څكه الله عزوجل فرمايي: خُذ مِن أموَالِهِم صَدَقَةً تُطَهِّرُهُم وَتُزَكِّيهِم بِهَا. (١)

ترجمة: واخله اى محمده له مالونو ددوى زكوة، چه بڼه پاك كړى تــه دوى له ګناهونو ياله محبته دمال، اوبابركته كړى ته دوى دهغه په وسيله.

په دى آيت كي كه څه هم خطاب ورسول الله صلى الله عليه وســلم ته سوي دى، خوبياهم دقرآن كريم حكم عام دى ترقيامته پورى دمسلمانانو وهر أمير ته دا أمر متوجه دى، چه دخپلو مسلمانانو رعاياوڅخه صدقــات زكاتونه اوعشرونه راجمع كړى، اودغير مسلمينو رعاياوڅخه جزيه اوخــراج راټــول كــړى.

دوهم داچه كله رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت معاذ رضــى الله عنه يمن ته ليږى، داسي لائحه عمل ورته وركړله: عن بن عباس رضى الله تعالى عنهما أن النبى صلى الله عليه وسلم بعث معاذا إلى اليمن فقال: ادعهــم إلى شهادة أن لآإله إلا الله وأنى رسول الله، فإن أطاعوا لذالك فاعلمهم أن الله افترض عليهم خمس صلوة في كل يوم ولــيلة، فإن أطاعــوا لذالك فاعلمهم

١- ســورة التوبــة آيــة ١٠٣

أن الله افترض عليهم صدقة في أموالهم تُوخَذُ من أغنيائهم وتُرَدُّ في فقرائهم، فإن هم أطاعوا لذالك فإياك وكرائم أموالهم، واتق دعوة المظلوم فإنها ليس بينها وبين الله حجاب. رواه الترمذي حديث نمبر ٥٦٧

ترجمة: كله چه نبي كريم صلى الله عليه وسلم حضرت معاذ رضي الله عنه يمن ته ليږي ورته وئي ويل: چه دوى به دعوت كړي ودى ته چه د الله عزوجل پروحدانيت اوزما پررسالت شاهدي ووايي، كله چه دوى دغه ومنى بيا دوى دعوت كړه چه الله تعالى پر دوى په ورځ اوشپه كي پنځه لمنځونه فرض كړي دى، كله چه دا ومنى بيا دوى دعوت كړه چه الله عزوجل ددوى په مالونو كي زكوة فرض كړي دى، چه دغنيانو څخه اخستل كيږي اوپرفقيرانو توزيع كيږي، كله چه دوى په دى هكله هم ستا اطاعت وكړى، نوته توردوى دبنه مالونو څخه ځان وساته، اوځان وساته دمظلوم دښيرا څخه، بيشكه دمظلوم دښيرا او د الله ترمينځ هيڅ حجاب اوپرده نسته.

پـه عين وقت كي ورته دظلم نه كولو په هكله تلقين هم وركړى.

ددغه حديث څخه څوټكي په ښكاره ډول معلوميږي.

١ - دواليانو اوحاكمانومقرركيدل به خپله دأميرله خواكيږي، ترڅوهغه دده دنائب په حيث هلته وظيفه اجراكړى.

٢ - دواليانو اوحاكمانو لمړنى وظيفه خلقو ته عقائد، اوتوحيد وربښول دى، څكه همدغه داسلام بنياد اوأساس دى، اوبيا عبادات وربښو ول دى چه

په سر کې لمونځ دی، ځکه همدغه لمانځه ته (عماد الدین) دلمانځه ستن ویـــل سـوی دی.

٣- دمالي عباداتو په حيث به د دوی ځخه زکوتونه اخلی، يعنی داهم د الله عزوجل له طرفه یوفريضة ده په هغه ډول به اخستل کیږی، په کـــوم شکل چه الله عزوجل فرض کړي دی، چه دغنيانوځخه به اخستل کیږی.

٤- دصدقاتو دمصرف ځای وروښودی (وتُرَدُّ على فقرائهم) يعنـــی دهغه منطقی پرفقیرانو به ئی توزیع کوی، ځکه دا دفقرائهـــم دضمیرځخـــه معلومـــیږی، يعنی د دوی فقراؤ تـــه بـــه ورکول کیږی.

٥- لکه ځرنگه چه د آیت ځخه معلومیدله دا رنگه دحدیث ځخه هم معلومه سوه چه دزکاتونو اوعشرونو جمعه کول د أمیر اود هغـــه دنائبـــانو وظیفه ده. داځکه چه په آیت کی صیغة د(خذ) أمر حاضرده، اوپه حدیـــث کی صیغه د (تأخذ) صیغة مخاطبه ده، په اول کی خطاب وأمیر يعنی ورسول الله صلی الله علیه وسلم ته دی، اوپه دوهم کـــی خطـــاب ونـــائب يعنـــی وحضرت معاذ رضی الله عنه ته دی. هم داسی ترقیامته دا خطاب دمسلمانانو وټولو أمـــیرانو، اونائـــبانوتـــه متوجـــه دی.

دیورتنی دلائلو په نظرکی نیولوسره دحنفی فقه علماء وایی: إذا قـــال أدیت بنفسی إلی الفقراء فی المصر، لایصدق وإن حلف، ولنا أن حق الأخـــذ للسلطان، فـــلایملك ابطالـــه. الـــهدایـــة ص١٧٩ ج١

ترجمة: که د حکومت لخوا موظف سړی غنی ته وویل زکات راکړه، او هغه وویل چه ما په خپله په ښارکی وفقیرانو ته ورکړی دی، تصدیق به یه نه کول کیږی، که څه هم دی قسم واخلی، ځکه دزکاة داخستلو حـــق دسلطان دی، دی یه نسی باطله ولای.

په بل ځای کی وایی: والحق أن الإمام مستحق الأخذ والفقير مستحق التملك والانتفاع، فحاصله أن هناك مستحقين، فلا يملك ابطال حق واحد منهما.(۱)

ترجمة: حق دا دی چه امام داخستلومستحق دی، اوفقـــیر دملکیـــت اودنفع اخستلو مستحق دی، یودبل حق نسی باطله ولای.

مطلب دا که غنی خپله زکاة فقیرته ورکړي هم وی، أمير یاسلطان یه دوهم وار ځنی اخستلای سی. اوس مسئله دا ده چه اول یه زکاة بلل کیږی، که دا دوهم چه امیر یه واخلی ؟ په دی هکله کتاب داسی لیکی: وقيل الثاني وينقلب الأول نفلا، لأن الواجب كون الزكاة في صورة المرور مايأخذه الإمام ويدفعه ولم يوجد في السابق، ووجد في اللاحق، وانفساخ السابق النـــاقص للاحق الكامل ثابت في الشرع. (۲)

ترجمة: اوچا ویلی دی چه دوهم زکاة بلل کیږی، او اول نفل ګرځی، ځکه واجب زکاة هغه دی چه امام یه واخلی، اوورکول سی، اودا ځکی نه وموجـــود، (ځکه ده پـــه خپله ورکړی دی) او وروســـته موجود ســـو،

۱- فتح القدير ص ۱۷۲ ج۲ * ۲- المرجع السابق

نودا وروستني کامل د مخکني ناقص لپاره ناسخ بلل کيږي، او دا په شريعت کي ثابت دي.

دپورته ذکرسوي آيتونو، حديثونو اودفقهي مسائلو څخه ثابته سوه چه دبيت المال جوړول دهغوموارد و څخه چه اسلام ښودلي دي، دمسلمانانو دمسلمان أمير وظيفه ده.

وأمـيرته دزکوة ورکولو حکمت:

داچه زکوة يوه ديني فريضه ده، اودمسلمانانوأميرداسلامي أحکامو دنافذ کولو، اوساتلودنده په غاړه لري، نوځکه دصدقاتو، اوزکـاتو راټولـول، او هغـه مستحقينوته رسول، چه په قرآن کريم کـي الله تعـالی بيـان کړيـدی، ډير حکمتونه لري، چه څه پـه لاندي ډول دي.

۱- دفقيردحيثيت ساتنه: يعني که فقير پخپله دغني څخه زکوة اخلـي دفقير بي عزتي کيږي، اوبل داچه کيدايسي غنـي پـرده بـاندي احسـان بار کړي. اويا پيغور، اوتکليف ورکړي.

۲- صحيح تقسيم کول: يعني که غنيان په خپله زکاتونه ورکـړي، کيدايسي بي عدالتي وسي، هغه داسي چه يو چالاك فقيرته بـه ډير غنيـان دتعلقاتو پر بنياد زکاتونه ورکړي، خوڅه بي تعلقاتو اوشرميدونکي فقيران به بي برخي پاته سي، اوډير محتاج به هم وي، د أميردا وظيفة ده چـه وټولـو محتاجانو تـه پـه عدالت. اوعزت نفس سره ورسـوي.

۳- داچه فقیر پر غنی تسلط اوقدرت نه لری، نو یوخودی خپل حـق دغنی څخه نسی احستلای، بل دا چه په غنیانو کی کسـالت اوکمزوري ډیرېږي، کیدایسی څه غنیان بیخی زکاة ورنکړي. دشریعت له مخی څـوك چـه زکوة نه ورکوی هغه باید مجازات سی، اومجازات بیله أمـیر یانـائب أمـیر څخه بل څوك نسی ورکـولای.

ولـهذا قال العلماء يجب على الإمام أن يبعث السعاة لأخذ الصدقـة، لأن النبي صلى الله عليه وسلم، والخلفاء من بعدهم كانوا يبعثون السعاة، ولأن في الناس من يـملك المال ولايعرف مايجب عليه فيه، ومنهـم مـن يبخـل فوجب أن يبعث من يأخـذ. (۱)

ترجمة: همدا وجه ده چـه علماؤ ویلی دی، چـه پرامام دا واجـب دی ، چه دصدقاتو دراجمع کولو، اواحستلو لپاره عاملین (موظف کسـان) لیږی، ځکه نبی علیه السلام، اوتر ده وروسته خلفاء راشیدینو هم موظـف کسان لیږله، اوبل داچه ځنه داسی کسان به هم وی چه مال لری، خودا نوی ورته معلومه چه پرده څومره شی واجب الأدا دی، اوبل کیدایسی څه بخیلان وی زکوة نه ورکوی دهغوی څخه باید پـه زور واحستل سی.

همداوجه ده چه علماؤ فیصله کړیده، که یوسړی خپل زکات په خپله وفقیرته ورکړی، هغه نه صحیح کیږی، دوهم ځل به په وأمیرته بیا ورکوی.

۱- الإمامـة العظمیٰ ص ۳٤۰

وإن كان مال الزكوة ظاهرا: وهوالمواشى، والزروع، والثمار، والمال الذى يمر به التاجر على العاشر، فيجب عندالجمهور منهم الحنفية والمالكية، دفعها إلى الإمام، فإن فرقها بنفسه، لم يحتسب له ما أدى، لقوله تعالى: (خُذ مِن أموَالِهِم صَدَقَةً) أمرالله نبيه بأخذ الزكاة، فدل أن للإمام المطالبة بذالك والأخذ، ودل ذكر (العَامِلِينَ عَلَيهَا) فى المصارف على أن للإمام مطالبة أرباب الأموال بالصدقات. (١)

ترجمة: كه مال ښكاره وو لكه حيوانان، كښتونه، ميوى، اوهغه مال چه تاجران په دسرحدونو له لارى راوړى اوعاشران يه وينى، جمهورعلماء لكه أحناف، اومالكيان وايى چه إمام يادهغه موظف سړى ته يى وركول واجب دى، (فإن فرقها بنفسه، لم يحتسب له ماأدى) كه يى په خپله وركړى هغه په زكات كى نه حسابل كيږى، دليل دادى چه الله عزوجل وخپل نبى ته أمركوى (خُذمِن أموَالِهِم صَدَقَةً) ته ددوى دمالونو زكات واخله، دا آيت پردى دليل دى چه إمام حق لرى چه دزكات طلب وكړى، اووايه خلى، داچه دصدقاتو اخستل دأميردوظائفو څخه دى، معلومه خبره ده چه داټول كارونه أمير يوازى نه سى كولاى، نو ځكه الله عزوجل ده ته دهمكارانو، عاملانو دمقرر ولو، اودغو عاملانوته دصدقاتوڅخه اجرت وركولو اختيار وركړى، اوپه مصارفوكى الله عز وجل د (وَالعَامِلِينَ عَلَيهَا)

١- الفقه الإسلامى وأدلته ص ٨٨٩ ج ٢

ذکر کړي دی داهم دلالت کوی چه پر امام داسته، چه عاملان مقرر کړی، اود هغوی په واسطه د مالونو دخاوندانو څخه دصدقاتو مطالبه وکړی.

داچه دصدقاتو اوزکاتونو اخستل دامیر وظیفه ده، ځکه علما وایی: لوجاز للمالك أداء الزكاة إلى المستحقين، لما احتيج إلى عامل لجبايتها. یعنی که داجائز وای، چه مالك خپله زکات ومستحقینو ته ورکړی، نود زکاتو د اخستلو لپاره دعاملانو دمقررکولو به هیڅ ضرورت نه وای.

ولايبعث الإمام إلا ساعيا حرا، عدلا، ثقة: لأن هذا ولاية، وأمانة، والعبد والفاسق ليسا من أهل الأمانة والولاية. ولايبعث إلافقيها: لأنه يحتاج إلى معرفة مايؤخذ وما لايؤخذ، ويحتاج إلى الإجتهاد فيما يعرض له من مسائل الزكات وأحكامها. (۱)

ترجمة: امام به دغه زکات ټولونکی سړی نه استه وی، مگر داچه حر، عادل، اوثقه به وی، ځکه دا دیوی خوا ولایت اوله بلی خوا أمانت دی، عبد اوفاسق نه د امانت، اونه د ولایت أهل دی. اوبل داچه نه به استوی مگر فقیه عالم: ځکه دی ته ضرورت سته چه دا وپیژنی چه څومره زکات کیږی، اوڅومره نه کیږی، اوزه باید څومره واخلم، اوکله داسی مسائلی اوأحکام هم مخ ته راشی چه هغه واجتهاد یعنی وډیر علم ته ضرورت لري.

نومعلوم سو چه زکات اخستل د امیر وظیفه ده، اوډیرحکمتونه پکښی دی.

۱- الفقه الإسلامی وأدلته ص ۸۸۸ ج ۲

د اسلامي بيت المال موارد.

ښكاره خبره ده چه حكومت اودولت مصارف لري، ددې مصارفو لپاره بايد موارد وي، د اسلامي حكومت د نظام ماليات، څه موارد، او مصارف دنورو فرائضو اوعباداتو په شان فرض بلل سوي دي، چه دهغوي دجملې څخه زكوة، عشر، خراج، جزية، غنائم، فئ، اوځني نوردي.

اول - زكاة دي: زكوة دمسلمانانومالي عبادت دي، الله تعالى په قرآن كريم كي تقريبا (٣٢) ځايه دلمانځه سره يوځاى ذكر كړي دي. لكه څرنګه چه فرمايي: وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَآتُوا الزَّكَوٰةَ وَمَاتُقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُم مِّن خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ اللهِ إِنَّ اللهَ بِمَاتَعْمَلُونَ بَصِيرٌ (١) سورة البقرة آية ١١٠

ترجمة: اوسم ادا كوى لمونځ، او وركوى زكوة، اوهغه شي چه مخكي ليږي لپاره دځانوخپلولكه صدقه، وبه مومي (پيدابه كړي) ثواب دهغه په نزد د الله، بيشكه الله تعالى په هغه شي چه كوئ تاسي ښه ليدونكي دي. يعني ستاسي اعمال نه ضايع كوي، اوجزايه دركوي.

په بل آيت كي الله تعالى فرمايي: وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ، وَآتُوا الزَّكَوٰةَ، وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ. سورة البقرة آية ٤٣

ترجمة: اوسم قائموى، په ښه ترتيب سره اداكوى لمونځ، او وركوى زكات، اوركوع وكړى دركوع كونكو، لمونځ كونكو مسلمانانو سره.

اوپه بل آيت كي الله عزوجل فرمايي: أَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَآتُوا الزَّكَوٰةَ

وأطيعوا الرسول لعلكم ترحمون. سورة النور آية ٥٦

ترجمة: اوسم ادا کړی سره دټولو حقوقو لمونځ، او ورکوی زکات، اواطاعت وکړی حکم ومنی درسول د الله، ښايی رحم وکړه سی پرتاسی.

د پورتنيو څو دلائلو څخه معلومه سوه، چه زکوة نه يوازی دا چه داسلامی حکومت دمالياتی موارد و څخه دی، بلکه دنورو عباداتوپه شان يوه دينی فريضة ده، اوداهم معلومه سوه چه اسلام ديوڅو معتقداتو مجموعه نه، بلکه دانسان د ژوندانه اوټولنی مربوط ټول نظام لری، چه دهغوی دجملی څخه نظام ماليات دی، ددی لپاره هم خپل ځانګړی اصول لری، اود هغوی مراعت کول هم داسی ضروری دی لکه دنورو فرضی عباداتو.

دزکوة اغراض اومقاصد.

اول – تزكية النفس: الله عزوجل نه يوازی دا چه زکوة ئی فرض کړی دی، بلکه دهغه مقاصد يه هم بيان کړی دی، مطلب داکه زکوة داغی قوانينو اومقاصدوسره سم ادا نه سی، دهغه زکوة اداکول مشکوك جوړيږی، چه يودهغومقاصدوڅخه تزكية النفس ده، دزکوة معنی ده پاکيزه کول، اوزياتيدل (نمو) يعنی دزکوة په اداکولوسره سړی دګناهونوڅخه پاکيږی، اومال يه زياتيږی، د خپل پاك ګټلی مال څخه د الله تعالی درضا لپاره وضرورت لرونکو ته څه ورکولو سره په نفس کی پاکيزګی راځی، اوزړه ئی ددنيا دحرص څخه پاکيږی، لکه څنګه چه الله عزوجل وخپل رسول

صلی الله علیه وسلم ته خطاب کوی اوفرمایی: خُذمِــن أموَالِهــم صَدَقَــةً تُطَهِّرُهُم وتُزَكِّيهِم بِهَا. ســورة التوبــة آيــة ١٠٣

یعنی تــه د دوی څخه صدقة اوزکوة واخله، چه ته دوی پــه پــاك کــړی، اوتــزکـیه ئی پــه وکــړی.

په بل آیت کی فرمایی: قَد أَفلَحَ مَن تَزَكّٰى. یعنی چاچه خپل ځان پاك کړی پــه تــحقیق هغه کامــیاب دی.

اوپــه بل آیت کی الله تعالی فرمایی: وَسَيُجَنَّبُهَا الأَتقَى الَّذِى يُؤتِــى مَالَــه يَــتَزَكّٰى. ســورة اللــيل آيــة ١٧-١٨

یعنی د دوزخ له اوره بــه لــیری کــړل سی هغه څوك چــه تقــوی لری، اوخپل مال د الله پــه رضا ددی لپاره ورکوی چــه پاك سی.

د پورتنیو آیتونو څخه معلومه سوه چه دزکوة یو مقصد ددنیا دحرص څخه دزړه پاکیدل، اوتزکیه کول دی. ځکه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی: حب الدنیا رأس کل خطیئة: یعنی ددنیاسره محبت دهری گناه بنیاددی.

دوهم ــ د الله تعالی د رضا لپاره به وی

یعنی دزکوة ورکولوپه وخت کی به فقط اوفقط دالله رضا مطلوب وی، دبل چا رضا اویابل مقصد لپاره به نه وی، ځکه الله عزوجل فرمایی: وَمَاتُنفِقُونَ إِلَّاابتِغَاءَ وَجــهِ اللهِ. ســورة البقرة آيــة ٢٧٢

یعنی هغه چه تاسی به پــه صدقه یازکوة کی ورکوی، هغه به یوازی

اويوازى د الله تعالى درضا اوخوشنودى په خاطر وى، خپل ذاتى مقصد بـــه هيڅ پكښې نه وى، ځكه په پورتنى آيت كې نفى اواثبات دى، قـاعده داده چې په نفى اواثبات سره ذكر سى هغه حصرفائـــده كوى.

دريم - مقصد دحلالې ګټې څخه به وى

يعنى صدقة او زكوة به دحلال مال څخه وى، ځكه د حرام مال څخه صدقة وركولو باندى نه يوازى دا چه ثواب نسته، بلكه ملاعلى القارى دفقه اكبر په شرح كې ليكلى دى، چه ددا سى صدقې اوزكوة دثواب غوښتل، اواميدكول كفردى. اوبل داچه دحرام مال په خوړلو سره سړى خپله ګناه كاركـــيږى، نوبل مسكين ته په وركولو ياپه ورخړلو، اوپرهغه باندى په ثواب غوښـــتلو سره ئې ګناه نوره هم زياتيږى، په دى هكله الله تعالى فرمايى: يَاأَيُّهَــــاالَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَاكَسَبْتُم، وَمِمَّا أَخرَجنَا لَكُم مِنَ الأَرضِ، وَلَاتَيَمَّمُـــوا الخَبِيثَ مِنهُ تُنفِقُونَ، وَلَستُم بِآخِذِيهِ إِلَّا أَن تُغمِضُوا فِيهِ، وَاعلَمُوا أَنَّ اللهَ غَنِـــيٌّ حَـــمِيدٌ. ســـورة البقرة آيـــة ۲٦۷

ترجمة: اى هغه كسانوچه ايمان يه راوړى دى، لګوى له حلالو پـــاكو هغو مالونو، چه په كسب سره تاسى ګټلى وى، اوله هغوشيانو چه ايستلى دى مونږتاسى لره دځمكې څخه، اوقصد مكوى تاسى دوركولـــو د چپټـــو اوحرامو شيانو، له هغه ماله چه لګوى تاسى په لاره د الله كې، حال دا چـــه نه ئې تاسى اخيستونكې، دهغه ناكاره شى پـــه خپل حق كې، مګرخوداسى

اخلی، چه سترگې پټې کړې په اخیستودهغه کې، پوه سی چه بیشکه الله غنی دی، بې پروا له هره چا اوله هره شی، ورته بنه صفت اوثنا ویلې سوی.

تفسیر: یعنې د الله تعالی په نزد دصدقاتو د مقبولیت شرط دادی، چه له حلاله ګټل سوی مال څخه وی، حرام اوڅه شبهه پکښې نه وی، د الله تعالی په لاره کې ورکول سی، اوداسې خراب شیان په خیراتو کې ورنه کړی، چه تاسې یې په اخیستلو شرمیږی، اویا یې نه اخلی، مګرهغه وخت چه سترګې پر پټې کړی، اوپوهیږی چه الله تعالی بې پروا دی، اوتاسې ورته مجبور اومحتاج یاست، اوهغه تاسوته هیڅ احتیاج نه لری، اود ډیرو محامدو اوفائدوخاوند دی، که تاسو ښه شی، په ښه مینه دهغه په لاره کې ورکړی، نو دی هغه خوښه وی.(۱)

اوبل داچه په یوحدیث کې راغلی دی: عن أبي الحباب سعيد بن يسار أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال من تصدق بصدقة من كسب طيب، ولايقبل الله إلاطيبا، كأن إنما يضعها في كف الرحمن، يربيها كمايربي أحدكم فلوه، اوفصيله حتى تكون مثل الجبل. (۲)

ترجمة: دحضرت ابی الحباب سعید بن یسارڅخه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوك چه د پاك كسب څخه صدقه وکړی، اوالله تعالی نه قبلوی مګرپاك، لکه دا چه دالله جل جلاله په لاس کې

۱- تفسیر کابلی ص۲۲٤ ج ۱ * ۲- رواه موطا مالك حدیث نمبر ۱۵۸۱

(بلاکیف) کښیږدی، هغه ودیته داسی تربیه ورکوی لکه تاسی چه وخپل کوچنی وری یامرغومی تـه ورکوی، ترڅو چـه دونـه سی لکه غر.

څلورم إحسان نـه بلل

یعنی یوڅاته چه صدقه یازکوة ورکوی پرهغه به إحسان نه اچوی، اونه به ئی باربار وریاد وی، اونه به د دی په بدله کی څه اخلی، اونه به ئی امید څنـی کوی. پـه دی هکله الله تعالی فرمایی: يَآ أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَاتُبطِلُوا صَدَقَـاتِكُم بِالمَنِّ وَالأَذَى، كَالَّذِى يُنفِقُ مَالَهُ رِئَاءَ النَّاسِ وَلَا يُؤمِنُ بِاللهِ وَاليَومِ الآخِرِ، فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ صَفوَانٍ عَلَيهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُ وَابِلٌ فَتَرَكَهُ صَلداً، لَا يَقدِرُونَ عَلَى شَيءٍ مِمَّاكَسَبُوا، وَاللهُ لَايَهدِى القَومَ الكَافِرِينَ. سـورة البقرة آيـة ۲٦٤

ترجمة: ای هغه کسانوچه ایمان موراوړی دی، مه باطله وی تاسـی خیراتونه خپل، اومه ضائع کوی په احسان باروَلو اوایذا رسولو سره، په شان دهغه سړی چه صرفوی مال خپل، دپاره د ښودنی د خلقو، اوایمان نه لری په الله، اوپه ورځ آخری، چه قیامت دی، نومثال ددی ریاکار په صرفولودمال کی، په شان دصفت دهغی ښوی تیږی (ډبری) دی چه پرته وی په هغـی باندی څه خاوری، پس ورسیږی هغی ته زورور باران، نو پریږ دی، دغـه ډبره پاکه صافه له گرده، نه به قادرېږی داریاکاران په هیڅ شی باندی، لـه ثوابه د هغه شی چه کسب کړیدی دوی، اوالله نه ښیی سمه صافه لاره دخیر، قوم کافرانو تـه، پـه سبب دظلم د دوی پرخپلو نفسونـو.

تفسير: يعنی په صدقی خيرات ورکولوسره محتاجانوته تکليف ورکول، ياپرهغوی باندی إحسان، اومنت بارول دصدقی اوخيرات، ثـــواب ضـــائع کوی، يعنی په خيرات کی نيت شرط دی که څوك دريا اوخلقوتـــه دښـــان ښودلو په نيت صدقة ورکړی، نودهغه مثال داسی وګڼه، لکه چه څوك کومه دانه پر يو داسی ښويه ډبره باندی وکری، چه پرهغی باندی لږڅه خاوره پرته وی، څوکله چه باران ووريږی نوهغه بيخی صافه اوپاکه سی، نوپه هغـــی باندی به هغه دانه څنګه زرغونه سی؟ هم داسی به په صدقاتوکی رياکارانوته څه ثواب ورسيږی؟ بلکه نه ورسيږی. (١)

درسول الله صلی الله عليه وسلم روايت سوی دی: عن شدادابن اوس فإنی سمعت رسول الله صلی الله عليه وسلم يقول من صلی يرائی فقد أشرك، ومن صام يرائی فقدأشرك، ومن تصدق يرائی فقد أشرك. (٢)

يعنی که چاملونځ په دی نيت وکړی چه خلق می وونی، نوهغه شرك وکړی، اوکه چاروژه دريا په نيت ونيوله، نوهغه شرك وکړی، اوکـــه چـــا مسکين ته دريابه نيت شئ (خيرات) ورکړی چه خلق ئی ووينی، اويـــاخلق ښه سړی ورته ووايی، نودا سړی د الله سره شريك ونيـــوی.

اودشرك په هکله په يوحديث کی رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمـــايی: عن ابی هريرة رضی الله عـــنه قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم يعنی

١- تفسير کابلی ص ٢٢١ ج ١ * ٢- مشکوة المصابيح ص ٤٥٥

قال الله عزوجل أنا خير الشركاء من عمل لی عملا أشرك فیه غیری فأنا منه بریئ وهو للذی أشرك. (۱)

ترجمة: حضرت ابو هریرة رضی الله تعالی عنه وایی رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: الله عزوجل وایی: زه خیر ترشریکانو یم که څوا زما لپاره یو کار وکړی، او په هغه کی ئی بل څوك لماسره شریك کړی، زه دهغه څخه بیزاره یم، د ده دغه عمل د هغه لپاره دی چه ده زماسره شریك کړي دی.

خلاصه دا چه صدقه یازکوة به په داسی دول ورکوی چه فخر، نمائش، احسان، او احساس برتری به هیڅ شی پکښی نه وی.

پنځم د غریبانو کفالت کول

یعنی په ټولنه کی دنادارو غریبانو إعانت کول، ترڅو دټولنی څخه دغربت إفلاس خاتمه وسي، او د غریبانو بنیادی ضرورتونه پوره سی، په دی هکله الله تعالی داسی فرمایی: وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِم حَقٌّ مَّعْلُومٌ لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ. (۲)

یعنی هغه کسان چه د دوی په مالونوکی معلومه حصه سته د سؤال کونکو، اونادارو خلګو لپاره.

په بل آیت کی فرمایی: وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ. سورة البقرة آية ۱۷۷

یعنی ورکوی خپل مالونه د الله په محبت کی فقیرانو خپل وانو ته،

۱- رواه مسند أحمد حدیث نمبر ۹۲٤٦ * ۲- سورة المعارج آية ۲٥

یتیمانو ته، مسکینانو ته، فقیرانو مسافرانو ته، اونادارو سوال ګرو تــه، اوپــه ازادونــه د مــریانــو کی.

او دحضرت معاذ رضی الله عنه پــه حدیث کی نبی کریم صلــی الله علیه وسلم په واضح ډول ورته ووَیل، چه الله عزوجل پردوی زکات فــرض کړیدی، چه ددوی داغنیاؤڅخه اخستل کیږی، اوددوی فقیرانو ته ورکــول کیږی. (إِنَّ اللهَ افترض علیهم صدقة تُوخَذُ من أغنیائهم وتُرَدُّ علی فقرائهم).

د پورتنیو څودلائلو څخه معلومه سوه چه زکوة د اسلامی حکومــت داسې حق دی، چه په هغه باندی د اسلامی ټولنی څخه د غربــت خاتمــه وکړی، اودا به پــه هغو مصارفوکی لګوی، کوم چه الله تعالی ښودلی دی.

زکوة د اسلام دبنیادی فرائضو څخه یو أهم فرض، اود مسلمانانو مالی عبادت دی، دزکوة څخه دانکارپه صورت کی مومن نه سی پاته کیــدای، الله عزوجل په قرآن کریم کی تقریبا هرځای د لمانځه سره یو ځای ذکر کړي دی، دنبی کریم صلی الله علیه وسلم تررحلت وروسته څه قبائلو دزکوة دورکولو څخه إنکار وکړی، نو حضرت أبوبکر الصدیق رضــی الله عنــه دهغوی پــه خلاف دجهاد اعــلان وکړی.

زکوة دمسلمانانو دنقدی، اوتجارتی أموالو، اوڅارویو لکه اوښــان، غوایان، پسونه، اوداسی نورو څخه اخستل کیږی، چه د هریــوه نصــاب، اومقدار زکوة د فقهی په کتابونوکی پــه ډیر تفصیل سره لیکل سوي دی.

دزکـوة شـرطونه

١- حریت ، ٢- عقل، ٣- بلوغ، ٤- اسلام، ٥- دنصاب تام ملکیت، ٦- دپوره کال تـیریدل، په دی هکله دفقه شریفی په کتابونو کی داسی لیکی:

الزکوة واجب على الحر، العاقل، البالغ، المسلم، إذا ملك نصابا ملكا تامـا، وحـال علـيه الـحول. الـهدايـة ص ١٦٧ ج١

یعنی زکوة فرض دی پرحر، پرمریی نسته، پرعاقل، پرلیونـی نسـته، پربالغ، پرکوچنی نسته، پرمسلمان، پرکافر نسته، (ځکه لیونی، کوچنی، چه په لحاظه اونورو احکامو مکلف نه دی، په زکات هـم مکلـف نـه دی) دنصاب خاوند به وی په پوره ملکیت سره، یعنی که دیو چاسـره دوقـف مال، یاأمانت مال وو، یادده مال چاغصب کړی وو، یادغلا مال ورسره وو، اونورداسی چه د ده ملکیت پر پوره نه وی، پرهغه زکات نسته، پرملکیت به ئی پوره کال تیر سوی وی که ترکال کم وو پرهغه زکوة نسته. لکه چـه وایی: (لابد من الحول لأنه لابد من مدة يتحقق فيها النماء وقدرها الشـرع بالحول) یعنی پرمال باندی پوره کال تیریدل ضروری دی، ترڅو د دا مال نما اوګټه ثابته سی، ددی لپاره شریعت کال مقررکړیدی، ځکه رسول الله صلی الله علیه فرمایی: عن عبد الله بن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من استفاد مالا فلازكوة عليه حتى يحول عليه الحول عند ربه. (١)

١- رواه الـترمذی حـدیث نمبر٥٧٢

يعنى كه څوك دمال خاوندسو پر هغه زكوة نسته ترڅوكال پر تيرېږي.

بل حديث كي راځي: عن عائشة رضى الله عنها قالت سمعت رسـول الله صلى الله عليه وسلم يقول: لازكاة فى مال حتى يحول عليه الحول. (١)

حضرت عائشه رضى الله تعالى عنها وايي: چه رسول الله صلـى الله عليه وسلم وفرمايل: په مال كي زكات نسته ترڅو چه كال پرتـيريـږي.

د فقه علماء كرام د پوره كال يو حكمت داسي بيانه وي: ولاشتما له على الفصول المختلفة، والغالب تفاوت الأسعارفيها، فأديرالحكم عليه.

يعنى دا چه كال پرمختلفو فصلونو مشتمل دى، اوغالبه دا ده چه په دى كي نرخونه تفاوت پيداكوى، يعنى كمېږى اوزياتېږى، نوحكم پردغه بنادى.

دوهم حكمت داسي بيانه وى: حكمة اشتراط الحول شرعا أن المقصود من شرعـية الزكوة مع المقصود الأصلى من الابتلاء، مواساة الفقـراء علـى وجه لايصـير هو فقيرا، بأن يعطى من فضل مالـه قليلا من كثـير. (٢)

يعنى دا چه شرعا كال ورته شرط سويدى: ځكه اصلى مقصد د زكوة د مشروعيت څخه، ابتلاء، اود فقير سره كومك كول دى، پـه داسي طريقه چه دى خپله فقيرنه سي، هغه داسي چه د ډيرمال څخه لږمال وركړى.

دزكـوة قسمونـه

دمسلمانانو هغه مالونه چه زكوة پرفرض دى، دماليت په اعتبارڅلوردوله دى

١- رواه ابن ماجة حديث نمبر ١٧٨٢ * ٢- فتح القـدير ص ١١٣ ج ٢

١- نـقـود: يعني سره، اوسپين زر ياد هغوى معادل بـانكي نوټونـه كـه چاسره وي، اوياپر چاقرض وي، اويا دچا سره امانت وي، اوكال پر تيرسو، زكوة پر فرض دي، په دوه شرطه ١- نصاب،٢- حولان الحول: يعني دكال تـيريدل، دسپينو زرو نصاب دوه سوه درهمه دي، دسرو زرو نصاب شـل مثقاله دي، په دوه سوه درهمه كي پنځه درهمه زكوة پرفرض دي، اوپه شل مثقاله سرو زروكي نيم مثقال زكـوة فـرض دي.

څكه په حديث كي وايي: عن على رضى الله تعالى عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال إذاكانت لك مائتا درهم،وحال عليه الحول،ففيها خمسـة دراهم، وليس عليك شيئ يعني في الذهب حتى يكون لك عشرون دينـارا، فإذا كانت لك عشرون دينارا، وحال عليها الحول، ففيها نصف دينار. (١)

ترجمة: حضرت على رضى الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسـلم څخه روايت كوي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: كه ستا سره دوه سوه درهمه وه، اوپرهغو كال تيرسو نو په هغه كي پنځه درهمـه دي، نورشيئ پر تانسته، يعني په سرو زرو كي ترڅو چه ستاسره شل ديناره كيږي، كه ستاسره شل ديناره وه، اوكال پرتيرسو، نو په هغوكي نيم دينار دي.

عن عائشة رضى الله عنها أن النبى صلى الله عليه وسلم كان يـأخذمن كل عشرين دينارا فصاعدا نصف دينار، ومن الأربعين دينارا دينار. (٢)

١- نيل الأوطار ص ١٢٨ ج ٤ * ٢- رواه ابن ماجـة حديث نمبر ١٧٨١

ترجمة: حضرت عائشة رضی الله عنها فرمایی: چه نبی صلی الله علیه وسلم دشلو دینارو اویاتر هغه زیات څخه نیم دینار اخستی (ترڅلویښت دینارو پوری) اودڅلویښت دینارو څخه یو دینار.

داحنافو دمذهب مطابق دسرو زرو یو مثقال دموجوده وقت پنځه گرامه دی، پنځه ضرب شل مساوی دوه سوه، ٥ + ٢٠ = ٢٠٠ گرامه.

اودسپینو زرو یو درهم دموجوده وقت ددری نیم گرامه سره برابردی، دری نیم ضرب دوه سوه مساوی اوه سوه ٣,٥ + ٢٠٠=٧٠٠ گرامه. (١)

یعنی که دیو چا نقدی روپی د دوسوو گرامه سرو زرو قیمت ، یا د اوه سوه گرامه سپینو زرو قیمت ته نه رسیدلی نوهیڅ شي باندی نسته.

ځکه په یو حدیث کی راځی: قال صلی الله علیه وسلم (لیس فی أقل من عشرین مثقالا من الذهب، ولافی أقل من مائتی درهم صدقة. (٢)

یعنی سره زر چه تر شل مثقاله کم وی، اوسپین زر تردوه سوه درهمه کم وی په هغه کی زکوة نسته.

معنا داچه مسلمان به اول دسرو، اوسپینو زرو قیمت په موجوده گرام معلومه وی، اوبیابه خپل روپوته حساب کوی، چه دوه سوه سره زر، یا اوه سوه سپین زر په راتول کیږی کنه؟ که نه کیدل نو پردغه زکوة نسته، که کیدله، او یا زیاتی وی، نوپه دغه مال کی زکوة سته، بیابه دټولو روپو

---

١ - الفقه الاسلامی وادلته ص ٧٥٩ ج ٢ * ٢- مخکنی مرجع ص ٧٦٢ ج ٢

څلويښتمه روپۍ ورکوی، او دزیاتو دا به هم په داغه حساب ورکوی، ځکه په یوحدیث کې راځی: عن علی رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم أنه قال هاتوا ربع العشر من کل اربعین درهما درهما،ولیس علیك شیئ حتی یتم، فإذا کانت مائتی درهم ففیها خمسة دراهم، فمازاد فبحساب ذالك.(١)

ترجمة: حضرت علی رضی الله عنه دنبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوی: چه ده وویل: چه راوړی دلسمی څلورمه (څلویښتمه) دهرو څلویښتو درهمو څخه یودرهم، اوپرتا ترهغو شي نسته ترڅو دوه سوه پوره کېږی، کله چه دوه سوه درهمه سوله، نو په دوی کی پنځه درهمه دی، اوکه تردی زیات سوه، نود داغه په حساب اخستل کېږی.

دنرخ په هکله کتاب لیکی: وبحسب سعر الصرف لکل من الذهب والفضة، فی کل سنة، وفی بلد المزکی، وقت اخراج الزکوة. وتقدر الأوراق النقدیة بسعر الذهب، لأنه هو الأصل فی التعامل، ولأن المثقال کان فی زمن النبی صلی الله علیه وسلم، وعند أهل مکة هو أساس العملة، وهو أساس تقدیر الدیات. (٢)

یعنی دسرو اوسپینو زرو نرخ په هرکال کی، دزکوة ورکونکی په ښار کی، اودزکوة دورکولو په وقت کی، معتبردی، دا چه په څه ملکونو کی دسرو، اوسپینو زرو په قیمت کی فرق سته، نوځکه ښه کار دا دی چه دسرو

١- رواه ابوداوود حدیث نمبر ٣٤٢ * ٢- الفقه الاسلامی وادلته ص٧٦٠ ج٢

زرو په قیمت نقد مالونه تخمین او اندازه سی، ځکه سره زر په معامله کـــی اصل دی، اومثقال دنبی صلی الله علیه وسلم په زمانه کی وو، اودأهل مکـــه وو په نزد د نقودو أساس دی، اوهم په سرو زرو د دیاتو اندازه کول کیږی.

دوهم دتـــجارت مالونـــه

یعنی غیر دنقود ټحخه ټول مالونه لکه: جایداد، حیوانات، توکران،کـــالی، اوداسی نور چه دتجارت لپاره وی، زکوة پکښی سته.ځکه په قرآن کریـــم کی الله عز وجل فرمایی: يَآ أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَاكَسَبْتُم. (١)

ترجمة: ای هغه کسانو! چه ایمان ئی راوړی دی، لگوی (په صدقـــه ورکوی) له هغو حلالو او پاکو مالونو چه په کسب سره تاسو گټلی دی.

قال مجاهد نزلت فی التجارة. مجاهد وایی دغه آیت دتجارت په هکلـــه نازل سوی دی، اودآیت ټحخه داهم معلومیږی چه دحرام مال په تجارت کی زکوة نسته. او په حدیث کی راځی: عن سمرة بن جندب رضی الله تعالی عنه قال اما بعد فإن رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یأمرنا أن نخرج الصدقـــة من الـــذی نعد للبـــیع. (٢)

ترجمة: حضرت سمرة بن جندب وایی: چه موږ رسول الله صلـــی الله علیه وسلم امرکولو چه دهغه مالونو زکوة وباسو کم چه مـــوږ درانیولـــو اوخرڅولـــو لـــپاره تـــیارکـــړی وو.

١- ســـورة البقرة آیـــة ٢٦٧ * ٢- رواه ابوداوود حـــدیث نمبر ١٣٣٥

د احنافو دمذهب مطابق دتـــجارتي مالونـــو دزكوة دفرضيت لـپاره ځلور شرطونه دي: ١- بلوغ النصاب: يعنى نصاب ته بـــه رسـيږى، ٢- حولان الحول: پر داغه نصاب به كال تيريږى، كه دكال په آخر كى ترنصاب كم سو بياهم زكوة نسته باندى، كه دكال په منځ كى كم سو اوبيا برتـــه پوره سو اعتبار نه لرى. ٣- نية التجارة حال الشراء: يعنى درانيولوپه وقـــت كى به دتجارت نيت وى. ٤- أن يكون الشيئ المتجرفيه صالحا لنية التجـــارة: يعنى هغه شيئ چه تجارت پكښى كوى، دتجارت دنيت صلاحيت به لـــرى، يعنى كه سړى خراجي ځمكه د تجارت په نيت رانيوله اوزراعت يه په وكړى، په هغه كى خراج سته عشر نسته، اويايه عشرى ځمكه دتجارت په نيت رانيوله زراعت يه په وكړى، په هغه كى عشردى زكوة نسته. (١)

يقوم التاجر العروض التجارية فى آخر كل عام بحسب سعرها فى وقت إخراج الزكاة المطلوبة، وتضم السلع التجارية بعضها الى بعض عند التقويم ولو اختلف اجناسها، وتجب الزكات بلاخلاف فى قيمة العروض لافـــى عينهـــا، وواجب التجارة هوربع العشر القيمة كالنقد باتفاق العلماء. (٢)

يعنى تاجر به خپل دتجارت مال دكال په آخر كى دهغه وقـــت پـــه قيمـــت حسابى چه كله زكات وركوى، اوكه دتجارت مالونه دجنس لـــه نظـــره مختلف وه دټولو قيمت بـــه يوځاى سره حسابى، اوپه دى كى هيڅ اختلاف

١- الفقه الاسلامى وأدلته ص٧٨٩ ج٢ * ٢- مخكنى مرجع ص ٧٩٢ ج ٢

نسته چه دتجارتي مالونو په قيمت کي زکات واجب دي په هغه مالونو کي نه دي واجب، اودټولو علماء په اتفاق دتجارتي مالونو په قيمت کـــي دلسمي څلورمه (څلويښتمه) زکات واجب دي لکه دنقدو.

دريم حيوانات يا څاروي

هغه حيوانات چه دتجارت لپاره وي په ټولو قسمونو کي ئي دتجارت دشروط مطابق دقيمت زکات اخستل کيږي، اوهغه حيوانات چه دتجارت لپاره نـــه وي، دهغوي دزکات لپاره فقهاؤ پنځه شرطونـــه ښودلي دي: ١- أن تكون الأنعام وهي الإبل والبقر والغنم. يعني په اوښانو، غوايانو، پسونو کي ســـته پـــه نروښځارويو کي زکات نسته. ٢- أن تكون الأنعام بالغة نصابا شـــرعيا، على نحو المبين في السنة: يعني دغه څاروي به وهغه شرعي نصاب ته رسيږي کوم چه په حديث کي بيان سوي دي . ٣- أن يحول عليها حول: يعني کال به پر تير سوي وي. ٤- أن يحول في ملك صاحبه: يعني داکال به دخاوند په ملك کي پر تير سوي وي، يعني که په منځ کي مالك بدل کړه او يايه خرڅ کړل پرځاي يه نور رانيول، کال به دسره نوي شروع کوي. ٥- کونهـــا سائمة أي راعية في معظم الحول لامعلوفة. يعني دغه څاروي به دکـــال پـــه ډيره حصه کي، پرصحراپه خپله خوله څړ کوي، داسي نه چه پرځاي ســـاتل کيږي، که پـــرځاي ساتل کيدلـــه بيا زکات نسته بانـــدي.(١)

١- الفقه الإسلامي وأدلـــته ص ٨٣٤ ج٢ باختصار

ځلورم کښتونه، میوی، اودانې

لکه څرنګه چه دمسلمانانو په نقدی، څارویو، اوتجارتی مالونوکی زکوة فرض دی، همدا رنګه دمځکی په حاصلاتو کی هم دشریعت لخوا معلومه حصه سته، چه تفصیل ئی څه په لاندی ډول دی.

په قرآن کریم کی الله تعالی فرمایی: يَآأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَاكَسَبْتُم، وَمِمَّآ أَخرَجنَالَكُم مِنَ الأَرضِ. سورة البقرة آية ۲۶۷

ترجمه: ای هغه کسانو! چه ایمان مو راوړی دی، د الله په لارکی دخپلی ګټی څخه بنه اوپاك شیان ورکوی، اودهغه څخه چه موږ ستاسو لپاره دمځکی څخه درته را ایستلی دی.

دقرآن کریم په بل آیت کی الله عزوجل فرمائی: وَهُوَ الَّذِى أَنشَأَ جَنَّاتٍ مَّعرُوشَاتٍ وَّغَيرَ مَعرُوشَاتٍ وَّالنَّخلَ وَالزَّرعَ مُختَلِفًا أُكُلُهُ وَالزَّيتُونَ وَالرُّمَّانَ مُتَشَابِهًا وَّغَيرَمُتَشَابِهٍ، كُلُوا مِن ثَمَرِهِ إِذَا أَثمَرَ، وَآتُوا حَقَّهُ يَومَ حَصَادِهِ، وَلَاتُسرِفُوا، إِنَّهُ لَايُحِبُّ المُسرِفِينَ. سورة الانعام آية ۱۴۱

ترجمه: اوالله هغه ذات دی چه پیدا کړی ئی دی باغونه پورته کړه سوی پرلرګیو لکه انګور اوداسی نور، اوداسی چه پورته کړه شوی نه وی بلکه پر مځکه پراته وی، لکه دهندوانی او خټکی جوړنګان ، اودخرما ونی، اوکښت چه مختلفی وی میوی اوحاصل د هغوی په خوند اورنګ کی، اوزیتون، اوانارچه مشابه وی په وتو او پاڼو کی، اوغیرمتشابه وی میوی

دهغوی په خوند اومزه کی، خوری تاسی له میوی د هغه ځنی، کله چه میوی ونیسی نو اداکړی حق د هغی په ورځ دریبلواوشکولوددی حاصلو، اوبی ځایه ئی مه مصرفوی تاسی، بیشکه الله نه خوښوی مسرفان، تیریدونکی له حدودو. تفسیر کابلی ج۲ ص۸۷٤

په آیت کی دونو اومیوو، دټولو قسمونو دذکر کولونه پس ئی انسان ته دوه حکمونه کړیدی، اول حکم په ځپله د انسان د خوا هشاتو د پوره کولو لپاره دی، چه فرمائی (كُلُوا مِن ثَمَرِهِ إِذَا أَثْمَرَ) یعنی ددی ونو اوفصلو میوه خوری کله چه میوه ونیسی، اوپخه سی.

دویم حکم په آیت کی دا دی چه الله تعالی فرمائی: (وَآتُوا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ) وَآتُوا: کلمه د امرده، معنی ئی ده ورکړه، یا ادا ئی کړی، اوحَصَاد: دفصل ریبلو، یاد میوی اودانی شکولو ته وائی ، اودحَقَّهُ: ضمیرهغه دخوراك شی ته راجع دی، کوم چه په آیت کی ذکر شویدی، معنی داده چه داټوله شیان خوری، مگر یوه خبره یاده ساتی، چه دفصل دریبلو، یادمیوی دشکولوپه وخت کی ددی حق هم ادا کوی، دحق نځخه مراد په مسکینانو اوغریبانو صدقه کول دی، لکه چه په بل آیت کی فرمائی: وَفِي أَمْوَالِهِم حَقٌّ مَّعْلُومٌ لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ. سورة الذاریات آیة ١٩

یعنی په مالونوکی ددوی حق اوبرخه ده سوالگر لره ، اوصبر کونکی لرہ، یعنی مسکین سوال نه کونکی لره. اویا معلوم حق مقرردی دغوښتونکو اونه

غوښتنکو، فقیراتو اومسکینانو.

دایت په آخرکی الله عزوجل فرمایی: ولاتسرفوا إن الله لایحب المسرفین: یعنی دحدنه زیات خرځ مه کوی، ځکه الله زیات خرځ کونکی نه خوښوی، یعنی مه یی په خوړلوکی ترحد زیاتوب کوی، چه ټول خپله وخوری، مسکینانوته یی نه ورکوی، اویاټول د الله په لارکی خرځ کړی، خپل ځان اوعیال مسکینان کړی، اوبیا خپله سوال کوی.

مطلب دا چی په پورتنیو دواړو آیتونو کی لفظ دحق ذکر شویدی، په دی کی ځه تحقیق شته، هغه دا چه آیا دحق ځخه مراد عام خیراتونه دی، اوکه دمځکی عشر اوذکوة مراد دی ؟

ځه علماء کرام رحمة الله تعالی علیهم لکه علی بن الحسین، عطاء، حماد، سعید بن جبیر، او مجاهد په نزد عام خیراتونه مراد دی، دوی دا وجه وائی چه دا آیاتونه په مکه کی نازل شویدی، اوزکوة دهجرت په دوهم کال په مدینة کی فرض شوی دی.

دیر علماء لکه ابن عباس، ابن عمر، أنس بن مالك، سعید بن المسیب، امام ابوحنیفة، اوبعض اصحاب إمام الشافعي په نزد فرض زکوة مراد دی، دوی دا وائی: آیت که مکی وی، اوکه مدنی، په دواړو صورتونو کی دمځکی زکوة عشرمراد دی، ځکه ددوی په نزد دزکوة دواجب کیدلو حکم په مکة کی نازل شوي دی، البته مقدار دزکوة، اونصاب مقرر کیدل

ئی دهجرت نه پس په مدینة کی وسو، اوددی آیت نـــه صـــرف دومـــره معلومیږی چه دمځکی په حاصلاتو کی د الله له طرفه څه حق لازم سوي دی، او د مقدارتعین پـــه دی کی ذکرندی سوی، پـــه دی وجه د مقدار پـــه باره کی دا آیت مـــجمل دی. (۱)

او د اصول فقه له نظره دمجمل آیت تفصیل په حدیث سره جائز دی. دهجرت نه دوه کاله وروسته، چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم دوحی په ذریعه په نورو مالونو کی، د زکوة دنصاب او مقدار تفصیلات بیان کړل، دغه شان ئی دمځکی دزکوة مقدار هم بیان کړی، لکه په دی حدیث کـــی فرمایی: عن عبد الله بن عمر رضی الله عنهما عن النبی صلی الله علیه وســـلم قال فیما سقت السماء والعیون اوکان عشریـــا العشر، وما ســـقی بـــالنضح نصف العشـــر. (۲)

د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چه نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چه په هغو مځکو کی، چه په باران، یاچینو پـــه ذریعـــه اوبیږی، او یاعشری وی، په حاصلاتو کی لسمه حصه ده، اوکومی مځکی چه دڅاه او ماشینانو په ذریعه اوبیږی، د هغه په حاصلاتو کی د عشر نمایی (شلمه حصه) دزکوة لـــپاره ورکـــول واجب دی.

دپورتنیو آیتونو څخه دمسلمانانو د مځکو پـــه حاصلاتو کی دزکوة

۱- الجامع لأحکام القرآن ج٤ ص ۹۹ * ۲- مختصر صحیح البحاری حدیث ۷٥٥

فرضيت، اودحـديث څخه ئې نصاب اومقدارثابتېږي.

د اسلامي قانون له نظره دمځکې په حاصلاتوکې دصدقې حکم کلـه دمځکې اوکله دابو تابع دی، اودواړه پردوه ډوله دي: عشري، اوخراجي دی.

دعشري مځکې دتعريف په هکله دفقه کتابونـه داسې ليکي: أن الأراضي العشريـة خمسة أنواع: فأرض العرب كلها عشـرية، والثـاني كل أرض أسلم أهلها طوعا، والثالث الأرض التي فتحت عنوة وقسـمت بين الغانمين، والرابع بستان مسلم كان داره فاتخذه بستانا، والخامس الأرض الميتـه التي احياها مسلم وكانت من توابع الأرض العشرية. (١)

ترجمة: يعنې هغه مځکه چه په حاصلاتوکې عشرسته، پرپنځه قسمه ده،

١- دعربو مځکه ټوله عشري ده (يعنـې دعذيـب څخـه بيـادعدن يمـن ترآخرپوري) (عـذيب دکوفې يوکلي دی).

٢- ټول هغه مځکه چه خلقو په خپله خوښـه اسلام راوړی وی.

٣- هغه مځکه چه په زور فتحه سوی وی، او پر مجاهدينو تقسيم سوی وی .

٤- هغه مځکه ده چه اول د مسلمان کور وی، بـيا بـاغ څنې جوړ کړی، او پـه عشرې اوبو اوبـه کـېږي.

٥- هغه مځکه ده چه دعشري مځکې وڅنګ تـه خرابـه مځکـه يوڅوك دامـير پـه اجازه آباده کړی.

١- فتح القـديـر ص ١٩٩ ج٢

دامام محمد رحمة الله تعالى عليه په نزد دځمکی حاصلات داوبو تابع دی یعنی هغه ځمکه چه په باران، یاڅاه،(کوهی) یارود اوبه کیدله، عشری ده، اوکه د اعاجمو پـه والو اولښتیو اوبـه کیدله خراجی ده.

لکه چه وایی: ثم الماء العشری ماء السماء، والأبار ، والعیون، والبحارالتی لاتدخل تحت ولایة أحد، والماء الخراجی الأنهار التی شقها الأعاجم، (وهی الأنهار الصغار التی فی بلاد الأعاجم). (١)

ترجمة: عشری اوبه د اسمان یعنی د باران، اوچینو، اود هغه لویو دریابونو، او رودونو اوبه دی چه د چا ترتصرف لاندی نه راځی، اوخراجی اوبه دهغه ولو اولښتیو اوبه دی چه عجمیانو د لوی رود څخه کښلی وی، دا هغه کوچنی ولی دی چه دعجمیانو پـه وطنونو اوښارونو کی دی.

دعشر مقدار

داچه دعشر لپاره هم لکه دنقدو، اوڅارویو پـه شان نصاب یامعلوم مقدارشرط دی که نـه ؟ د اسلامی فقه علماء په دی هکله دوه رأیی لری.

یوه رأیه دحضرت إمام أبوحنیفة رحمة الله تعالى علیه ده، چه وایی: قال أبوحنیفة رحمة الله تعالى علیه النصاب لیس بشرط لوجوب العشر، فیجب العشر فی کثیر الخارج وقلیله.(٢)

ترجمة: امام ابوحنیفة رحمة الله تعالى علیه وایی: دعشر دوجوب لپاره

١- الهدایة ص ١٨٦ ج ١ * ٢- الفقه الاسلامی وادلته ص٨١٠ ج٢

نصاب شرط نه دی، هغه څه چه له ځمکی راوزی، په هغه کی عشر واجب دی، لږ وی که ډیر. ددی لپاره شپږ دلیله وایی.

اول دلیل: په قرآن کریم کی الله تعالی فرمایی: یَآأَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا اَنفِقُوا مِن طَیِّبَاتِ مَاکَسَبْتُم، وَمِمَّآ أَخرَجنَالَکُم مِنَ الأَرضِ. (۱)

ترجمه: ای! هغه کسانو چه ایمان موراوړی دی، دالله په لارکی دخپلی ګټی څخه ښه اوپاك شیان ورکوی، اودهغه څخه چه موږ ستاسولپاره دځمکی څخه درته را ایستلی دی.

دوهم دلیل: الله تعالی فرمائی: (وَآتُوا حَقَّهُ یَومَ حَصَادِهِ) یعنی دفصل دریبلو، یادمیوی، دانو دشکولوپه وخت کی ددی حق هم ادا کوی، دحق څخه مراد په مسکینانو اوغریبانوصدقه کول دی.

دریم دلیل: عن سالم عن أبیه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم أنه سن فیما سقت السماء، والعیون، أو کان عشریا العشر وفیما سقی بالنضح نصف العشر. (۲)

ترجمه: حضرت سالم دخپل پلارڅخه روایت کوی: چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مقرر کړی دی، د هغه ځمکی په حاصلاتو کی، چه اسمان په اوبه وی، یعنی په باران اوبیږی، لکه للمی، اویا په چینواوبیږی، اویابه ځمکه عشری وی، عشر، یعنی لسمه دی، اوهغه ځمکه چه په سولاغه اویاماشینی

۱- سورة البقرة آیة ۲۶۷ * ۲ - رواه الترمذی حدیث نمبر ۵۹۷

آلآتو اوبــه کیږی، پــه هغه کی دعشر نیمایی یعنی شلمه دی.

څلورم دلیل: عن مسروق عن معاذ ابن جبل قال: بعثنی رســـول الله صلی الله علیه وسلم إلی الیمن، وأمرنی أن آخذ مماسقت السماء، وماســـقی بعلاً، العشر، وماسقی بالـــدوالی نصف العشر. (۱)

ترجمة: حضرت مسروق دحضرت معاذ ابن جبل رضی الله تعالی عنــه څخه روایت کوی، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم زه یمن تــه ولـیږلم، اوماته یه أمر وکړی، چه زه دهغو ځمکو څخخه چه په باران اوبیږی، اویاهغــه چه ریښی یه اوبوته رسیدلی وی خپله اوبیږی، عشر یعنی لسمه حصه واخلم، اوهغه ځمکی چــه پــه سولغو اویانورو ماشـین آلآتو اوبـــیږی، نصــف عشر یعنی شلمه حصـــه واخـلم.

پنځم دلیل: عن أبی هریـــرة رضی الله تعالی عنه قال قال رســـول الله صلی الله علي وسلم فـــیما سقت السماء، والعیون، العشـــر، وفیما ســـقی بـــالنضح نصف العشـــر. (۱)

ترجمة: حضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه وایی: چـــه رســـول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: پـــه هغه کی چه باران یه اوبه وی، اویا پـــه چینو اوبـــیږی، عشر یعنی لسمه ده، اوهغه چه دآلآتو په واسطه اوبه کیږی پـــه هغه کی نصف عشر، یعنی شلمه حصه ده.

۱- ابن ماجـــة حدیث نمبر ۱۸۰۸ * ۲ - ابن ماجه حدیث نمبر ۱۸۰۶

دپورتنیو آیتونو اوحدیثونوڅخه داستدلال یادلیل ویلو وجه داده، چه دا آیتونه اوحدیثونه ټول عام دی، یعنی هر هغه شي چه دعشری ځمکی، اویاهغه ځمکی چه بیله وسائلو اووسائطو اوبه کیږی، حاصل سی په هغه کی عشردی.

شپږم دلیل: په هدایه، اوفتح القدیر کی لیکلی دی: داقول دعلیه السلام دی (ما أخرجت الأرض ففیه العشر) یعنی ټول هغه څه چه مځکه په را باسی، (شنه کوی) په هغه کی عشردی.

دا حدیث که څه هم دمدعا داثبات لپاره صریح دی، خود دی حدیث په هکله څه کتابونه لیکی چه غریب دی، یعنی دحدیثو په مشهوروکتابونوکی په دغه الفاظو وجودنه لری، اوبل دا چه خپله إمام أبوحنیفةرح دمځکی په ټولو راوتلو شیانوکی عشر نه وایی، لکه نیان، لرګی، وابنه. معلوم سوچه حدیث پرخپل عموم نه دی پاته، نودلیل په ویل هم کمزوری دی.

دوهمه رأیه: دامام صاحب دیارانو اوجمهورفقهاؤ ده، چه وایی: النصاب شرط، فلاتجب الزكاة في شيء من الزروع والثمار حتى تبلغ خمسة أوسق، وهي (٦٥٣ كغ) . ولايجب العشر إلافيما له ثمرة باقية، وليس في الخضروات (الفواكه، كالتفاح والكمثرى وغيرهما، اوالبقول كالكراث والكرفس ونحوهما) عندهما عشر لعدم الثمرة الباقية. (١)

١- الفقه الإسلامي وأدلته ص ٨٠٥ ج ٢

ترجمة: نصاب یامقدار شرط دی، په میوو دانوکی عشر واجب نه دی، ترڅو پنځه وسقه ته نوی رسیدلی، اودا ٦٥٣ کیلوگرامه دی، اوپــه هغــه شی کی چه میوه یه بقانه لری، په هغه کی هــم عشــر واجــب نــه دی، اوسبزیــجاتوکی لکه فاکهه اوترتیزك، اومولی، اوداسی نوروکی، عشرنسته، ځکه چــه میوه یــه بقانــه لــری.

ددغه رأیی اول دلیل: عن أبی سعید الخدری رضی الله تعالی عنــه أن النبی صَلی الله علیه وسلم قال لیس في حب ولاتمر صدقة حتی یبلــغ خمســة أوسق، ولافیما دون خمس ذود صدقة، ولادون خمس أواق صدقة. (١)

ترجمة: حضرت ابی سعید الخدری رضی الله تعالی عنه وایی: چه نبــی علیه السلام ویل: په دانو اوخرماکی ترهغو صدقة یعنی زکات نسته ترڅــو پنځه وسقه ته رسیږی، اوپه اوښانوکی چه ترپنځه ذود کم وی صدقه یعنــی زکات نسته، اونقدی چه تر پنځه اواقه کم وی صدقه یعنی زکات نسته.

لغاتونه: ١- وسق: ستون صاعا، وخمسة أوسق ثلاث مائة صاع.

یووسق ٦٠ کاسی، اوپنځه أوسق ٣٠٠ کاســی، چــه تولــه ٦٥٣ کیلوگرامه کیږی. ٢- أوقية: أربعون درهما، وخمس أواق مائتا درهم. یــوه اوقــیه ٤٠ درهمه ده، اوپنځه أواقــه ٢٠٠ درهمه دی.

٣- دود: مابین الثلاثة إلی العشرمن الإبل، یعنی لیس فیمادون خمس من الإبل

١- رواه مسلم حــدیث نــمبر ١٦٢٨

صدقة. فإذا بلغت خمسا وعشرين من الإبل ففيها بنت مخـــاض، وفيمـــا دون خمس وعشرين من الابل في كل خمس من الإبل شاة.

ترجمة: د درو شخحه ترلسو اوښانو ته ذود ويل کيږی، يعنی ترپنځه کم اوښانو کی صدقه زکات نشته. چه (٢٥) ته ورسيږی، بياديوه پـــوره کـــال جونګی دی، اوتر(٢٥)کم اوښانوکی پرهر پنځه اوښانو يـــو پوســـه دی.

ددی حديث ځخه ددليل ويلو وجه داده: ليس في حب ولاتمر صدقـــة حتی يبلغ خمسة أوسق. يعنی دحديث دغه جمله چـــه وايی غله دانه چه تـــر (٣٠٠) کاسی چه ٦٥٣ کيلوکـــيږی کم وی، په هغه کی زکات نشته.

دوهم دليل: دا داسی مال دی چه زکات پکښی واجب دی، اوزکات پـــه لږمال کی نـــه واجبيږی، لکه پـــه نورو مالونوکی.

دريم دليل: زکات پرغنيانو واجبيږی، غنابيله نصابـــه نـــه حاصليږی.

دامام ابوحنيفة رحمة الله تعالی عليه د دلائلو په جواب کی وايی: چـــه هغـــه حديثونه عام دی، اوداحديث خاص دی، داصول فقه لـــه نظـــره تخصيـــص دحديث پـــه حديث سره جائزدی.

ملاحظة: دغه جواب داحاديثو په باره کی دمنلو وړدی، ليکن دإمـــام صاحب دآياتونو پـــه مقابل کی، نـــه منل کيږی، ځکه دأصولو لـــه نظـــره تخصيص دآيت پـــه حديث سره جائز نـــه دی.

ځلورم دليل: دحديث پـــه نورو دوو قسمونوکی لکه اوښان، اونقدی

امام أبوحنیفة رح هم نصاب منی، یعنی په اوښانو کی چه ترپنځه ذود کم وی زکات نیسته، او نقدی چه تر پنځه اواقه یعنی (۲۰۰) درهمه کم وی زکات نسته. نوپه میوو دانو کی هم باید ومنی، ځکه د اصول حدیث له نظره که دحدیث یو یادوه جزه دمنلو وړوی، نو ټول باید ومنل سی.

داسلامی بیت المال پورتنی څلور قسمونه په قرآن کریم او أحادیثو نبوی کی په صدقاتو یادیږی، اومراد ورڅخه فرضی زکاتونه دی، اودا داسلامی بیت المال هغه موارد دی چه تعین یه هم الله تعالی کړی دی، اومصرف یه هم الله تعالی په خپله کړی دی.

دزکات مستحقین یاحقداره

لکه څرنگه چه دصدقاتوفرضیت د الله تعالی له خوا سوي دی، هم داسی دمصرف ځای یه هم د الله تعالی له طرفه تعین سوی دی. لکه په دی آیت کی چه الله عزوجل فرمایی: إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُم وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ. سورة التوبة آیة ٦۰

ترجمة: بیشکه چه صدقی (زکاتونه) صرفیږي له پاره دفقیرانو، مسکینانو، اوعاملانومقررو دصدقاتو پرتحصیل، اوهغوته چه اشنائی اچولی شی په زړونو کی ددوی له اسلام سره، اوصرفیږی په خلاصولو دغاړو دنادارو مکاتبانو کی، اوپوروړو تاوان موندنکو، اوصرفیږی په لاره د الله کی،

اولپاره دمسافرانو چه مال ورسره نه وی. مقرره کړه شوي ده دغه فریضة (زکوة) له جانبه د الله دغو مصارفو لره، او الله په هرڅه بنه پوه اوحکمت خاوند دی.

تفسیر: ددی آیت شان نزول داسی بیان سوي دی: چه دصدقوپه ویش کی په رسول الله صلی الله علیه وسلم طعن سوی وو، لکه په دي آیت کی چه فرمایي: وَمِنهُم مَن يَلمِزُكَ فِي الصَّدَقَاتِ فَاِن اُعطُوا مِنهَا رَضُوا وَاِن لَم يُعطَوا مِنهَا اِذَاهُم يَسخَطُونَ. سورة التوبة آیة ٥٨

ترجمة: اوڅه په دوی کی هغه دی چه تا ملامت کوی، دصدقاتو په ویشلو کی، نوکه دوی ته څه شی ورکړل سی ددی صدقاتو څخه، نو دوی راضی کیږی، اوکه ورنه کړل سی، ددی صدقاتو څخه نودوی په هغه وخت ناراضه کیږی. ددی نه معلومه سوه چه ددوی داعتراض وجه اومنشأ په اصل کی څه اوصول نه وه، بلکه ددنیا حرص اوخود غرضی وه.

نوڅکه خبرداری ورکوی چه د صدقو دویش طریقه د الله تعالی له جانبه مقرره کړه سوی ده، او الله تعالی دصدقو اودنورو لګښتونوځایونه تاکلی مقرر کړی دی، اودهغه لست ئی دنبی کریم صلی علیه وسلم په لاس ورکړی دی، چه دهغه سره ئی سم ویش وکړی، اودهیچا دغوښتنی تابع نشی کیدای، په حدیث کی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: چه الله عزوجل د صدقو دویش اختیارنی تـه نـه دی پریښی، بلکه به خپله

ئي دهغه دلګښت ځايونه مقرر کړي دي، چه دغه أته دي. (١)

١- فقراء: جمع دفقير ده، هغه ته ويل کيږي، چه ورسره هيڅ نه وي.

٢- مساکين: جمع دمسکين ده هغه چا ته ويل کيږي، چه د هغه سره دضروري حاجتونو شي نه وي، او يا دا چه د هغه سره د نصاب نه کم شي وي، يعني هغه څوك چه دومره مال نه لري چه زکوة پر فرض شي، نوده ته فرضي صدقه اخستل جائزدي.

هغه څوك چه دنصاب خاوند نه وي، لکن جوړ، قوي او دکټې قابل وي، اوديوي ورځې دګذاري خرڅ ورسره موجود وي، که څه هم زکوة ورکول جائزدي،*خودا ورته جائز نه ده، چه ګرزي اودخلقوڅخه سؤال کوي، په دې هکله دنبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمان دي.

عن ابى هريرة رضى الله تعالى عنه أن رسولَ الله صلى الله عليه وسلم قال: ليس المسكين الذى يطوف على الناس، ترده اللقمة واللقمتان والتمرة والتمرتان، ولكن المسكين الذى لايجد غنى يغنيه، ولايقوم فيسأل الناس. (٢)

ترجمه: دحضرت ابو هريرة رضى الله تعالى عنه څخه روايت دى چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمائل: هغه څوك مسکين نه دى، چه پرخلګو باندې ګرځي (سؤال) کوي، اوهغه يوګوله يادوې ګولې،يا يوه خرما يادوې خرماوې ورکوي، بلکه مسکين هغه څوك دى، چه دکفاف په اندازه

١- تفسير کابلي دوجلدي ص ١٠٩٥ ج١ * ٢- مختصر صحيح البخارى ص ١٨٤

شي نه لري، اوپر خلقو بانــدی سؤال هم نــه کوی.

۳- عاملین علیها. دلته دعاملین څخه مراد هغـــه خلــق دی، چــه داسلامی حکومت لخوادخلقو څخه دصدقاتو دراټولولو، اوپه بیت المال کـــی دجمع کولو لپاره مقرر شوی وی، څرنگه چه دا خلق خپل وقـــت پـــه دی خـــدمت کی صرفوی، نو ځکه دوی ته دصدقاتو څخه پـــه اوسط انـــدازه خـــرڅ ورکول کـــیږی. البته عامل ته د صدقو څخه چه دخرڅ په ډول څه ورکول کیږی، هغه به د راټول کړه شوی مال تر نیمایی زیات نه وی، یعنی که یوعامل دومره دزکوة یا عشر مال را جمع کړی وُ، که دده خرڅ ځنـــی ورکړل شی، باقی مال ترنیمائی کم پاته کیدی، نو په دی صورت کی بـــاید دده خرڅه کمه سی، دا ځکه چه هریو عامل دومره مال راوړی، چه هغه دده ته په خرڅه کې ورکړل سی، یاکم پاته سی، نوبیا به دټولنـــی دمســـکینانو اوفقیرانو ته به شی پاته نه سی، په دی هکله داحنافو دفقه یو ډېرمعتمد کتاب رد المختار داسی لیکی: وعامل یعم الساعی والعاشر فیعطی ولوغنیـــا بقـــدر عمله مایکفیه وأعوانـــه بالوسط لکن لایزیـــد علی نصف ما یقبضه.(۱)

ترجمه: عامل: عام ساعی او عشر أخستونکی دواړو ته ویل کیږی، ودده ته ورکول کیږی که څه هم غنی وی، دومره اندازه چه په میانه ډول دده اود ده ملگرو کفایت کوی، لکن د هغه ترنیمائی به زیات نه وی، کوم چه دی

۱- رد المختار ص ۸۱ ج۲ طبع مصری

نی قبض کـــوی او یـــا راټولــوی.

اوپه تفسیرمظهری کی داسی وائی: قال ابوحنیفـة رحمـه الله تعـالی وأکثرالأئمة: یعطی له کفایة بقدرعمله، فإن عمل یوما یعطی له کفایة یـوم، وإن عمل سنة یعطی له کفایة سنة، لأنه لیس للغنی حق فی الزکـــوة، وإنمـا یعطی العامل أجرعمله، الذی وجب علی الفقرآء، فیعطی ذالك القدر من مال الزکوة، الذی هوحقهم، ولایجوزدفع جمیع مال الزکوة إلی العامل إجماعا، وإن استغرقت کفایــة جمیع مال الصدقة، بل حینئذ یعطی له النصف، لایزاد علیه، إذ لویعطی أکثرمن النصف وللأکثرحکم الکل، یکون هوعـاملا لنفســه، لا للفقراء، فیفوت المقصود. (١)

ترجمه: حضرت امام أبوحنیفة رحمه الله تعالی، اوډیـرو امامانو ویلـی دی، چه وعامل ته دده دکار په اندازه کفایت ورکول کیږی، که ئـی یـوه ورځ کارکړی و، دیوی ورځی کفایت اوکه ئی یوکال کارکړی وو، دیوه کال کفایت ورکول کیږی، دا ځکه چه دغنی په صدقاتوکی هیڅ حق نشته، دا چه عامل ته ورکول کیږی، دته د هغه دکارمزدوری ده، کوم چـه بـاید فقیرانوخپله کړی وای، نوځکه عامل ته د هغه مال زکوة څخه أجرة ورکول کیږی، چه هغه حق ددوی (فقراؤ) دی، او عامل ته دزکوة ټول مال ورکول جائز نه دی، د ټولو امامانو په اجماع سره، که څه هم دده کفایت په ټوله مال

١ - التفسیر المظهری ص٢٣٣ ج٤ القاضی محمد ثناء الله العثمانی

کېږی، بلکه په دغه وخت کی به دراجمع شوی مال نیمائی ورکول کېږی، ځکه که ترنیمائی زیات ورکول شی، اوحال دا چه ترنیمائی زیات حکم دټوله لری، نوپه دی وخت کی ګواکه دخپل ځان لپاره کارکونکی دی، نه دفقیرانو لپاره، نوأصل مقصود فوتېږی (هغه دا چه زکوة باید فقیرانو لپاره راټول شی، دا چه هرعامل دومره مال راټول کړی، چه هغه ټوله دی یوسی، نوفقیرانو ته بیا هیڅ نه پاته کېږی) نوځکه دده پوره مزدوری هم نه واجبېږی.

مګرمتأسفانه نن په څه اسلامی ملکونوکی عادت داسی جوړ سوی دی، چه هری محلی یاکلی ځانته یوملا إمام درولی دی، اوهغه ته ټوله زکاتونه اوعشرونه ورکوی، اوملا امام هم دغنی سره سره دغه زکاتونه اخلی، نوچه کله څنی پوښتنه وسی چه ملاصاحب ته خو غنی ئی، تاته خوجائز نه دی، زکوة خو خپل دمصرف ځایونه لری، نوځنی ملایان دا وائی چه زه خو عامل یم، ما خوټوله کال دلته مصرف کړي دی، نوده ته دېورتنیو دلائلوپه رڼاکی باید دا وویل سی، چه عامل خودحاکم لخوا ټاکل کېږی او نه خو...؟ اودوهم دا چه وعامل ته ټول زکات دخپل ځان لپاره اخستل دهیڅ یومجتهد په نزدجائز نه دی، ته خو ټول دخپل ځان لپاره اخلی.

دېورتنی تحقیق څخه داهم معلومه سوه، چه غنی عامل یا راټولونکی ته دزکات څخه څومره ورکول کېږی، هغه په دی وجه جائزدی، چه دا

د خدمت بدل دی، اودی د فقیرانو وکیل یا مزدوردی، ورنه زکات خو هغه مال ته ویل کیږی چه فقیر ته بیله عوضه ورکړل سی، که یوچا دفقیرڅخه دزکوة په بدله کی لږڅه واخسته، هغه زکات ته ئی زکات نه ویل کیږی، اونه ئی فرضی زکات ادا کیږی.(١)

٤- مؤلفة القلوب، مؤلفة القلوب هغه خلق دی، چه داسلام سره ددوی دزړونو دالفت پیدا کولو په خاطر دفرضی زکات، یادبیت المال دمالو څخه دغنی سره سره څه ورکول کیږی.

دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه کی څه داسی خلق وه، چه هغوی ته به دبیت المال څخه په کال کی څه حصه ورکول کیدل، البته مسلمانانو ته دزکاتونو څخه، او کافرانو ته دبیت المال دنورو عوائدو څخه لکه دغنیمت، اوفیء دخمس پنځمی حصی اویانورو عوائد، څکه تفسیر مظهری لیکی: لم یثبت أن النبی صلی الله علیه وسلم أعطی أحدا من الکفار للإیلاف شیئا من الزکوة.

ترجمة: دانه ده ثابته سوی چه نبی علیه السلام وکافرته دتألیف قلب لپاره دزکوة څخه شي ورکړي دی.

امام قرطبی لیکی: وبالجملة فکلهم مؤمن ولم یکن فیهم کافر.

یعنی خلاصه داده چه ټول مومنان وه په دوی کی کافر نه وو.

١- معارف القرآن (پښتو ترجمه) ص٢٢٦ تر ص٢٥٣ ج٤

دعلماؤ دويـــنا مطابق مؤلفة القلوب دغـــه لانـــدی څلور ډلی وی.

١- هغه خلک چه نوی مسلمانان سوی وه، اوپراسلام باندی دټینګولو پـــه خاطر ورکـــول کیدل.

٢- هغه خلق چه پخپله نـــه مسلمانان وه، مګردوی تـــه ددی لپاره ورکول کیدل، چـــه ددوی پـــه ذریعه ددوی قوم اسلام تـــه راسی.

٣- څه هغه کافرانو ته چه دهغوی دشره څخه مسلمانان وساتل سی.

٤- څه هغه خلق چه په دعوت، تبلیغ اوجنګ نه، بلکه په څه احسان ســـره بـــه مسلمانان کیدلـــه.(١)

دا چه دتألیف قلب لپاره اوس هم د فرضی زکوة، اویانور بیت المـــال څخه چاته څه ورکول جائزدی که نه ؟ په دی هکله څه علماء لکه حســـن بصری، امام شعبي، امام ابو حنیفة اونور څه علماءرحمة الله تعـــالی علیهـــم وائی: چه دا حکم منسوخ دی، ځکه نبی کریم صلی الله علیـــه وســـلم دا دیوخاص مصلحت لپاره کاوه، کله چه اسلام اومسلمانان قوی سول، نـــو ددی ضرورت نسوپاته، همدا وجه ده چه دنبی کریم صلی الله علیه وسلم تر رحلت وروسته، دحضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه په دورحکومت کی، دغو خلقو ته څه ورکول په اجماع الصحابه بند سوي دی. لکه چـــه وایی: جاء عیینة والاقرع، یطلبان أرضا إلى ابی بکر، فکتب له الخط، فمزقـــه

١- معارف القرآن پښتو ترجمة ص ٢٣٦ ج ٤

عمر، وقال هذاشيئ كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يعطيكم ليتــألفكم على الإسلام، والآن فقد أعز الله الإسلام، وأغنى عنكم، فإن ثبتم على الإسلام وإلا، فبيننا وبينكم السيف ، فرجعوا إلى ابى بكر رضى الله عنه فقالوا الخليفــة أنت أم عمر؟ فقال هو إنشاء الله، ووافقه فلم ينكر أحــد مــن الصحابــة رضوان الله عليهم. فتح القــدير ص ٢٠١ ج٢

ترجمة: ویل کیږی چه عیینة اوأقرع (داهغه کسان وه چه نبی کریـم صلی الله علیه وسلم دوی ته څه ورکول) وحضرت ابوبکر الصدیق رضی الله تعالی عنه ته راغله، اوځه ځمکه یه غوښته، نوده خط ورولیکی، هغــه خــط حضرت عمرفاروق رضی الله تعالی عنه ورشیری کړی، اوورته وی ویل، چه داشی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسوته درکاوه، ددی لپــاره چــه ستاسو زړونه واسلام ته مائل کړی، اوس اسلام ته الله عزت ورکــړی دی، ستاسوڅخه غنی دی، که تاسو اسلام راوړی خوښه، که نــه نــو زمــوږ اوستاسوترمینځ توره ده، نودوی بیرته وابوبکر رضی الله تعالی عنه ته راغلــه، اوورته وی ویل: ته خلیفه یی که عمر؟ ابوبکر ورته وویــل دي انشــاء الله، پردغه موافقه وسوه، هیڅ یوه دصحابه کرامورضی الله تعالی عنهــم څخــه پردغــه انکار ونــه کړی.

معلومــه سوه، چــه په اجماع دصحابه کرامــو دا حکم منســوخ ســوي دی.

د نوموړو علماؤ دمذهب مطابق اوس دزکــات مصــارف دمؤلفــة القلوب پــه استثناء سره اوه قسمه پاتــه دی.

اوځنی علماء لکه امام زهری، امام شافعی، امام احمد بن حنبل، اوابن عربی رحمة الله تعالی علیهم وائی چه داحکم منسوخ نه دی، ځکــه دقــرآن کریم حکم بیله قرآن کریم څخه، پــه بل شی نشی منسوخ کیدلای، او په قرآن کریم کی بل داسی آیت نسته، چه د دی آیت ناسخ وی. البته دصحابه کرام رضوان الله تعالی علیهم اجماع داصول فقه له نظره دلیل قطعــــی بلــل کیږی، اوبل دا خبره صحیح ده چه دا دمصلحت لپاره دی، اونبی کریم صلی الله علیه وسلم ته به د وحی په ذریعه مصلحت معلومیدی، اوس چه وحــــی قطع سویدی، دا نسی معلومیدلای، چــه مصلحت به په څــــه کــی وی، نوځکه احتیاط به هم داوی چه ورنــه کړل سی.

ت - وفی الرقاب، رقاب درقبة جمع ده، اورقبه په عربی ژبه غاړی تــه ویل کیږی، چه عموما غلامان (مریان) مراد وی، په مریانو کی یوقسم هغــه دی، چه ورته مکاتب وائی، مکاتب هغه مریۍ دی چه دخپل مــالك ســره داسی کتابت، قرارداد وکړی، چه دی به ومالك ته یومعلوم مقدارمال، تر یو ټاکلی وخت پوری ورکوی، اوهغه بــه دی آزادوی.

دلته جمهور (ډیر) علماء وائی چه (وفی الرقاب) څخه یوازی دغــــه قسم مریان مراددی، یعنی مکاتب مریی ته دزکات دمال څخه څــه ورکول

کیدایسی، چه هغه خپل ځان په آزاد کړی، صرف دامام مالك رحمة الله تعالی علیه څخه یو قول رانقل سوی دی، چه هغه وائی عام مریان هم دآزادولو لپاره په رانیول کیدایسی.

دلته یو مهمه خبره دا ثابتیږی، چه اسلام دټولنی څخه دغلامی دورکولولپاره مستقله پانگه ایښی ده، چه غلامی دټولنی څخه ختمه سی.

٦- الغارمین، غارمین دغارم جمع ده، معنی ئی ده قرضدار یا پوروړی، مطلب دا چه یومسلمان پوروړی وی، دومره مال نه لری، چه پور په آداکړی، نوهغه ته هم دزکات دمال څخه ورکول کیدایسی، چه خپل پور په آداکړی، خصوصا هغه کسان چه مهر پر باندی وی، ترهرچا زیاته حقداردی.

ځینو امامانو دا شرط هم لگولی دی، چه داپوربه دحرام کار یا فاسد رواج دپوره کولولپاره نه وی، اوکه دحرام کاریا فاسد رواج لپاره ئی پورکړی وی، هغه ته نه ورکول کیږی.

٧- فی سبیل الله، (د الله په لارکی) ددی څخه یو هغه غازی مجاهد مراد دی، چه دی جهاد ته ځی، خودځنلپ سامان ورسره نه وی، اونه ئی درانیولو لپاره مال لری، اوبل هغه سړی دی چه پرده یو ځل حج فرض سی، خو بیا دده سره مال نه وی، چه حج په وکړی، دریم هغه څوك دی، چه دعلم دزدکړی لپاره ځی، خود ده سره مال نه وی، څلورم هغه څوك دی،

چه ددین دتبلیغ اودعوت لپاره ځي، او مال ورسره نه وي، دغه کسان تر هرڅا ځنکي حقداردي، ځکه په دې کې دیوې خوا دمسکین او غریب سره کومك دی، دبلې خوا دا کارونه خالص دیني خدمت اوعبادت دی.

تنبیه - د (فی سبیل الله) لفظي معنی ډیره عامه ده، یعنی هر کار چه د الله د رضاء لپاره وي، هغه ته فی سبیل الله ویل کیږي.

ځینې خلق دلته لویه غلطي کوي، دزکات مال په عام المنفعت ځایونوکې لکه مسجد، مدرسه، ښځاه، سړك، پول، شفا خانه، مسافرخانه، اوداسې نورو ځایونوکې مصرفه وي، وایي دا هم فی سبیل الله کې داخل دي، په دې هکله دصحابه کرامو، تابعینو امامانو، اوفقهاوتفسیرونه وکتل سي، اوځان ښه په پوه کړه سي، نودا سي معلومیږي، چه نوموړو ځایونو ته که څه هم في سبیل الله ویل کیدایسي، خوبیا هم دزکات مال په داسې ځایونوکې مصرف کیدل جائز نه دي، ځکه امام ابن جریر، او ابن کثیر د (في سبیل الله) تفسیر صرف په مجاهد اوحاجي سره کړي دي، اوپه یو حدیث کې راځي، چه یوسړي خپله اوښه في سبیل الله وقف کړې وه، نونبي کریم صلی الله علیه وسلم هغه ته وویل: چه دا اوښه دحاجیانو دسفر لپاره استعمالوه.

څه علماؤچه طالب علمان هم پکښې داخل کړي دي، د هغه صرف دا وجه ده چه دغه خلق به مسکینان وي، خو بیله هغه هم دوی دزکوة

دمصرف اهل دی، دغه دعوت اوطلب علم به ئی وجـه دترجیح وی.

اوبل دا که د(فی سبیل الله) معنی په دی آیت کی هم موږ دومره عامه واخلو، چه هرنیك کاردزکوة مصرف وبولو، نوبیا به په قرآنکریم کی، ددی اتو مصرفونو بـیان (معاذ الله) بالکل بی فائدی سی. (۱)

۸- ابن سبیل: دسبیل معنی ده لاره، اود ابن لفظ په اصل کی دزوی په معنی دی؛ خو په عربی محاوره کی هغه ځا ته هم ابن ویل کیږی، چه دیو شی سره زیاته علاقـه اوتعلق لری، ددی محاوری مطابق ابن سـبیل لاری تلونکی مسافر ته وائی، ځکه دده زیات تعلق اوعلاقه دلاری قطـع کولـو، اومنزل مقصود ته درسیدلوسره ده، اودزکات په مصارفوکی مراد هغه مسافر دی چه په سفرکی دضرورت په اندازه مال نه لری، که څه هم په وطـن کی مال وه لری، داسی مسافر ته دزکات څخه دومره اندازه مال ورکـول جائزدی، چه دی دخپل سفرضرورتو ته په پوره، اوخپل وطن ته ولاړسی.

تردی ځایه پوری دصدقو اوزکاتو دهغو اتو مصرفونـو بیـان پـوره سو،چه پـه آیت کی بـیان سوی وه.

دداغه آیت په آخر کی الله عزوجل فرمائی (فَرِيضَةً مِّـنَ اللهِ) تفسـیر المراغی ددی جملی په تفسیرکی لیکی: ای إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لمن ذکر من اصناف المحتاجین، وفیما ذکر من المصالح الأمة، فریضة من الله، هم أوجبها علیکم.(۲)

۱- معارف القرآن پښتو ترجـمه ص ۲٤۸ ج٤ - ۲- تفسیر المراغی ص ۱٤٦ ج٤

ترجمة: بیشکه دفرضي صدقومصرف دمحتاجانوهغه صنفونه دي، چه په آیت کی ذکر سوي دي، اودامت په مصالحوکی چه ذکرسوي دي، فرض دي د الله تعالی له طرفه، ددوی لپاره پر تاسو دغه صدقی واجب کړی دي.

دهمدغه ځایــه ځنځه امام شافعي رح، اونورځه علماء دلیل وائی: چه پرزکات ورکونکی باندی دا فرض ده، چه ودغه ټولو اصنافوته، ځـــه ځـه ورکړی، دامام ابوحنیفة رح، امام مالك رح، اوځه نورعلماء وایی که یوسړی خپل ټول زکات ددغه اتو صنفونو ځنځه ویوه ته ورکړی هم جائز دي. (۱)

الله عزوجل دآیت په آخر کی فرمائی: (وَاللّٰهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ) یعنـــی الله عزوجل ښه خبردی، دخلقوپه احوالو، اوددوی دحاجت په مقـــدار، اوښـه حکمت والادی په هغه ځه چه ددوی لپاره ئی مشروع کړی دي، یعنی دغه فریضه اودغه ویش د داسی چالخوا سوي دي، چه هغه د دغو خلقو خـــالق، اود دوی په ضرورتونو ښه خبردی، اودا ټوله ئی دخپل حکمت په تقاضـــا کړیدی، نو ځکه په دغه کی وبندګانو ته د رد اوبدل کولو هیڅ اختیارنشته.

غني ته دزكوة وركولو حكم

که په پورته اته صنفونوکی وکتل سی، معلومیږی چه پـــه ټولوکـــی فقـــر اومسکنت مراعت سوي دي، معلومه سوه چـــه اصـــل دمصـــرف ځـــای فقیراومسکین دي. غني ته ورکول یاخوړل جائز نـــه دي. ځکه رسول الله

۱- تفسیر فتح القـــدیر ص۳۷۲ ج ۲

صلی الله علیه وسلم فرمایی: عن عطاء ابن یسار رضی الله عنه، أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لا تحل الصدقة لغنی إلا لخمسة، لغازفی سبیل الله، اولعامل علیها، اولغارم، اولرجل اشتراها بماله، اولرجل له جارمسکین فتصدق علی المسکین، فأهدی المسکین للغنی. (۱)

ترجمة: دعطاء ابن یسار څخه روایت دی: چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: فرضی صدقة غنی (مال لرونکی) ته جائز یاحلاله نه ده، بغیر دپنځو کسانواول: ده الله تعالی په لاره کی مجاهد وی، که څه هم دی په کورکی مال لری، دوهم: دصدقوراټو لونکی، دریم: هغه څوك چه ترخپل مال زیات پوره وړی وی، څلورم: هغه څوك چه دمسکین څخه دصدقی مال پهپیسورانسی، پنځم: هغه څوك چه مسکین همسایه ئی وده ته دتحفی په ډول ورکړی.

دأحنافو دمذهب مطابق، په آیت کی دذکرسوی اتوقسمو نه علاوه بل چاته فرضی صدقة ورکول جائز نه دی، په دی هکله داحنافو دفقه معتمدکتاب فتح القدیرکی داسی لیکی: باب من یجوزدفع الصدقة إلیه ومن لایجوز، الأصل فیه قوله تعالی: إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ الآیة. قال فی الکشاف: قصرلجنس الصدقات علی الأصناف المعدودة، وأنها مختصة بها لا تتجاوزها إلی غیرها، کأنه قیل إنماهی لهم لا لغیرهم. فمن کان من هؤلاء الأصناف کان

۲- الموطأ للامام مالك رح ص ۲٦۸ ج۱

مصرفا، ومن لافلا، إنما تفيد الحصر فيثبت النفي عن غيرهم. (١)

ترجمة: باب په بیان کی دهغه ځاچه فرضی صدقات ورته جائزدی، اودهغه چه ورته جائزنه دی، په دی هکله دلیل په قرآن کریم کی د الله تعالی داقول دی: (إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلفُقَرَاءِ) دآیت تر پایه، نوموړی آیت د (إِنَّمَا)په کلمه سره شروع سوي دی، اودا په عربی ژبه کی د حصرلپاره استعمالیږی، معنی ئی داده چه دصدقاتوچه کوم مصرفونه بیانیږی، ټولی واجبی صدقی اوخاص په دوی صرفول ضروری دی، ددی نه علاوه په بل نیك کارکی مصرفول جائزنه دی. په کشاف نومی کتاب کی لیکل سویدی: چه داقصر دجنس فرضی صدقاودی، پردغومعدودو، اومعلومو صنفونو، اوپه دوی پوری خاص دی، تردوی وبل ځاته تجاوزنه کوی،ګویاکه داسی ویل سوی دی، چه دا خاص ددوی لپاره دی، نه دبل ځالپاره.

دآیت دویم لفظ صدقات دی، دصدقة جمع ده، په لغت کی هغه مال ته ویل کیږی چه د الله جل جلا له په لاره کی خرڅیږی.

امام راغب په مفردات القرآن کی فرمائی: چه د الله په لاره کی خرڅ کیدونکی مال ته صدقه ځکه وائی، چه ددی ورکونکی ګویا دا دعوه کوی، چه زه پخپل قول اوفعل کی صادق یم، ددی په خرڅ کولوکی زما هیڅ ددنیا غرض نسته، صرف د الله جل جلا له درضا لپاره ئی خرڅ کوم.

١- فتح القدير ص ٢٠٠ ج٢

دصدقة لفظ دخپلې اصلي معنی له نظره عام دی، نفلـــي او فرضـــي دواړو ته ویل کېږي، په پورتنی آیت کی د إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ څخه دإمام قرطبی دتحقیق پر بنیاد فرضي صدقې مراد دی.

دریم لفظ (لِلفقراء) دی، دلته یو مهمه باریکی داده چه دللفقراء پرلفظ باندی (لام) داخل سویدی، چه په عربی ژبه کی دتخصیص لپاره استعمالېږي، یوخودآیت په شروع کی إِنَّمَا راغلی چه دحصر لپاره دی، اوبیـــا دلتـــه لام راوړل سو، چه دتخصیص لپاره دی، نوځکه دجملې معنی دا سوه چه تـــولی فرضي صدقی صرف د هغوخلقوحق دی، کوم چه په آیت کی ذکرسویدی.

نوځـــه صدقی الله جل جلا له فرض کړی دی، او د مصرف ځایونـــه هم الله تعالی پخپله په دومره تأکید، حصر او تخصیص سره ښودلی دی، نوددی نه علاوه په بل ځای یا بل چا باندی صرفول جائزنه دی، ځکه د الله جـــل جلا له د قول په مقابل کی د بل چا قول، دومره اهمیت نه لری، چـــه د هغه پربنیاد پـــه بل ځای کی مصرفول جائز سي.

داسلامی قانون له نظره فرضي صدقـــه یـــوازی مســـلمانو فقیرانو اومسکینانوته ورکول کېږي، البته نفلي صدقی وغیر مسلمینوته هم ورکـــول کیدایسی، ځکه دنبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دی: تصدقوا علـــی أهل الأديـــان كلها. یعنی پرهرمذهب والاباندی خیرات کوی. (۱)

۱- معارف القرآن پښتو ترجمه ص ۲۳۱ ج ٤

بل حدیث دی: عن أسماء رضی الله تعالی عنها قلت یارســول الله! إن أمی قدمت علی، وهی راغمة مشرکة أ فأصلها؟ قال نعم، فصلی أمك. (۱)

ترجمه: دحضرت أسماء رضی الله تعالی عنها څخه روایــت دی، چــه مانبی کریم صلی الله علیه وسلم ته وویل: ای رسول الله! محما مورماته راغلی ده، اودا مشرکة ده، آیا زه د دی سره صله رحمی وکړم؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائل هو، خپل دمورسره صلــه رحمی وکړه.

د پورتنیو حــدیثونو څخه معلومه سوه، چه نفلی خــیرات کافر تــه هم ورکــول جائزدی.

دا چه نن په اسلامی ټولنه کی مسکنت اوفقر زیات سوي دی، اویــا داچه ګداګران، اوسوال کونکی زیات سوي دی، ددی یوازنی وجــه داده، چه ددوی اسلامی اوانسانی حقوق دوی ته نه رســیږی، په یوه اوبل نامه ئی غیرمستحق خلق اخلی، اود الله تعالی دراښوول سوی مصرف نه بغــیر، پــه نورو ځایونو اومراعتونو کی بیځایــه مصرفــیږی.

اوبل داچه دملل متحد دسیکولر (لادینه) نظام دتسلط له املــه پــه اسلامی ټولنه کی، ټول نظام مالیات اوخاص بیا دزکوة اوعشرنظام خلــت سوي دی، اویا دا نظام د اسلامی حکومت دکنټرول څخه وتلی دی، اویــا اسلامی حکومت خپله وظیفه پری ایښی ده، هغه داچــه د غنیانــو څخه

۱- رواه أبــوداوود ص ۵۵ ج ۳

زکوة اوعشر واخلی، او پرمسکینانو ئی تقسیم کړی، که اوس هم دهرکلی اوعلی زکوة اوعشر راټول سی، اودهغه کلی یا محلی پرمسکننانوتقسیم سی، داسلامی ټولنی څخه دگداگرانو او سوال کونکو شمیر په ډیره اندازه کمیږی.

۲ - مورد خراج دی، دجهاد په نتیجه کی چه دکفارو ځمکی دمسلمانانو په قبضه کی راسی، اودمسلمانانو أمیردکفارو سره صلح وکړی، اودوی داسلامی حکومت په ذمه کی داخل سی، اود هغوی ځمکی د هغوی په لاس کی دمعلوم مقدار محصول په مقابل کی پریږدی، ودی‌ته خراج وایی.

دخراجی ځمکی تعریف دفقه کتابونه داسی لیکی: وهی الأرض التی فتحت عنوة وقهرا، فَمَنَّ الإمامُ علی أهلها، وترکها فی أیدی أربابها، بعدأن وضع علی أشخاصها الجزیة، إذ الم یسلموا، وعلی أراضیهم الخراج أسلموا أولم یسلموا، هذارأی الحنفیة.

وقال الجمهور: الأرض الخراجیة ثلاثة انواع: ۱- مافتحت عنوة ولم تقسم بین الغانمین ۲- ماجلاعنها أهلها خوفا منا ۳- ماصولح أهلها علیها علی أنها لنا، ونقرها معهم بالخراج الذی یفرضه الإمام علیهم. (۱)

ترجمة: خراجی ځمکه هغه ده چه دکفاروڅخه په زور فتحه سی، دمسلمانانو أمیر یه پرخاوندانو احسان وکړی، اود خپلوخاوندانو په لاس کی

۱- الفقه الإسلامی وأدلته ص ۸۲۱ ج ۲

په پرېږدي، اوهغه خاوندان که اسلام راوړي دهغوی پرځمکو خراج ســـته، پردوی جزیه نشته، اوهغه کسان چه ایمان نه راوړي، دهغوی پرافرادو جزیه، اوپرمـــځکویـه خراج ســته. دارأیـه دأحنافوده.

اودنورو إمامانو په نزد: خراجی ځمکه پردری قسمه ده: ۱- هغه ځمکه ده چه په زور فتحه سی اوغانمینو مجاهدینو په منځ کی تقسیم نه سی ۲- هغه ځمکه ده چه مالکان په زوروړمسلمانانوله ویری وتښتی ۳- هغه ځمکه ده چه مالکان یه دمسلمانانودأمیر سره صلح وکړي، وایی ځمکه موږته راکړي موږبه تاسوته خراج درکوو، څومره چه إمام پرفرض کړي.

بل ځای وایی: والماء الخراجی الأنهار التی شقها الأعاجم، أصل تلـك الأنهاربمال الخراج، فصارمائها خراجیا، وصارت الأرض خراجیة تبعا. (۱)

ترجمة: خراجی اوبه هغه دی: هغه ولي چه اعاجمو (غیر لـــه عربـو) کنبلي وی، ځکه دغه ولی دخراج په مال کنبل سوی دی، نـــوددی اوبــه خراجی سوی، اوځمکه په هم داوبوتابع سوه، خراجی سوه. یعنی هغه ولی چه غیرله عربو، عجمو درود څخه کنبلی وی، اوځمکی په اوبه کوی، دهغـــی ځمکی په حاصلاتوکی هم خراج ســته، عشرنســته.

دخـــراج نـــصاب اومقـــدار

خـــراج پـــردوه ډولـــه دی. ۱- خراج المقاســـمة: فهـــو الضریـــبة

۱- فتح القدیر ص ۱۹۹ج ۲

المقطوعة من الناتج الزراعى، كان يؤخذ نصف الخارج أوثلثه، أوربعه، وقدفعل النبى صلى الله عليه وسلم لما فتح الخيبر، ويكون ذالك فى الخارج كالعشر إلاأنه يوضع موضع الخراج لأنه خراج حقيقة. (١)

ترجمة: خراج مقاسمه هغه محصول دى چه دزرعى ځمکى پر حاصلو اخستل کیږى، اودا به کله (نصف، یاثلث، یاربع) نمایى، دریمه، یاڅلورمه اخستل کیدى، دا قسم خراج چه کله خیبر فتحه سو، رسول الله صلى الله علیه وسلم د خیبر دخلقو سره وکړل، دا قسم خراج په کال کى هر ثمر محله چه ځمکه حاصل کوى، ځنى اخستل کیږى، که ئى ځمکه نه وه کرلى نه ځنى اخستل کیږى، لکه عشر، مګر داده خراج په ځاى کى ایښودل کیږى، ځکه داحقیقة خراج دى.

٢- خراج وظیفه: فهو الضریبة المفروضة على الأرض، سواء استغلها صاحبها أم ترکها وقد وظفه عمر رضى الله عنه وکان فى کل جریب أرض بیضاء تصلح للزراعة قفیز مما یزرع فیها ودرهم ومبنى هذا الخراج على الطاقة. الفقه الإسلامى وأدلته ص ٨٢٣ ج ٢

ترجمة: خراج وظیفه هغه محصول دى، چه د امیر لطرفه پرځمکه مقررسوى وى، که ځمکه دزراعت قابله وى، پریوه جریب یوه کاسه اویو درهم دى، که خاوند کرلى وى که نه وى.

١ - الفقه الإسلامى وأدلته ص ٨٢٣ ج ٢

دا موضوع دکنز مصنف داسی تفصیل کړی ده، وخـــراج حریـــب صلـــح للزراعة صاع ودرهم وفی جریب الرطبة خمسة دراهم وفی جریـــب الکـــرم والنخل المتصل عشرة دراهم .کنـــز الـــدقائـــق ص ۲۰۹

یعنی خراج پر یوه جریب ځمکه چه دزراعت قابله وی، یوه کاسه اویو درهم دی، اوکه ئی سبزی جات په کرلی وه ، پر یوه جریب پنځه درهمـــه دی، او که ئی باغ یا درختی سره متصلی پر ایښی وی، پریوه جریب لـــس درهمه دی. دا قسم خراج په کال کی یوځل احستل کیږی، که ځمکه کرلی وی که نـــه وی کـــرلی.

دا قسم خراج چه کله دعراق منطقه فتح سوله، حضرت عمرفـــاروق رضی الله تعالی عنه دصحابه کرام رضوان الله تعالی علیهـــم، پـــه مشـــوره اوموافقه، دهغوی ځمکی د هغوی په لاسوکی پریښـــودلی، اوخـــراج ئـــی پرمقرر کړی، په دی هکله دی لاندینی تفصیل مطالعه کړسی.

حضرت عمرفاروق اوخراج

داسلام له نظره کله چه مسلمانان دجهاد په نتیجـــه کـــی دکفـــارو پریومنطقه غالب سی، اوهغه منطقه داسلامی حکومت ترکنـــترول لانـــدی راسی، دهغه منطقی منقول اوغیر منقول مالونه دمسلمانو غنیمت بلل کیږی، دمجاهدینو په منځ کی به تقسیم کیږی، ځمکی به یه هم پرمسلمانانو ویشـــل کیږی، او کافر اوسیدونکو ته دری لاری سته، یابه اسلام راوړی، یابه وژل

کیږی، یابه دخپل سرپه بدل واسلامی حکومت ته جزیه ورکوی، او اسلامی حکومت به دوي ته امان ورکوی، ددوی دسر او مال حفاظت به کوی.

کله چه دحضرت عمرفاروق رضی الله تعای عنه دخلافت په دوره کی سواد (عراق بغداد) اوشام دمسلمانانو په لاس فتحه سوله، حضرت عمربن الخطاب رضی الله تعالی عنه دمځکو دتقسیم په باره کی دخلقو سره مشوره وکړه، چه نور به داځکی پرغانمینو نه تقسیمه وو، بلکه خپله دمځکو پر خاوندانو به ئی د خراج په بدل کی پرېږدو، څه مجاهدینو غو ښتله چه داځکی دشریعت له نظره زموږ حق دی، باید پرموږ تقسیم سی، حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه ورته وویل: که موږ ټولی ځمکی فتحه کوو او هغه پرخپلو ځانو تقسیم کوو، نوداټولی ځمکی به زموږسی اودرا تلونکی نسلونو مسلمانانو لپاره به هیڅ ځمکه پاته نه سی، ترڅو ئی دا موضوع دحضرت عبد الرحمن بن عوف سره ذکر کړله، هغه حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه ته وویل: ستاڅه رایه ده ایا دغه ځمکه الله تعالی دوی ته په غنیمت نه ده ورکړی؟ حضرت عمر فاروق وویل: خبره داغسی ده لکه ته چه وایی، خودازما رأیه ده، که دشام اوعراق ځمکی پرمسلمانانو تقسیم سی، نو دغه منطقو دیتیمانو اوکونډیانو لپاره به څشی پاته سی ؟ اوبل داچه ددغه منطقو سرحدونه به څوك ساتی، خوبیا هم دمځکو غوښتونکی ډیروه، او ویل به ئی: هغه څه چه الله تعالی موږ ته زموږ دتورو په برکت راته غنیمت کړي

دى، هغه ته وهغه چاته ورکوى چه مور دهغوى سره جهاد کاوى، اويايـــه دهغوى اولادونوته ورکوى، خو حضرت عمرفاروق رضى الله تعالى عنه بـــه تردئه نه تيريدى، ويله دا ځمارأيه ده، بالآخره خلقو ورته وويل ته مشـــوره وکړه، نوحضرت عمرفاروق رضى الله تعالى عنه داولنى مهاجرينو سره لکـــه عبدالرحمن بن عوف، حضرت عثمان، حضرت على، حضرت طلحة، او ابن عمر (رضى الله تعالى عنهم) سره مشوره وکړه، پـــه دوى کى يـــوه عبد الرحمن بن عوف وويل: چه دا د دوى حق دى، ورتقسيم يه کړه، دانـــورو ځلورو دحضرت عمرفاروق رضى الله تعالى عنه رأيه تائيد کړه، بيايه لـــس کسان صحابه دانصارو پنځه داوس اوپنځه دخزرجيانو غټانو اومشـــرانوڅخه راوغوښتله، اوهغوى ته داسى وويل: إنى لم أزعجكم إلا لأن تشتركوا معـــى فيماحلت من أموركم، فإنى واحد كأحدكم، وأنتم اليوم تقرون بالحق خالفنى من خالفنى، ووافقنى من وافقنى، ولست أريد أن تتبعوا هذا الذى هوايـــى، معكم من الله كتاب ينطق بالحق فوالله إن كنت نطقت بأمر أريده ماأريدبـــه إلاالـــحق. الخلفاء الراشدون ص ٤٧٧

ترجمة: زه تاسوته تکليف نه درکوم مګرنه ددى لپاره چه تاسو ځماسره شريکان سى په هغه کارونوکى چه ماستاسو لخوا پر ذمه اخستى دى، زه هم ستاسو په شان يو سړى يم، نن به تاسو حق خبره کوى، چا ځمـــا مخـــالفت کړي دى اوچاځماموافقت کړى دى، خوزه دانه غواړم چه ځمادرأيى متابعت

وکړی، ستاسو سره د الله کتاب دی هغه حق وایی، څمادی قسم په الله وی، چه زه څه وایم او یا څه غواړم په هغه کی بیله حقه بله اراده نه لرم.

قالوا نسمع يا أمير المؤمنين! قال قدسمعتم كلام هؤلاء القـــوم الذيـــن زعموا أنى أظلمهم حقوقهم، وإنى أعوذ بالله أن أركب ظلما لئـــن كنـــت ظلمتهم شيئا هولهم وأعطيته غيرهم لقد شقيت، ولكن رأيت أنه لم يبق شيئ يفتح بعد أرض كسرى، وقدغنما الله أموالهم وأرضهم وعلوجهم، فقســـمت ماغنموا من أموال بين أهله، وأخرجت الخمس فوجهته على وجهه، وأنا فـــى توجيهه وقدرأيت أن أحبس الأرضين بعلوجها، وأضع عليهم الخراج فتكـــون فيئا للمسلمين المقاتلة، والذرية، ولمن يأتى من بعدهم، أ رأيتم هذه الثغور لابد لها من الرجال يلزمونها، أرأيتم هذه المدن العظام كالشام، والجزيرة، والكوفة ، والبصرة، والمصر لابد لـــها من أن تشحن بالجيوش، وأدرار العطاء عليهـــم، فمن أين يعطى هؤلاء إذا قسمت الأرضون والعلوج ؟ فقالوا جميعا الرأى رأيك فنعماقلت. الخلفاء الراشدون ص ٤٧٧

ترجمة: دوی وویل ای أمیر المومنین موږ اورو، ده ورته وویـــل تاســـو دهغو خلقو خبری واوریدلی، چه گمان کوی چه زه ددوی په حقوقو کـــی ظلم کوم، اوزه په الله سره پناه غواړم دظلم څخه، اوزه ډیر بدبخته یم چه زه به ددوی حق وبل چا ته ورکوم، اوبر دوی به دیوشی ظلم کـــوم، زه دا فکر کوم چه دکسری ترفتحی وروسته به شی پاته نه سی، بلکه الله تعالی به

تې زموږ په لاس فتحه کړی ، او الله تعالى به ددوی مالونه، ځمکی، او کافران موږته په غنيمت راکړی، نو که دا موږ په خپلو منځوکـــی تقسـيم کـړو، اوخمس مو واخست اوپرخپله ځه ولاړو، زه دا غواړم چه دغنيمت نورمالونه پردوی تقسیم کړم، اوځمکی دداغه ځای پر کافرانو تقسیم کړم، او پـــر دوی خراج مقرر کړم، دابه ددوی، ددوی داولادونو، اودراتلونکی نسل لپاره فیئ وی، اوبل دا چه تاسو پوهیږی چه دا سرحدونه اودا مورچلـــی اوخـــزی، انسانان غواړی چه حفاظت به وکړی، اوبل دا چه تاسو ونی دالوی ښارونه لکه شام، جزیره ، کوفة، بصرة، اومصر ددی ساتنه فوج غواړی، داچه تاسو ددوی ځمکی او کافران تقسیم کړی، بیادا خلق دکمه کوی ؟ نودوی ټولـــو وویل چه ستا رأیـــه ښـــه رأیـــه ده، اوډیرښـــه دي وویل.

قال ابو یوسف القاضی: والذی رأی عمر من الامتناع من قسمة الارضین بین من افتتحها توفیقا من الله کان له فیماصنع، وفیه کانت الخـــیرة لجمیـــع المسلمین وفیما رآه من جمع خراج ذالك وقسمته بین المسلمین عموم النفـــع لجماعتهم، لأن هذا لو لم یکن موقوفا علی الناس فی الأعطیـــات والأرزاق لم تشحن الثغور، و لم تقو الجیوش علی السیر فی الجهاد، ولما امن رجوع أهـــل الکفر إلـــی مـــدنهم. الخلفاء الراشدون ص ٤٧٨

ترجمة: قاضی ابویوسف وایی: داچه حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ځمکی پرهغو کسانو تقسیم نه کړی چاچه فتحه کړی وی، دا ده الله تعالی له

طرفه یوتوفیق وو، الله تعالی به وده ته پر دی کار أجر ورکړی، اوپه دی کی دټولو مسلمانانو لپاره خیر دی، اودا چه د خراج راټولول اوبیا پرمسلمانانو تقسیم کول، دټولو لپاره عامه نفعه ده، ځکه که دا پرخلقونه واي موقوف اوياخلقوته ددی لاری څخه درزق زمینه نه وای برابره سوی، نو نه به دابندونه ساتل سوی وای، اونه به جیش پرجهاد تقویه سوی واي، اونه به د کافرانو خپل ښاروته راتلل په امن سوی وای.

دپورتنی تاریخی حوالی څخه معلومه سوه، چه دځمکو نه تقسیم کیدل اودخراج مقرر کیدل دصحابه کرامو رضوان الله تعالی علیهم په اجماع سوي دی، اجماع داسلامی شریعت یو قطعی دلیل دی. اوبل دا چه حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه دبغداد اوشام ترفتح وروسته دهیڅا ځمکه پرغانمینونه ده تقسیم کړی، نو ځکه ویلایسو چه ترده وروسته نورو امیرانو هم نه ده تقسیم کړی، ځکه په حدیث کی راغلی (علیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین) یعنی محمادسنتو اتباع اودخلفاء راشدینو دسنتو اتباع پرتاسو لازم واجب ده.

خراج اومالیه

دپورتنی تفصیل څخه معلومه سوه، چه په اسلامی ملك کی مالك داره ځمکه په دوه ډوله ده، عشری یاخراجی ده، د عشری ځمکی څخه عشر، اود خراجی ځمکی څخه خراج اخستل کیږی، د مالیی په نامه بل حق په اسلامی

نظام مالیات کی وجود نه لري، البته د اسلام تر راتلونه مخکی په ساسـانی دورحکومت کی دخلقو څخه مالـیه اخستل کیدلـه.

په دی هکله تاریخ لیکی: قرار تشکیلات ملکی تاآخر عصر ساسانیان وسقوط ایشان درنصف اول قرن نخستین هجری درخراسان وجود داشـت، وزیرمالیه ورئیس مسؤل امورمالیات، وکاشت کاری، وصنـائع را استریو شان سالار گفتندی، ودرتحت امر او به هر ولایت یکنفر مستوفی محاسـب مقرر میشد، که اورا شهریور آمارکار خواندندی، وفراهـم آوری مالیـات زمین وجزیه شخصی یاسرانه وظیفه ایشان بود، اززمین کشـتی وسرسـبز مطابق پیداوار آن یك ششم تا یك ثلث گرفتند، که بقول دینوری این مقدار ازیك دهم تایك نصف هم رسید.

هیون تسنگ درولایات جنوب غربی افغانستان که ازقندهار کنونـی بنام یو_لا_سی آغاز می یافت یك نوع کزیت (جزیه) رامتذکر است، کـه هرفرد خانواده چهار سکه سیمین رابه حکومت پرداختی، وازین برمی آیـد که شاهان زابل ورتبیلان ازرعایای خود مالیه سـرانه (جزیـه) را بـاندازه چهاردرهم (تخمینا ۲۰ افغانی آن وقت) میگرفتند، این وضع مالیـه دهـی درتحت رژیم ساسانی وشاهان محلي درغرب افغانستان بود. (۱)

ترجمة: ملکی تشکیلات د ساسانیانو تر آخر پوری اود دوی ترسقوط

۱- تـاریخ افغانستان بعد از اسـلام ص ٤۳۱ ج۱

پوری، دهجرت په اول نیمایی قرن کی، چه په خراسان کی وجود درلودی، وزیرمالیه اودمالی امورو، کاشت کری، اوصنائعو مسؤل رئیس یه درلـــودی چه هغه ته ئی استریو شاٮ سالار وایه، د ده تر امر لاندی به په هرولایت کی یونفر مستوفی محاسب مقررکیدی، چه هغه ته بـــه شهر یو آمار کار ویـــل کیدله، دهغه وظیفه به داوه، چه دځکو مالیه او شخصی جزیه یا سرانه به ئی راټوله وله دکبنتی اوشنی ځمکی څخه به ئی دحاصلاتو شپږمه تر دریمی پوری اخستل، دینوری وایی: دا اندازه به کله ترلسمی اوتریونیم پوری رســیدله.

هیون تسنګ (یوچینایی سیاح) وایی چه د افغانستان په جنوب غربـــی ولایاتو کی چه داوسنی قندهارڅخه دیو_لا_سی یوقسم کزبت یعنی جزیـــه اخستل کیدله، چه دکورنی هرفرد به دسیمین څلور سیکی حکومـــت تـــه ورکولی، اوددی څخه معلومیږی چه دزابل اورتبیلاٮ شاهانو دخپل رعایـــاو څخه دسر مالیه یعنی جزیه دڅلور درهمه په اندازه (دهغه وخت ۲۰ افغانی) اخستلی، اودغه قسم مالیه دافغانستان پـــه غرب کـــی دساســـانی اومحلـــی شاهـــانو پـــه رژیم کی وه.

تاریخ داهم لیکی چه جزیه اوخراج دپهلوی ژبی څخه مستعرب سوی دی: کلمه خراك پهلوی رابه خراج معرب تبدیل کردنـــــد، وایـــن کلمـــه درپهلوی هم از آرامی آمده بود، که درسفر تلمود تورات خرکا به فتحتـــین بمعنی مالیه سرانه یا شخصی موجود است. درنصف قرن هشتم میلادی کلمه

کزبت آرامی وپهلوی رابه جزیه معرب ساختند، وآنرا برمالیه سرانه شخصی اطلاق کردند، وخرکا را خراج گردانیدند، که مقصد ازان مالیه زمینی باشد. تاریخ بعد ازاسلام ص۴۳۳ ج۱

ترجمه: دپهلوی ژبی خراك کلمه یه په عربی بدله کړه، اوداکلمه پهلوی ژبی ته هم دآرامی (عبرانی) ژبی څخه راغلی ده، چه دتوراة په سفر تلمود (تلمود دتورات شرحه چه یهودانوته ترتورات ډیر اهمیت لری، اوسفر په معنیٰ دباب یافصل دی) کی خَرَکا په دووفتحو سره، په معنی د مالیه سرانه یاشخصی موجود دی، داتم میلادی قرن په اول نیمایی کی دآرامی اوپهلوی ژبی کزبت کلمه یه په جزیه عربی ته واړوله، اوددی اطلاق یه دسر یاشخصی مالیی باندی وکړی، اود خرکا کلمه یه په خراج بدله کړله اوددی څخه مقصد دځمکی مالیه ده.

دپورتنی تاریخی حوالی څخه معلومیږی، چه جزیه اوخراج داسلام تر راتلونه مخکی په ټولنی کی رواج درلودی څخه بل ځای کی تاریخ وضاحت کوی اولیکی: باری رسم خراج ومالیه ستانی درافغانستان ازعصر قبل الاسلام هم رواج داشت، اما از اینکه طبری گوید: که بهرام پنجم پادشاه ساسانی ۴۳۹/۴۲۰ هنگام جلوس خویش هفتاد ملیون درهم بقایای مالیات ذمکی رعایا را بخشیده بود. تاریخ افغانستان بعد ازاسلام ص۴۳۳ ج۱

ترجمه: دخراج اودمالیی دبار رواج په افغانستان کی داسلام نه مخکی

زمانه کی هم رواج وو، محکه طبری وایی: (لوی مؤرخ دی) چه دساسانیانو پنځم پادشاه بهرام چه کله دپادشاهی پرتخت کښینوست، درعایاو پرزمه پاته مالیه اویا ملیونـــه درهمه یـــه وروبخښله.

اودا کیدایسی ځکه هرحکومت دخپل ځان لپاره یونظام اوقانون لری، خوکله چه اسلام ودغو منطقوته راغلی، هغوی خپل نظام مالیات متعــارف کړی، هغه داچه جزیه به دکافر څخه دسر د امان په ډول اخستل کیږی، چه اسلام راوړی بیاجزیه نه اخستل کیږی، هم دارنګه خراج دځمکی مالیه به هم دهغو خلقو څخه اخستل کیږی، چه په زور ونیول سی، اوځمکی یه وخلقوته په اجاره ورکول سی، اوهغه خلق چه په خپله خوښه اسلام راوړی، اویایـــه ځمکی پرمجاهدینو تقسیم سی، پرهغوی عشر سته خراج یامالیه نسته، داسی نه وو چه مالیه یعنی خراج هم وی اوعشر هم وی، داچه جزیه اوخراج په دوی که متعارف وو، نواسلام اومسلمانانو پردوی نوی شی نه کی مقرر، دخلقو سره نرمی کوله، نو دا سبب سو چه دوی پرمخ ولاړل، اوکامیاب سوله.

په دی هکله تاریخ لیکی: پیشرفت عربها درافغانستان بیشـــتر نتیجـــه روش مدبرانه آنها بود، چه ایشان دربدل جزیه آزادی دینرا تضمین میکردند، واین چیزی بود که قشر روحانی را ازمبارزه داعی باز میداشت، همچنـــین عرب دربدل خراج ملوك الطوائف را درمناطق شان برسر اقتدار میگذاشت، واین تدبیر برای حصول توافق با أمرای محلی موثر می افتاد، مردم نیز فرصت

می یافتند که رفتار عرب را باشعارهای اسلام عملا ازمایش کنند، این خود سبب شد که سپاه عرب درسال ٦٤٣م توانست ازطبسین به مروبگذرد.(۱)

ترجمة: په افغانستان کی دعربانو ډیر مخ تللو وجه دهغوی مدبرانه روش وو، چه هغوی دجزیی په بدل کی ددین دازادی تضمین کاوه، همدا وجه وه چه روحانی ډلی ددفاعی مبارزی څخه ځان ساتی، (جنګ یې نه کاوه) همدارنګه دخراج په بدل کی به ئی دمنطقی امیران پرخپل اقتدار پریښودله، همداتدبیر دمحلی امیرانو دموافقی دلاسته راوړلو لپاره ډیر موثر تمام سو، خلکو به هم فرصت پیدا کاوه چه دعربانو چلن او کړه وړه او اسلامی شعارونه عملی امتحان کړی، همدا سبب سو چه عربان په کال ٦٤٣م کی وتواندله چه طبسین له لاری مرو ته تیرسی.

مالیه اوعشر

په ځینو اسلامی ملکونو کی پرځمکو باندی، دعشر سره د مالیی داخستلو نظام سته، یعنی دیومسلمان دځمکی څخه عشر اومالیه دواړه اخستل کیږی، او دکافرله ځمکی څخه مالیه اخستل کیږی، نورنه دخراج اونه دعشر په نوم څه شی سته، دځمکنی تحقیق اوتاریخی حوالو څخه ثابته سوه، چه د اسلام تر راتلونه ځمکی حکومتونو چه کومه مالیه دخلقو د ځمکو څخه اخستله، هغه اسلامی امیرانو دخراج په نوم بدله کړه، یعنی هغه مالیی ته خراج وایی، ځکه

۱- افغانستان درمسیر تاریخ ص ٦٧ ج۱

14A

په اسلام کی پر ځمکه باندی دکافر وی. که د مسلمان، یابه عشر، اویابه خراج وی، بل مستقل شی د مالیی په نامه وجودنه لری، خراج اوعشر، یامالیه اوعشر دواړه دیوه سړی څخه پریوه ځمکه اخستل جائزنه دی.

په دی هکله شرعی اونقلی دلائل څه په دی ډول دی. اول دلیل: عن العلاء بن الحضرمی قال بعثنی رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى البحرين، او إلى هجر فكنت آتى الحائط يكون بين الإخوة، يسلم أحدهم فآخذ من المسلم العشر، ومن المشرك الخراج. (۱)

ترجمة: حضرت علاء ابن حضرمی وایی: زه رسول الله صلی الله علیه وسلم بحرین، یاوهجر ته ولیږلم، یوباغ ته ورغلم چه دڅو ورونو په مینځ کی شریك وو، په هغوی کی یومسلمان وو، له مسلمان څخه موعشر، اوله مشرك څخه موخراج اخستی.

دوهم دلیل: عبد الله بن مسعود رضی الله تعالی عنه روایت کوی: چه رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: لایجتمع عشر وخراج فی أرض مسلم. یعنی عشر اوخراج دمسلمان پریوه ځمکه نه یو ځای کیږی.

دریم دلیل: لأن الخراج یجب فی أرض فتحت عنوة وقهرا والعشر فی أرض أسلم أهلها طوعا، والوصفان لایجتمعان فی أرض واحدة.

ترجمة: یعنی خراج پرهغه ځمکه واجب دی، چه په زورنیولی سوی وی

۱- رواه ابن ماجة حدیث نمبر ۱۸۲۱

اوعشر پرهغه ځمکه واجب دی، چه خاوندان یه په رضا مسلمانان سوی وی، دادواړه صفتونه (زور، اورضا) یودبل سره ضددی، اجتماع دضدینو نـــاروا اوناجائزدی، نوځکه عشر اوخراج دواړه پریوه ځمکه نه اخستل کیږی.

څلورم دلیل: سبب الحقین واحـــد وهو الأرض النامـــية. یعنی سبب د دواړو حقونو (خراج، اوعشر) یو دی، چه هغه شنه کونکی ځمکه ده، دیوه سببه دوه واره شی اخستل جائزنـــه دی.

پنځم دلیل: أنـــه یعتـــبر فی العشر تحقیقا وفی الـــخراج تقـــدیرا. یعنی پـــه عشرکی تحقیق معتـــبردی، اوپـــه خراج کی انـــدازه.

شپږم دلیل: ولأن أحد من أئمة العدل والجور لم یجمع بینهما وکفـــی باجماعهم حجة. (١) فتـــح القـــدیر ص ٢٨٨ ج ٥

ترجمة: اوداچه هیڅ یوعادل اویاظالم امام، خراج اوعشرنه دی یوځای کړی، یعنی دواړه یه پریوه ځمکه دیوه سړی څخه نه دي اخستی، معلوم‌ســو چه دا إجماع دأمت ده، إجماع دأمت په إسلامی شریعت کی دلیـــل قطعـــی دی، همداکفایت کـــوی ددلیل ویلو لـــپاره.

أوم دلیل: داچه عشر یو إلهی عبادت دی، چه د مسلمان پرځمکه لګول کیږی، اوورته دځمکی زکات ویل کیږی، اودایو خالص عبادت دی، اوخراج یوقسم محصول دی، چه لومړی دهغه کافر پرځمکه لګول کیږی چه پـــه زور نیول سوی وی، اوپـــه دی کی هیڅ معنی دعبادت نسته، همدا وجه ده چه

عشر اوزکات دخراج پــه مصرف کی نه مصرفــیږی، بلکه خراج جدا په دفاع یاپل اولارو جوړولو، اونورو داسی ځایونو کی مصرفــیږی.

په دی هکله زیات تفصیل دفقهی شریفی پــه کتابونوکی سوي دی.

دافغانستان ځمکی خراجی ؟

داچه دخراجی، اوعشری ځمکو تعریفونه اوقسمونه پورته پــه تفصیل سره بیان سوله، اوهم دارنګه مالیه اوخراج څه ناڅه معلوم سوله، نوددی لــپاره چــه عامو مسلمانو تــه معلومه سی، چه د افغانستان ځمکی عشری که خراجــی دی؟ ممنا دا چه په زور نیولی سوی، که په رضا ؟ اوبل دا چه پر غازیـــانو مجاهدینو تقسیم سوی دی اوکه جزیــه یاخراج پرمقررسوي دی ؟ پــه دی هکله تحقیق څه تاریخی حوالو ته ضرورت لری، ځکه داموضــــوع دتــاریخ څخه معلومیږی، اوتاریخی وقائع په داسی مسائلو کی ډیر اهمیت لری، نــو ځکه غواړم په دی هکله څه مستندو اومعتبرو تاریخی کتابونوته حواله وکړم، ترڅو روښانه سی چه حقیقت څه دی؟

اول بایــد دا څو نقاتی پــه نظرکی ونیول سی، چه داسلام دراتلو په وخت کی، دمنطقی دینی، جغرافیائی، اواداری تشکیل څنګه وو؟

دافغانستان دینی اومذهبی حالت.

کله چه اسلام دی منطقی ته راتلی په افغانستان کی په هغه وخت دمختلفــو ادیانو پیروانو وجود درلودی، لکه چه په دی هکله تاریخ لیکی: علاوتا ادیان

ومذاهب متعددی چون زرتشتی، بودائی، شیوائی، وطریقه های دیگری مردم کشور را ازهمدیگر جدامیکرد. افغانستان درمسیرتاریخ ص ٦٦ ج ۱

ترجمة: یعنی د اداری تقسیم نه علاوه په دی منطقه کی مختلف ادیان اومذاهبو وجود درلودی: لکه زرتشتی، بودائی، شیوائی، اوداسی نور چه دهغه له وجه هم د ملك خلق یودبل څخه بیل اوجداوه.

بل محای لیکی: اوائل ظهوراسلام آیین بودا مذهب وطرق متعدد داشته، وتاهژده مذهب دران موجود بود، که اتباع أن برای ثبوت مشرب خود بادیگران درنزاع واختلاف بوده، وهریکی پیروان وپیشوایان جداگانه یی داشتند. تاریخ افغانستان بعد ازاسلام ص ۷ ج ۱

ترجمة: داسلام په اوائلو کی دبودا مذهب، اونوری مختلفی طریقی یه درلودی، اوتر اتلس مذهبونو پوری هلته موجودوه، چه دهرمذهب اتباع به دخپل مذهب داثبات لپاره د نورو مذهبونو سره په جنګ او اختلاف کی وه، اوهریوه خپل پیروان اوپیشوایان درلودله.

د تاریخی حوالو څخه معلومه سوه چه په هغه وخت کی داوسنی افغانستان خلق ددین له نظره مشرکان وه، اود مختلفوشیانو عبادت یه کاوه.

دافغانستان حدود اواداری تشکیل.

داسلام دراتلوپه وخت کی افغانستان پردغه موجوده حدودو، اواداری تشکیل مشتمل نه وو.

په دی هکله تاریخ لیکی: اما ازنظر اجتماع، افغانستان آنروز متشتت وپریشان بود، مملکت فاقد دولت مرکزی، وسرتاسر کشور به حکومات محلی منقسم بود. افغانستان درمسیرتاریخ ص ٦٦ ج ۱

ترجمة: داجتماع له نظره افغانستان په هغه وختونوکی متشتت اوپریشانه وو، مملکت اومرکزی دولت یاحکومت یه نه درلودی، ټول دولت په محلی حکومتونو تقسیم وو.

بل ځای کی لیکی: هنگام ظهور اسلام افغانستان درشرق، وغرب وشمال، وجنوب، دردست شاهان وفرماندهان متعددی وجود داشت، وسازمان اداری آن هم مرکزیتی نداشت. (۱)

ترجمة: داسلام دښکاره کیدو په وخت کی افغانستان په شرق، غرب، شمال، اوجنوب کی دمختلفو بادشاهانو په لاس کی وو، او اداری جوړښت یه هم مرکزیت نه درلودی.

بل ځای کی لیکی: درقرن اول اسلامی بر زابلستان دودمان رتبیلان وبرکابل کابلشاهان وبر بامیان شیران وبرغزنه وگردیز لویکان وبر ولایات شمالی هندکوش تکنیان وبرغور وهرات سوریان حکم میراندند. (۲)

ترجمة: داسلام په اول قرن کی موجوده افغانستان پر یوه حصه زابلستان باندی (دود مان رتبیلان) پرکابل باندی کابلشاهان، پربامیان باندی

۱- تاریخ افغانستان بعد ازاسلام ص۱٤٧ ج ۱ * ۲- مخکنی مرجع ص ۱٥۹ ج۱

شیران، پرغزنی اوگردیز باندی لویکان، دهندوکش پر شمالی ولایاتو باندی تکنیکان، اوپرغور اوهرات باندی سوریان حکومت کاوه.

دپورتنی تاریخی حوالوڅخه معلومه سوه چه موجوده افغانستان په هغه وخت کی پرمختلفو* حکومتونوتقسیم وو، نوڅکه داسلامی فتوحاتو په وقت کی دهری منطقی شرعی حکم دهغه منطقی دفتحی دحالت څخه معلومیږی.

په افغانستان کی دخلفاء راشدینو فتوحات

دا چه افغانستان ته اسلام دخلفاء راشدینو په مختلفو دوروکی، په مختلفو تاریخونوکی، دمختلفو لارو راغلی دی، نوڅکه ضروری ده چه دهریوه بیان جدا وسی، څکه دهری منطقی دځمکو حکم چه عشری که خراجی ده معلوم سی، لمړی فتحه د دوهم خلیفه امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه په دوره خلافت کی، دموجوده ایران خراسان ترفتحی وروسته راغلی ده، ترڅولو مخکی اسلام افغانستان ته دهرات له لیاری راغلی دی.

د هرات فتح

دهرات دفتحی په هکله تاریخ داسی لیکی: اولین سردارلشکر عرب احنف ابن قیس التمیمی که درسنه ۲۲ هـ بتعاقب یزدگرد گماشته شده بود، وی ازراه طبسین به خراسان آمد، وهرات رابجنگ کشود، وصحارعبدی را درآنجا بحکومت گذاشت، وبعد ازان مرورود وبلخ وصفحات شمالی افغانستان را ازنیشاپور تاتخارستان گرفت، وچون احنف

بمرو بازگشت، ربعی بن عامر را برتخارستان حکمران کماشت. (۱)

ترجمة: په سنه ۲۲هـ کی دعربو دلښکر اول مشراحنف بن قیس تمیمی ته وظیفه ورکړل سوله، چه یزدگرد دخراسان بادشاه تعقیب کړی، نودی دطبسین له لیاری خراسان ته راغلی، هرات یه په جنګ ونیوی، اوهغه حکومت ... وصحار عبدی ته پریښودی، اوتر هغه وروسته ئی ومرو رود، بلخ، اود افغانستان شمالی منطقی دنیشاپورڅخه تر تخارستان پوری ونیولی، کله چه احنف برته مرو ته راتلی، ربعی بن عامر یه پر تخارستان حاکم مقرر کړی.

یوبل تاریخ دا موضوع ښه روښانه کوی او وایی: حملات اساسی در(۶۵۱م) بعد ازفتوحات افریقا، وقفقاز شروع شد، قشون عرب نخست ابر شهر (نیشاپور) را از امیر محلی بگرفت، ازان بعد نوبت ولایت هرات، ومرو رسید، عرب درسال (۶۵۲م) با آمیر هرات دربدل تادیه یك ملیون درهم، وقبول خراج سالانه سه صد هزار درهم مصالحه، وراه خودرا به استقامت ولایات شمال افغانستان بازکرد. افغانستان درمسیر تاریخ ص ۶۸ ج۱

ترجمة: اساسی حملی په سنه (۶۵۱) کی دافریقا، اوقفقاز ترفتحه کولو وروسته شروع سوی، عربانو لمړی ابرښار نیشاپور دمحلی امیرڅخه ونیوی، دهغه نه وروسته نوبت هرات اومروته ورسیدی، عربو په کال (۶۵۲) کی دهرات دامیر سره پر یوملیون درهمه سالانه، اودری سوه زره درهمه سالانه

۱- تاریخ افغانستان بعد ازاسلام ص ۱۴۷ ج۱

خراج ورکولو مصالحه وکړه، اوچېله لارئې دافغانستان شمالي ولایاتو نوته خلاصه کړه.

اوبیا لیکي: ازهرات ومرغاب به جوزجان وبلخ کشید، درطی این حوادث اکثر جنگی اتفاقا افتاد، زود گذربود، وبیشتر علاقه های عرض راه باحفظ معتقدات خود، وحکومات محلی بارقابه فرمان روائی خود باعرب ازدرمصالحه داخل شدند، مثلا هنگامکه درسال (٦٥٢) احنف سردار عرب بعد ازمصالحه باهرات به استقامت بلخ حرکت کرد، با قوای بازان امیر محلی مرو رود (مرغاب) مقابل شد، وبعد از زد خرد مختصری اورا بقبول اسلام، ویاتأدیه جزیه، ودادن راه دعوت کرد، بازان برادر خود (ماهك) را با نامه وترجمانی نزد احنف فرستاد، ودرآن نامه چنین نوشت: اگرتومصالحه میخواهی، باید اقطاع مرا بشناسی، وخاندان مرا از ادای باج معاف شماری، درآن صورت شصت هزار درهم به عنوان خراج میدهم.

سردارعرب چنین جواب داد: خواهش توقبول است، برتو وبر خاندانت خراج نیست، اماکمك به مسلمین بهمه شما لازم است، اگر مسلمان می شدی، منزلت ونفقه کافی حاصل میکردی، وبامن وسایر مسلمین برابر میگردید. یکشنبه ۳۲ هجری مهر احنف وپنج نفر ازسرداران عرب. (۱)

ترجمه: دهرات څخه دمرغاب، جوزجان اوبلخ خواته ولاړه، په دی

۱- افغانستان درمسیر تاریخ ص ٦٨ ج۱

دوران کی که اتفاقا یوځای جنګ سوی وی هغه ژرختم سوی دی، څکه په ډیرو علاقو کی خلقو دخپلو معتقداتو دساتلو، اودخپل مینځی رقـابتونو پـه خاطر دعربانو سره دمصالحت لاره خپله کړیوه، دمثال په ډول کله چه پـه کال ۶۵۲ کی دعربو سردار أحنف د هرات سره ترمصالحت نه وروسته دبلخ په خوا حرکت وکړی، دمرو رود (مرغاب) دمحلی امیر "بازان" دقوتونو سره مخامخ سو، ترڅه جنګ وروسته یی بازان تـه داسـلام، یاجزیـه، اودلاری دورکولو دعوت ورکړی، بازان خپل ورور "ماهك" اویوه ترجمان پـه لاس یولیك احنف بن قیس ته واستاوه، او په هغه لیك کی داسی لیکلی وه: که ته صلحه غواړی، باید زما حیثیت وپیژنی، زه ددی منطقی دنامتو مشرانو څخه یم، اوډیر وخت می پر دغه منطقه حکومت کړي دی، اوزما کورنی دجزیی اوخراج څخه معاف کړی، اوپه دي صورت کی به زه تاسوتـــــه ۶۰ زره درهمه دخراج پـه توګه درکوم.

د عربو سرداردا سی جواب ورکړی: ستاغوښـتنه قبولـه ده، پرتـا اوستاپر کورنی خراج نسته، لکن دمسلمانوسره کومك کول پرتاسوټولو لازم دی، که مسلمان سوی وای، لوړمقام اوډیره نفقه به دی حاصله کړی وای، ځما اود نورو مسلمانوسره به یوځای ګرځیدلای. دیکشـنبی ورځ، دمحـرم میاشت، ۳۲ هجری کال، دأحنف مهر، ورسره دعربو نورپنځه مشران.

معلوم سوچه پورتـه ذکر سوی ولایتونه دهرات څخه تر ښاره پوری

تولنه په زور نیول سوی او خراج پرحواله سوی ده.

د سیستان فتح

دسیستان دفتح په هکله تاریخ لیکی: درسنه ۲۳ هـ وسال اخیر خلافت حضرت عمر رضی الله تعالی عنه لشکر فیروز اسلامی، ازراه کرمان به حدود سیستان رسیده بود، ودوتن سرلشکر عرب عاصم بن عمرو التیمی، وعبد الله بن عمیر بالشکری، برسیستان وپای تخت آن زرنج حمله آوردند، ومردم اینجارا درشهر زرنج حصاری ساختند، که درآخر بدادن خراج صلح کردند، ودروقت پهنائی سیستان بیش ازخراسان بود که مرزهای آن بقندهار وترك (شاید ترك بفتحتین سرزمین نزدیك غزنه) می پیوست. تاریخ افغانستان بعد ازاسلام ص ۱٥٤ ج۱

ترجمة: په سنه ۲۳هـ دحضرت عمر فاروق رضی الله عنه دخلافت په آخری کال کی اسلامی کامیاب لښکر، دکرمان له لیاری دسیستان حدودو ته راورسیدی، داسلامی لښکر دوه تنه عرب مشرانو عاصم بن عمرو التیمی، اوعبد الله بن عمیر دچپل لښکر سره، دسیستان پر پای تخت زرنج (اوسنی نمروز) باندی حمله وکړه، اودهغه ځای خلق یه دزرنج په ښارکی محاصره کړه، ترڅو په آخرکی دخراج په ورکولو صلحه وسوه، په دی وقت کی دسیستان ساحه ترخراسان زیاته وه، څکه سرحدونه ئی ترقندهار اوترك پوری رسیدلی وه، (ترك په دوو زورو سره یعنی د ثا اورا په زور سره هغه

مـــحکه ده چـــه غزنی تـــه نژدی ده).

دپورتنی تاریخی حوالی څخه معلومه سوه چه دنیمروز څخه ترغزنـــی پوری ولایتونه په زور نیول سوی اودخراج په ورکولو صلحه ورسره سویده.

د کابل فتح

په دی هکله تاریخ لیکی: قشون خلفای راشده درمدت ۲۰ سال توانست، ولایت نیشاپور (ایالت خراسان کنونی) مرو، هرات، مرو رود (مرغـــاب) جوزجان، وبلخ را درشمال افغانستان، کرمان وسیستان را، درغرب کشور، بلوچستان وقندهار رادرجنوب مملکت، تحت نفوذ خود قرار دهد. یکبـــاری هم درسال ٦٥٥ بارتبیل کابلستان ازراه غزنی جنگ وصلح نمود. (۱)

ترجمة: دخلفاء راشدینو قوتونه دشلوکلونو په موده کی وتوانده چـــه دنیشاپور ولایت چه داوسنی خراسان مرکزوو، مرو، هرات، مرورود، اوسنی مرغاب، جوزجان، اوبلخ دافغانستان په شمال کی، کرمان اوسیستان په غرب کی، بلوچستان اوقندهار په جنوب کی خپل ترتصرف لاندی راوستله.

بوځلی په کال ٦٥٥م دکابلستان درتبیل (پادشاه) دغزنی له لیـــاری جنګ اوبـــیا صلحـــه وکـــړه.

دپورتنیو تاریخی حوالو څخه معلومـــیږی، چه دموجوده افغانستان ډیر ولایتونـــه دخلفاء راشدینو په مختلفو دوروکی فتح سوی، خو زیاته حصه په

۱- افغانستان درمسیـــر تـــاریخ ص ٦٩ ج ۱

دحضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه په دور خلافت کی فتحه سوی ده،
اوپرتولو خراج حوالــه سری، اوصلحه ورسره سوی ده.

د امویـــانو د دوری فتوحات

دا چه دمنطقی خلق دخراج اوجزیی په بدل کی پرخپل دین پاته سوی
ود، اوډیرکم خلق مسلمانان سوی وه، دا طبیعی خبره وه، چه دفرصت پــه
وخت کی به داخلق بغاوت کوی، نوځکه دخلفـــاء راشــدین تــر دوری
وروسته، د امویانو په حکومتونوکی، دموجوده افغانستان خلقو پــه مختلفــو
منطقوکی دمختلفو امیرانو سره، بغاوتونه اوجنگونه سوی دی، خوتاریخونــــه
لیکی، چه هرځلی چه فتحه سوی دی، مصالحه اوخراج پرمقرر سوي دی.

ځکه په دی هکله تاریخ لیکی: فاتحان عربی درخراسان، وزابل وکابل
از مردم اینجا هنگام فتح وغلبه خویش پول نقد رابرای بیت المال اسلامی بنام
حق صلح هم میگرفتند، وچون حکمرانان محلی رامغلوب میکردند ازایشـــان
باج نقدی میگرفتند.تاریخ افغانستان بعد از اسلام ص ۵۲۶ج۱

یعنی دعربو فاتحانو په خراسان، زابل، اوکابل کی، دهغه ځای دخلقو
څخه دفتح اوغلبی په وخت کی، نقدی روپی داسلامی بیت المـــال لپــاره
دصلح په نوم اخستلی، اوکله چه به ئی محلی حکمرانان مغلـــوب کړلــه،
دهغوی څخه بــه ئی نقدی باج یاحجه اخستله.

دمثال په ډول په دی منطقه کی داموی دوری جنگونه اوفتحی تاریخ

داسی لیکی: بلاذری گوید: چون کابل شاه مسلمانان را از کابل بیرون راند، رتبیل برزابلستان، ورخج، تابست دست یافت، وربیع بن زیاد اورا دربست هزیمت داد، وبعد ازانکه در رخج (قندهار کنونی) با اوجنگ کرد، بلاد داور راهم بگرفت، بعد ازربیع درهمین عصر معاویه چون عبد الله بن ابی بکره به امارت سیستان آمد، رتبیل با او ازطرف کشور خویش وبلاد کابل به قبول هزار هزار درهم (یك ملیون) صلح کرد، وبعد ازمرگ یزید بن معاویه (٦٤هـ) چون درسیستان بین قبائل عربی نزاع افتاد، رتبیل خواست آنجا را ضمیمه قلمرو خویش سازد، ودرایام خلافت عبدالله بن زبیر (٦٤/٧٣هـ) سرداران لشکر عرب به زرنج آمدند، وبارتبیل جنگیدند، واورابکشتند، بعد ازین درعهد عبدالملك بن مروان، چون عبدالله بن امیر برسیستان امیرگشت، که بعد از رتبیل اول مقتول حکمرانی میکرد، بالشکر عرب مقابل گشت، ودربست به دادن یك ملیون صلح کرد. (۱)

ترجمة: بلاذری (احمد بن یحي بن جابر معروف به بلاذری) وایی: کله چه کابلشاه مسلمانان دکابل تحخه دباندی وشړل، رتبیل (ددغه منطقی پادشاهان په رتبیل یادیدل) پر زابلستان، او رخج (اوسنی قندهار) تربست پوری غلبه حاصله کړه، خوربیع بن زیاد په بست کی هغه ته ماته ورکړه، وروسته ترهغه په رخج (اوسنی قندهار) کی دهغه سره وجنگی دی، داور

۱- تاریخ افغانستان بعد از اسلام ص ٤۹ ج۱

(اوسنی زمینداور) منطقه یه هم ورڅخه ونیوله، تر ربیع وروسته دحضرت معاویه رضی الله تعالی عنه په زمانه کی چه کله عبد الله بن ابی بکره سیستان ته په امارت راغلی، رتبیل خپل له طرفه اودکابل دښارونو لخوا په زر زر درهمه (یوملیون) صلحه قبوله کړه دیزید بن معاویه تر مرګه وروسته چه کله دعربو تر منځ نزاع ولویدله، رتبیل وغوښتله چه هغه منطقی هم ترخپل قدرت لاندی راولی، دعبد الله بن زبیر رضی الله عنه دخلافت په ورڅو کی (٦٤/٧٣هـ) دعربو دسردارانو لښکر زرنج ته راغلی، اودرتبیل سره وجنګیدله، اوهغه یه مړ کړی، دهغه نه وروسته دعبد الملك بن مروان په زمانه کی، عبد الله بن امیر پر سیستان امیر مقرر سو، داول وژل سوی رتبیل نه وروسته چه کوم رتبیل حاکم وو، دعربانو دلښکر سره مخ سو، اوپه بست کی یه دیوه ملیون درهمه په ورکولو سره صلح وکړه.

معلوم‌سوه چه داموی دوری جنګونه هم آخر پرصلح اوخراج ختم سوي دی.

په عباسی دوره کی افغانستان

ددی لپارد چه دموضوع څخه لری تللی نیم، اوباموضوع اوږده نه سی، نو څکه د عباسیانو د دوری دنورو جنګونو اوتحریکونوڅخه صرف نظر کوم، صرف دخپلی موضوع په ارتباط دا ثابتول غواړم، چه عباسي حکومتونو هم ددی منطقی څخه خراج اخستی اوټول کړی دی.

دمثال په ډول تاریخ په دی هکله داسی لیکی: بقول قدامه بن جعفر

که در دربار عباسی منزلتی رفیع داشت، وازروی اسناد رسمی، کتاب الخراج خودرا درحدود (۳۱٦هـ ۹۲۸م) نوشت ودران مالیات خزانـــه عباســی درحالت صلح شــرح داد.

یعنی قدامه بن جعفر چه په عباسی دربارکی ئی لوړ مقام درلــودی درسمی اسنادو له مخی یه په خپل کتاب الخراج کی چه په ۳۱٦هــــ ۹۲۸م کی لیکل سوي دی، او په هغه کی دصلح دحالت دعباسی خزانی مالیـــات پــه لانــدی ډول تشریح ســوي دی.

ازخراسان: ۳۷،۰۰۰،۰۰۰درهم ده خراسان څخه ۳۷،۰۰۰،۰۰۰درهمه

ازسیستان: ۱،۰۰۰،۰۰۰درهم ده سیستان څخه ۱،۰۰۰،۰۰۰درهمه

ازمکران: ۱،۰۰۰،۰۰۰درهم ده مکران څخه ۱،۰۰۰،۰۰۰درهمه

بقول تاریخ سیستان: عمل سیستان وخراسان چنین مــــی نویســد: ازکورتهای سیستان: بست، رخد، کابل، زابل، نوزاد، زمینداور، اســفزار، وخجستان: یك ملیون درهم، اماتمام خراج سیستان (۵،۳۹۷،۰۰۰) درهــــم است بشرح ذیل: ۵،۳۱۲،۰۰۰ درهم انواع خراج

۸۵،۰۰۰ درهم بابت خالصه جــزیــه.

یعنی دسیستان په تاریخ کی، دسیستان اوخراسان دعوائدو په هکلــه داسی لیکی: دسیستان دمناطقو څخه چه هغه وخت بست، رخد، (قندهار) کابل، زابل، نوزاد، زمینداور، اسفزار، اوخجستان وو، یو ملیون درهمه ود.

اما دسیستان قول خراج ۵،۳۹۷،۰۰۰ درهمه دی.

چه په دغه کی ۵،۳۱۲،۰۰۰ درهمه د خراج د انواعـــو څخه دی،

او ۸۵،۰۰۰ درهمه دجـزیی دبابـته وو.

قول دیگر ازعبد الله ابن خردادبه ازروی اسناد رسمی احصائیه عائدات مالی را فراهم آورده وگوید: درآمد مالی سرزمین های شرقی خلافت عباسی چنین بود بـه حساب درهم.

یعنی عبد الله بن خرداذبـه درسمی اسنادو له مخی، دمالی عوائـــــدو احصائیه وړاندی کوی او وایی: دخلافت عباسی دشرقی مځکو دمالیی آمدنی ددرهم په حساب داسی وه. سیستان: (٦،٧٧٦،...)

رخج (قندهار) زابل، زمینداور، تاتخارستان (٩٤٧،...)

سرخس: (٣٠٧،٤٤٠) مرو رود: (٤٢٠،٤٠٠)

بادغیس: (٤٤٠،٠٠٠) هرات، اسفزار، وکنج رستاق: (١،١٥٩،٠٠٠)

پوشنګ غرب هرات: (٥٥٩،٣٥٠) طالقان بین مرو رود وبلخ: (٢١،٤٠٠)

نواح تخارستان بـین بلخ وجیحون: (١٠٦،٠٠٠)

غرجستان میان هرات ومرو رود وغزنه (١٠٠،٠٠٠) ودوهزار گوسفند.

فاریاب: (٥٥،٠٠٠) کابل: (١٠،٠٠٠،٥٠٠) بامیان: (٥،٠٠٠)

سمنگان: (١٢،٦٠٠) (١)

١- تـــاریخ افغانستان بعد ازاســـلام ص ٤٣٨ ج١

دپورتنی شرحی اوتفصیل څخه ډیر ښه په واضح ډول معلومه سوله چه دموجوده افغانستان دټولو ولایتونو خلقو په مختلفو دورونو کی یعنی دحضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه دخلافت څخه بیا دعباسیانو تر آخرنی دوری پوری خراج ورکړی دی.

او که تاریخونه مطالعه کړو هیڅ داسی عادل یاظالم حکومت په افغانستان کی نه دی راغلی چه دافغانستان ده ځمکو څخې عشر اخستی وی، داپه خپله ددی دلیل دی، چه دافغانستان ځمکی خراجی دی، نوځکه دوقت حکومتونو به مالیه (خراج) دخلقو څخه اخستله ، اوعشر ئی نه دی اخستی.

دخراج یامالیی دزیاتولو حکم

داچه یو ځلی دکافر پرځمکه دزور، غلبی، یا صلحی له لاری، خراج مقرر سی، اوبیا هغه کافر مسلمان سی، ځمکه یه عشری گرځی، یعنی بیا عشر یادواړه ځنی اخستل جوازلری که نه ؟

اوداچه څومره مقدار خراج یوځلی پرځمکه مقررسو، بیا ترهغه زیاتوب ځنی اخستل جواز لری که نه ؟

او یا دا چه داغه ځمکه دداغه سړی څخه اخستل، اوبل چاته ورکول جواز لری، که نه ؟

یاداچه بل امیر دمخکنی امیرصلح یاخراج فسخ کولایسی، که نه ؟

دپورتنیو سوالونو په جواب کی داسلامی شریعت دعلماؤ نظرڅه داسی دی.

لری دهغه ځمکومالکان چه صلحه ورسره سوی وی، که مسلمانان سی ځمکه په خراجي ده ، عشر ځنی اخستل جواز نه لری ، په دی هکله دلیل وایـــی:

عن الزهري قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الجزية من مجوس البحرين قال الزهري فمن أسلم منهم قبل اسلامه ، وأحرز إسلامه نفسه ومالـــه ، إلا الأرض ، فإنها فيئ للمسلمين ، من أجل أنه لم يسلم أول مـــرة وهـــو فـــى منـــعة. كـــتاب الأمـــوال ص ١٦٩

ترجمة: دزهری څخه روایت دی: چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دبحرین دمجوسو څخه جزیه قبوله کړه، زهری وایی: چاچه دهغـــوی څخـــه اسلام راوړی ، دهغه اسلام یه قبول کړی، اوپه اسلام سره هغه خپل ځـــان اومال وساتی بیله ځمکی، ځمکه ځکه دمسلمانانو غنیمت ده، ځکه چه ده اول څلی اسلام نه دی راوری ، اوس دی پـــه امان یاحفاظت کی دی.

قال أبو عبيد : ليس يريد بقولـــه: أن أرضه فيئ للمسلمين أنها تـــنزع منه إذا أسلم ، ولكنه يريـــد أنها تكون أرض خراج على حالـــها، لأنها فيئ للمسلمين، ولايرضى منه بالعشر كأرض المسلمين التي يملكونها، يعني بإسلامه لايجوز الأرض ، لأنه إنما أسلم بعد ماغلب المسلمون على الأرض وصارت فيئا لهم فتبقى في يده ، ولكنها تكون أرض خراج على حالها كما كـــانت قبـــل اسلامه، ولاتنتقل إلى العشر لأن العشر إنما يجب على المسلم في الأرض التـــي يملكها. كـــتاب الأمـــوال ص ١٦٩

ترجمة: ابو عبید وائی: په دی قول سره (إن أرضه فيئ للمسلمين) مراد دانه دی ، چه ځمکه دده څخه اخستل کیږی چه دي اسلام راوړی، بلکــه مراد دا دی چه دا ځمکه خراجی ده پرهغه خپل حال باندی، (لأنهـا فيئ للمسلمين) دا دمسلمانانو لپاره غنیمت ده، معنی داده چه داسی ځمکه نــه ده لکه دمسلمانانو ملکی ځمکی ، چه دهغی څخه عشر واخستل سی، یعنی دده په اسلام سره دده ځمکه جائزه نه ده، ځکه ده خو اسلام تر هغــه وروستــه راوړی، چه مسلمانانو دده پرځمکه غلبه وکړه، نوداغنیمت وګرځیدله، نــودا ځمکه دده په لاس کی پاته کیږی، لکه څنګه چه د اسلام نه مخکــی دده وه، او پردی ځکه به خراج وی لکه مخکی ، اودا عشری ته نه اوړی ، ځکه عشر دمسلمان دهغی ځمکی څخه اخستل کیږی چه داسلام په وخت کی دده پــه لاس کی وی.

دوهم دلیل: وأما الذی یقول أبو حنیفة: أخبرنی عنه محمد أنه کان یقول من أسلم منهم ، او اشتری أرضه مسلم من أهل الصلح ، فإن الصلح باق علی حالــه. کـتـاب الأمـوال ص ۱۷۱

ترجمة: امام محمد صاحب دحضرت إمام أبو حنیفة رحمــة الله تعــالی علیهما څخه نقل کوی، هغه څوك چه صلح ورسره سوی وی، کــه هغــه مسلمان سی، اویایه ځمکه مسلمان رانسی، هغه صلح پر خپل حال پاتــه ده، یعنی هم هغسی خراجی ده، ځکه دا دځمکی حکم دی دمالك پــه اســلام

پوری تعلق نـه لـری .

قال ابن مبارك عن ابی حنیفة فی معاهد اشتری أرضا من أرض العشر ، قال یوضع علیها الخراج، فإن باعها بعد من مسلم فعلیها الخراج علی حالـــه لایتحول عنها أبـدا . الخراج لیحیی ابن آدم القرشي ص ۳۰

ترجمة : ابن مبارك دحضرت امام ابوحنیفة رحمة الله تعالی علیهما څخه نقل کوی ، که یو معاهد (صلح کونکی) عشری ځمکه رانیوله، پر هغه ځمکه خراج حواله کیږی، اوکه داغه ځمکه برته پر مسلمان خرڅه کړی، بیا هـــم پردی خراج پر خپل حال پاته دی ، داده خراج څخه هیڅ کله نه اوړی.

اودکنز مصنف لیکی : وإن عطلها صاحبها، اوأسلم، اواشتری مسـلم أرض خراج، یجب، ولاعشر فی خارج أرض الخراج. (۱)

ترجمة : که د خراجی ځمکی خاوند خپله ځمکه (دامکاناتو سره) معطله کړی، اویامسلمان سی ، اویامسلمان خراجی ځمکه رانسی، په دغه ټولوصور تونو کی خراج واجب دی، اوهغه څه چه دخراجی ځمکی څخه راوزی پـــه هغه کی عشر نستـه.

ملاحظه: په اسلامی نظام کی دخراج داخستلو یوازنی حکمت دادی، چه خلق دمسلمانانو سره وګرځی، اسلامی اعمال اخلاق، دنږدی مطالعـــه کړی ، اومسلمانان سی ، نودا چه هغوی مسلمانان سی بیا دهغوی سره هغه

۱- کنـز الـد قائـق ص ۲۱۰

دخراج وعده ددوی داسلام په وجه ماته سی، داهم دوعدی، اوهم دحکمت خلاف ده، اوکیدایسی چه دخلقو داسلام دنه راوړلو سبب وګرځی، نو ځکه باید خراجی ځمکه صرف د اسلام راوړلو په وجه عشری نه سی.

او هغه ځمکی چه مالکانو په دمسلمانانو دامیر سره پر یومعلوم مقدارصلح وکړی، علماء وایی: داحکم دعقد او وعدی لری، په داسی ځمکه کی امیر دهیڅ قسم تصرف نسی کولاي، اوڅومره مقدار خراج چه اوله ورځ پر مقرر سوي دی، تر هغه زیات اخستل جائز نه دی، اونه دا ځمکه برته ځنی اخستل، اونه ئی وبل چاته ورکول جائزدی، دلائل په څه په دی ډول دی.

١- عن جهينة من أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إنكم لعلكم تقاتلون قوما، فيتقونكم بأموالهم دون أنفسهم وأبنائهم، فيصالحونكم على صلح، فلا تأخذوا منهم فوق ذالك ، فإنه لايحل لكم. أى لايحل لهم أن يأخذوا منهم زيادة على ماصلحوا عليه ، فإن ذالك نقض لشروط الصلح.

وقال الشوكاني فيه دليل على أنه لايجوز للمسلمين، بعد وقوع الصلح بينهم وبين الكفار على شيىء ، أن يطلبوا منهم الزيادة عليه، فإن ذالك من ترك الوفاء بالعهد ونقض العهد، وهما محرمان بنص القرآن والسنة . (١)

ترجمة: جهينة دنبي صلى الله عليه وسلم داصحابوڅخه روایت کوی

١- كتاب الأموال ص ١٥٧، وأبوداوود بتغير لفظ حديث نمبر ٢٦٥٣

وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: كيدايسي تاسو بــه ديو قوم سره جنګړ كوى، دوى به خپل ځانونه، اواولادونه ستاسوڅخه پــه خپلــو مالوسره ساتي ، نودوى ستاسو سره صلح كوى، نو تاسو ددوى څخه ترهغه (مقررسوى شي) زيات مــه اخلي ، ځكه داستاسو لپاره جائز نــه ده.

د (لايحل لكم) معنى دا ده چه په صلح كي ترمقرر سوى مقدار زيات احستل جائز نه دى، ځكه په زياتوب كي دصلح دشرائطو ماتيدل راځــــي.

شوكاني (يوښه عالم دى) وايي: چه په دغه حديث كي دليل دى: كه دكفارو سره پريو معلوم مقدار صلح وسى ، ترهغه زيات ورڅخه اخســـتل جائز نه دى ، ځكه دادوعدى ماتيدل دى، اوپه وعـــده بـــاندى دوفـــاكولو پريښودل دى ، اودا دواړه په قرآن اوحديث سره ناجائز دى.

قال أبو عبيد أن الســـنة في أرض الصلح أن لايزاد على وظيفتها التى صوحوا وإن قووا على أكثر من ذالك ، لقوله عليه السلام (فلا تأخذوا منهم فوق ذالك فإنه لايحل لكم) فجعله حتما ولم يستثن قوتهم على أكثر منه . (١)

ترجمة: په پورتني حديث سره أبوعبيد هم دليل وايي: چه دصلح پـــه ځمكه كي داقانون دى، چه ترهغه شي چه پرمقرر سوي دى، زيـــاتوب نـــه كول كيږى ، ځكه عليه السلام وايي : تاســـو ترهغه زيات مه اخلي ، ځكه دا تاسوتـــه جائز نـــه دى ، وجـــه داستدلال وايي: چه عليه السلام داحتمي

١- كـــتاب الأمـــوال ص ١٥٧

کرځولی دی، پردیرو باندی د دوی قوت درلودل په نـــه دی مستثنا کړی.

٢- عن ابراهيم أن رجلا أتى عمر بن الخطاب فقال : إنى قد أسلمت، فارفع الخراج عن أرضى ، قال إن أرضك أخذت عنوةً، وجائه رجل فقال: إن أرض كذا وكذا تحتمل من الــخراج أكــثر مما عليها، فقال ليس على أولئك سبيل ، إنا صالحناهم . كــتاب الأمــوال ص ١٥٨

د ابراهیم نخعه روایت دی : چه یوسړی حضرت عمر بن الخطـــاب رضی الله عنه ته راغلی او وی ویل: زه مسلمان سوی یم ځما دمځکی څخـــه خراج پورته کړه، حضرت عمر ورته وویل: ستا مځکه په زور نیولی ســـوی ده، (یعنې هغه مځکه چه په زور نیولی سوی وی، اوخراج پر مقررسوی وی، هغه بیا نه پورته کیږی) بل سړی راغلی او ورته وی ویل، پلانـــی اوپلانـــی مځکه ترهغه زیات حاصل کوی چه پر مقرر سوي دی، (مطلب یه داوو چه خراج پر زیات کړی) ده ورته وویل: چه موږ پر هغوی نور حق نه لـــرو، ځکه مـــوږ صلح ورســـره کـــړی ده .

٣- دکنز مصنف په دی هکله لیکی: وإن لم تطق ماوظف نُقّـــص، بخلاف الزيادة، ولاخراج إن غلب على أرضه الماء ، اونقطع،اوأصاب الـــزرع آفـــة. كنـــز الـــدقـــائـــق ص ٢٠٩

ترجمة: که د خراجی مځکی خاوند دهغه دمقرر سوی خراج توان نـــه درلودی، ورته کم کیدلایسی، اوپرزیات کیدلاي نه سی، اوپر هغه مځکه چه

اوبه غالبه سی ، اويا اوبــه ځنی بندی سی ، اويا پر کښت آفت راسی خراج نسته ، يعنی په داسی صورتونو کی خراج يامالیه ځنی اخستل جواز نه لری.

٤- عن خالد بن وليد عن النبی صلی الله عليه وسلم قــال ألا لاتحـل أموال المعاهــدين إلابحقها . الإستخراج لأحكام الخراج ص ٦٦

ترجمة: خالد ابن وليد دنبی صلی الله عليه وسلم څخه روايت كــوی؛ چه عليه السلام وويل: خبر اوسی ، تاسوته دمعاهدينو (صلح كونكو) مالونه نه دی جائز مگر په حق سره، يعنی چه اول ستاسو پر حق سوي دی.

٥- أبوصخر المدنی أن صفوان ابن سليم أخبره عن عدة مــــن أبنـاء أصحاب رسول الله صلی الله عليه وسلم، عن آبائهم رضی الله عنهــم عــن رسول الله صلی الله عليه وسلم قال : ألامن ظلم معاهدا ، اوانتقصه ، اوكلفه فوق طاقته، اوأخذ منه شيئا بغير طيب نفس، فأنا حجيجه يوم القيامة. (١)

ترجمة: ابوصخر مدنی وايی: چه زه صفوان بن سليم خبرکړم، هغــــه درسول الله دأصحابو دزامنو، اوهغوی دخپلو پلرونو اوهغوی درســـول الله صلی الله عليه وسلم څخه نقل كوی: چه عليه السلام وويل: خبر اوســـی! څوك چه دمعاهد (صلح كونكی) ظلم كوی ، اويانقصان ورسوی ، اويادده ترطاقت زيات مكلف كوی ، اويادده دناخوښی په حالت کی يوشي اخلی، نو زه بــه دهغه معاهد لــه طرفــه دقيامت پــه ورځ وكيل مدافع يم.

١- كـــتاب الأمــــوال ص ١٨٤، وأبو داوود بتغير لفظ حديث نمبر ٢٦٥٤

او دا چه یوأمیر ته دبل أمیر صلحه منول جائزدی که نه ؟

په دی هکله تر هرڅه نه څکی باید وو ایو چه د حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه تر شهادت وروسته نه دحضرت عثمان رضی الله تعالی عنه، او نه د حضرت علی کرم الله وجهه ، دخلافت په دوره کی ، او نه دحضرت حسن رضی الله تعالی عنه، او نه په أموی، أوعباسی دوروکی داسی شواهد سته، چه بوه دی هم دمځکنی خلیفه یاأمیر صلح ماتی کړی وی، څکه په وعده اوقراردادونو باندی عمل کول داسلامی ، حکومتی ، اود صلحی دقوانینو دواجباتو اولوازمو څخه دی، څکه که دوعدی احترام نه وی، بیا صلحه اوقرار داد کول نه څه أهمیت لری، او نه بیا یوپر بل اعتماد کیدلایسی، او اسلام تر هر څه زیات خپل منونکی دوعدی په پوره کولو مکلف کوی.

اوبل داچه قال یحیی: قال حسن فی أهل الخراج الذین وضع علیهم عمر ابن الخطاب، (وأما أرضهم فعلیها الخراج الذی وضعه عمر ابن الخطاب ، علی الجریب قفیز ودرهم، وعلی النخل والرطب والکرم والشجر، ماوضعه علیهم عمر، فان احتملوا أکثر من ذالك فلایزاد علیهم، وإن عجزوا عن ذالك خفف عنهم، ولایکلفون فوق طاقتهم، کما قال عمر. (۱)

ترجمة: یحیی وایی: چه حضرت حسن رضی الله تعالی عنه دهغو

۱- الخراج لیحیی بن آدم القرشي ص ۲۳

کسانو په هکله چه حضرت عمر رضی الله تعالی عنه خراج پر مقرر کړی دی وویل: ددوی پرځمکو باندی هغه خراج دی، کوم چه حضرت عمر فاروق مقرر کړی دی ، پرجریب باندی یوقفیز اویودرهم، اوپرخرماو، اوسبزی جاتو هم هغه مقدار دی ، کوم چه حضرت عمر فاروق مقرر کړی دی، که دوی تردغه دزیات قدرت هم لری، زیاتوب به نه کول کیږی، اوکه دوی عاجز سی، پردوی به تخفیف کول کیږی، اوترخپل طاقت به زیات نه مکلف کیږی، لکه څرنګه چه عمر ویلی دی.

اوبل ځای کی وایی: قال یحیی قال حسن ولانعلم علیاً، خالف عمر ولاغیر، شیئا مما صنع حین قدم الکوفة.

عن الشعبی أن علیا علیه السلام قال لأهل النجران حین کلموه: إن عمر کان رشید الأمر ، ولن أغیر شیئا صنعه عمر رضی الله عنه. (۱)

ترجمة: یحیی وایی: چه حضرت حسن رضی الله تعالی عنه ویل: چه موږ نه پوهیږو چه حضرت علی یابل چادی د هغه څه مخالفت کړی وی، کوم چه حضرت عمر رضی الله عنه کړی دی ، کله چه کوفی ته راغلی .

اوشعبی وایی: کله چه دنجران خلقو دحضرت علی رضی الله عنه سره خبری کولی ، نوده ورته وویل: چه حضرت عمر په کاروڼو ښه پوه وو، زد هیڅ هغه شی چه حضرت عمر کړی وی ، نه تغیر کوم اویانه بدلوم .

۱- الخراج لیحیی ابن آدم القرشي ص ۲۳

هغه ځمکه چــه مسلمان مجاهدین په زور دکفارو څخه ونیسی، بیایــه امــیر دمجاهدینو په خوښه هغه خلقو ته دیو معلوم مقدار خراج په مقابل کی ورپریږدی، دعلماء کرامو په دی هکله دوه قوله دی: اول قــول دادی چــه دداسی ځمکی حکم دغنیمت دی، دا حکم دإجاری لری، معنا داچــه امــیر کولایسی چه إجاره پرزیاته کړی، اویا یه دده څخه واخلی وبل چاتــه یــه ورکړی، اوکه یه دری کاله مسلسل زراعت نــه کړی، هم امــیر کولایسی چــه بل چاتــه یــه ورکــړی، دوی په دی قول دلیل وایی:

عن مالك أما أهل الصلح فمن أسلم منهم فهو أحق بأرضه ، وأما أهل العنوة فإن أرضهم وماهم للمسلمين ، لأن أهل العنوة قد غلبوا على بلادهم، وصارت فيئا للمسلمين، وأماأهل الصلح فإنهم منعوا بلادهم وأنفسهم حتــى صولحوا عليها فليس عليهم إلا ماصلحوا عليه. كــتاب الأمــوال ص ۱۷۰

ترجمة: مالك وایی: دصلح خاوندان که اسلام راوړی، نودوی د خپلی ځمکی حقداره دی، اوهغه خلق چه ځمکه یه په زور نیولی ســوی وی، نــو ددوی ځمکی اومالونه دمسلمانانو دی، ځکه دغلبی اوزور خاوندانو ددوی پر ښارو غلبه حاصله کړی ده ، اودصلح خاوندانو خپل ښارونه اونفسونه پــه صلح سره ساتلی دی ، نوځکه پردوی ترصلحی زیات شي نســته .

دوهم قول دځه علماؤ په شمول دحنفی فقهاؤ دادی: چــه دخراجــی ځمکی حکم یو دی ، هغه په زور نیول سوی وی، که په صلح، په دی هکله

إمام أبويوسف رحمة الله تعالى عليه په دى قول سره دليل وايى:

قال ابويوسف رحمة الله تعالى عليه: وأيما دار من دور الأعاجم قد ظهر عليها الإمام، وتركها فى أيدى أهلها فهى أرض خراج، وإن قسمها بين الذين غنموها فهى أرض عشر، ألم ترى أن عمر بن الخطاب رضى الله تعالى عنه ظهر على أرض الأعاجم، وتركها فى أيديهم، فهى أرض خراج، وكل أرض من أراضى الأعاجم صالح عليها وصاروا ذمـــة، فهى أرض خراج. (۱)

ترجمة: حضرت امام أبويوسف رحمة الله تعالى عليه وايـــى: دأعـــاجمو دمحايوڅخه پر هرځاى چه دمسلمانانو امام غالب سى، اوبيايه برته دهغو پـــه لاس كى پرېږدى، هغه خراجى ده، اوكه ئى دغانمينو په منځ كى تقسيم كړه هغه عشرى ده، اوتاسو نه گورى چه حضرت عمر فاروق رضى الله تعـــالى عنه داعاجمو ځمكې په زور اوغلبه ونيولې، اوبرته يـــه ددوى پـــه لاســوكى پريښودلې، اوهغه خراجى دى، اود اعاجمو هرهغه ځمكه چه صلح پروســـى، اوخلق يـــه ذمـــه قبوله كړى، هغه ځمكه خراجى دى.

بل ځاى وايى: والماء الخراجى: الأنهار التى شقها الأعاجم، أصل تلك الأنهاربمال الخراج، فصارمائها خراجيا، وصارت الأرض خراجـية تبعا. (۲)

ترجمة: خراجى اوبه هغه دى: هغه ولې دى چه اعاجمو (غير له عربو) كښلې وى، ځكه دغه ولى دخراج پـــه مال كښل سوى دى، نوددى اوبـــه

۱- كتاب الخراج لأبى يوسف ص ٦٩ * ۲ - الـــهدايـــة ص ۱۸٦ ج۱

خراجی سوی ، اوځمکه یــه هم د اوبو تــابع سوه ، خراجی ســوه.

یعنې هغه ولې چه غیرله عربو، عجمو درود ځنځه کښلې وی، اوځمکې په اوبه کوی، دهغې ځمکې په حاصلاتو کې هم خراج ســته، عشرنســته.

ظالم، فاسق امیر ته زکوة، عشر، مالیه ورکولو حکم.

دمسلمانانو أمیر که ظالم یافاسق وو، اویایه دمسلمانانو بیت المال بې ځایــه مصرفوه، اویایه بیت المال دګناه په کارونو کې لګاوه ، په داسې صورتونو کې د زکات عشر اومالیه ورکړل جائز که ناجائز ؟ په دې هکلــه د اســلامی شریعت علماء کرام اختلاف نظر لری ، څه علماء وایی جائز دی ، اوځــه وایی ناجائز دی، اوڅه وایی دظاهری مالونو زکاة لکه مواشی حیوانــات ، میوی دانې اوداسې نورو ورکول لازمی دی ، او باطنی مالونه لکه نقــدی مالك اختیار لری، چه أمیر ته یې ورکوی، اویا یه خپله مسکین ته ورکوی .

دا اختلاف دحضرت عثمان رضی الله تعالی عنه ترشهادت وروسته چه کله مسلمانان په سیاسی لحاظ په مختلفو ډلو لکه زبیری، علــوی، أمــوی، سفیانی اومروانی ډلوتقسیم سوله ، اودسیاسی مخالفتو نو په وجه یوپــه بــل پسې بد ویل شروع سوله ، اوقدرت اوحکومت یو دبل ځنځه په زور اخسته کیدی ، ضبعی خبره ده دزورسره به ظلم کیږی ، اوپه مخــالفت کــی بــه هریو دځان لپاره دجواز لاری لټوی، اوخپل ځان به پرحق اوبل به باطل بولی ، خصوصا دأمویانو په دوره کی څه داسې حاکمان اوأمیران منځ تــه راغلل

چه ظلم، فسق اولوی گناهونه به ئي کوله ، او بیت المال به بی په صحیح توگه په مصرف نه رساوه ، ځکه په دی هکله يو روايت داسی راځی :

روى عن سهيل بن أبي صالح عن أبيه قال: اجتمع عندى نفقة فيها صدقة ، يعنى بلغت نصاب الزكاة، فسألت سعد بن أبي وقاص ، وابن عمر وأبا هريرة ، وأبا سعيد الخدرى أن أقسمها ، اوأدفعها إلى السلطان ؟ فأمرونى جميعا أن أدفعها إلى السلطان ، ما اختلف عليّ منهم أحد .

وفي رواية فقلت لهم : هذا السلطان يفعل ماترون كان هذا في عهد بنى أمية فأدفع إليهم زكاتى ؟ فقالوا كلهم نعم فادفعها. (۱)

ترجمة: سهيل ابن صالح دخپل پلار ځخه روایت کوی، چه هغه وویل : زماسره ځنه مال یوځای سو ، چه په هغه کی زکات وو، یعنی ونصاب ته ورسیدی، نو ما دسعد بن وقاص ، ابن عمر، ابوهریرة، او ابوسعید خدری رضی الله تعالی عنهم ځخه پوښتنه وکړه، چه دازه په خپله تقسیم کړم، اوکه ئی وامیرته ورکړم ؟ دوی ټولو ماته امر وکړی چه وامیرته ئی ورکړم، هیڅ یوه هم مخالفت نه دی کړی.

په بوبل روایت کی راځی: چه ماودوی ته وویل: چه دا أمیر خوتاسو وینی چه داسی کارونه کوی ، اودا دبنی أمیة یعنی أمویانو په زمانه کی وو، آیازه ودوی ته زکات ورکړم ؟ دوی ټولو راته وویل: هو، وریه کړه.

۱- الإمامة العظمى ص ٣٤٦ بحوالــة مصنف ابن أبي شيبة

اوځه علماء بيا داسې روايت کوي اوفرمايي: عن حسان بن أبي يحيى الكندى قال: سألت سعيد بن جبير عن الزكاة فقال: ادفعها إلى ولاة الأمر فلما قام سعيد تبعته ، فقلت: إنك أمرتنى أن أدفعها إلى ولاة الأمر، وهم يصنعون بها كذا ، فقال : ضعها حيث أمرك الله سألتنى على رؤس الناس فلم أكن لأخبرك . (١) كتاب الأموال ص ٥٦٧

ترجمة: حسان بن يحيى کندي وايي: مادسعيد بن جبير ځخه دزكات په هکله پوښتنه وکړه ، هغه وويل وأميرانوته ئې ورکړه ، کله چه دی ولاړسو، ماورته وويل تازه په دی أمرکړم چه زکات ودوی ته ورکړم ، اوته دوی وينې چه دوی ځه کارونه کوي ؟ ده راته وويله په هغه ځای کې کښېږده، په کوم ځای کې چه الله أمر کړی ئې ، تادخلقو په مخکې پوښتنه راځخه وکړه ، مانسوای خبرولای.

معلوم‌سو چه دځه أميرانو په عصر کې ځه عالمانو ددوی دظلم له وجه دينی مسئله هم صحيح نه سوه بيانه ولای، نوځکه په علماؤ کې اختلاف راغلی، اوس هم ځه علماء کرام دهغه وخت دعلماؤ تقليد کوي، او وايي: دموجوده وخت وأميرانو ته زکات، عشر اونورمالي واجبات ورکول جائز نه دی، ځکه ظالمان اوفاسقان دی، اودلائل يې ځه په دی ډول دی.

١- مارواه عبد الله بن أحمد بسنده عن أبيه إلى خيثمة قال : سألت ابن عمر عن الزكاة ؟ فقال: ادفعها إليهم، وسألته مرة أخرى فقال: لاتدفعها إليهم

إليهم ، فقد أضاعوا الصلوة. (١)

ترجمة: عبد الله دخپل پلار إمام أحمد څخه روايت كوى هغه سند تر خيثمة پورى رسولى دى: هغه وايى: مادابن عمر رضي الله تعالى عنه څخه دزكات په هكله پوښتنه وكړه ؟ هغه ووېل ودوى يعنى أميرانوته يى وركړه ، بيامى پوښتنه ځنى وكړه ده راته وويله دوى يعنى أميرانوته يى مه وركوه، ځكه دوى لمونځ ضائع كړى دى.

٢- عن جعفر بن برقان قال: قلت لميمون بن مهران، بلغني أن ابن عمر كان يقول : أدوا الزكاة إلى ولاة ، وإن شربوا بها خمرا ، فقال ميمون: أتعرف فلانا النصيبي ؟ فإنه كان صديقا لابن عمر، أخبرني أنه قال لابن عمر : ماترى في الزكاة، فمن هؤلاء لايضعونها مواضعها ؟ فقال: ادفعها إليهم قال قلت: أرأيت لوأخروا الصلوة عن وقتها، أكنت تصلى معهم ؟ قال لا، قال فقلت هل الصلوة مثل الزكاة ؟ فقال : لبسوا علينا لبس الله عليهم . (٢)

ترجمة: جعفر بن برقان وايى : ما وميمون بن مهران ته ووېل: ماته رسيدلى ده چه ابن عمر ويلى دى: زكات واميرانو ته وركوى، كه څه هم دوى شراب په چيښى ، ميمون ووېل أيا ته هغه فلانى نصيبى پېژنى ؟ هغه دابن عمر دوست وو، هغه زه خبر كړم چه هغه وابن عمرته ووېل : ته دزكات په هكله څه حكم كوى؟ په داسى حال كى چه دوى زكات په خپل ځاى

١- الإمامة العظمى ص ٣٤٧ بحوالة المغنى * ٢- كتاب الأموال ص ٥٦٧

کی نه مصرفه وی، نوده راته وویل: ودوی ته یې ورکوه، نودی وایـــی مـــا ورته وویل که دوی لمونځ په خپل وقت کی نه کوی، ته لمونځ ددوی ســـرد کوی ؟ نو ابن عمر وویل: یا، نوما ورته وویل: لمونځ هم دزکات په شـــان دی، نوده وویل : دوی موږ په اشتباه کی اچولی یو، الله دی ذوی هـــم پـــه اشتـــباه کی واچـــوی.

ملاحظة: دپورتنیو دواړو دلائلو څخه معلوم سو، هغه امامان چه لمونځ دخپل وقت څخه تاخیرکوی، دزکوة ورکول په هیڅ صورت جائز نه دی.

٣- عن هشام عن الحسن قال : إن دفعها إلى السلطان أجزت عنـــه ، وإن لم يدفعها فليتق الله وليتوخ بها مواضعها ولايحاب بها أحدا. (١)

ترجمة: هشام دحسن څخه نقل کوی: چه حسن وویل: که زکـــات وأمیرته ورکړی جائز دی، اوکه أمیرته یې نه ورکوی، نوبیادی د الله څخـــه وبیریږی، په خپل ځای کی دی فکر وکړی، یعنی فقیرانوته دی ورکـــوی، دمطلق دوستی پربنیاد دی وهیچاته نـــه ورکوی.

٤- قال: ابراهيم ضعوها فإن أخذها السلطان أجـــزاك، وروى عنـــه لاتؤدوا الزكاة لمن يجور فيها . الإمامـــة العظمى ص ٣٤٨

ترجمة : ابرهیم وایی : زکات په خپل ځای کی کښیږدی کـــه أمـــیر واخستی هم جائز دی، دده څخه یو بل روایت دی وایی: زکات وهغه چاته

١- کـــتاب الأمـــوال ص ٥٦٧

مه ورکوی، چه ظلم پکښې کوی، یعني ومستحق ته به نه رسوی.

٥- وقال عطاء: أعطهم إذا وضعوها مواضعها، أنه لايعطيهم إذا لم يكونوا كذالك. الإمامة العظمى ص ٣٤٨

ترجمة: عطاء وایی: که أمیرانو زکات په خپل ځای کی مصرف کاوه نوزکات ودوی ته ورکوی، اوکی په خپل ځای کی نه مصرف کاوه مه ئی ورکوی.

٦- عن ابن جريج قال: أخبرني أبوسعيد قال: لقي أبوهريرة رجلا يحمل زكاة ماله، يريد بها الإمام، فقال له: ماهذا معك؟ فقال: زكاة مالي، أذهب بها إلى الإمام فقال: أفي ديوان أنت؟ قال لا، قال فلاتعطهم شيئا. (١)

ترجمة: ابن جریج وایی: ماته ابوسعید وویل: دابوهریرة سره یوسړی مخامخ سو، چه دزکات مال ورسره وو، اوغوښتل ئی چه وأمیرته یې ورکړی، نو ده ورته وویل: داچشی درسره دی؟ هغه ورته وویل: دغه زمادمال زکات دی، وأمیرته یې ورکوم، نوابوهریره ورته وویل: أیا ته ددوی په دیوان کی یې؟ هغه ورته وویل: نه، نو ابو هریرة ورته وویل: چه دوی ته هیڅ شي مه ورکوړ.

نخه هغه علماء چه ظالم اوفاسق أمیرانو ته دزکوة، عشر، اونور مالی واجبات ورکول په هرصورت جائز بولی، دلائل به ئخه په دی ډول دی.

١- كتاب الأموال ص ٥٦٥

١- عن جرير بن عبدالله قال: جاء ناس من الأعراب إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالوا: إن أناس من المصدقين جباة الصدقة يأتوننا فيظلموننا، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم أرضوا مصدقيكم. (١)

ترجمة: جرير بن عبدالله وايي: ځه خلق دصحرا ځخه ورسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغله ، دوی ورته وویل: ځه عاشران يعنى زكات ټولونكي چه موږته راځي پرموږ ظلم كوی، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: خپل عاشران راضي كوی.

داغه حديث أبوداوود داسي رانقل كړی دی.

٢- عن جرير بن عبدالله قال: جاء ناس يعنى من الأعراب إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالوا: إن أناس من المصدقين، يأتونا فيظلمونا، قال فقال أرضوا مصدقيكم، قالوا يارسول الله ! وإن ظلمونا ؟ قال : أرضوا مصدقيكم ، زاد عثمان وإن ظُلِمتُم . أبوداوود حديث نمبر ١٣٥٥ كتاب الزكاة

ترجمة: جرير بن عبدالله وايي: ځه خلق ورسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغله، يعنى دصحرا ځخه ، دوی ورته وويل: ځه عاشران چه موږته راځي ، پرموږ ظلم كوی ، جرير وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: خپل عاشران راضي كوی ، دوی ورته وويل: أی رسول الله ! كه ځه هم دوی پرموږ ظلم كوی ؟. رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل:

١- مسلم حديث نمبر ١٦٥١ كتاب الزكاة

حیل عاشران راضی کوی، عثمان په حدیث کی داهم زیاته کړې ده، چه
علیه السلام ورته وویل: که څه هم پر تاسو ظلم وسی.

۳- عن أنس بن مالك رضی الله عنه أن رجلا قال: لرسول الله صلی الله علیه وسلم، إذا أدیتُ الزکاة إلی رسولك، فقد برئت منها إلی الله ورسوله؟ قال: نعم، إذا أدیتها إلی رسولی فقد برئت منها إلی الله ورسوله، ولك أجرها وإثمها علی من بدلها. مسند أحمد حدیث نمبر ۱۱۹٤٥ مسند المکثرین

ترجمة: دأنس بن مالك څخه روایت دی: چه یو سړی ورسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: چه زه ستا ورسول ته زکات ورکړم، نوزما زمه د الله اودرسول په نزد خلاصه ده؟ ده ورته وویل: هو، چه ته دا زکات زما ورسول ته ورکړی نوته د الله اودهغه درسول په نزد بری یی، اوتاته به دهغی اجر ثواب رسیږی، اوګناه به یه پرهغه چا وی چه بدل یه کړی، یعنی په حیل ځای کی ئی مصرف نه کړی.

٤- قال ابن قدامة. روی عن الإمام أحمد أنه قال: قیل لابن عمر إنهم یقلدون بها الکلاب، ویشربون بها الخمور، قال: ادفعها إلیهم.

قال: وکان ابن عمر یدفع زکاته إلی من جائه من سعاة ابن الزبیر أو الحروری من الخوارج. الإمامة العظمی ص ۳٤۷ بحوالة المغنی وشرح الکبیر

ترجمة: ابن قدامة د إمام أحمد څخه نقل کوی، چه ده ویل: چه یوچا وابن عمر ته وویل: چه دا أمیران یه دسپیو په غاړه کوی، اوپه دغه زکاتونو

٧- عن المغيرة بن شعبة أنه قال لمولى له، وهو على أمواله بالطائف كيف تصنع في صدقة مالي ؟ قال: منها ما أتصدق به، ومنها ما أدفع إلى السلطان، قال: وفيم أنت من ذالك ؟ أنكر عليه أن يفرقها بنفسه ، فقال: إنهم يشترون بها الأرض ويتزوجون بها النساء ، فقال: ادفعها إليهم ، فإن رسول الله صلى الله عليه وسلم أمرنا أن ندفعها إليهم. (١)

ترجمة: مغيرة بن شعبة وخپل مولى ته وويل: چه په طائف کې دده پرمالونو مشررووو، ته زماده'ل په زکات څه چل کوی ؟ هغه ورته وویل: څه زه يې خپله صدقه کوم، اوڅه وأميرته ورکوم، نومغيرة بن شعبة ورته وويل دا ولى داسې کوی ؟ اودا يې بد وبلل، چه دی په خپل سر زکات سره جدا کوی، نوهغه مولى ورته وویل: چه دوی يعنى أميران ځمکې په رانسي، اوښځې په نکاح کوی، نوده ورته وویل: چه ودوی ته ئې ورکوه، ځکه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم موږته أمر کړی دی، چه ودوی يعنی أميرانوته ئې ورکوو.

راجح اوغوره نظر اولاره

که دپورته ذکر سوو نظريو دلائل په غورسره مطالعه کړو، ويلايسو چه آخرنی لاره راجح اوغوره ده، ځکه اول که وګورو داولى تولی دلائل ټول دصحابه کرامو اوتابعينو په أقوالو سره ويل سوي دی ، اود دوهمی ټولی

١- الإمامة العظمى ص ٣٤٦ بحوالة بيهقى في السنن الكبرى

په دلائلو کی درسول الله صلی الله علیه وسلم أحادیث سته، دأصول فقه لـه نظره ، دصحابی ، اوتابعی قول که دقرآن اودحدیث مقابل راسی ، اوجمع یه ممکن نه وی، اعتبار نه لری، اونه تخصیص دعام، اوتقیید دمطلق په کول کیږی.

ددی نه علاوه دترجیح نور دلائل تخـه پـه دی ډول دی.

۱- په قرآن کریم کی الله عزوجل فرمایی : يَآ أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الأَمرِ مِنكُم. الآية

یعنی تاسو د الله اود هغه درسول اطاعت کوی ، اود داسی أولی الأمر إطاعت کوی چه ستاسو مومنانو دجملی تخه وی. په دی آیت کـــی أولی الأمر مطلق دی، عدالت اویا دگناه نه کول پکښی شرط نه دی.

د أهل سنة والجماعت د عقیدی له مخی ظالم ، فاسق اومرتکب دکبیره گناه کافر اوخارج الملة نه دی ، بلکه مومن دی.

په دی هکله حضرت إمام الطحاوی رحمة الله تعالی علیه چه په مذهب حنفی، اویو لوی محدث، فقیه اومحقق عالم دی، په خپل کتاب عقیدة الطحاوی کی لیکی: وأهل الكبائر من أمة محمد صلى الله عليه وسلم فی النار لايخلدون ، إذا ماتوا وهم موحدون، وإن لم یکونوا تائبين. (۱)

ترجمة: د عقیدی لـه نظره دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم دأمت تخه دلویی گناه خاوندان ددوزخ په اورکی همیشه نه دی ، کله چـه مړه

۱- شـرح عقـیدة الطحاوی ص ۳٥٦

سی دوی موحدین دی ، که څه هم توبـــه نـــه وباسی.

په بل ځای کی دأهل السنة والجماعت عقیده نقل کوی اوفرمــــایی :

ولانکفر أحدا من أهل القبلة بذنب ، مالم یستحله، یشیر بهذا الکلام إلی الــرد ، علی الخوارج القائلین بالتکفیر بکل ذنب: شــرح عقیدة الطحاوی ص ۲۹۵

ترجمة: اوبل دعقیدی له نظره أهل قبله : یعنی هغه کسان چه وقبلی ته لمونځ کوی ، دګناه په خاطر کافر نه بولو، ترڅو چه حلال یه و نه بولی، او په دی کلام سره إشاره کوی ، ورد تــه پر خوارجو باندی، چه په هری ګنــــاه دکفر حکم کــوی، یعنی دګــنـاه پــه کولو ســری کافر بــولی.

دپورتنیو حوالو څخه معلوم سو چه ظالم ، فاسق ، اوده لویی ګنــــاه کونکی ، مومن دی ، چه مومن سو نو په شرعی امورو کی اطاعت هـــم واجب دی : په دی هکله څه نوردلائل پــه لاندی ډول دی.

۲- عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: قال النبی صلـــی الله علیـــه وسلم من رأی من أمیره شیئا فکرهه، فلیصبر، فإنه لیس أحد یفارق الجماعـــة شبراً فیموت، إلا مات میتة الجاهلیة . (۱)

ترجمة: حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما روایت کوی، چه نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چاچه دخپل أمیر څخه داسی شي ولیدی ، چه ده ته ناخوښــــه وو ، نوصبردی وکړی ، ځکه نسته هیڅ یوڅوك چه دجماعت

۱- صحیح البخاری حدیث نــمبر ۶۶۱۰ کتاب الأحکام

څخه یوه لویشت جداسی ، او مړسی ، مګر مړسو لکه دجاهلیت مړی ، چه اسلام پـه بیخی راوړی نـه وی.

٣- عن بن عباس رضی الله عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم قـال من کره من أمیره شیئا فلیصبر، فإنه من خرج من السلطان شبراً، مات میتـة الـجاهلـیة . رواه مسلم حـدیث نـمبر ٣٤٣٩ کتاب الإمارة

ترجمة: حضرت ابن عباس رضی الله عنهما روایت کوی، چـه نبـی صلی الله علیه وسلم وویل: څوك چه دخپل أمیر یوشیئ ناخوښه بولی، هغـه دی صبر وکړی، ځکه څوك چه دسلطان، یاحکم، یاأمیرڅخه یوه لویشـت ووتی، او مړسو، داسی مړسو، لکه دجاهلیت مړی .

٤- عن عوف بن مالك رضی الله تعالی عنه ، عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال : خیار أئمتکم الذین تحبونهم ویحبونکم ، وتصلـون علیهـم ویصلون علیکم ، وشرار أئمتکم الذین تبغضونهم ویبغضونکم ، وتلعنونهـم ویلعنونکم ، فقلنا : یارسول الله أفلا ننابذهم بالسیف عند ذالك ؟ قـال: لا ماأقاموا فیکم الصلوة ، لاما أقاموا فیکم الصلوة ، ألا من ولی علیه وال ، فرآه یأتي شیئا من معصیة الله ، فلیکره مایأتي من معصیة الله ، ولاینزعن یداً مـن طاعـته . رواه مسلم حـدیث نـمبر ٣٤٤٨ کتاب المناقب

ترجمة: حضرت عوف بن مالك رضی الله تعالی عنه روایت کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: غوره اوښـه ستاسو د أمیرانو هغه

ښوونکي دي، چه تاسو ددوی سره محبت کوی، اودوی له تاسو سره محبت کوی، تاسو ودوی ته دوعاوی کوی ، اودوی وتاسوته دوعاوی کوی، اوشر ستاسو د إمامانو هغه کسان دي چه تاسو د دوی سره بغض اوعداوت لری ، اودوی له تاسو سره بغض اوعداوت لری، تاسو پردوی لعنت واياست اودوی پرتاسو لعنت وايي، نوموږ ورته وويل أی د الله تعالی رسوله! په داسی وخت کی موږ ددوی سره په توره جنګ نه کوو؟ ده وويل : نه ترڅو چه دوی په تاسو کی لمونځونه کوی ، نه ترڅو چه دوی په تاسو کی لمونځ کوی، او خبر اوسی که څوك پر چاباندی والی اوأمير سو، اوده وليدی چه هغه د الله تعالی نافرمانی يا ګناه کوی، هغه ګناه دی بده بولی خودطاعت څخه دی لاس نه کاږی.

٥- عن سالم بن عبد الله بن عمر، أن عبد الله بن عمر حدثه ، أنه كان ذات يوم عند رسول الله صلى الله عليه وسلم ، مع نفر من أصحابه ، فأقبل عليهم رسول الله صلى الله عليه وسلم ، فقال: ياهؤلاء ! ألستم تعلمون أني رسول الله إليكم ؟ قالوا: بلى نشهد أنك رسول الله، قال: ألستم تعلمون أن الله أنزل في كتابه من أطاعني فقد أطاع الله ؟ قالوا: بلى نشهد أنه من أطاعك فقد أطاع الله، وان من طاعة الله طاعتك، قال: فإن من طاعة الله أن تطيعوني، وإن من طاعتي أن تطيعوا أئمتكم ، أطيعوا أئمتكم ، فإن صلوا قعوداً فصلوا قعوداً . رواه مسند أحمد ، حديث نمبر ٥٤٢١

ترجمة: سالم بن عبد الله بن عمر وایی: چه عبد الله بن عمـــــر دد تـه حدیث بیان کړی ، چه یود ورځ دځونفرو اصحابوسره درسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم پردوی مـــخ راوګرځاوه، او ورته وئی ویل: ای خلقو! أیا تاسونه یاست خـــبر چـــه زه وتاسوته د الله رسول یم ؟ دوی ورته وویل: هو موږ شاهدی وایو چه تــه د الله رسول یی، ده ورته وویل: أیاتاسو نه یاست خبر چه الله په خپل کتـــاب کی نازل کړی دی، څوک چه زما اطاعت وکړی هغه د الله اطاعت وکړی دوی ورته وویل: هو موږ شاهدی وایو چه څوک ستا اطاعت وکړی، هغه د الله اطاعت وکړی، اودا چه د الله د اطاعت څخه ستا اطاعت دی، ده ورته وویل: چه د الله د اطاعت څخه زما اطاعت دی ، اوزما د اطاعت څخه دا دی، چه دخپلو إمامانو أمیرانو اطاعت کوی ، خپل د امامانو أمیرانو اطاعت وکړی، که دوی په ناسته لمونځ کوی ، تاسو په ناسته لمونځ کوی.

٦- ولانری الخروج علی أئمتنا وولاة أمورنا وإن جاروا ، ولاننزع یدا من طاعتهم ، ونری طاعتهم من طاعة الله مالم یأمر بمعصیة ، وندعـــو لهـــم بالصلاح والمعافاة، وأما لزوم طاعتهم وإن جاروا، فلأنه یترتب علی الخـــروج من طاعتهم من المفاسد أضعاف مایحصل من جورهم ، بل فی الصبر علـــی جورهم تکفیر السیئات ومضاعفة الأجور، فإن الله تعالی ماسلطهم علینـــا إلا لفساد أعمالنا ، والـــجزاء من جنس العمل ، فعلینـــا الاجتهاد فی الإستغفار

والتوبــة، وإصلاح العمل. شرح عقيد الطحاوي ص ۳٦۸

ترجمة: حضرت إمام الطحاوي رحمة الله تعالى عليه په خپــل کتــاب عقيدة الطحاوي کې ليکي : موږ أهل السنة والجماعت دخپل عقيدې له مخې پرخپلو إمامانو اوأميرانو باندې راوتل جائز نه بولو، که څه هــم دوی ظلــم کوي ، اونه ودوی ته ښراکوو، اونه ددوی داطاعت څخــه لاس کــاږو، اوددوی اطاعت داسې بولو، لکه د الله تعالی اطاعت، ترڅوچه په ګناه يــه أمر کړی نــه يــو، او دوی تــه داصلاح اوعفوی دوعاکوو.

داچه د أميرانو اطاعت دظلم سره لازم بولو، ځکه ددوی داطــاعت څخه پرو تلوباندې ددوی ترظلم څوچنده مفاسد مرتب کيږي ، (لکه قتــل خرابي اوبربادي اوداسې نور) او ددوی پرظلم باندې صبرکولو سره ګناهونه رژيږي ، اوثواب يه زياتيږي، ځکه الله تعالی دوی زموږ دفاسدو اعمالو پــه وجه په موږ مقرر کړي دي، او داجزا دعمل دجنس دد، پر مــوږ لازم دي چه په توبه ، اسغفار او دعمل په اصلاح کې کوشش وکړو.

ځکه الله تعالی په قرآن کريم کې فرمايي : وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّــي بَعْــضَ الظَّالِمِينَ بَعْضًا بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ . الأنعام الآيــة ۱۲۹

ترجمة: هم داسې مسلط ګرځوو موږ، ځينې ظالمان پر ځينو نورو ، په سبب دهغو اعمالو چــه وو دوی کول بــه ئې.

۷- بل دا چه زکات دمانځه پــه شان يوه فريضه دد ، دمانځه په هکله

دامام ابوحنیفة، او نورو إمامانو رحمة الله تعالی علیهم مذهب دادی ، چه په هر ظالم اوفاسق پسی جائز اورروادی ، څکه په حدیث کی راځی: عن أبی هریرة رضی الله عنه قال قال: رسول الله صلی الله علیه وسلم الصلوة المکتوبة واجبة خلف کل مسلم، براًکان، اوفاجراً، وإن عمل الکبائر .أبی داود، الصلوة (۵۰۲)

ترجمة: أبوهریرة رضی الله تعالی عنه روایت کوی: چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: فرض لمونځ واجب دی ، په هر مسلمان پسی، ښه اوکه بدوی، که څه هم لوی ګناهونه کوی.

دپورتنی حدیث څخه یودا معلومیږو : چه د لویی ګناه سره ورته مسلمان ویل سوي دی، اوبل داچه دلمونځ په شان مهم عبادت پسی جائز اورروادی ، نوإطاعت اومالي واجبات ورکول هم جائز اورروادی.

دپورتنی تحقیق څخه معلومه سوه، چه د أمیر په خلاف دظلم، فسق اوګناه په وجه بغاوت کول ، اویا په شرعی امورو کی اطاعت نه کول دأهل السنة والجماعت دعقیدی خلاف دی .

اوبل دا که ظالم یافاسق أمیر ته زکاتونه اوعشرونه ورنه کول سی ، نوهغه مجبوردی چه دحکومتی اودولتی مصارفو دپوره کولولپاره، دخلقو سره زور وکړی ، اوترشرعی حق زیات مالیات پرمقرر کړی ، دیوه طرفه به شرعی حقوق وفقیرانو اویا ملایانو ته ورکوی ، اودبله طرفه به د أمیر مالی ضرورتون به هم ورپوره کوی ، اودابه پرخلقو نور إضافی بارسی

او کیدایسی دټولنی خلق ددی توان ونه لری ، نوأمیران به په ظلم ، اورعایابه په بغاوت اخته سی، اودادواړه داسلامی شریعت له نظره ناجائز اوحرام دی.

اوبل داچه دزکات هغه مقاصد، اوحکمتونه چه موږ مخکی بیان کړل، بیله أمیره څخه نسی پورا کیدلای ، څکه که خلق زکات نه ورکوی فقیر به په زور نه سی اخستلای، اوپه خلقو کی کسالت راځی، اوپه ټولنـــه کـــی غربت ډیریږی ، اواسلامی حکومت د افلاس اوغربت سره مـــخ کیږی، اواقتصادی ضعف ددفاعی ضعف اوداسی نوروسبب گرځی.

۳ - دبیت المال دمواردوڅخه غنیمت دی.

غنیمت عربی کلمه ده، په لغت کی هغه مال ته ویل کیږی، چــه ددښمــن څخه حاصل سی، اودشریعت په اصطلاح کی هغه مال ته ویل کیږی، چــه مسلمانان ئی دجهاد اوغلبي پــه ذریعه دکافرانو څخه لاس تــه راوړی.

په دی هکله الله عزوجل فرمائی: وَاعلَمُوا أنَّمَا غَنِمتُم مِّن شَيءٍ فَأَنَّ لِلهِ خُمُسَهُ وللرَّسُولِ، ولِذِی القُربَی، وَالیَتَمَی، وَالمَسَاکِینِ وَابنِ السَّبِیلِ، إن کُنتُم آمَنتُم بِالله، وَمَا أَنزَلنَا عَلَی عَبدِنَایومَ الفُرقَانِ یَومَ التَقَی الجَمعَانِ، وَاللهُ عَلَی کُلِّ شَيءٍ قَدِیرٌ. ســـورة الأنفال آیـــة ٤١

ترجمة: پوه سیږ ای مسلمانانو! بیشکه هرغه شئ چــه پــه غنیمــت واخیست تاسی له کفارو په غلبه سره، نوبیشکه الله لره دی (حکم کول په) خمس دهغه کی، اود غه خمس ثابت دی لپاره درسول د الله، اولپاره دیتیمانو،

اوليارهٔ دمسکينانو محتاجانو. اوليارهٔ دمسافرانو، اوپاتي څلوربرخې دې ليــارهٔ دغازيانو ، اوصبر وکړئ پر دغه تقسيم ای مقاتلانو! که ايمان لرئ په الله او په هغه آيتونو چه نازل کړېدی موږ پر بنده خپل په ورځ دفيصلې ، دحق دباطل څخه، هغه ورځ چه مخامخ سولې دواړی ډلې، او الله پرهرشي باندی چه اراده وفرمايي، ښه قادردی چه :هغه دجملې څخه دلږو غلبه ده پر ډېرو. (۱)

په دې آيت کې دغنيمت دمال حکمونه، او د هغه دتقســـيم قـــانون ذکر دی، دلته يوی خبری ته اشاره کوم، هغه دا چه څنی کفاربه دا وائـــی، چه ديو بل شخصي مال اوملکيت، بيله کومه عوضه ديوبل جـــا ملکيـــت څنګه ګرځي؟

موږد اسلامي عقيدی، اونظريی مطابق داسې توجيه کوو، چه دټــول کائناتو اصلي مالک صيرف هغه حق الله تعالی دی، چا چه پيداکړي دی، اود انسان ملکيت پر يو شي باندی، صرف په يوه طريقه دی، چه الله تعالی ئـــی دخپل قانون په ذريعه دچا ملک وګرځوی، لکه په دې آيت کـــې چـــه الله تعالی فرمائي: أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا خَلَقْنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَا أَنْعَامًـــا فَهُـــمْ لَهَـــا مَالِكُونَ. ســـورة يسين آيـــة ۷۱

ترجمة: آيا دا خلک نه وينې چه کومې څاروی موږ په خپلو لاســـونو سره جوړې کړې، بيا خلک ددوی مالکان جوړشول، مطلب دا چه ددوی

۱- تفسير کابلي ص۱۱۰۳ ج۲

ملکیت ذاتي نـــه دی، مو په ـــه خپل فضل سره دوی مالکان جوړ کړل.

کله چه یوقوم د الله تعالی نه بغاوت کوی ، یعنی په کفر او شرك اخته سي، نواول الله تعالی د دوی د اصلاح لپاره خپل رسولان او کتابونه لـــیږی، کوم بدبخته چه د الله تعالی ددی انعام نه هم متأثرنه سی ، نو الله تعالی خپلـــو رسولانو ته ددوی په مقابله کی دجهاد او جنګ حکم ورکـــړی، چــه ددی حاصل دا وی چـــه ددغو باغیانو سر اومال ټول مباح کړه سی، ددوی د الله تعالی په ورکړی مال کی دنفع اخستلو حق پاته نه سی، بلکه ددوی مالونـــه په حق دسرکار ضبط کړه سی، د دغو ضبط سوو مالونو بل نوم مال غنیمت دی ،کوم چه دکفارو دملکیت نه وزی، اوخالص د الله تعالی په ملکیت کی پاته سی، ددی ضبط سوومالونو دپاره د پخوا زمانی څخه د الله تعالی قانون دا راغلی وو، چه ددی څخه به چا ته دفائدی اخستلو إجازه نه وه، بلکه داسی مالونه بـــه پـــه یومیدان کی ایښودل کیدل، اودآسمان نه بـــه اور راتلـــی، اودغـــه بـــه ئی سوځله همدغـــه دجهاد دقبلیدلو نـــخښه وه.

د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دخصوصیاتو څخه یو دادی، چه مال غنیمت دده دامت لپاره حلال کړه سو، په دی هکله په بخاری شریف کـــی دحضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه څخه یومفصل حدیث را نقل سوید ی چه د هغه په آخر کی داسی الفاظ راغلی دی ثُمَّ أَحَلَّ اللهُ لَنَـــا الغَنَـــائِمَ رَأَى ضُعفَنَا وَعَجزَنَا فَأَحَلَّهَا لَنَا. مختصر صحیح البخاری ص ۲۹۸حدیث ۱۳۲٦

یعنی کله چه الله تعالی زموږ ضعف، او عجز ولیدی، نو موږ ته ئــی غنائم حلال کړل، او حلال هم داسی چه په ټولو مالونو کی پاك مال ورته ویلایسو، وجه ئی داده، کوم مال چه انسان په کسب سره حاصلوی، په هغــه کــی دانسانانو د ملکیت واسطه په واسطه نقلیدل وی، د بل سړی مال دده پــه ملکیت کی راځی، او په دی واسطو کی حرام یا مکروه طریقه احتمال لری، دمال غنیمت څخه چه کله د کفارو ملکیت ختم سی، نو د الله تعالی پــه ملك کی راځی، او بیا چه چاته رسیږی، نو د الله تعالی دملك څخه ورته رسیږی، چــه پــه دی کی د حرام یا دمکروه هیڅ شبه نــه وی. (۱)

دغنیمت دمصرف ځایونــه

لکه چه ودمو ویل داسلامی بیت المال دموارد و څخه یو مال غنیمـــت دی، ددی دمصرف ځایونه هم الله تعالی په قرآن کریم کی په دی ډول ښــودلی دی: وَاعلَمُوا أَنَّمَا غَنِمتُم مِّن شَيءٍ فَإِنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِــذِي القُربَــى وَاليَتَمَى وَالمَسَاكِينِ وَابنِ السَّبِيلِ.إِن كُنتُم آمَنتُم بِاللَّهِ وَمَآ أَنزَلنَا عَلَى عَبدِنَا يَــومَ الفُرقَانِ يَومَ التَقَى الجَمعَانِ.وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيءٍ قَدِيرٌ.ســورة الأنفال آيــة ٤١

ترجمه: او پوه شی ای مسلمانانو، بیشکه هر هغه شی چه په غنیمـــت واخست تاسی له کفارو په غلبی سره له پوه شی نه بیشکه الله لره دی حکم کول په خمس د هغه کی، او دغه خمس ثابت دی لپاره د رسول د الله، او لپاره

۱- تفسیر معارف القرآن پښتو ترجمه ص۳ ج ٤

دخپلوانو د رسـول الله، او لپاره دیتیمانو، او لـپاره دمسکینانو محتاجانو، او لپاره دمسافرانو، (او پاتی څلور برخي دی لپاره دغازیانو) اوصبر وکړی پسر دغه تقسیم ، ای مقاتلانو! که ایمان لری په الله، او په هغه آیتونو، او یا پـه ملائکو، یا نصرت چه نازل کړې دی موږ پر بنده خپل په ورځ دفیصلی کی دحق له باطل څخه، (چه د بدر ورځ وه) هغه ورځ چه سره مخامخ سـولی دواړی ډلی، او الله پرهر شي چه اراده وفرمائی بنه قادر دی، چـه څینی ئی غلـبه دلـږو پـر ډیـرو ده.

تفسیر: ددی سورت په ابتداء کی ئی فرمائلی دی: يَسْـــئَلُونَكَ عَـنِ الأَنفَالِ. قُلِ الأَنفَالُ لِلّهِ وَالرَّسُولِ. آیــة ١

ترجمه: پوښتنه کوی دوی له تا نه ای محمده! له حکمه دغنائمو څخه، ووایه دوی ته چه اموال دغنیمتونو خاص الله لره دی، او رسول د الله لره دی.

أنفال جمع دنفل ده او غنائمو ته ویل کیږی، دی ته ځکه نفل وایی چه دا درب العزة دفضل او رحمت محض عطاء ده.

په دا وروستی آیت کی الله عزوجل فرمائی چه مال غنیمت ټوله د الله او دهغه درسول دی، ځکه چه مسلمانانو ته غلبه ورکول صرف د الله کار دی، نو ددی په نتیجه کی چه کوم مال لاس ته راځی، نو هغه هم د الله حق دی، کله چه دا ثابته شوه چه غنیمت د الله حق دی، نو بیا په هغه لمړنی آیت کی الله عزوجل د هغه تقسیم وکړی، چـه مال غنیمت پنځه حصی کیږی،

څلور حصې دغازیانو او جنګ کونکو حق دی، او یوه پنځمه حصه به په دی دول تقسیموی، کوم چه الله عزوجل په لمړنی آیت کی په تفصیل سره بیان کړیدی؛ هغه دا چه پنځمه برخه د الله نیاز دی چه رسول الله ته د الله جل جلا له دنائب په حیث رسیږی، او دی ئی په دغه پنځو مصرفونو لګوی.

۱- پـه خپل ځان بانـدی.

۲- پر خپلو خپلوانو باندی چه بنی هاشم، او بنی عبد المطلب دی چه له پخوا څخه دوی د الله تعالی په لاره کی کار، اودرسول الله صلی الله علیـه وسلم نصرت او امداد کړی دی ، اوداسلام دخاطره اویا یـوازی دقرابـت اوخپلوی له وجهی ئی درسول الله صلی الله علیه وسلم سره مرستی کـړي دی، او دزکات اخستل پـر دوی بانـدی حرام شـوي دی.

۳- پر یتیمانو پلار مړیو بانـدی.

٤- پر مسلمانو محتاجانو بانـدی.

دنبی کریم صلی الله علیه وسلم له وفات څخه وروسته، دخمس ددغو پنځو مصارفو څخه، زموږ حنفیانو په نزد یـوازی یتیمـان، محتاجـان، او مسافران پاته دی، ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات څخـه وروسته، ددوی دزات مصارف نه دی پاته، اونه درسول الله صلی الله علیـه وسلم داهل قرابت هغه برخه پاتی شوی، چه دوی ته درسول الله صلـی الله علیه وسلم دپخوانی امداد اونصرت پـه بـناء ورکول کیده، هوا دمساکینو

اومحتاجانو له هغو برخو نخحه چه دوی ته مقرری دی، درسول الله مبارك مساكين او أهل الحاجت خپلوان بنائی مقدم وگڼل شی.

دځينو علماؤ په نزد درسول الله صلی الله عليه وسلم تر رحلت وروسته، دأمير المؤمنين دمصارفو لپاره بنائی چه خمس الخمس ورکړل شی. والله أعلم. تفسير كابلی ص١١٠٤ ج٢

دأحنافو دمذهب په يوډيرمعتمد كتاب الهداية کی په دی هکله داسی ليکی : وأما الخمس فيقسم على ثلاثة أسهم سهم لليتامى، وسهم للمساكين، وسهم لابن السبيل، يدخل فقراء ذی القربی فيهم، ويقدمون ولايدفع إلی أغنيائهم، ولنا أن الخلفاء الأربعة الراشدين، قسموه على ثلاثة أسهم على نحوما قلناه. الهداية ص٢٧٠ ج٢

ترجمه: كوم چه خمس دغنيمت دی، په دری حصی ويشل کيږی، يوه حصه دمسکينانو، او يوه حصه دمحتاجانو، اويوه حصه دمسافرانو لپاره ده، دنبی كريم صلی الله عليه وسلم فقير قريبان په همدغو فقيرانو کی شامل دی، او أغنياؤ ته ئی نه ورکول کيږی، او وائی چه زموږ لپاره دليل دخلفاء راشدينو تقسيم دی، چه هغوی هم پر دغه درو ډولو ويش کړی دی، لکه څرنگه چه موږ وايو. په پورته ډول دغنيمت دخمس دمصرف كولو بيان په پوره ډول وشو، دا چه هغه پاتی څلور برخی د غانيمينو په منځ کی څه ډول تقسيميږی، د هغه تفصيل دفقهی په كتابونو کی ليکل شوی دی، دضرورت

په وخت کی دی هغو تـه مراجعه وسی.

٤- دبیت المال دموارد و څخه جزیه دد.

جزیه عربی لفظ دی معنی یه بدله اوجزاء ده، دشریعت په اصطلاح کی هغه مال ته ویل کیږی، چه دکفارو څخه د وژلو پـه بدله کی اخیستل کیږی.

کله چه مسلمانان دجهاد په نتیجه کی دکفارو پریومنطقه غالب سی، اوهغه منطقه داسلامی حکومت ترکنټرول لانـدی راسی، دهغه منطقی کافر اوسیدونکوته دری لاری سته، یابه اسلام راوړی، یابه وژل کیږی، یابه دخپل سرپه بدل واسلامی حکومت ته جزیه ورکوی اواسلامی حکومت بـه دوي ته امان ورکوی ، ددوی دسر اومال حفاظت بـه کوی.

دوجوب دلائل: اول الله عزوجل په قرآن کریم کی فرمائی: وَقَـاتِلُوا الَّذِينَ لَايُؤمِنُونَ بِاللهِ، وَلَا بِاليَومِ الآخِرِ، وَلَايُحَرِّمُونَ مَا حَـرَّمَ اللهُ، وَرَسُـولُهُ، وَلَايَدِينُونَ دِينَ الحَقِّ، مِنَ الَّذِينَ اُوتُوا الكِتَابَ، حَتّى يُعطُوا الجِزيَةَ، عَن يَدٍ وَّهُم صَاغِرُونَ. سـورة التوبـة آيـة ٢٩

ترجمه: وجنګیږی د هغو کسانوسره، چه نه راوړی ایمان پر الله او نه پر ورځی آخری باندی، اونه حرام ګڼی هغه چه حرام کړی دی الله، په قـرآن کی، اورسول د الله په حدیثونو کی، او نه قبلوی دوی دین حق د اسلام، دغه مذکورین د هغو کسانو دی، چه ورکړه شویدی دوی ته کتاب ، جنګ ورسره کوی ترهغو پوری ، چه ورکړی دوی جزیه له خپله لاسه،حال داچه

دوی ذلیل وی. تفسیر کابلی ص١١٦٥ ج٢

مطلب دا چه کفر اوشرك د الله اود هغه د رسول څخه بغاوت دی، او ددی اصلی سزا قتل دی ، مگر الله عزوجل پخپل کامل رحمت سره ددوی په سزاکی رعایت وکړ، هغه دا که دوی داسلامی حکومت رعایا جوړ شـی، اوتر اسلامی قانون لاندی اوسیدل قبول کړی ، نود دوی څخه څـــه مـــال دجزیی په توگه احستل کیږی ، اود مسلمانانو په شان به، ددوی دسر، مال، اوعزت حفاظت به داسلامی حکومت ذمه واری وی، اوهم به ددوی پــــه مذهبی عاداتوکی مداخلت نــه کـیږی.

دا چه په آیت کی الله عزوجل فرمائی (عَن یَدٍ) حرف عَن په معنـــی دسبب او یَد په معنی دغلبی اوقوت دی، یعنی دا جزیه به دسوال یاخیرات په ډول نه وی، بلکه داسلامی غلبی دمنلو، او ددی لاندی داوسیدلو په طور به وی، (وَهُم صَاغِرُونَ) دا جزیه به ددوی دذلت علامه وی، ترڅو دوی بیـــا داسلام دتخریب کوشش ونکړی.

په دی حکم کی ټول کفارداخل دی، غیرد عربو دمشرکانوڅخه یعنی دعربو مشرکانو څخه جزیه نه احستل کیږی، بلکه د هغوی لپاره دوی لاری دی، اسلام یا قتل هغوی پــه جزیـــة نــه خلاصیږی . (١)

دوهم دلیل: عن ابن شهاب قال بلغنی أن رســـول الله صلی الله علیه

١- معارف القرآن پښـــتوترجمه ص ١٨٢ ج ٤

وسلم أخذ الجزية من مجوس البحرين ، وأن عمر بن الخطاب أخذها من مجوس فارس ، وأن عثمان بن عفان أخذ من البربر. (٢)

ترجمة: ابن شهاب ، رضی الله تعالی عنه فرمایی: چه ماته رسیدلی ده، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دبحرین دمجوسو نخخه جزیة اخستله، اوحضرت عمر بن الخطاب دفارس دمجوسو نخخه اخستله ، اوحضرت عثمان بن عفان دبربر قوم نخخه اخستله.

دریم دلیل : عن سلمان بن بريدة عن أبيه قال كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذابعث أميرا على سرية، اوجيش أوصاه في خاصة نفسه بتقوى الله ومن معه من المسلمين خيرا ، وقال: اغزوا بسم الله في سبيل الله، قاتلوا من كفر بالله، اغزوا ولاتغلوا، ولاتغدروا، ولاتمثلوا، ولاتقتلوا وليدا، فإذا لقيت عدوك من المشركين، فادعهم إلى إحدى ثلاث خصال أوخلال، فأيتهن ما أجابوك إليها، فاقبل منهم وكف عنهم، ادعهم إلى الإسلام، فإن أجابوك فاقبل منهم، ثم ادعهم إلى التحول من دارهم إلى دارالمهاجرين، واعلمهم إن هم فعلوا ذالك أن لهم ماللمهاجرين، وأن عليهم ماعلى المهاجرين، فإن أبوا واختاروا دارهم ، فاعلمهم أنهم يكونون كأعراب المسلمين يجرى عليهم حكم الله الذى يجرى على المومنين ، ولايكون لهم فى الفئ والغنيمة نصيب إلا أن يجاهدوا مع المسلمين ، فإن هم أبوا فادعهم إلى اعطاء الجزية، فإن أجابوا فاقبل

٢- موطأ مالك حديث نمبر٥٤٣

منهم وكف عنهم، فإن أبوا فاستعن الله ثم قاتلهم. (١)

ترجمة: سلمانبن بريده دخپل پلار نخخه روایت کوی، چه رسـول الله صلی الله علیه وسلم به کله څوك دیو تولۍ یافوج أمیر مقرر کړی، خـاص ده ته به ئی داسی وصیت کاوه چه د الله تعالی نخخه وبیریږه، خپل دمخان پـه هکله اودهغه مسلمانانو په هکله چه ستاسره درسره دی په خیرسره، اوورتـه ویل به یې چه غزاکوی د الله په نوم، د الله په لاره کی، دکافرانو سره جنګ کوی، غزاکوی خیانت، غدر، مثله، مه کوی، اوکوچنیان مه وژنی، کله چه دمشرکانو دښمنانو سره مخامخ سی، نودوی ودرو خویوته راوبولی، ددغه درونخخه چه هریو قبول کړی، نوته ددوی نخخه مخ واړوه، اوددوی نخخـه بند سه، ١- دوی اسلام ته راوبوله، که دوی دا ومانه نوته ددوی نخخه مخ واړوه، بیا دوی ته وایه چه دخپل وطن نخخه د اسلام وطن تـه هجـرت وکړی، اودوی ته دا وښیه که دوی هجرت وکړی، دوی ته به هغه څـه وی، کوم چه مهاجرینوته دی، اوپردوی به هغه څه وی کوم چـه پرمهـا جرینو دی، که دوی انکار وکړی خپل وطن یه غوره کړی، بیا دوی تـه وښیه چه تاسوبه داسی یاست لکه دمسلمانانو عرب، پرهغوی د الله هغـه حکمونه جاری کیږی، کوم چه پر مومنانو جاری کیږی، خودوی ته به دفیئ اوغنیمت نخخه حصه نه وی، مگرنه په هغه صورت کی چه دمسلمانانو سره

١- رواه مسلم، ومسند أحمد حدیث نـمبر ٣٢٦١ - ٢١٩٠٠

یوځای جهادو کړی. ۲- که ددی څخه انکار وکړی نو بیادوی ته ووایه چه جزیة به راکوی، کی ومنل نومخ ځنی واړوه اوځان ځنی بند کړه. ۳- اوکه ئی انکار وکړی، نوپه الله تعالی سره کومك وغواړه، بیا جنګ ورسره وکړه.

دپورتنی دلائلوڅخه معلومه سوه چه جزیه د دوی دنه وژلـــو اویـــا دحفاظت بدلــه ده، داسلام بدلـــه نـــه ده.

ملاحظة: ځه ملحدانوبه اعتراض کاوه چه مشرك ته دمال په مقـــابل ځنګه د شرك کولو اجازه ورکول کیږی، کیدایسی وزنا کارته هم د مال په مقابل کی دزنا اجازه ورکول سی ؟

جواب دادی: چه اصل مقصود مال نه دی، بلکه مقصود دعوت دی، چه دی جزیه ومنی، اودمسلمانانوپه منځ کی پاته سی، داسلام محاسن دنژدی وونی، کیدایسی مسلمان سی. فتح القـــدیر ص ۲۸۸ ج ۵

دجزئی مقدار: که دمسلمانانو دامیر اودکفارو تر منځ موافقه وشوه، هر څومره چه وی هغه مقدار په کال کی یوځل اخستل کیږی، لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چه د نجران دخلقو سره وکړه، ترموافقی نه زیـــات اخستل حرام دی، اوکه دموافقی صورت نه ؤ، بیا دکسب کونکی فقـــیر څخه په کال کی دوولس درهمه، اودرمیځنه مالدارڅخه څلورویشت درهمه، اودډیرمال لرونکی څخه اته څلویښت درهمه، اخستل کیږی.

دجزیی شرطونـــه

ويشترط لوجوب الجزية العقل ، والبلوغ ، والذكورة ، والسلامة.

دجزيې دوجوب لپار عقل ، بلوغ ، نروالي ، جوړوالي شرط دی.

يعنې دليوني ، کوچني، ښځې، بې کسبه مسکين ، گوډ ، ړوند، شل سپين ږيری ، اوددوی دراهبانو عالمانو څخه نـه اخستل کيږی.

اوکه مړسی ، يامسلمان سی، اويا اسلامی حکومت دده دحفـاظت کولو څخه عاجزسو بيا هم جزيه نه ځنې اخستل کيږی ، کله چه دشام پـه څه منطقوکی اسلامی فوج د ذميانودحفاظت څخه عاجز سو، نوحضـرت عبيده بن جراح رضی الله تعالی عنه برته جزيه ور ردکړه، هم داشان حضرت خالـد ابن وليد رضی الله تعالی عنه دحيرة دنصاراو سره داسی معاهده وکړه (فإن منعناکم فلنا الجزية وإلا فلاحتی نمنعکم) يعنی که موږستاسوڅخه دفاع وکړه نوموږته به جزيه راکوی، اوکه نه ترهغوبه يه نه راکوی ترڅـو مـوږ ستـاسـو څخه دفاع کوو.

دجزيې دوجوب وقت

وتجب الجزية فی آخر کل سنة، وتؤخذ فی آخرها، وعند الحنفية تجـب فـی أولـها وتؤخذ فی آخرها. أصـول الـدعـوة ٢٥٢

يعنی جزيه دکال په آخرکی واجبيږی ، اودکال په آخرکی اخسـتل کـيږی ، داحنافو پـه نزد دکال په أول کی واجبـيږی ، دکال په آخرکی اخستل کـيږی.

٥- دبیت المال دموار دو څخه فیئ دی.

فیئ عربی کلمة ده، لفظی معنی ئی ده واپس کیدل، اودشریعت په اصطلاح کی فیئ هغه مال ته ویل کیږی، کله چه کفار دمسلمانانو دقـــوت څخــه مرعوب (وویرېږی) اومغلوب سی ، اووتښتی خپل مالونه پرېږدی.

دلفظی اوشرعی معنی ترمنځ مناسبت دا ده ، چه د اسلامی عقیدی له مخی دټولو مالونو مالك الله عزوجل دی ، چه ځانته ئی خوښه سی هغه ته ئی ورکوی ، نودکفارو دباغی کیدو په وجه ددوی مالونه ددوی دملکیت څخه وزی ، بیا مالك حقیقی الله ته واپس شی ، نوځکه ورته فیئ وائی.

په دی هکله الله عزوجل په قرآن کی فرمائی . وَمَا أَفَـــاءَ اللهُ عَلَـى رَسُولِه مِنهُم فَمَا أَوجَفتُم عَلَيهِ مِن خَيلٍ وَلَا رِكَابٍ، وَلَكِنَّ اللهَ يُسَلِّطُ رُسُـــلَهُ عَلَى مَن يَشَاءُ، وَاللهُ عَلَى كُلِّ شَيءٍ قَدِيرٌ. ســـورة الحشر آيــة ٦

ترجمة: اوهغه مال چه راگرځولی دی الله عزوجل پرخپل رسول باندی دمالو ددوی ، پس نه وځغلولی تاسی پردوی هیڅ آس اونه هیڅ اوښ، لکـــن الله مسلط کوی (بری ورکوی) رسولانو خپلوته ، پرهغه چا باندی ، چه الله اراده ورته وفرمائی ، او الله پرهرشی ښه قادردی، چه د یودهغـــوی څخــه ددوستانو غلبه ده پردښمنانو باندی، دفیئ او غنیمت ترمنځ فرق: فـــرق دادی: دکفارو کوم مالونه چه بیله جنگ اوجگړی څخه دمسلمانانو لاس ته راځی، هغه ته فیئ وائی، اوکوم مالونه چه دجنگ اوجگړی پـــه میدان کی په لاس

راځي ، هغه تـــه غنيمت وايي.

دفئ دمصرف ځايونه

دا چه دبيت المال دمواردو څخه يو فئ دی ، او الله تعالی مقرر کړي دی، نو دغنيمت اوزکوة په شان يه د دغه مال تقسيم هم خپله الله عزوجل په قــرآن کريم کی کړي دی: مَا أَفَاءَ اللهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُـــولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ كَي لَايَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَـــاءِ مِنْكُمْ. ســورة الحشر آيــة ۷

ترجمه: هغه شي چه راګرځولی دی ، الله پر رسول خپل باندی ، لــه مالونه د اهل قريو "کليو" بي له جنګه ، نو هغه دی الله لره اودرســول د الله لره، او دغه مالونه دی يتيمانو لره، او مسکينانو لره او مسافرانو لره، مقــرر کړيدی الله دا قسمت لپاره ددی، چه ونه ګرځی دغه اموال دولت په مينـــځ دغنيانو کی له تاسی څخه، چه له خپله حقه څخه زيات واخلی ، او فقراؤ ته لږ ور کړی.

دفئ مالونه ټول لکه دغنيمت دمالونو دپنځمی حصی په شان په پنځه صنفه مستحقينو باندی تقسيم کيږی. دا چه دغنيمت دآيت او ددی آيت په سر کی لفظ الله راغلی دی، صرف دی ته اشاره ده چه دا ټول مال په اصل کی د الله تعالی دی ، دده له طرفه مستحقينو ته ورکول کيږی، دا د بجا لخوا صدقه او خيرات ندی، او مصرفونه ئی هم الله تعالی په خپله دا پنځه بيان کړه

۱ - خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم ۲- درسول کریم صلـــی الله علیـــه وسلم قریبان ۳-یتیمان ٤- مسکینان ٥- محتاج مسافران.

خو دنبی کریم صلی الله علیه وسلم تر رحلت وروسته، دمســـلمانانو أمیرکولایشی چه دا مال هم دغنیمت په شان درو صنفونو لکـــه یتیمـــان، مسکینان او محتاج مسافرانو ته ورکړی.

الله عزوجل دا مصارف ځکه راښودلی دی، چه مسلمانانو تل دپـــلار مړیو (یتیمانو) او مجبوروکسانو، او عامو مسلمانانو په پالنه او پوښتنه کـــی متوجه وسی ، او تل داسلامی عمومی ضروریاتو خیال وکړی ، ځکه چـــه داسی مالونه دبډایانو او دولتمندانو راکړه ورکړه، او نورو ګټو دپاره نه دی ، اونه ښایی چه هغه دهغوی دمخصوص ځائیداد په منزله وګرځی ، او بـــوازی بډایان بری مزی وکړی، او خوندونه پر واخلی ، اوغریبان له لوږی ځخـــه مړی ، یا عمومی مصالح خراب او ویجاړه پراته وی . (۱)

٦- مورد رکاز دی.

رکاز هغه مال ته ویل کیږی، چه الله عزوجل دخپلوبندګانولپاره په ځمکـــو اوغرونوکی پټ کړیدی، چه موږ ورته کانونه وایو، اوهغه مال ته ویل کیږی چه تر اسلام نه مخکی دانسانانولخوا په ځمکه کی پټ شـــوی وی، چـــه موږ ورتـــه خزانـــه وایـــو.

۱- تفسیر کابلی ص ۱۳۸۹ ج۲ دوه جلده والا

داسی کان یا خزانه چه هر څوك پیدا کړی ، څلورحصی ئی دپیدا کونکی دی ، اوپنځمه حصه ئی دبیت المال ده، که کان یا خزانه دبوچا په ملکی ځمکه کی پیدا سی ، بیا څلورحصی دځمکی دمالك، اوپنځمه حصه ئی دبیت المال ده، پیداکونکی ته ئی هیڅ شی نشته. (۱)

په دی هکله نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی: وفی الرکاز الخمس. په خزانه کی پنځمه ده صحیح البخاری ص ۱۳۸ ج ۲ طبع بیروت

۷- مورد کراء الأرض.

په اسلامی ټولنه کی هغه بی مالکه ځمکی، چه د هغوی څخه نه عشر اونه خراج اخستل کیږی، دمسلمانانو امیرکولای شی ، چه داسی ځمکی په کلنی اجاره ورکړی ، اود هغه څخه حاصله شوی اجاره، په بیت المال کی ددولتی مصارفو لپاره جمع کړی، اوداسی محاصلو ته کراء الارض ویل کیږی.

دا نظام په لمړنی ځل حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه په عراق کی نافذ کړ ، کله چه عراق دکسریٰ څخه فتح سو، نو حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه دولتی ځمکی، اوهم د هغو کسانو ځمکی چه وتښتیدل، په اجاره ورکړی ، اومحصولات ئی په بیت المال کی جمع کړه. (۲)

۸- مورد عشور. یعنی گمرکی محصول

داسلامی حکومت په لمړنیو کلونو کی، داسلامی حکومت د ګاونډیو ...ګانو لکه

۱- اصول الدعوة ص۲۵۲ عبدالکریم زیدان * ۲- مخکنی مرجع ص ۲۵۸

فارس او روم دا قانون وو، چه کله به مسلمانو تـاجرانو ددوی ملـك تـه دتجارت مال وروړه ، نود هغوی څخه به ئی محصول اخیستی، که په کـال کی دغه تلل راتلل مکرر کیدله ، په هروار به ئی څخـی اخسـتی ، اوددوی تجارانو چه به واسلامی ملك ته دتجارت مال راوړه ، نوددوی څخـه بـه دمسلمانانو لخوا هیڅ محصول نه اخسته کیدی ، پـه دی دول مسـلمانانوته ډیرنقصان و، نودا حال وامیر المؤمنین حضرت عمر فاروق رضی الله تعـالی عنه ته عرض کړه سو، کتاب کی داسی لیکی: کان تجار المسلمین یذهبـون بتجارتهم إلی دیارالحرب ، فیتقاضی منهم أهل البلاد عشر أموالهـم، فکتـب أبوموسی الأشعری إلی عمر رضی الله تعالی عنه: أن تجارا مـن قبلنـا مـن المسلمین یأتون أرض الحرب، فیأخذون منهم العشور، فکتب عمرخذ أنـت منهم،کمایأخذون من تجارالمسلمین، وخذمن أهل الذمة نصف العشر، ومـن المسلمین من کل أربعین درهما درهما، لیس فیمادون المائتین شیئ، فإذاکانت مائتین ففیها خمسة دراهم ومازاد فبحسابه. (١)

ترجمة: مسلمانانو تجارانوبه تجارتی مالونه دکفارو ملکونوته وړل، اوهلته به ددوی څخه لسمه دمال ګمرکی محصول اخستل کیدی، نوأبوموسـیٰ الأ شعری وحضرت عمررضی الله تعالی عنهما ته ولیکل چـه زموږ له طرفـه مسلمان تجاران دکفارو ملکوته ځی ، هلته ددوی څخه عشر(محصول) اخستل

١- الخلفاء الراشدون عبد الوهاب النجار ص ٤٧٩

کیږی، نوحضرت عمرفاروق وده ته ولیکله چه ته ددوی څخه دونه واخله لکه دوی چه دمسلمانو تجارانو څخه اخلی، اوداهل ذمة څخه نصف عشر، (شلم) اود مسلمانانو څخه پرهرڅلویښت درهمه یودرهم، اوچه تردوه سوه کموی، پرهغه شئ نسته، اوپه دوه سوکی پنځه درهمه دی، اوچه تردی زیات سی نوهغه هم په دغه حساب دی.

په بل ځای کی لیکلی دی: روی أبویوسف القاضی: أن جماعة من أهل الحرب من وراء البحر کتبوا إلی عمر بن الخطاب، دعنا ندخل أرضك تجارا وتعشرنا، فشاورعمرأصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم، فأشاروا علیه به، فکان اول من عشر أهل الحرب، وبعث زیاد بن حدیرعلی عشورأهل العراق والشام . (١) الخلفاء الراشدون ص ٤٧٩

ترجمة: دقاضی أبویوسف څخه روایت دی، چه دکفارو یوی ټولی وحضرت عمر رضی الله عنه ته په خط کی ولیکل، موږته إجازه راکړه چه ستاسو په ملك کی تجارت وکړو، اوته زموږ څخه محصول واخله، حضرت عمرفاروق رضی الله عنه درسول الله صلی الله علیه وسلم دأصحابو سره مشوره وکړه، ترمفصل بحث نه وروسته ئی فرمان صادرکړچه تاسو هم ددوی دتجارانو څخه محصول اخلی، نودی اول هغه څوك دی چه پرکافرانو یه محصول مقررکړی، اوزیاد بن حدیر په دعراق اوشام پرلارو د عاشر په توگه مقررکړی.

دمحصول دمقدارپه هکله یه ورته ولیکله: وخذمن أهل الذمة نصف العشر، ومن المسلمين من كل أربعين درهما درهما، ليس فيمادون المائتين شيئ، فإذاكانت مائتين ففيها خمسة دراهم ومازاد فبحسابه. (١)

ترجمة: حضرت عمرفاروق رضی الله تعالی عنه وده ته ولیکله چه ته ددوی څخه دونه واخله لکه دوی چه دمسلمانو تجارانوڅخه اخلی، اوداهل ذمة څخه نصف عشر، (شلم) اود مسلمانانوڅخه پرهرڅلویښت درهمه یودرهم اوچه تردوه سوکموی، پرهغه شئ نشته، اوپه دوه سوکی پنځه درهمه دی، اوچه تردی زیات سی نوهغه هم په دغه حساب دی.

دحضرت عمرفاروق رضی الله تعالی عنه دغه فرمان دټولو مسلمانولپاره دیومستقل قانون حیثیت لری، ځکه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی أصحابی كالنجوم بأيهم إقتديتم إهتديتم. (٢)

زما اصحاب دستورو په شان دی، په هر یوه پسی چه اقتداء وکړی تاسو به هدایت ومومی.

دپورتنی أصولو لاندی په موجوده وخت کی هم مسلمانان دکفارو سره داسی تجارت، کولایسی، چه خپل ټول اسلامی أصول اومعتقدات مراعت به کوی، اوهم دهغوی څخه ګمرکی محصول أخستلایسی.

دمسلمان څخه دګمرکی محصول أخستلو حکم

١- الخلفاء الراشدون عبد الوهاب النجار ص ٤٧٩*٢- مشكوة المصابيح ص٥٥٤

ډیرعلماء کرام په دې هکله وايي، چه محصول بوازې دحربي کافرڅخه اخستل کېږي، دمسلمان څخه نه اخستل کېږي، ځکه دغه پورتني عبارتونه ټول پردې دلالت کوي، چه دکافرڅخه اخستل کېږي، خودمسلمان څخه به نه اخستل کېږي، ځکه أول داقول دحضرت أبوموسی الأشعري چه وایي: أن تجارا من قبلنا من المسلمين يأتون أرض الحرب فيأخذون منهم العشر يعنې زموږ له طرفه مسلمانان تجاران دکفارو ملك ته ځي هغوی زموږد تجارانوڅخه محصول اخلي، په دې هکله موږته څه هدايت کوی ؟.

دقاضي أبويوسف رح دقول څخه هم داسې معلومېږي، ځکه په هغه کې هم دادې چه کفارودحضرت عمرڅخه اجازه وغوښتله، اوحضرت عمرهم د دوی په باره کې دصحابه کرام رضوان الله تعالی عليهم سره مشوره وکړه، اوصحابه کراموهم صرف ددوی په هکله مشوره ورکړه.

بل داچه دمسلمانانودمالونو لپاره په اسلام کې زکات مقرردی، اودزکات مقدارهم داغه دی، کوم چه حضرت عمر فاروق رضي الله تعالی عنه، دمحصول په مقدارکې ليکلی دی.

ځکه دحضرت علي رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی: عن النبي صلی الله عليه وسلم قال: فإذاکانت لك مائتادرهم، وحال عليها الحول ففيها خمسة دراهم، وليس عليك شئ يعني في الذهب، حتی يکون لك عشرون دينارا، فإذاکان عشرون دينارا، وحال عليه الحول، ففيها نصف دينار، فمازاد

فبحساب ذالك. (١)

ترجمة: حضرت علي رضی الله تعالی عنه روایت کوی چه نبی‌صلی الله علیه وسلم فرمایي: که ستاسره دوه سوه درهمه وه، اوپردی بـاندی پـوره کال تیرسو، نوپه دی کی پنځه درهمه دی، اوبل شئ پرتانسته، یعنی په سرو زرو کی ، ترڅو چه شل دینار ته رسیږی، اوکه ستاسره شـل دینـاره وه: اوکال پرتیرسو، نوپه دی کی نیم دیناردی، هغه چه زیات سی، دهغه زکات هم پـه داغـه حساب دی .

معلومه سود چـه حضـرت عمـر فـاروق رضـی الله تعالی‌عنـه دمسلمانانوڅخه صرف ده زکات داخستلو أمر ورته کړیدی ، بل څه نـوی محصول یـه پرمسلمانانونـه دی مقرر کړی ، څکه په بل ځای کی تصریح پـه سـوي ده. ددی نه علاوه په بل حدیث کی صریح راځی چه واي.

قال: أنس بن سيرين أرادوا أن يستعملونى على عشور الابلة ، فأبيت ، فلقيني أنس بن مالك فقال مايمنعك ؟ فقلت العشورأخبث ماعمل عليه الناس ، قال فقال لى لاتفعل ، عمرصنعه فجعل على أهل الإسلام ربع العشر، وعلـى أهل الذمة نصف العشر، وعلى المشركين ممن ليس له ذمة العشر، و لم يريـدوا أن يأخذوا من أموال المسلمين التجارية أكثر ممايجب عليهم من الزكاة، وعاملوا أهل الحرب بمايعملون به تجارالمسلمين فى بلدانهم . (٢)

١- رواد أبوداوود حديث نمبر ١٣٤٢ * ٢- الـخلفاء الراشـدون ص ٤٨٠

ترجمة: حضرت أنس بن سیرین وایي: چه ددوی اراده وه چه ماداپلــه پرمحصول باندی مقرر کړی ، ما انکارو کړه ، أنس بن مالك راسره مخ سو ویل ولی دی انکار کړي دی ؟ ماورته وویل (العشور أخبث مــا عمل علیــه الناس) محصول هغه بدرین شی دی چه خلك عمل په کوی ، ده راته وویل داسی کارمه کوه، حضرت عمر دامقرر کړیدی ، چه پرأهل اسلام دعشــر څلورمه ، (څلوینښتمه) اوپرأهل ذمه دعشر نمایی (شلمه) اوپرهغومشر کانو چه دهغوذمه نه وی عشر (لسمه) ددوی داسی اراده نه ده چه دمسلمانانو دتجارتی مالو څخه ترفرضی زکات زیات شی واخلی ، اوبل په دکفاروســرد هغــه معامله وکړه ، چه کفارو په خپلو وطنو کی دمسلمانانوسره کوله.

قال محمد رحمة الله تعالی علیه: وبهذا کله نأخذ ، فأما مــا آخذ مــن المسلمین فهوزکوة، فیوضع فی موضع الزکوة ، للفقراء ، والمساکین ومن سمی الله فی کتابه ، وماآخذ من أهل الذمة ومن أهل الحرب ، یوضع موضع الخراج فی بیت المال للمقاتله. کتاب الآثار ص ٦٣

ترجمة: حضرت امام محمد رحمة الله تعالی علیه فرمایي: چه په دغه ټولو موږیعنی أحناف، عمل کوو، هغه چه دمسلمانانو څخه اخستل کیږی، هغه زکوة دی، دزکوة په ځای کی ایښودل کیږی ، د فقیرانو اومسکینانو اوهغو کسانو لپاره چه الله تعالی په خپل کتاب کی ذکر کړی دی، اوهغه چه دأهل ذمه اوحربی کافر څخه اخستل کیږی ، هغه په بیت المال کی دخراج په ځای

کی اینبودل کیږی ، دجهاد لپاره.

دحضرت امام محمدرح د قول نخخه معلومه سوه ، چه محصول یوازی اویوازی دهغو کفارو نخخه اخستل کیږی ، چه دکفری ملك اوسیدونکی وی، او اسلامی ملك ته تجارتی مالونه راوړی ، ځکه داحنافو دمذهب له مخی، دیوی خوا دکفارو سره معامله بالمثل ده ، لکه چه وایی: والأصل المقرر عند الحنفية في الأخذ من الحربيين ، هو المعاملة بالمثل ، فإن كانوا لايأخذون أصلا لانأخذ منهم شيئا ، ليتركوا الأخذ من تجارنا، ولأنا أحق بمكارم الأخلاق ، وإن مر حربي بخمسين درهما لايؤخذ منه شيء ، إلا أن يكونوا يأخذون منامن مثلها. (١) الفقه الاسلامي وأدلته ص ٨٢٦ ج٢

یعنی داچه دحربی کافرانو نخخه محصول اخستل کیږی ، په دی هکله د أحنافو دلیل دادی: چه دا معامله بالمثل ده ، یعنی که دوی بیخی نه اخستی ، موږ هم ددوی نخخه هیڅ شئ نه اخلو، ترڅو دوی هم زموږ دتجارو نخخه اخستل بند کړی، اوبل داچه موږ باید تر دوی ډیر ښه اخلاق ورسره وکړو، اوکه دحربی کافر سره پنځوس درهمه وه ، دهغه نخخه هیڅ شئ نه اخستل کیږی ، مگر نه په هغه صورت کی ،که دوی هم دمسلمانانو نخخه پردغو مره مال محصول اخستی. معلومه سوه چه دا معامله بالمثل ده.

اوبل داچه دحربی کافر نخخه د امان په خاطر یعنی د امان په بدل اخستل کیږی، لکه چه بل ځای کی لیکی: وإن مر الحربي على عاشر، فعشره

ثم مرمرة أخرى ، لم يعشره حتى يحول الحول ، لأن الأخـذ في كـل مـرة استئصال المال ، وحق الأخذ لحفظه ، ولأن حكم الأمان باق ، وأمابعد الحول فيتجدد الأمان ، لأنه لايمكن من الإقامة في دارنا إلاحولا ، والأخـذ بعـده لايستأصل المال. (١) الفقه الإسلامي وأدلته ص٨٢٦ ج٢

ترجمة: كه حربي كافر پرعاشر باندی تیرسو ، عشر یعنی هغه لسـمه محصول یه ورکړی ، بیاراغلی ، بیابه عشریعنی محصول نه ورڅخه اخستل کیږی ، ترڅو چه کال تیرېږی ، ځکه په هره واراخستلوسره مال خلا صیږی اود محصول د اخستلوحق هم دمال دحفاظت لپاره دی ، چه مال خـلاص سی بیایه حفاظت څه کوی ؟ اوبل داچه د أول أمان حکـم پاتـه دی، او وروسته ترکال چه اخستل کیږی ځکه امان نوی کیږی ، ځکه حربی کـافر تریود کال زیات په داراسلام کی په امان نسی پاته کیدای ، اوبل دا چه کال پس اخستلو سره د مال استئصال یاختمیدل نه راځی.

فإن عشره، فرجع إلى دارالحرب ، ثم خرج من يومه ذالك ، عشـر ايضا لأنه رجع بأمان جديد، وكذا الأخذ بعده لايفضي إلى استئصال المال. (١)

یعنی که حربی کافرعشر یعنی محصوٗل ورکړی ، اوبیرته خپل وطن ته ولاړی ، اوبیرته په داغه ورځ راغلی ، بیابـه هم عشر یعنی محصول ورکوی ځکه چه کله دی ووتي امان یه مات سو، چه بیاراغلی بل امان ته ضرورت

١- الفقه الإسلامي وأدلته ص ٨٢٦ ج ٢

لري ، او بل دا چه په دا ډول اخستلو سره د مال ختميدل نــه راځي.

په بل ځاى کى وايى: والعاشر من نصبه الإمام على الطريــق ليــأخذ الصدقات من التجار، فيه قيد زاد المبسوط ، وهوأن يأمن به التجارمن اللصوص ولابد منه ، ولأن أخذه من المستأمن والذمى ، ليس إلا للحماية. قوله ليــأخذ الصدقا ، تغليــبا لاسم العبادة على غيرها. فتح القــديرص ١٧١ ج ٢

ترجمة: عاشرهغه موظف ته ويل کيږى ، چه أميرپرلارو موظف کړى وى، چه دتجارانو څخه صدقات واخلى ، مبسوط د حنفي فقه يوډيرمعتمــد کتاب دى، په هغه کى يوقيد وراضافه سوي دى ، هغه دا چه دتجارانو مالونه په دغلوڅخه ساتى، اوددى څخه چاره نسته، ځکه دحربى کــافر، اوذمــى څخه محصول ده همدى ساتنى لپارد اخستل کيږى، يعنى که حفاظت ســاتنه نسود کولاى بيا دمحصول داخستلوحق دکافر اوذمى څخه هم نه لرى.

ملاحظة: دعاشرپه تعريف کى راغله (ليأخذالصدقات مــن التجــار) سوال دا پيدا سو چه دکافر اوذمى تجارانوڅخه چه کوم شى اخستل کــيږى هغه ته صدقات نه وبل کيږى ، هغه ته عشور يا محصول ويل کــيږى، نــود عاشر په تعريف کى ولى وتولو تــه صدقات وويل سود ؟ جواب په ورکړى چه دا تغليب دى دعبادت دنامه پرنورو باندى ، يعنى صدقه وهغه فرضــى اونفلى مالى عبادت ته ويل کــيږى چه ثواب پرمرتب وى ، اوعشر يامحصول نه فرضى اونه نفلي عبادت دى ، بلکه دا دکافرانو سره معامله بالمثل دد، اويا

دوی ته د أمان ورکولو بدل دی ، نودا چه وتولو ته صدقات ویل سوی دی دا تغلیب دی دعبادت دنامه پرنورو باندی ، بل دا چه دتجارانو څخه دتجارتی مالونو زکات هم پر تجارتی لارو اخستل کیږی.

ملاحظة: دپورتنی تحقیق څخه معلومه سوه چه دمسلمان دمال څخه دفرضی زکات نه علاوه گمرکی محصول اخستل جائزنه دی . ځکه مسلمان نه امان ته ضرورت لری ، اونه جزاء بالمثل ته. بل دا چه په حدیث کی راغلی: عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه أن النبی صلی الله علیه وسلم قال إذا أدیت زکاة مالك ، فقد قضیت ماعلیك ، فقال رجل یارسول الله هل علی غیرها ؟ فقال لا إلا أن تطوع . (١)

ترجمة: حضرت ابوهریرة رضی الله عنه روایت کوی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم وویل: کله چه دخپل مال زکات اداکړی، نوتا تول هغه حقوق اداکړل چه پرتادی ، یوه سړی پوښتنه وکړه، یارسول الله! پرمابیله زکات بل څه سته ؟ علیه السلاه ورته وویل نه مگر نفل .

په بل حدیث کی روایت دی : عن ابن عباس رضی‌الله عنهما قال قال رسول الله صلی الله علسه وسلم لاتصلح قبلتان فی أرض واحدة ، ولیس علی المسلمین جزیة ، قال أبو عیسی وقول النبی صلی الله علیه وسلم لیس علی المسلمین عشور إنما یعنی به جزیة الرقبة ، وفی الحدیث مایفسر هذا حیث قال

١- رواه الترمذی حدیث نمبر ٥٦١

إنما العشور على اليهود والنصارى وليس على المسلمين عشور (الترمذي، الزكوة (٥٧٤)

ترجمة: حضرت ابن عباس رضي الله تعالى عنهما روايت كوي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: په يوه محكه كي دوى قبلي جائز نه دي، اوپر مسلمانانو جزيه نسته. أبوعيسى (دترمذي مصنف) وايي: چه درسول الله صلى الله عليه وسلم دا قول چه وايي (ليس على المسلمين عشور) چه پر مسلمانانو محصول نسته ددې څخه دغاړي جزيه مراد ده، او په حديث كي هغه څه سته چه ددې تفسير كوي، هغه دا چه وايي (إنما العشور على اليهود والنصارى) بيشكه محصول پريهودو اونصاراو مقرردى، وليس على المسلمين عشور پرمسلمانانو محصول نسته.

دپورتنى ټول تحقيق اودلائلو پربنياد ويلايسو، چه دمسلمان څخه په خپل اسلامي ملك كي، اويا په بل اسلامي ملك كي دزكات نه علاوه محصول اخستل ناجائز اوحرام دي.

٩- أموال فاضله.

كه په اسلامي ټولنه كي يوڅوك مړ شي، ذمي وي كه مسلمان، اود هغه هيڅ وارث نه وي، نود هغه مالونه هم په بيت المال كي جمع كېږي، او همدا رنګه كه ذمي ذمة ماته كړي، او دارحرب ته لاړ سي، يا مسلمان مرتد سي اودارحرب ته وتښتي، نو د دوى ټول هغه مالونه چه په دار اسلام كي وي، په بيت المال كي جمع كېږي.

١٠- مورد اوقاف

اوقاف دوقف جمع ده، او وقف د الله تعالی جل جلاله په لار کی دخـــرچ کولو بهترینه طریقه ده، له همدی وجه اسلام ددی لپاره مسلمانانو ته ترغیب ورکوی، اسلام دثروت او مال خاوندانو ته دا دعوت ورکوی، چه ترمرګه نه مخکی دصحت او جوړ والی په حال کی، خپل دمال څخه څه حصه دصدقه جاریه په نوم وقف کړی، ترڅو مالدارخلك داجتماعی حقوقو څخه غافل نه سی، او پــه دوی کی حسنه اخلاق پــیدا سی.

په دی هکله الله عزوجل په قرآن کریم کی فرمائی: لَن تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ وَمَا تُنفِقُوا مِن شَيْءٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ. سورة آل عمران آیة ٩٢

ترجمه: هیڅکله به حاصل نه کړی تاسی، پوره نیکی تر هغه پــوری، چه صرف کړی تاسی په لاره کی د الله، ځینی له هغو شیانو چــه ستاســو خوښ وی، اوهغه چه صرفوی ئی تاسی له یوه شی، لږ وی که ډیر، پــس بیشکه الله پر هغو هم ښــه عالــم دی.

عن أبی هریرة رضی الله عنه أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قــال: إذا مات الإنسان انقطع عنه عمله ، إلامن ثلاثة، إلامن صدقة جاریة، أوعلــم ینتفع به، أوولد صالح یدعوله . رواه مسلم حدیث نمبر٣٠٨٤ کتاب الوصیة

دحضرت ابو هریرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت سوي دی، چــه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چــه انسان مړ شی، دده تــول

اعمال قطع شی ، مگر ددرو شیانو څخه نه قطع کیږی . مگر نــــه د صدقــه جاریة څخه ، اوداسی علم چه نفع پراخستل کیږی ، اونیك اولاد چـــه ددد لــپاره دعا کـــوی .

مقصد دا چه وقفی مالونه ، چه دکوم مقصد لپاره وقف سوی وی، په هغه شی کی دمصرف کولو، اویا تصرف کولو حق داســـلامی حکومـــت دبیت المال مسؤلینو تـــه حاصل دی.

څنی داسی وقفی مالونه هم وی، چه دعامو خیریه کارونو لپاره وی، لکه پل، مدرسه، مسجد، شفاخانه یا روغتون، جوړول، یا بل داسی عـــام المنفعت کار چه وه ټولو ته ئی نفع رسیږی . اسلامی معیشت ص١٨٣

١١- مورد نوائب وضرائب.

دجنګ، خشك سالی، سیلابونو او نوروڅکنی او آسمانی آفتونو په صـــورت کی، چه خزانه خالی وی دمسلمانانو امیرکولای سی چه مسلمانان تشـــویق کړی، چه دفرضی اونفلی صدقاتو څخه علاوه، څه مالی امـــداد اوکومـــك وکړی، اودغه مالی کومك ته نوائب اوضرائب ویل کیږی، البته دا به خالص ده عوامو داجتماعی، اوجهادی ضرورتونو په خاطر کولایســـی، اوصـــرف پرمالدارو خلګو باندی، اوپـــه خوښـــه بـــه وی.

ددی لپاره څنی علما ددی آیت په عموم اســـتدلال کـــوی ..وآت ذَالقُربَی حَقّهُ وَالمَسَاکِینَ وَابنَ السَّبِیلِ وَلاتُبَذّر تبذیراً . سورة بنی اسرائیل آیة ٢٦

ترجمة: دفريانو ، مساکينو ، اومسافرينو چه برتاکوم حق دی ، هغه ادا کړه، او اسراف مه کوه.

بل آيت کي فرمايي : فَآتِ ذَا الْقُرْبَى حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ، ذَالِكَ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يُرِيدُونَ وَجْهَ اللهِ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ. سورة الروم آيت ۳۸

ترجمة: پس ورکړه ای مومنه! دقرابت خاوندته حق دده، چه (نيکی اوصله رحمی ده) اومحتاج اومسافرته، دغه حقوق ورکول خيردی ترامساك دهغو کسانو لپاره چه اراده دثواب اودالله تعالی درضالری، هم دغه ورکونکی دحقوقو کامياب دی.

په پورتنی دواړو آيتونو کی دحق څخه نيکی اوصله رحمی مراد ده، څنګه حضرت عبد الله بن عمر رضی الله تعالی عنهما فرمائی. ستاسوپه مال کی دزکوة نه علاوه هم نورنيز حقوق سته، او په بل ځای کی حضرت علی کرم الله وجهه فرمائی: بيشکه الله تعالی د أغنياوپه مال کی دومره حق فرض کړي دی، چه په هغه باندی دفقيرانو کفالت او چاره وشی.

که په اسلامی ټولنه کی فقيران، وږی اوبدحاله وی، نو ددی سبب دادی چه أغنياو ددغه فرض په ادا کولو کی کوتاهی کړي ده.

معلومه سوه چه داسلامی ټولنی اميرکولايسی، چه دټولنيزو مشکلاتو په صورت کی، اغنياوته ترغيب ورکړی، اود هغوی څخه په خوښه څه مالونه راجمع کړی، لکه څرنګه چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم

دتبوك دغزا په وخت کې خلگوته داعانت کولو ترغيب ورکړی، او خلقوهم په ډیرشوق سره اعانت وکړی.

عن عبد الرحمن بن خباب قال شهدت النبي صلى الله عليه وسلم وهويحث على جيش العسرة، فقام عثمان بن عفان ، فقال يارسول الله عَلَيَّ مائة بعيربأحلا سها وأقتابها في سبيل الله، ثم حض على الجيش، فقام عثمان بن عفان فقال عَلَيَّ مائتا بعير بأحلاسها وأقتابها في سبيل الله، ثم حض فقام عثمان بن عفان فقال عَلَيَّ ثلاثة مائة بعيرباحلاسها واقتابها في سبيل الله، فأنارأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم ينزل عن المنبر، وهويقول ماعلى عثمان ماعمل بعد هذه، ماعلى عثمان ماعمل بعد هذه.(١)

ترجمة: حضرت عبد الرحمن بن خباب روايت کوی: چه زه درسول الله صلى الله عليه وسلم مجلس ته حاضرسوم، هغه دجنګ عسر يعنی (دسختی جنګ چه دتبوك جنګ ته ویل کیږی) خلق تشويق اوباعثول، په دی وقت کی حضرت عثمان بن عفان رضی الله تعالی عنه ولاړسو، اووی ویل یارسول الله پرماباندی سل اوښان دڅلانو او کتوسره دی، د الله په لارکی، علیه السلام بیاخلق باعث کول، بیاحضرت عثمان ولاړسو، او وی ویل یارسول الله پرمادوه سوه اوښان دی ، دڅلانو اوکتوسره، د الله په لاره کی، علیه السلام بیاخلق باعث کوله، بیاحضرت عثمان ولاړسو، او وی ویله

١- رواه الترمذی نمبر ٣٦٣٣ کتاب المناقب

یارسول الله پرما دری سوه اوبنان دی دمحلانو اوکتوسره، دالله په لاره کی، نوراوی وایی: ماورته کتله چه علیه السلام دمنبر څخه کښته کیدی، اوویله نسته پرعثمان باندی ،که عمل ونکړی ددی نه پس ، اونسته پرعثمان باندی، که عمل ونکړی ددی نه پس . ،،یعنی نفلی،،

دپورتنی حدیث څخه معلوم سو ، چه دسختئی په حالت کی أمیر خلقوته دکومك کولو ترغیب ورکولایسی ، زور نه سی ورسره کولای ، ودی قسم مال غوښتلو ته دحنفی فقه په کتابونو کی جعل وایی ، لکه چه وایی: وکره الجُعل إن وجد فئ ، وهو الذی یضربه الإمام علی الناس للذین یخرجون إلی الجهاد ، لایجعل الإمام علی أرباب المال شیئا لتجهیز الجیش من غیر طیب أنفسهم ، لأنه یشبه الأجر علی الطاعة ، فحقیقته حرام ، فیکره ماأشبهه . (۱)

ترجمة: دجعل اخستل مکروه دی که په بیت المال کی دفئ مال موجود وو، اوجعل هغه ته ویل کیږی چه أمیر یه پرخلقو دمجاهدینو لپاره مقرر کوی، اوأمیر به دخلقو دناخوښئ په صورت کی دفوج د اکمالاتو لپاره هیڅ شئ نه مقرر کوی ، یعنی په زور به ئی نه اخلی ، ځکه دا پرطاعت اوعبادت باندی دأجرت اومزدوری سره مشابهت پیداکوی ، حقیقت دا دی چه پرعبادت باندی أجرت یامزدوری أخستل حرام دی نوهغه چه ددی سره مشابهت لری

۱- کنز الدقائق متن اوحاشیة ، ص ۲۰۰ کتاب السیر والجهاد

هغه ذکر وه دی ، لکه داچه أمیر یوچا ته ووایی : ته دومره مقــدار روپــی راکړه ، نورته دجهاد څخه خلاص یې ، موږ ستاپر ځای مزدور جهادته لیږو معنا دا چه جهاد فرض دی ، اودفرضی عبادت څخه دڅه پیسو په بدله سړی نه سی خلاصیدلای ، لکه داچه یوسړی ته ووایی: څو پیسی راکړه نورتــه لمونځ یاروژه مه کوه ، موږ ستا د لــمانځه یاروژی لپاره مزدور دروو.

۱۲- مورد بی مالکه مالونــه

په اسلامی ټولنه کی بی مالکه مالونه دبیت المال حــق دی، لکــه دا چه یوڅوك دچا څخه شی په امانت واخلی ، یا ئی غصب کړی، اومالك ئــی ورك سی ، او یا داچه یوڅوك یو شی پیدا کړی مالك ئی نسی پیداکولای ، داسی ټول مالونه په بیت المال کی جمع کیږی . اصول الدعوة ص ۲۵۸

داسلامی بیت المال مصارف

داسلام په مقدس دین کی نه یوازی دا چه پرخلقوباندی زکوة عشر، خراج، فیء اه داسی نورموارد مقررسوي دی ، بلکه په ډیرو مواردوکی ئی دمصرف لست هم خپله الله عزوجل ورکړي دی، لکه چه څه ئی پورته ذکرســوله ، لکه زکوة ، عشر ، غنیمت ، فیء ، چه په هغه لستونوکی هیــڅ رد اوبــدل جائز نه دی، یعنی پرهغو مصارفو به یی لګوی کوم چه الله تعالی ښودلی دی.

خلاصه دا چه داسلامی حکومت دمصارفو اودبیت المال دمواردو لپارد څلور خزانی جوړیږی ، چه دهری یوی موارد اومصارف په دی ډول دی.

۱-دزکاتونو او عشرونو خزانه : په دی خزانه کی به صرف زکاتونه او عشرونه راټولیږی، او بیا په هغو مصارفو لګول کیږی، کوم چه الله عزوجل ښودلی دی، چه هغه فقیران، مسکینان، عاملان، پور وړی، د الله دلیاری مجاهدین، او محتاج مسافران.

۲-دمال غنیمت ، اورکاز پنځمه ، اود فیئ مالونه جمع کیږی اوبیا پر هغو درو صنفونو تقسیم کیږی لکه یتیمان، مسکینان، او محتاج مسافران.

۳- هغه خزانه ده چه په هغه کی خراج ، جزیه ، دغیرمسلمینو تاجرانو څخه لاس ته راغلی ګمرکی محصول ، ضرائب اوکراء الأرض جمع کیږی ، اوددی څخه ددولتی مامورینو معاشات، حکومتی دوائرو او داسی نورو مصارف کیږی.

٤- د أموال مورثه او متروکه ، أموال ضائعه، دغیر مسلمینو هدایاوی، او وقفی مالونو خزانه: ددی څخه به دلارو، پولونو، بندونو اوداسی نورو شیانو دجوړولو لپاره مصارف کیږی.

ځه فقهاء داسی هم وائی : چه أمیر المؤمنین دضرورت په وخت کی دیوی خزانی څخه دبلی خزانی دمصارفو لپاره څه په قرض اخستلای شی.

نتیجه دا چه اسلامی حکومت به دقرآنی آیتونو، اونبوی آحادیثو په رڼا کی ټول تصرفات په ډیراحتیاط اوتدبیرسره کوی داسی نه لکه اوسنی اسلامی حکومتونه چه دمسلمانانو بیت المال خپل دلاس ګټلی مال اوملك بول ، په

خپل شوق چه چاته ئی خوښه سی ورکوی اوداېو په شان یه مصرفوی. (۱)

اسلامی ټولـــنه اوســـؤال

که داسلامی نظام مالیات اواسلامی بیت المال په غـــور مطالعـــه وکـــړو ، معلومیږی چه دبیت المال زیاته حصه دغریبان محتاجانو لپاره خاص کړه سوی ده، اوددی لپاره ده چه داسلامی ټولنی څخه غربت اوسوال ختم سی ، داچه سوال کول دانسان دزلالت سبب ، اوداسلامی ټولنی دبدنامی ، اودامیر لپاره دشرم باعث دی ، نوځکه اسلام اوداسلامی نظام لاربښود ، خپل منونکوتـــه سؤال کول په ځه حالاتو کی حرام ، اوبـــه ځه حالاتوکی بد بلـــلی دی ، ځکه مسلمانان باید دخپل دښمن په مقابل کی همیشـــه باقوتـــه باشـــهامته اوغیرت مند واوسی ، داسی کار ونه کړی چه هغه نه یوازی دده لپاره بلکه دټولی اسلامی ټولنی اواسلامی نظام دبدنامی اورسوایی سبب وګرځی .

په دی هکله داسلام دستر لاربښود ، اود اسلامی نظام اول قـــائد ، او دباشهامته ، او باغیرته اسلامی ټولنی جوړونکی حضرت محمد مصطفی أحمد مجتبی صلی الله علیه وسلم ، څه لاربښونوته إشـــاره کـــوم .

۱- عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه أن رسول الله صلی الله علیـــــه وسلم قال: والذی نفسی بیده، لأن یأخذ أحدکم حبله، فیحتطب علی ظهره، خیرله من أن یأتی رجلا أعطاه الله عز وجل من فضله فیسأله أعطاه اومنعه.(۱)

۱- سنن النسائی حدیث نمبر ۲٥٤۲ کتاب الزکوة

ترجمة: دحضرت أبو هريرة رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی ، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زما دی قسم په هغه ذات وی، چه زما نفس د هغه په قبضه کی دی، چه یو ستاسی څخه خپله رسی را واخلی، او پر خپله شا باندی لرګی راوړی، (خرڅ ئی کړی) دا دده لپاره خـیر دی، تردی نه راسی دیوچا څخه چه الله تعالی څه ورکړی وی، سؤال کـوی، اوهغه یه ورکړی او یا یـه ورنـه کړی.

۲- عن عبد الله بن عمر رضی الله تعالی عنهما قال قال: رسـول الله صلی الله علیه وسلم، مایزأل الرجل یسأل الناس ، حتی یأتی یـوم القیامـة ، لیس فی وجهه مزعة لحم . صحیح البخاری حدیث نمبر ۱۳۸۱ کتاب الزکوة

ترجمة: دحضرت عبد الله بن عمر رضی الله تعالی عنهما څخه روایت دی، چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: همیشه یو څـوک دخلګـو څخه سؤال کوی، ترڅو دقیامت په ورځ داسی راسی، چه پرمخ باندی ئـی دغوښی ټوټـه نـه وی، بلکه صرف هـډوکی به پاتـه وی.

۳- عن أبی هریرة رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال أن الله عزوجل رضی لکم ثلاثا وکره لکم ثلاثـا ، رضـی لکـم أن تعبـدوه ولاتشرکوبه شیئا ، وأن تنصحوا لمن ولاه الله أمرکم ، وأن تعتصموا بحبـل الله جمیعا ولاتفرقوا ، وکره لکم قیل وقال ، وکثرة السؤال ، وإضاعة المال . (۱)

۱- رواه مسند أحمد حدیث نمبر ۸۳٦۱

ترجمة: حضرت ابو هريرة رضى الله عنه روايت كوى چه نبى صلى الله عليه وسلم وفرمايل: الله عزوجل ستاسو لپاره درى شيان خوښ كړي دى، اودرى ښيان يه ناخوښه كړى دى ، خوښ كړى دى ستاسو لپاره دا چه دالله عبادت وكړى، اوهيڅ شئ ددده سره شريك ونه ګرځوى، اوهغو كسانوته نصيحت كوى چه الله پرتاسو أميران كړى دى، اودالله په رسۍ پورى منګولى ونسى، اوتفرق مه كوى، اوستاسو لپاره ناخوښ اوبد بللى دى قيسى اونقلونه، اوډير سؤال كول ، اودمال ضائع كول.

٤- عن المغيرة بن شعبة قال قال: رسول الله صلى الله عليه وسلم إن الله حرم عليكم عقوق الأمهات، ووأد البنات ومنع وهات، وكره لكم قيل وقال، وكثرة السؤال ، وإضاعة المال . (١)

ترجمة: حضرت مغيرة بن شعبة رضى الله عنه وايى: چه رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: الله پرتاسو حرام كړى دى ، دمورازار، اودژوندى لوڼو ښخول، اوخپل حق غوښتل اودنورو حقوق نه وركول، اوبد بللى دى ستاسولپاره نقلونه اوقسى، اوډير سؤال كول، اودمال ضائع كول.

دپورتنيو احاديثو نځخه معلومه سوه چه ، داسلام قائد اورسول غواړى. چه يوقوى اودعزت نه ډكه ټولنه جوړه كړى، اوپه سؤال كولو انسان خوار اوذليل بلل كيږى، په يوبل حديث كى فرمايى : المؤمن القوى

١- صحيح البخارى حديث نمبر ٢٢٣١ كتاب الاستقراض وأداء الديون

خیر وأحب إلى الله ، من المؤمن الضعیف ، وفی کل خـیر. یعنی قوی مومن والله ته خوښ اود الله په نزد خیر دی ، ترضعیف مومن ، اوپه ټولو کی خیر دی. اوبل ځای ویل سوی دی: السؤال ذلة ولوکان من الأبویـن . سـؤال کول ذلت دی که څه هم دپلار اومور څخه وی. اوکله چه حاجیان حج ته ولاړسی ، هلته دطواف په اولو درو شوطوکی رمل کول یعنی خپل قـوت دښمنانوته ښکاره کول واجب بلل سوی دی.

هم داوجه ده که داسلامی بیت المال په مواردو اومصارفو کی په غور فکر وسی نودهغه لوی لوی موارد لکه عشر، زکات ، غنیمت، فیئ دا ټـول پرهغو کسانومصرفیږی، چه هغوی فقیران، مسـکینان، یتیمـان محتاجـان، پوروړی دی، ترڅو په اسلامی ټولنه کی غریب او غربت ختم سی، که نـن هم په اسلامی ټولنه کی اسلامی بیت المال جوړسی، اود اسلام په راښـودل سوی طریقه مصرف سی ، تر ډیره حده یقین کیدایسی چه دغربت، او ګدا ګری مخه نیول کیدایسی ، اوپه اسلامی ټولنه کی به بیا هیڅ غـیر اسـلامی نظریه دغریب پرنامه خلقوته دوکه ورنکړی ، اونه به پکښی کامیابه سی.

خو باید په ډیرافسوس سره ووایو، دکومه وخته چه پـر اسـلامی ملکونو باندی دملل متحد لخوا سیکولر یا لادینه نظام مسلط کړه سـویدی، داسلامی ټولنی اوملکونو نظام مالیات هـم دنـورو نظـامونو پـه شـان دسیکولرازم په اورکباب سوی، چه نن موږ وینو په ټولو اسلامی ملکونوکی

دپورتنی اسلامی نظام مالیات هیڅ علامه نــه لیدل کیږی ، اوپه اســلامی ملکونوکی ترټولو غربت اوسوال ډیر دی ، اولاربنوونکی اومشــران پــه ترټولو زیات په عیاشی اوبې ځایه مصرفونو اوتبزیر اخته دی .

د أمیر یا إمام حقوق

١- الطاعة : لکه څرنگه چه الله تعالی أمــیران اوحاکمان أمرکوی ، چــه أمانتونه وأهل ته وسپاری، اودخلقوپه مینځ کی دعدل فیصلی وکړی ، هم دا شان خلق په اطاعت أمرکوی ، لکه چه فرمایی: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُــوا اللهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِى الأَمرِ مِنكُم، فَإِن تَنَازَعتُم فِى شَئٍ فَرُدُّوهُ إِلَــى اللهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُم تُؤمِنُونَ بِاللهِ وَاليَومِ الآخِرِ ذَلِكَ خَيرٌ وَأَحسَنُ تَأوِيلاً. (١)

ترجمة : أی! هغو کسانو چه ایمان مو راوړی دی، حکم ومنی تاسی د الله ، اوحکم ومنی تاسی درسول دالله ، اوحکم ومنی دخاوندانو دحکم لــه تاسی، یعنی حاکمان مشرانو، نوبیا که جگړه وکړه تاسو پــه یوه شی کی، (یعنی که تاسی او أولی الأمر په مینځ کی اختلاف پیښ سی چه ، حــاکم اویا دحاکم حکم داسلام سره موافق دی که نه) نو گرځوی تاسی داکــار طرف ته دالله دکتاب اورسول ته درسول حدیث ته ، که یــی تاســی پــه اخلاص ایمان لری ، په الله او په ورځ دآخرت قیامت باندی ، دغه رجوع الله اورسول الله ته خیر ده تاسی ته ، ستاسی ترناقص فکر .

١- ســورة النساء آیــة ٥٩

عن أنس بن مالك رضی الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اسمعوا وأطيعوا وإن استعمل عليكم عبد حبشي كان رأسه زبيبة. (١)

ترجمة: حضرت أنس بن مالك رضی الله تعالى عنه وایی: چه رسول الله صلى الله عليه وسلم وویل: تاسو اوری اوإطاعت کوی ، دهغو کسانو چه پرتاسو مقررسی، (یعنی حاکمانو) که څه هم یو حبشی مریي وی، اوسریه دومره کوچنی وی ، لکه وشکه .

ملاحظة : د اسلامی شریعت له مخی دمریی أمارت نه صحیح کیږی ، ځکه دأمیر لپاره حریت اوآزادی شرط ده ، په پورته حدیث کی ده مریی ذکر صرف د أمیر په إطاعت کی مبالغه مراد ده .

قال على بن ابى طالب رضى الله تعالى عنه (يحق على الإمام أن يحكم بماأنزل الله ، وأن يؤدى الأمانة ، فإذا فعل ذالك فحق على الناس أن يسمعوا له ويطيعوا ، ويجيبوه إذا دعا) . الإمامة العظمى ص ٣٨١ بحوالة تفسير طبرى

یعنی حضرت علی کرم الله وجهه فرمایی : پرأمیر باندی داحق دی چه په هغه څه حکم وکړی چه الله تعالى نازل کړي دی، یعنی قرآن کریم ، اوأمانتونه أدا کړی، یعنی هغه وظائف اومسؤلیتونه چه ده ته دأمارت له لاری سپارل سوی دی ، کله چه دا وکړی ، نوپرخلقودا حق لری چه خبره یی واوری ، اواطاعت یه وکړی ، اودعوت یه قبول کړی کله چه وغواړی.

١ - رواه البخاری حدیث نمبر ٦٦٠٩ کتاب الأحکام

دظالم أمیرد إطاعت کولو حکم

په دی هکله په حدیث کی راځی: عن سلمة بن یزید الجعفی أنه قال یانبي الله أرأیت إن قامت علینا أمراء یسألونا حقهم، ویمنعونا حقنـــا فمـــا تأمرنـــا؟ فأعرض عنه ثم سأله فأعرض عنه إلی أن قال: اسمعوا فإنّ علیهـــم مـــاحُمّلوا وعلیکم ماحُمّلتم. رواه مسلم حدیث نمبر ۳٤۳۳ کتاب الإمارة.

ترجمة: دحضرت سلمة بن یزید الجعفی نخخه روایت دی: چه ده وویل یانبي الله! که پرموږ داسی أمیران مقررسول چه خپل حق یـــه غوښتـــی، اوزموږ حق یه نه راکوی نو ته وموږته نخه أمر کوی؟ نبی کریم صلـــی الله علیه وسلم مخ ځنی واړوی، بیایه سوال ځنی وکړی، بیایه مخ ځنی واروی، ترڅوبچه ورته وی ویل: خبره اوری، اوإطاعت کوی، بیشکه پردوی هغـــه نخه لازم دی، چه د دوی پر ذمه دی، اوپرتاسو هغه شـــه لازم دی چـــه ستاسو پر ذمـــه دی.

یعنی هرڅوك دخپل عمل مسؤل دی، اوهریوه ته به دخپل عمل جزاء او ثواب ورکول کـــیږی.

یوبل حدیث کی راځی: عن حذیفة رضی الله تعالی عنه قال: قلـــت یارسول الله إنا کنابشرٍ فجاء الله بخیر فنحن فیه، فهل من وراء هذا الخیر مـــن شر؟ قال: نعم، قلت: وهل وراء هذا الشر خیر؟ قال نعم، قلت: فهل وراء هذا الخـــیر شـــر؟ قال نعم، قلت کیف؟ قال یکون بعدی أئـــمة لایهتدون

بهديي، ولايستنون بسنتي، وسيقوم فيكم رجال ، قلوبهم قلوب الشياطين في حسمان إنس، قال قلت: كيف أصنع يارسول الله إن أدركت ذالك؟ قال: تسمع وتطيع للأمير، وإن ضرب ظهرك وأخذ مالك فاسمع وأطع. (١)

ترجمة: حضرت حذيفة رضي الله عنه روايت كوى، وايي ما وويل: أى د الله رسوله ! موږ په شركى وو الله تعالى پر موږ خير راوستى اوس هم پكښې يو، أيا تردغه خير وروسته شر راځي ؟ ده وويل هو ، ماورته وويل : أيا تردغه شر وروسته بيا خير راځي ؟ ده وويل هو ، ماورته وويل : أيا تردغه خير وروسته بيا شر راځي ؟ ده وويل هو ، ماورته وويل: څنگه ؟ ده وويل : ترماوروسته به داسې إمامان يا أميران راسي ، چه زما په هدايت به هدايت نه اخلي ، اوزماپه سنتو به عمل نه كوى، اوپه تاسوكى به داسې خلق أميران سي ، چه زړونه‌به ئې دشيطانانو وى ، په جثه اوصورتونو كي دانسانانو، دى وايي: ماورته وويل: زه به څه كوم أى د الله رسوله ! كه مې داسې زمانه ونيوله ؟ ده راته وويل : خبره به ئې اورى اواطاعت به دأميركوى، كه څه هم ستا ملا اوشا ووهي، اوستا مال واخلي، اوره اواطاعت يه كوه.

خو بياهم داسلام دعدل نظام وخلقوته دأمير دإطاعت امر په داسې حال اوصورت كي واجب بولي، چه دشريعت په چوكاټ كي وى، كله چه د شريعت په خلاف أمر وكړى بيا اطاعت واجب نه دى ، ځكه په حديث

١- رواه مسلم حديث نمبر ٣٤٣٥ كتاب الإمارة

کې راغلي: عن عبد الله بن عمر رضى الله عنهما أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال على المرء المسلم الطاعة فيما أحب وأكره ، إلا أن يؤمر بمعصية ، فإذا أمر بمعصية فلا سمع ولاطاعة. (٢)

ترجمة: حضرت عبد الله بن عمر رضى الله عنه روايت کوی ، چه رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: پر مسلمان سړی باندی إطاعت واجب دی ، په هرهغه څه کی چه دده خوښ وی ، اوکه ناخوښ وی، مګرنه په هغه وخت کی چه په ګناه يه أمر کړی، چه په ګناه يه أمر کړی په هغه وخت کی نه اوريدل سته اونه إطاعت سته.

په بل حديث کی راغلی: عن علی بن أبی طالب رضى الله تعالى عنه قال : بعث النبی صلى الله عليه وسلم سرية، وأمرعليه رجلا من الأنصار ، وأمرهم أن يطيعوه ، فغضب عليهم وقال: أليس قد أمر النبی صلى الله عليه وسلم أن تطيعونی ؟ قالوا بلى ، قال: عزمت عليكم لما جمعتم حطبا وأوقدتم نارا ثم دخلتم فيها، فجمعوا حطبا وأوقدوا نارا ، فلما هموا بالدخول فقام ينظر بعضهم إلى بعض ، فقال بعضهم : إنما تبعنا النبی صلى الله عليه وسلم، فرارا من النار أفندخلها ؟ فبينما هم كذلك إذخمدت النار ، وسكن غضبه ، فذكر للنبی صلى الله عليه وسلم فقال: لودخلوها ماخرجوا منها ، إنما الطاعة فی المعروف . (٢)

١-رواه ابن ماجة حديث نمبر ٢٨٥٥ كتاب الجهاد.

٢- رواه البخاری حديث نمبر ٦٦١٢ كتاب الأحكام

ترجمة: حضرت علي بن أبي طالب رضی الله تعالی عنه فرمایی: چــه نبی صلی الله علیه وسلم یوه ټولۍ دمجاهدینو ولیږله ، اود أنصارو یو سړی یه پردوی أمیر مقرر کړی، او ودوی ته ئی أمر وکړی چه دده إطاعت به کوی، یوه ورځ أمیرپردوی باندی په غضب سو، اووی ویل:أیا تاسونبی علیه السلام نه یاست أمر کړی ، چه زما إطاعت به کوی ؟ دوی ورته وویل : هــو، ده ورته وویل : چه ماعزم کړي دی، چه تاسو لرګی راټول کړی، او أور بــل کړی ، اوځانونه پکښی واچوی ، نودوی لرګی راټول کړه ، او أوریه بــل کړی ، کله چه دوی لویدلو قصد یه وکړی ، نویو دبله ېی سره کتله ، ځیـه کسانو وویل: موږخو دنبی علیه السلام إطاعت ددی لپاره کړي دی، چــه دأوره خلاص سو؟ أیا موږ اورته ځانونه واچوو؟ دوې په داسی حالت کـــی وه چه أورخاموش اومړسو ، اودده غضب هم کښته سو، نودا واقعه ونبـــی کریم صلی الله علیه وسلم ته ذکر سوله ، نو نبی علیه السلام وویـــل: کــه ورلوي دلی واي، نو هیڅکله به نواي وتلی، بیشکه إطاعت پــــه ښــه او جائز کارکی واجب دی .

ملاحظة: دپورتنی حدیثونو ځخه په استدلال وایی : چه دأمیر إطاعت مطلق نه دی بلکه مقید دی، اوبل دا معلومه سوه چه په معصیت یاګناه کی دأمیر إطاعت واجب نه دی ، اوبل داکه سړی دأمیر په أمر معصیت یاګنـــاه وکړه هغه ګناه کار بلل کـیږی.

وعن كعب بن عجرة رضي الله عنه ، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: اسمعوا هل سمعتم أنه سيكون بعدى أمراء ؟ فمن دخل عليهم فصدقهم بكذبهم وأعانهم على ظلمهم فليس مني ولست منه ، وليس بوارد على الحوض ، ومن لم يدخل عليهم ولم يعنهم على ظلمهم ، ولم يصدقهم بكذبهم ، فهو مني وأنا منه ، وهو وارد على الحوض . (١)

ترجمة: دحضرت كعب بن عجرة رضي الله عنه ځخه روايت دى ، چه نبى صلى الله عليه وسلم وفرمايل: واورئ ، أيا تاسو اوريدلى دى؟ چه ترما وروسته به داسى أميران وى ، كه څوك ورغلى او د دوى د دروغو ، اويا په دروغو يه ددوى تصديق وكړى ، اود دوى پرظلم يه د دوى اعانت اوكومك وكړى ، نه دغه سړى دماځخه دى، اونه زه دده ځخه يم ، اونه به دى وحوض كوثر ته راسى ، اوڅوك چه دوى ته ورنه سى ، اوددوى پرظلم ددوى اعانت ونه كړى ، اوپه دروغو ددوى تصديق ونه كړى ، نودغه سړى دماځخه دى ، اوزه دده ځخه يم ، اودى پرحوض كوثر وارديږى يعنى راځى به اوزماسره به يوځاى كيږى.

٢- نصرت اوكومك ورسره كول

دأمير دوظائفو اومسؤليتونو دبيان ځخه موږته معلومه سوه ، چه دأمير پرغاړه ډير لوى لوى مسؤليتونه دى ، لكه دنظام ماليات جوړه ول اودهغه دلارى

١- رواه الترمذى حديث نمبر ٢١٨٥ كتاب الفتن

دغریبانو کفالت کول ، د اسلامی ټولنی دمحکمی اوفکری سرحدونو ساتل ، دجهاد اومجاهدینو تنظیمول ، دفساد اومفسدینو مخه نیول ، دعشرونو اوزکاتونو، محصولاتو اوخراج راټولول ، اوپه ځپلو ځایونوکی مصرف کول، اوځپلو أتباعوته دتعلیم ، صحت علاج ، امکانات پیداکول ، دداخلی اوخارجی پالیسی جوړول، او أمنیت ساتل ، اداری نظم ساتل اوداسی نور مهم کارونه ، ښکاره خبره ده چه دا ټول یوازی نه سی کولای ، نو پر ځپلو اتباعو دا حق لری چه نصرت کومك ورسره وکړی ، ځکه په دی هکله الله عزوجل په قرآن کریم کی داسی فرمایی: وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى ، وَلَاتَعَاوَنُوا عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ..... الآية. سورة:المائدة آية ۲

ترجمة: اومرسته کوی تاسی یوتربله په نیك کار اوتقوی کی ، اومه کوی تاسی مرسته یوتربله پر گناه اوظلم باندی.

اوپه دی کی شك نسته چه دمسلمان اوحق أمیر سره په نیکو اوټولنز کارونو کی تعاون اومرسته کول ، دهغه بر اونیکی ثخحه دی ، چه پرهغه باندی د ټول اسلام اومسلمانانو نصرت اوکومك مرتب کیږی.

په حدیث کی راځی ، عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما أن النبی صلی الله علیه وسلم قال : من بایع إماما ، فأعطاه صفقة یده ، وثمرة قلبه، فلیطعه ماستطاع ، فإن جاء آخر ینازعه ، فاضربوا رقبة الآخر. (۱)

۱- رواه مسلم حدیث ۳۴۳۱ کتاب الإمارة

ترجمة: حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله تعالی عنهما روایت کوی: چه نبی صلی الله علیه وسلم وویل: چاچه دامام یاأمیر سره بیعت وکړی ، اودلاس بیعت اود زړه میوه ورکړی ، نو ترڅو چه توان یه وی اطاعت به یه کوی ، که بل څوك راغلی اودده سری نزاع یاجنګ کاوه نوتاسو دهغه بل سر ووهی.

قال أبو يعلى: إذا قام الإمام بحقوق الأمة، وجب له عليهم حقان الطاعة والنصرة ، مالم يوجد من جهته مايخرج به عن الإمامة . (١)

ترجمة: أبو يعلى وایی : کله چه إمام دخلقو حقوق ورکوی ، نودده پرخلقو دوه حقونه واجب دی: ١- اطاعة ٢- اونصرت کول، ترڅو چه دده له طرفه داسی کار ونه سی چه دی دامامته وباسی .

همداشان پرمسلمانانو باندی لازمه ده چه دخپل مسلمان اوعادل أمیر احترام وکړی ، اودخیر دوعا به ورته کوی ، اهانت اوسپکاوی به ئی نه کوی ، ځکه په حدیث کی راځی : عن أبي موسى الأشعري قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إن من إجلال الله تعالى إكرام ذي الشيبة المسلم ، وحامل القرآن غير الغالي فيه والجافي عنه ، وإكرام ذي سلطان المقسط . رواه أبو داوود حديث نمبر ٤٢٠٣ كتاب الأدب

ترجمة: حضرت أبي موسى الأشعري رضي الله عنه وایی: چه رسول الله

١- الأحكام السلطانية لأبي يعلى ص ٢٨

صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د الله تعالی د إجلال اولوي والی څخه دا ده چه دمسلمان دسپین ویښته إکرام اوعزت وسی ، اود قرآن کریم د هغه حافظ إکرام اوعزت وسی چه په قرآن کی تجاوز اوترحد تیری نه کوی ، اوهیرونکی ، یا لری کیدونکی ځنی نه وی ، اود عادل حاکم یادقدرت دخاوند إکرام اوعزت وسی.

په یوبل حدیث کی راځی: عن زیاد بن کسیب العدوی قال : کنت مع أبی بکرة رضی الله عنه تحت منبر ابن عامر وهو یخطب، وعلیه ثیاب رقاق فقال أبو بلال : انظروا إلی أمیرنا یلبس ثیاب الفساق ، فقال أبوبکرة : أسکت سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول : من أهان سلطان الله فی الأرض أهانه الله. رواه الترمذی حدیث نمبر ۲۱۵۰ کتاب الفتن

ترجمة: زیاد بن کسیب العدوی وایی: زه دأبی بکرة رضی الله عنه سره دابن عامر ترمنبر لاندی ناست ووم ، اوده یعنی ابن عامر خطبه ویله اونرمی جامی یه اغوستی وی ، أبو بلال وویل : وګوری زموږ أمیر دفاسقانو جامی اغوستی دی ، نو أبی بکرة ورته وویل : چپ سه ماد رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلی دی چه ویل ئی : چاچه د الله د سلطان یعنی حاکم سپکاوی وکړی په ځمکه کی ، الله به هغه سپك اوخوار کړی.

بل حدیث کی راځی : عن أبی بکرة رضی الله تعالی عنه قال : سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول : من أکرم سلطان الله تبارك وتعالی فی

الدنيا ، أكرمـه الله يوم القيامة ، ومن أهان سلطان الله تبارك وتعـالى فـى الدنيا، أهانه الله يوم القيامة . رواه مسند أحمد حديث نمبر ۱۹۵۳۸

ترجمة : حضرت أبى بكرة رضى الله تعالى عنه وايى : ماد رسـول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلى دى چه ويلى: چاچه د الله تبارك وتعـالى دسلطان عزت په دنياكى وكړى ، الله به دهغه عزت د قيامت په ورځ وكړى اوچا چه د الله تبارك وتعالى دسلطان إهانت سپكاوى په دنياكى وكړى ، الله به د هغه إهانت اوسپكاوى د قيامت په ورځ وكړى.

۳- نصيحت ورته كول

داچه أمير هم انسان دى ، اوانسان الله تعالى ضعيف پيداكړى دى، كله هيره او كله خطاء څنى كول كيږى، نوځكه د اسـلامى شـريعت لـه مخـى د مسلمانانو أمير پر رعاياو باندى داحق لرى ، چه دخطاء اوهيرى په وخـت كى ، كه دى وغواړى اوكه ونه غواړى ، نصيحت ورته وكړى، څكه پـه حديث كى راغلى : عن تميم الدارى أن النبى صلى الله عليه وسلم قال : الدين النصيحة، قلنا لمن ؟ قال: لله، ولكتابه، ولرسوله، ولأئمة المسلمين، وعامتهم (۱)

ترجمة : تميم دارى رضى الله تعالى عنه روايت كوى : چه نبى صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دين نصيحت دى، موږ ورته وويل وچاته ؟ ده وويـل: والله ته، د الله كتاب ته،اود الله رسول ته،دمسلمانانو أميرانوته،اوعاموخلقوته.

۱- ور'. مسلم حديث نـمبر ۸۲ كتاب الإيمان

تشریح : علماء کرام رحمة الله تعالی علیهم د دی حدیث تشریح داسی کوی: والله ته دنصیحت معنا داده، چه په الله إیمان راوړی، اوڅوك ورسره شریك نه کړی، اوټول دکمال اوجلال صفتونه ورته ثابت کړی، اود ټولو نقائصو څخه منزه اوپاك وبولی، د أوامرو إطاعت اود نواهیو څخه إجتناب اوپرهیز وکړی .

اود الله وکتاب ته دنصیحت معنادا ده، چه إیمان پر راوړی، چه داد الله تعالی کلام دی، اوټول انسانان د دی په مثل بل نه سی جوړولای ، تعظیم اوتلاوت ئی په ډیره خضوع اوخشوع ، اوپه ښه قرأت سره وکړی .

ورسول ته دنصیحت معنا دا ده چه درسالت تصدیق.یـه وکړی، اوپرټولو أوامرو اونواهیو، اوهغه څه چه دده موږ ته ویلی اوراوړی دی ایمان راوړی، او ددوستانوسری دوستی اوددښمنانو سره دښمنی وکړی، اودشریعت په نشر کولو اودسنتو په ژوندی کولو کی کوشش وکړی.

دمسلمانانو وإمامانو ته دنصیحت کولو معناداده ، چه په حق اوشرعی أمورو کی إطاعت اومعاونت وکړی، دمسلمانانو دشرعی حقوقو څخه د غفلت په حال کی خبراوتنبیه ورکول سی، دأمر څخه بغاوت نه کول ، اودده إطاعت ته نور خلق رابلل.

وعاموخلقوته دنصیحت کولو معنادا ده ، چه په ښه کارونو أمر ورته کول، اود بدو کارونو څخه منع کول ، ددنیا او آخرت ومصالحو ته

لاربنوبه کول . الإمامــة العظمى ص ٤٠٦

عن أبي أمامة رضي الله عنه قال: عرض لرسول الله صلــى الله عليــه وسلم رجل عند الجمرة الأولى فقال يارسول الله ! أي الجهاد أفضل ؟ فسكت عنه فلما رأى الجمرة الثانية سأله فسكت عنه ، فلما رمى الجمرة العقبة ووضع رجله في الغرز ليركب ، قال: أين السائل ؟ قال أنا يارسول الله ! قال كلمــة الحق عند ذي سلطان جائر. رواه ابن ماجة حديث نمبر ٤٠٠٢ كتاب الفتن

ترجمة: حضرت أبي أمامة رضي الله تعالى عنه وايي: دأولى جمرى سره يوسړى رسول الله صلى الله عليه وسلم ته حاضر سو ، او ورته وى ويل: أى د الله رسوله ! كم جهاد أفضل دى ؟ رسول الله صلى الله عليه وســلم څــه ورته نه وويل، بيايه په داسى حال كى ورته وويل: چه عليه السلام ميــانځنى جمرة ويشتله ، اوعليه السلام څه نه ورته وويله، كله چــه آخرنــى جمــره وويشتله اوپښه يه په ركاب كى كښيښودله ، وى ويل: سوال كونكى چيرى دى ؟ -- ورته وويل : زه دغه يم أى د الله رسوله ! ورته وى ويــل : ښــه جهاد ظالم حاكم ته حق خــبره كول دى.

معنا داچه وأميرته نصيحت كول نه يوازى دا چه دأمير حق دى ، بلكه ونصحت كونكى ته ، الله عزوجل دښــه جهاد ثواب هم وركوى.

خو دنصيحت په وخت كى نصيحت كونكى ته لازمه ده ، چــه ددة دحيثيت عزت اورتبى خيال وساتى ، داسى نه چه د خلقو په مخكى بى عزته

اوسپك سی ، ځکه یوحدیث کی راځی : عن عیاض بن غنم الأشعری رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من کان عنده نصیحة لذی سلطان ، فلایکلمه بها علانیة ، ولیأخذ بیده فلیخلل به ، فإن قبلها قبلها، وإلاکان قد أدی الذی علیه والذی لـه . (۱)

ترجمة : حضرت عیاض بن غنم الأشعری رضی الله عنه وایی : چــه رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: څوك چه دقدرت خاوند ته نصیحت کوی ، په ښکاره دخلقوپه مخکی دی خبری نه ورسره کوی ، تــر لاس دی ونسی او یوازی دکړی ، کی قبول کړی خوقبول یه کړی ، اوکه یه نه کی قبول ، بیشکه ادا سو هغه څه چه پرده باندی وه ، اودده لــپاره وه .

دأمیر دعزل یالیری کولو أسباب

که دیوی خوا الله تعالی پررعایاو د أمیرانو اطاعت واجب کړي دی، خوله بلی خوایه دغه اطاعت مقید کړي دی، ځکه د اسلام لــه نظــره حــاکم اومحکوم دواړه د الله تعالی بندګان دی ، دواړه د الله تعالی دحکم تــابع دی ترڅوچه أمیر مسلمان وی، اود الله تعالی دأحکامو مطابق د الله تعالی پرمخلوق د الله تعالی دقرآن اود هغه درسول صلی الله علیه درابنــوول ســوی لاری مطابق چلن کوی ، پررعایاوباندی إطاعت واجب دی ، که کافر سو اویا یه دالله تعالی په قرآن حکم نه کاوه، اویادشرعی آحکاموپه تنفیذکی دمرض اویا

۱ - الإمامة العظمی ص ٤١١ بحواله الحاکم فی المستدرك

بل سبب سره عاجز سو، اويا كفائت عقلي ياجسمي له لاسه ورکړي، اويا ددښمن په لاس کې قيد اوبندی سو، چه دخلاصون لاره یه نه معلوميدله، په داسې ټولو صورتونو کې دأمير معزول يالېرې کيدل ضروري دی، ځکه په ځه صورتونو کې دی کافر بلل کيږي، اودکافر حکومت پرمسلمانانو نـه صحيح کيږي، اوپه ځه صورتونو کې بيا چه دی دشرعي احکـامو دتنفيذ څخه عاجز سي، اويادمسلمانانو عام مصالح فوتيږي، بيا هم دی دأمارت حق نه لري، ځکه داسلام له نظره أمير دمسلمانانودمصالحو دساتنې لپاره وی، نوچه دمسلمانانو مصالح، اويا ټول هغه شرطونه چه دأمير دنصب پـه وخت کې ضروري وه، دهغوی په فوتيدلوسره دی معزول بلل کيږي.

دعزل يالېرې کولو دلاروڅخه مناسبې لاری دادی، چه أول دی پـه خپله د الله تعالی څخه وبيريږي اواستعفا وکړي، خپل ځان په خپله معـزول کړي، اويا دأهل العقد والحل هغه کسان چه اول ئې ورسره بيعت ورسره کـړي دی، ورسی اونصيحت ورته وکړي، وحقی لاری تـه دعـوت ورکـړي، اودظلم څخه ئې راېند کړي، که نه نوبيا دوی لاری دی، کـه دی کـافر سوی وو، اويا يه أعمال دکفر وه لکه حکم په غير ما أنزل الله يـه کـاوه، نومسلح جهاد هم ورسره جائز دی، ځکه حديث کې راغلي (من بدّل دينه فاقتلوه) يعني چاچه خپل دين بدل کړ، هغه وژني، اودغه ترټولو خطرناکه لاره ده؛ دوهمه لاره دا ده چـه أهل العقد والحل دی مشوره سره وکړي،

داسې لاردعزل دی راوباسي، چه فساد په دده ترظلم زيات نه سي ، لکــه دمالي واجباتو نه ورکول ، اومقاطعة ورسره کول ، د أوامرو اطاعت نــه کول ، عمومي احتساب کول ، اوداسې نور دوقت اوحالاتو سره موافق ، په دې شرط چه فساد په دده ترظلم اوفسق زيات نه سي ، داسې نه لکه چه څه خلق دظلم اوفسق ياظالم اوفاسق دورکولو لپاره ، د بيگانه ، اوپردو څخــه کومك غواړي ، دهمدې لارې دکافرانو، اوپراختيا خوبنــونکو دمغرضــو چلونو لاندې راسي، اوبياخپل ځان نسي خلاصــه ولاي .

خاتــمة

دا چه د اسلام اوسياست پر موضوع باندې څه وليکله سوله ، دا صــرف د الله تعالی په توفيق اود الله تعالی درضا لپاره ، صرف ديو ديني خدمت ترجذبه لاندې دخپل علم اوپوهې مطابق دمعتمدو کتابونو په حواله ليکلي سوي دي، کيدايسې څه پکښې حق وي، هغه صرف د الله عزوجل فضل او کــرم دی، اوڅه پکښې خطاء اونقصان وي ، په هغه باندې زه د الله جل جلاله څخــه بخښنه اومعافي غواړم، اوزه د الله عزوجل ددې قول په اقتباس إن أُريــدُ إلاَّ الإِصلاحَ مااستَطَعتُ ، وَمَاتوفِيقِي إلاّ بِاللهِ ، عَلَيهِ تَوَكَّلتُ ، وَإِلَيهِ أُنِيبُ .

وايم چه زما اراده داصلاح نه بغير بل هيڅ نه ده، ترڅوچه مي تــوان وي ، اوزه په هراصلاحي کارکې د الله تعالی نه توفيق غواړم ، اوزما خاص پرهم دغه الله توکل دی ، اوهم دده تــه رجوع کوم.

لکه څرنګه چه مو دکتاب په سريزه کې اشاره ورته کړی وه، چه زه تول اسلامي سياست يانظام حکومت نه تشريح کوم، بلکه صرف څه داسې موضوعاتو اومسائلو څخه دځېل علم اوپوهې په اندازه بحث کوم، کوم چه په موجوده وخت کې، زما په نظر بحث ته ضرورت لري، لکه داسلام له نظره د سياست ياسياسي تنظيمونو شرعي حيثيت، اويا په هغوي کې برخه اخستل، عام انتخابات اودهغوی معنا، مفهوم اوشرعي حيثيت، دأمير تعين ياانتخاب، د اسلامي أمير اوشوری د ارکانو مواصفات، اووظائف، اود شوری أهميت، اواسلامي بيت المال، اوداسې نورموضوعات.

په دې بحث کې مو ولوستل چه اسلامي سياست ددين يو جز دی، اسلام دين اوسياست يو له بل جدا نه بولي، اود قدرت اخستل د شرعي احکامو دتنفيذ لپاره يوضروري اوديني وظيفه ده، اودقدرت اخستل دعامو انتخاباتو او يابلې شرعي لارې څخه اخستل نه يوازې جائز بلکه ضروري دي، ځکه د اسلام له نظره طريقه کار مهمه نه، بلکه مواصفات اومعيار أهميت لري، اوبل دا چه په يودين کې دأمير مواصفات، اونظام حکم، حاکم، محکوم او مواصفات يه په ډېر تفصيل سره بيان سوي وي، اوتول نظام حيات اونظام ماليات، مصارف اوموارد ذکرسوي وي، اوتول لارښودنې او ديني مشران په سياسي اونظامي قائدين تيرسوي وي، بياهم څوك وايي چه په اسلام کې سياست ياحکومت نه سته، کيدايسې دا به

د اسلام څخه دناخبرۍ، اوبې علمۍ نتیجه وی .

بل دا چه حکومت اوسیاست د اسلام اواسلامی احکامو دتنفیذ وسیله ده، ځکه داسلامی حکومت دأهمومقاصدو څخه ددین نشر اوحفاظت ، د احکامو تنفیذ ، أمر بالمعروف نهی عن المنکر ، دعدل اثبات ، اودظالم مخ نیوی اودمظلوم نصرت کول دی، دأغنیاؤ څخه دفقیرانو حقوق أخستل دی .

بل داچه دمسلمانانو عزت ۹ قیام اوشوکت په اسلامی حکومت سره راځی ، مسلمانان که خپل حکومت ونه لری ، اویاپه سیاست اوسیاسی تنظیمونو کی کارونه کړی، نوضروربه پردوی داسی حکومت راځی چه ددوی ټول دینی ، بشری ، اومالی حقوق به غصب کړی .

۱. دا چه داسلام له نظره دأمیر لپاره داشرط نه ده چه ترټولو به دقوم، دنیا یاجسم وصورت له نظره أفضله اوغوره وی، بلکه دا شرط ده چه تر ټولو صالح اودمسلمانانو لپاره په ګټه وی، ترڅو دمسلمانانو اسلامی أخوت اوملی وحدت تامین سی ، همداوجه ده ، چه دی پرخپل إمارت اوحکومت باندی تر هغو پاته کیدایسی ترڅو د اسلام اومسلمانانو د مصالحو په ګټه وی.

اودا چه دکتاب زیاته برخه داسلامی بیت المال د عوائدو اومصارفو په تشریح کی تیره سوه ، د دی وجه داده ، چه د اسلام له نظره نظام مالیات یعنی دبیت المال عوائد اومصارف داسلامی اوصولو مطابق جوړول دځوسنتو عملی کولو اونفلی عباداتو ، أهمیت لری، داځکه چه په یوحدیث کی راځی:

عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال: رسول الله صلى الله عليه وسلم: أيها الناس إن الله طيب لايقبل إلاطيبا، وإن الله أمر المؤمنين بما أمر به المرسلين، فقال: يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ، وقال: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُم ثم ذكر الرجل يطيل السفر أشعث أغبر، يمد يديه إلى السماء يارب يارب ومطعمه حرام، ومشربه حرام، وملبسه حرام، وغذي بالحرام، فأنى يستجاب لذلك. (١)

ترجمة: حضرت أبوهريرة رضي الله تعالى عنه فرمايي: چه رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: أى خلقو الله پاك دى، اونه قبلوى مگر پاك، اوالله تعالى مومنان په هغه څه أمر كړي دى، په كوم شي چه رسولان أمر كړى دى، او وى ويل: أى رسولانو خورى تاسى له طيباتو پاكزه وه طعامو څخه، او بيا وكړى تاسى ښه عملونه، بيشكه زه پرهغه كارونو چه كوى ئى تاسى ښه عالم خبردار يم، اوبيايه وويل: أى هغه كسانو چه ايمان موراوړى دى! خوراك كوى دهغو پاكو شيانو څخه چه موږ يه رزق دركړى دى، اوبيايه دهغه سړى ذكر وكړ، چه دثواب په نيت ډير اوږد سفر كوى، نرغو سريه ببر اوپه خاورو سپيره سى، اولاسونه داسمان وطرفته پورته كړى يارب يارب نعرى وهى، په داسى حال كى چه دده خواړه حرام وى، جښل يه حرام وى، أغوستى يه حرام وى، اوپه حرامه تغذيه سوى وى، كله

١- رواه مسلم حديث نمبر ١٦٨٦ كتاب الزكوة

به یاڅنګه ددعا یاعبادت قبول سي ؟ أني یستجاب معنا څنګه به قبول سي عبادت اودعادواړه مراد دي،اواستفهام انکاري دی یعنی هیڅ کله نه قبلیږي.

دپورتني حدیث په استدلال ویلایسو چه په ټولو نفلي عباداتو ، روژو، لمنځو په وجه سړي متقي یابزرګ نسي جوړیدلای ، اویادځه مباح اویادځه سنتونو پر عملي کولوسره ویونظام ته اسلامي نسي ویل کیدلای، ترڅو دمالیاتو، خوړلو، اوچښلو نظام داسلامي أصولو مطابق نه وي، ځکه حلاله نفقه ترعباداتو أهمیت لري، ځکه په هغه أول آیت کي الله عزوجل ورسولانوته ترپاکو خوړو وروسته دنیکوأعمالو یاعباداتو أمر کړی، اوپه دوهم آیت کي الله عزوجل ومومنانوته تر پاکوخوړو وروسته دداغه دآیت په آخر کي داسي فرمایي : (وَاشكُرُوا لله إن كُنتُم إِيَّاهُ تَعبُدُونَ) (اوشکر وباسی الله لره ، که چیري ئي تاسي خاص ده لره عبادت کونکي،) یعني که تاسو د الله تعالی عبادت کوي ، نوپاك خواړه وخوري، اود الله شکر وواياست.

په بل حدیث کي راځي: عن أنس بن مالك عن النبي صلی الله علیه وسلم، قال الدعاء مخ العبادة . (۱)

ترجمة: أنس بن مالك رضي الله عنه وایي: چه نبي صلی الله علیه وسلم وویل: دعاء دعبادت ماغزه دي. که دغه حدیث دپورتني حدیث سره یوځای و ایو نوویلایسوچه دحرام مال دخوړلوسره دعبادت ماغزه نه قبلیږي

۱- رواه الترمذي حدیث نمبر ۳۲۹۳ کتاب الدعوات

نور عبادات خو ییخی نـه قبلیږی .

بل داچه په حرامو مالونو پوری ډیر ځمله حقوق العباد اړه لری ، یعنی دخلقو حقوق په زور، غصب، غلا، ظلم، په ناحقه اخستل سوی وی، اود دی سره هم هیڅ نیك عمل ګټه نه رسوی، لکه چه په یوحدیث کی راځی:
عن أبی قتادة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أنه قام فيهم فذكرهم أن الجهاد فی سبيل الله والإيمان بالله أفضل الأعمال، فقام رجل وقال: يارسول الله أرأيت إن قُتلتُ فی سبيل الله تكفَّر عنی خطاياي ؟ فقال له رسول الله صلى الله عليه وسلم: نعم إن قُتلتَ فی سبيل الله وأنتَ صابر محتسب مقبل غير مدبر، ثم قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : كيف قلتَ ؟ قال أرأيت إن قتلت فی سبيل الله أتكفَّر عنی خطاياى ؟ فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم نعم وأنت صابر محتسب مقبل غير مدبر ، إلا الدين ، فإن جبرائيل عليه السلام قال لی كذلك. رواه مسلم حديث نمبر ٣٤٩٧ كتاب الإمارة

ترجمة:حضرت أبی قتادة رضی الله تعالى عنه وایی: چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ددوی په منځ کی ودریدی ، اودوی ته ئی ذکر وکړ، چه دالله په لاره کی جهاد کول ، اوپرالله باندی ایمان راوړل ډیرښه اوبهترعمل دی ، یوسړی ولاړسو او وی ویل: أی د الله رسوله! څه فکر کوی که زه د الله په لاره کی ووژل سوم، زماتولی خطاوی اوګناهونه رژیږی یابخښل کیږی ؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وده ته وویل : هو ، که تـه د الله په

لاره کی مړسوی ، اوته صبر کونکی، اوګمان کونکی، پرمخ تلونکی، پرشا نه تلونکی وی، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: تاڅـــه ویــل ؟ دده وویل : ته څه فکر کوی که زه د الله په لاره کی ووژل سوم آیا زما خطاوی اوګناهونه بخښل کیږی ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: هو، که ته صبر کونکی ، اودداغه ګمان کونکی، پرمخ تلونکی، پرشا نـــه تلونکـــی وی، مګر نـــه پـــور، بیشکه جبرائیل علیه السلام ماتـــه داسی وویل.

امام نووی رحمة الله تعالی علیه وایی: قوله صلی الله علیـــه وســـلم إلا الدین، ففیه تنبیه علی جمیع حقوق الآدمیین، وأن الجهاد والشهادة وغیرهما من أعمال البر لایکفر حقوق الآدمیین، وإنما تکفر حقوق الله تعالی.

یعنی دعلیه السلام دا قول چه وایی : إلا الدین ، څخه مراد د انسانانو ټول حقوق دی ، اوبل دا چه جهاد اوشهادت اونور نیك عملونه دانســـانانو حقوق نه معاف کوی اویانه بخښی، بلکه د الله تعالی حقوق معاف کوی.

اودعلیه السلام دا قول چه وایی: وأماقوله صلی الله علیه وسلم: نعم ثم قال بعد ذلك إلا الدین ، فمحمول علی أنه أوحي إلیه فی الحال ، ولهذا قـــال صلی الله علیه وسلم إلا الدین فإن جبرئیل قال لی ذلك. مسلم ص ۱۳۵

یعنی دا چه علیه السلام یوځلی وویل: هو او بیا یې وویل : مګرنه پور، ددی معنا دا ده چه په داغـــه وخت کی ورته وحي راغلی دی ، نوځکه دده وویل: چـــه ماتـــه جـــبرائیل داسی وویل.

او که دفقهاؤ دا مشهور قول نه وګورو چه وایی : الحـــدود تندر بالشبهات، یعنی حدود په شبهه باندی نړیږی ، ویلایسو چه حدود یوازی د الله تعالی حقوق دی ، چه معمولی شبهه پکښی پیداسی نه عملی کیږی، اود انسانانو حقوق په شبه نه باطلیږی، هم معلوم سو چه دانسانانو حقــوق ترعبادات چه یوازی د الله تعالی حق دی اهمیت لری، ځکه حقوق الله پـــه عباداتو بخښل کیږی ، حقوق العباد نه بـــخښل کـیږی.

دپورتنی حدیث اوفقهی مسئلی څخه هم معلومه سوه چـــه حقــوق العباد په هغه بنه اوبهتر عبادت لکه جهاد اوشهادت هم نه بخښــل کیږی، اوحقوق الله په بخښل کیږی، دا چه عبادات صرف د الله جل جلاله حقــوق دی، اوپه مالیاتو پوری ډیرڅله د مخلوق حقوق تړلی وی، نوځکه ویلایســو چه دنظام مالیات اوخوړلو بڼلو اصلاح دمسؤلینو لپاره په ټولنه کـــی، اود اشخاصو لپاره په خپل شخصی ژوندانه کی ترعباداتومهم دی ، اواشـــخاص اومسؤلین ترهرڅه نه مخکی دخپل ځان اوبیادنورو لپاره دحلالی نفقی تدبــیر وکړی، ځکه دحلالی نفقی داستعمال سره پرعباداتو باندی ثــواب مرتـــب کیږی ، اوپرکوم عبادت چه ثواب مرتب نه وی هغه بی فائدی دی.

که څه هم پر پورتنیو موضوعاتو به علماء کرامو رحمة الله تعالی علیهم ډیرڅه په ډیر ښه انداز لیکلی وی او لیکلی دی ، خوما هم ددی مقولی پـــه اساس چـــه وایی (برگی سبز تحفة درویش است) دیوی شنی پاڼی په شکل

مسلمانانو اوخاص بیا وخپلې اسلامې اوپښتنې ټولنې ته، ددغه یوه وړوکې تحفې وړاندې کولو جرأت وکړی، د الله جل جلاله څخه مې دا خواست دی، چه دمسلمانانو لپاره دنفع اوګټې سبب وګرځوی، اوزمالپاره صدقه جاریه سی، او الله تعالی مې دی دهغه کسانو څخه وګرځوی، دکومو کسانو په هکله چه الله عز وجل فرمایی : إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ، يَهْدِيهِمْ رَبُّهُم بِإِيمَانِهِمْ ، تَجْرِي مِن تَحْتِهِمُ الْأَنْهَارُ فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ ، دَعْوَاهُمْ فِيهَا سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ،وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ . سورة یونس آیات ۹-۱۰

بیشکه هغه کسان چه ایمان یې راوړی، او کړي دي ښه عملونه، وبه ښیې دوی ته رب ددوی په آخرت کې ، لاره دجنت په سبب دنور د ایمان د دوی، چه بهیږی لاندې له کورونو اوباغونو، ددوی ولې، چه ډک له نعمتونو.

دعاوی ویناوی ددوی په دې جنتونوکې، به داوی چه په پاکۍ سره یادوو تا ای الله ! اوپیشکش د دوی به په دغه جنت کې سلام وی ، اوخاتمه د دعا وینا د دوی به داوی چه ټولې ثناوې ستاینې اوصفتونه خاص الله لره دی چه رب پالونکی دټول عالمیانو دی. آمین یارب العالمین .

۳۰/ رمضان المبارك / ۱٤۲۱هـ موافق ۲۰۰۰/۱۲/۲۷م ورځ چهار شنبه

مآخذونه

١- القرآن الكريم
٢- الجامع لأحكام القرآن : لأبو عبد الله محمد بن أحمد القرطبى رح
٣- التفسير المظهرى : لقاضى محمد ثناء الله العثمانى رح
٤-- تفسير المراغى : لأحمد مصطفى المراغى رح
٥- تفسير كابلى : لمولانا شبير أحمد عثمانى رح پښتو ترجمه دوه جلدى
٦- معارف القرآن پښتو ترجمه : لمولانا محمد شفيع رح
٧- صحيح البخارى : للإمام أبو عبد الله محمد بن اسماعيل البخارى رح
٨- الصحيح لمسلم : لإمام أبو الحسين مسلم بن الحجاج القشيرى رح
٩- سنن ابن ماجة : أبو عبد الله محمد بن يزيد بن عبد الله بن ماجة القزوينى
١٠- الجامع الصحيح الترمذى : لأبى عيسى محمد بن عيسى الترمذى رح
١١- سنن أبى داود : أبوداود سليمان بن الأشعث السجستانى رح
١٢- سنن النسائى : الإمام أبو عبدالرحمن أحمد بن شعيب النسائى رح
١٣- مسند أحمد : الإمام أبو عبد الله أحمد بن حنبل المروزى رح
١٤- موطا مالك : الإمام مالك بن أنس رح
١٥- مشكوة المصابيح : الشيخ ولي الدين محمد بن عبد الله الخطيب التبريزى
١٦- نيل الأوطار : محمد بن على بن محمد الشوكانى رح
١٧- رد المختار : العلامة محمد أمين الشهير بابن العابدين الشامى رح

١٨- الاختيار لتعليل المختار : عبد الله بن محمود بن مودود الموصلي الحنفي
١٩- كنز الدقائق : أبو البركات عبد الله بن أحمد بن محمود النسفي رح
٢٠- الهداية : برهان الدين أبو الحسن علي بن أبي بكر الفرغاني المرغيناني
٢١- شرح فتح القدير شرح الهداية : للعاجز الفقير الشيخ الإمام كمال الدين محمد بن عبد الواحد رح
٢٢- الفقة الاسلامية وأدلته : الدكتور وهبة الزحيلي رح
٢٣- كتاب الأموال : للإمام الحافظ الحجة أبي عبيد القاسم بن سلام رح
٢٤- كتاب الخراج : ليحيى بن آدم القرشي رح
٢٥- الاستخراج لأحكام الخراج : للإمام أبي الفرج عبدالرحمن بن أحمد بن رجب الحنبلي رح
٢٦- كتاب الخراج : للقاضي أبي يوسف يعقوب بن ابراهيم رح
٢٧- كتاب الأ ثار : للإمام الرباني أبي عبد الله محمد بن الحسن الشيباني رح
٢٨- اسلامي معيشت : مهر محمد نواز خان رح
٢٩- شرح عقيدة الطحاوي : لأبي العز الحنفي رح
٣٠- اصول الدعوة : عبد الكريم زيدان رح
٣١- رهبر ورهنما : تأليف ضياء الرحمن فاروقي رح
٣٢- الأحكام السلطانية : لأبي يعلى رح
٣٣- الامامة العظمى : عبد الله بن عمر بن سليمان الدميجي رح

٣٤- السياسة الشرعية : دكتور فخرى خليل أبو صفية رح

٣٥- سياست وریاست : پروفيسر فاروق أختر نجيب رح

٣٦- اسلامی سیاست : مولانا گوهر الرحمن پښتو ترجمه

٣٧- الإمامة والسياسة : أبى محمد عبد الله بن مسلم ابن قتيبة رح

٣٨- اسلام کا سیاسی نظام : إسرار الرحمن بخاری رح

٣٩- تاريخ الخلفاء الراشدون : تأليف عبد الوهاب النجار رح

٤٠- تاریخ افغانستان بعد از اسلام : نوشته عبد الحي الحبيبى رح

٤١- افغانستان درمسير تاريخ : تأليف مير غلام محمد غبار رح

تقریظونه

لکه څرنګه چه موږ ځکی ویلی دی ، چه ددی کتاب تالیف اوترتیب یوازی زما شخصی علمی تحقیق اوڅیړنه ده ، نوځکه ما ته مناسب وه چه پر خپل علم اوپوه باندی مکمل اعتماد ونکړم ، اوداکتاب ونورو مشائخو، علماؤ ، استادانوته عرض کړم ترڅو هغوی ئی هم مطالعه کړی اوله نظره ئی تیرسی ، که له ماڅخه کومه غلطی په ترجمه ، تفسیر، تشریح ، استدلال یاوجه استدلال کی، دمذهب یا إسلامی سیاست څخه خلاف کوم شئ سهوا یادغفلت یاد بی علمی له وجه سوی وی هغه ددوی دعلمی تجربی اومهارت په برکت اصلاح سی، اوداکتاب نورهم داسلام اومسلمانانو دښه نفع سبب وګرځی، نو ځکه مایودرخواست غوښتن لیك ترتیب کړی، چه دهغه الفاظ په دی ډول وه.

بسم الله الرحمن الرحیم

جناب محترم الحاج مولوی .... صاحب حفظه الله ورعاه

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد :

محترما د الله عزوجل په توفیق سره می ، د څه زیار اومحنت نه پس د اسلام اوسیاست ترعنوان لاندی ، پرڅه موضوعاتو باندی دخپل علم اوپوهی مطابق ، خالص ددین دخدمت په جزبه اومقصد څه ولیکله ، دا چه په دی کی ده څه آیتونو ترجمة اوتفسیر ، دڅه حدیثونو ترجمة اوتشریح ، اودڅه

فقهي مسائلو ترجمة اوتوضيح، او وڅه تاريخي وقايعوته دکتابونو په حواله اشاره سوی ، يااستدلال په دليل سوي دی.

محکی تردی چه دا ديو کتاب په شکل چاپ اوخلقو ته وړاندی سي، غواړم چه ستاسو ودرانه حضورته ئی وړاندی کړم، ترڅو ستاسو غوندی ديومشفق استاذ اومشر ترنظر تيرسي، اوستاسو د علم اوتجربي له مخی که کومه غلطي يادمذهب څخه مخالفت يابه استدلال کی خطأ سوی وی ، هغه اصلاح سی، اونورهم د اسلام اومسلمانانو به ښه فائده تمام سی، اودا کتاب ستاسو په تزکيه سره مزين سی ؛ او د بنده څخه حوصله نوره هم لوړه سی، اودا به ستاسو درحمت اوشفقت څخه ليری نه وی . مع السلام

تاريخ / شوال / ١٤٢١هـ   هبله لرونکی : ستاسو ديوتلميذ په حيث
مولوی مطيع الله (عاقل)

نو ماددی کتاب څونسخی په کمپيوتر په ښه خط صفا وليکلی ، اود پورتنی غوښتنی ليک سره می وڅو محترو مشهورو اومقبولو علماء اواستاذانوته دمطالعی اوتصحيح لپاره ورکړی دادی چه دهغوی نمونه اونظرونه محترمو لوستونکوته وړاندی کوم .

١- ترټولو .نه مخکی می ددی کتاب يونسخه دپورتنی غوښتنی ليک سره دمحترم مشر استاذ مفتی اعظم افغانستان، ابو شهيدين ، دامير المؤمنين دجهادی مدرسی شيخ الحديث حضرت مولنا عبد العلی ديوبندی الحنفی النقشبندی

حضورته وړاندې کړي، چه هغه محترم ترمطالعه کولونه وروسته لاندې تقريظ په خپل خط او لاسليك سره عنايت کړې الله عزوجل دې ددنيـــا اوآخـرت کاميابي ورپه برخه کړي . آمين

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونصلي على رسوله الكريم ،،

أما بعد ،، حمد بلا نهايه ؛ على ممر الدهور والأيام الماضية والآتية ؛ مرخدا وند متعال را است كه در هر عصر و زمان .... علماء حق بين وحق شناس وحق پرست را بظهور آورده .... كه دين مبين محمدي را اشاعه ونشر داده بگوش جهان وجهانيان ايصال كرده اند

واز آن جمله .... حمد لله الواجد المنان .... الذكي الوحيد الفريد مولنا الحاج مولوي مطيع الله صاحب ... عالم .... فرزند ارجمند فخر الاذكياء ... عالم كبير ... الحاج مولنا عبد الحي .... آخندزاده صاحب مرحوم .... اسحاق .... [redacted] است

كه با وجود مصائب وشدائد .... وبا نزول جحفل مشكلات كتاب .... اسلام وسياست .... را تأليف كرده .... جابجا مطالعه نمودم .... وعلى الرأس والاعين .... مقبول .... ومتشكرم .... جزاه الله تعالى خير الجزاء في الاولى والاخرى .... واز كثير من الناس .... كه دعوى خدمات اسلاميه را ابراز ميداشت .... ودر حق ايشان ....

أحسن الظن ... قريب وأقرب بيقين داشتيم ..... حالا
تبدين بالعكس گرديده ..... مأيوس شديم ....
وچيزی و ذره ئی از خدمت إسلاميه .... از بينان ... نمی بلنيم؛
ونمی جوييم ... ونخواهيم ... ونمی دانيم؛
وإلى الله المشتكى من انقلاب
هذا الزمان ...
؛ وإخوان حسبتهم دروعا ؛ فكانوها ولكن للأعادي ؛
؛ وقالوا قد صفت منا قلوب ؛
لقد صدقوا ولكن من ودادي ؛

والله تعالى هو المستعان ...
وأنا العبد الضعيف الخويدم محمد العلي الإلويي بن الحنفي النقشبندي
از خدام شيخ حقاني ... عالم رباني ... عامل ومتشرع
حضرة الشيخ ضياء المشائخ الشهيد المرحوم .. رحمه ورحمهم ورحمنا الله
تبارك وتعالى ...

۲- اوبل می ددی کتاب یوه نسخه دمفتی اعظم پاکستان ، په کراچی کښ دبنوړی ټاون دجامعة العلوم الاسلامية شيخ الحديث ، اود دارالافتاء رئيس، حضرت مولنا ډاکټر مفتی نظام الدين شامزی صاحب په خدمت کی دتصحيح اومطالعی لپاره عرض کړی ، که څه هم مفتی صاحب ډیر مصرفيتونه لـرل ، ځکه که دیوی خوا خپل تدريسی اودار الافتاء مصروفيتونه وه ، خو له بلـی خوا د افغانستان د اسلامی تحريك او اسلامی امارت د اسلامی جهاد اواسلامی نظام ترجزبه لاندی د يو مخلص مشاور اومجاهد دنـده هـم فـی سـبيل الله اجراکوی ، خو بيايه هم زموږ ودی علمی خدمت ته دمطالعی لپـاره خپـل قيمتی وقت ورکړ ، اوترمطالعه کولو نه وروسته ئی پرخپل شخصی کاغذ په خپـل خط اودستخط داسلام اوسياست نومی کتاب په هکله خپل ښکلی علمی نظر دلاندينی تقريظ په شکل عنايت کړی ، چه محترمو لوستونکوته په هـم هغـه شکل وړاندی کړی ، زه د محترم مفتی صاحب بيحده شکر گـذار يـم الله عزوجل دی دده څخه راضی سی ، او الله تعالی دی د ده محترم ټول دينـی ، علمی ، احتماعی خدمات قبول کړی ، اوالله عزوجل دی دنيکو جزا په دنيـا اوآخرت کی ورته ورکړی . آمين

ڈاکٹر مفتی نظام الدین شامزئی
شیخ الحدیث جامعۃ العلوم الاسلامیہ علامہ بنوری ٹاؤن کراچی
فون: ۴۹۱۸۳۱۴

Professor of Hadees:
JAMIAT-UL-ULOOM-UL-ISLAMIA
Allama Banori Town, Karachi Ph: 4918314

Ref ______ ______ تاریخ ______

زه نظام الدین شامزی عرض کوم چه ما د محترم مولوی مطیع الله عاقل صاحب کتاب
اسلام او سیاست مطالعه کړو الحمد لله په دې موضوع باندې ښه مستند او
صحیح کتاب دی۔ دا کتاب پدې وخت کې لیکلی شوی دی چه بعض جدید نوی
او عصری تعلیم یافته کسان داوائی چه علماء په سیاست او کار د حکومت
باندې نه پوهیږی او بعض خلق داوائی چه د ملا د سیاست سره
څه کار دی یا دا چه په اسلام کښې د سیاست په حق کښې څه احکام
یا لا موجود نه [illegible] نشته دی = نو مولوی صاحب محترم) د دې ټکو خبرو
په جواب کښې دا کتاب لیکلی دی او دا خبره ئې ثابته کړې ده چه اسلام یو
مکمل او جامع دین دی او د سیاست او حکومت په حق کښې هم جامع
او مکمل احکام موجود دی = حقیقت دا دی چه اسلام چه کله شروع
کیده نو په هغه وخت کښې د سیاسی نظام په طور په دنیا کښې یو د روم نو
نظام موجود وه او دویم د اهل فارس نظام وه او دریم د عربو خپل قبائلی
نظام موجود وه نو اسلام د دغو درې نظامونو په مقابله کښې راغلی او الله تعالی
وفرمائیل چه ان الدین عند الله الاسلام یا ومن یبتغ غیر الاسلام دینا فلن یقبل
منه هو چه لائق د قبلولو دین او نظام صرف اسلام دی او هغه څوک چه
د اسلام نه علاوه په بل دین باندې ژوند تیر کړی او د الله تعالی دربار ته
حاضر شی نو الله تعالی به د هغه عمل نه قبلوی = او اعلان ئې وکړی چه هدایت
او حق صرف پدې کښې منحصر دی هو الذی ارسل رسوله بالهدی ودین الحق لیظهره
علی الدین کله :- الله تعالی هغه ذات دی چه را الیږلی ئې دی رسول خپل

DR. M. NI
Professor of Hadees:
JAMIAT-UL-ULOOM-UL-ISLAMIA
Allama Banori Town Karachi Ph. 4918314

شیخ الحدیث، جامعۃ العلوم الاسلامیہ علامہ بنوری ٹاؤن کراچی
فون: ۴۹۱۸۳۱۴

تاریخ ___________

Ref ___________

په هدايت او دين حق سره الخ

نن غرض دا چه د دې کتاب مقصد دا دی چه اسلام د سياست او کار حکومت په حق له هم لار ښودنه او رهنمائي کوي او دا کامل او مکمل دين او نظام د ژوند دے مولوي صاحب محترم په دې کوشش کښې الحمدلله کامياب شوے دے او ډير مکمل او صحيح کتاب ئې ليکلے دے الله دې دا کوشش قبول کړي او د ټول مخلوق د پاره دې ذريعه او سبب د هدايت وګرځوي آمين

نظام الدين شامزي
۱ ذيقعده سنه ۱۴۲۲ھ

۳ - بیامی ددی کتاب یوه نسخه دجمعیت علماء اسلام دکوټی ضلعی امیر ، اودبلوچستان صوبائی نائب امیر ، اودبلوچستان پخوانی صوبائی وزیر ، اود مدرسه دارالعلوم پشتون آباد شیخ الحدیث اومشرمهتمم مولوی نورمحمد صاحب دام الله برکاته ، ته دمطالعی اوتصحیح لپاره ورکړه ، چه نوموړی محترم په خپل وقت اومنطقه کی دعملی سیاست یوځلانده ځراغ دی ، دافغانستان داسلامی تحریک اواسلامی امارت رشتنی مخلص اولاربود دی، او په علم بوه زکاوت اوسیاست کی زما دتعریف محتاج نه دی ، الله عزو جل دی دمحترم ټول دینی ، علمی ، اجتماعی خدمتونه محنی قبول کړی . آمین

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العالمین والصلوة علی خاتم النبیین
مع آله الطاهرین وبعد فقد لاحظت من بعض المواضع
کتاب الاسلام والسیاسة لمولانا مطیع الله حفظه
الله تبارک وتعالی من آفات الاولی والآخرة فوجدته حافلاً
ومحتویا علی الذی صنف له فالمرجو من الله الدیان
ان ینفع به المسلمین من العلماء والطلبة وسائر الامة
لاسیما المجاهدین فی المعمورة والله الموفق والمعین
نمقه خادم مدرسه دار العلوم پشتون آباد
نور محمد عفی عنه
کوئټه

٤- اوبیامې ددې کتاب یوه نسخه دجامعة العلوم الاسلامیة د احادیثو او فقه استاد، او دجهاد او اسلامي سیاست او اسلامي خلافت پر موضوعاتو باندې ډیرو کتابونو مؤلف، دجهاد او دافغانستان داسلامي تحریك او اسلامي امارت رشتني مخلص مولوي فضل محمد صاحب ته دمطالعې او تصحیح لپاره ورکړه چه هغه هم ترمطالعې نه وروسته پرخپل شخصي کاغذ لیك او لاسلیك سره لاندنۍ تقریظ ولیکی، چه دلوستونکو په خدمت کې عین هغه دده الفاظ اولیك وړاندې کوم الله تعالی دې ورته په دنیا او آخرت کې احسنه جزا او اجر ورکړي.

فضل محمد استاد حدیث
جامعة علوم اسلامیه
بنوری ٹاؤن کراچی۔

الجهاد مختصر طریق الجنة
جہاد جنت کا مختصر ترین راستہ ہے

مکرمی ومحترمی جناب ________ السلام علیکم!

تاریخ ۲ ذوالقعدة ۱۴۲۱ھ
۲۹ جنوری ۲۰۰۱ء

بسم الله الرحمان الرحیم

حامداً ومصلیاً ومسلماً

اما بعد: دا الله تعالیٰ جل جلاله نازل کړے دین، او په محمد رسول صلی الله علیه وسلم باندې نازل کړے شریعت او نظام د اسلام یو همه جهت او همه گیر دین، او بنی نوع انسان له پاره کامل مکمل بلکه اکمل قانون او دستور دے،
په دے کښې د علم احکام جدا دي، او د عقائدو جدا دي، اخلاقیات جدا دي او معاملات جدا دي عبادات جدا دي او سیاسات جدا دي، داخلي امور جدا قانون لري او خارجه پالیسي بیل قانون لري په دے جامع دین کښې د ژوند یا د ژوندګۍ د ټولو قواعدو هم شته او د حکامو حاکمانو له پاره ضوابط او اصول هم شته،
د انسان د انفرادي ژوندګۍ تعلیم هم شته او اجتماعي ژوند ټولو د پاره اوامر او نواهي هم شته دے گویا الیوم اکملت لکم دینکم واتممت علیکم نعمتي ورضیت لکم الاسلام دینا د سورة مائده دا آیت اعلان کوي چه مسلمان په خپل ژوند کښې په هیڅ شي کښې هیڅ یو قوم ته محتاج نه دے او د مائده نه دے، له دغې وجې نه حضرت امام غزالي رحمة الله علیه فرمائي چه په مسلمانانو باندې واجب دي چه د دوې هر قسمه خپل کاریګر موجود وي چه په هیڅ هنر کښې مسلمان ملت غیر مسلم اقوام ته محتاج پاتې نه شي،
چه اسلام په خپل د ومره عام قانون لري او ضرورت د دے خبرے ته دے چه په موضوع باندې څه کار اوشي او مسلمانانو ته او غیر مسلم اقوام ته دا خبره څرګنده شي چه اسلام په هره زمانه او په هر حالت کښې د انسان د هر مشکل حل او علاج له پاره کافي شافي دے

کل عام وانتم بخیر

بیا نن صبا وخت کښې الحمدلله په افغانستان کښې د طالبانو له اسلامي خلافت وسیاست
قائم شوی دی نو د دې خدمت ته او د دې کار ته لا هم ضرورت زیات شوی دی
الحمدلله په دغه سلسله کښې ځوان او عزتمند ورور او ښائسته عالم دین،
مولوی سمیع الله عاقل صیب یو جامع کتاب په نوم د اسلام او سیاست
تصنیف کړی دی چه په مخکښې سره به انشاء الله دا ضرورت پوره شي
ماده د دې کتاب متوازنه او ډیر ښو ځایونه مطالعه کړی دی
مولوی صیب یو لیکوال او صاحب قلم او د خپلې افغانۍ ژبې یو ادیب دی
نعمتي په ادیبانه ژبه کښې دا کتاب تالیف کړی دی او د ډیرو مسلمانانو
د زړه ارمان یې سر ته رسولی دی د حضرت ډاکټر مفتي نظام الدین
صیب په فرمائش ما هم یو څو کلمې اولیکلې الله تعالی دې مؤلف ته
د دې محنت یو عظیم اجر ورکړي او دا کتاب دې په خپل دربار کښې
قبول کړي آمین

وصلی الله تعالی علی نبیه الکریم

مفضل محمد عزیز یوسفزی
استاذ جامعه علوم اسلامیه
بنوری ټاؤن کراچۍ
دوشنبه ۲ ذوالقعده ۱۴۲۱ھ

۵ - اوبل می یوه نسخه دخپل وقت ومحقق مدرس اوپرثحه موضوعاتو بـاندی لکونکی ، دکمونستی دوری اوشوروی یرغلگرو په خلاف کلك دلیر مجاهد محترم استاد مولوی نظرمحمد صاحب کدنوی ته دمطالعی اوتصحیــح لپـاره' ورکړه هغه محترم هم ترمطالعی نه وروسته خپل تقریظ په لاندنی ډول لیکلـی چه محترمو لوستونکو ته په هغه خط اوترتیب وړاندی کوم ، محـترم مولـوی صاحب خپل په تقریظ کښ یوه ملاحظه لیکلی هغه داچه دعام انتخاباتو ځخه تعبیر په ریفرنډم سره سوی دی ، ددی ملاحظی په هکله باید په مختصـر ډول ووایم چه دعام انتخاباتو اوریفرنډم ترمنځ فرق سویدی ، هغه داسی چـه پـه اوسنی اصطلاح دعامو انتخاباتو له لاری یوڅوك منتخب کیږی هغه دامیر پـه انتخاب کی دوکیل حیثیت لری ، خپله امیرنه دی چه انتخاب په هرڅوك نـه سی کولای، اوهغه عام انتخابات چه ټول خلك نراوښځه کـافر اومسـلمان دامیر انتخاب کوی هغه ته په اوسنی اصطلاح ریفرنډم وائی کیدایسی چـه دا په اسلامی نظام کی جائزنه وی .

باسمه تعالیٰ حامداً ومصلیاً ومسلماً، اما بعد، محترم ورور مولوی مطیع الله صاحب دام الله برکته
زه وختاً وختاً تر سره سم یو اهم کتاب "د اسلام او سیاست" تالیف کړی دی، جزاه الله خیراً،
او ډیر کمال یې دا شوی دی چې د دې کتاب لوی مطالب یې په ډیرو آسانو الفاظو کې ژباړلي دي، لکه چې متأسفانه
نن صبا د خپلو ترمیمو دا شعار ګرځېدلی دی، او په نتیجه کې یې د حسن او توضیح تر ورځو فضا میځ تر را
ولی الله المشتکی، سه به بعد ګفتن زبان من مګردان + زبان من زبان من مګردان +
بنا ځکه امید دی چې دا کتاب به د عوامو او علماؤ په منځ کې مقبولیت حاصل کړي، او خپل لوستونکي به په شرعي
سیاسي احکامو خبر کړي، الله تعالیٰ دې د مؤلف دپاره د ثواب ذریعه او د مسلمانانو دپاره د خیر وسیله
وګرځوي، افسوس چې مارا تم الحروف د وخت د کمبود او د خپل زیات مشغولیت په وجه نشو کولای چې ټول مضامین
یې په غور وګورم، بیا هم ځینې مضامین چې ما وکتل نو ما ته د شریعت په رڼا کې خوبنې را غلل، مګر یو څو
د ما مور اقتباساتو ګورم چې په مستقبل کې یې تکمیل سوی او په "رفع ندم" کې تعبیر سوی دی، دا د تمام علماء افغانستان
دیوه شرعي فیصله څخه ګرځېدل چې په ۱۳۶۸ هش کې چاپ او نشر سوی وه، برخلاف او غیر صواب
را ته ښکاره سو، ځکه چې څرګنده ده چې د اسلامي ریاست دپاره د منتخب شخص معیار او شرعي اوصاف
ضروري دي، د ا رنګه د رایه ورکوونکو اشخاصو دپاره هم معیار او شرعي صفتونه په کار ته سوي دي،
بنا ګړندی لویه امانت سپارل نه خپل مستحق ته د امت مسلمه د ټولو هغو ښیارانو، علماؤ، قومي او
نظامي مشرانو ذمه واري ده، او مسي، عوام او ښځې د دې دیني امانت د معرفت او شرعي نصاب په
وجه نسي کولای چې دا مهم امانت خپل اهل ته وسپاري، نو ځکه د اصحابو رضه او تابعینو رحمه الله په
زمانه کې هېڅ کوم قسمونه ټپه دې باب کې توجه سوی نده او نه شي ثبوت لري، په دا سې حال
کې چې نن زمانه متأسفانه فاسقان، د نیوي عاشقان، او بیګانه پرستان، هم په نامه مسلمانان یو دي
او د ډېرو عوامو او ښځو په نسبت د دوی تفاوت د ځمکي او آسمان په شان دی سه هر مرتبه از وجود حکمی دارد +
ګر فرق مراتب نکنی زندیقی + سه نه هر مرد مرد و نه هر زن زن است + خدا پنج انګشت یکسان نکرد +، او دا هم
ښکاره ده چې نن صبا د وټ ورکوونکو اختیار په صورت کې مذکوره ولسونه اصلاً تر مقدس دین خپل قومي،
تنظیمي، او شخصي اغراضو ته ترجیح ورکوي، او د کافرانو په تقلید نن عصر په ټولو اسلامي هیوادو کې دی
غیر شرعي مسلک جوړ یا دا شو کړی دی چې نتیجه تابع د اخسي ارذل او د دی شعر مصداق وي، سه
کند همجنس با همجنس پرواز + کبوتر با کبوتر باز با باز + نو باید د اقول ته د علامه اقبال رحه توجه وفرمایئ،
سه ګریز از طرز جمهوری غلام پخته کاری شو + که از مغز دو صد خر فکر انسانی نمی آید +، او باید د اقول د مولانا
مثنوی هم په غور په نظر کې ولری سه ګفت هر داروکه ایشان کرده اند + آن عمارت نیست ویران کرده اند +
چونکه دې مختصر مضمون چوره وسع بیان په حجة الله البالغة ج ۲ ص ۱، غیاث الامم ص ۴۹، الامامة العظمی ص ۱۸۰، تکملة
فتح الملهم ج ۳ ص ... او دا سې نورو معتبرو کتابونو کې را غلی دی، همدا رنګه د علماؤ د شرعي فیصلې د مضمون تائید
چیندلو د مؤلف لوی کتاب ص ... کې د انتخاب او بیعت تر مینځ فرق، تر عنوان لاندې توجیهاتو تحریر په ښه شان شوی دی،
نو ځکه ما ما جوړه بنده په نظر مختص کې د نوی غور په دا هم ورته احساس کړ چې خپل فیصله کې نظر هم د ښندارو په حاشو
حضور ته و رسا نه یې کړم، والله اعلم بالصواب، خو د نورو قضاوت به دوی پورې اړه لري، یو شاعر فرمایي سه
بقا بصاحب نظر ګوهر خود را + عیسی نتوان ګشت بتصدیق خری چند + علامه محمدي صاحب فرمایلي دي سه
حق به واپیم خو د دې کتاب خپل وجدان ته سپارم + د قضاوت امین له اهل د زمانه کومه +
څو شاته کې په دې شو سره کوم سه اندکی با تو ګفتم غم دل ترسیدم + که دل آزرده شوی ورنه سخن بسیار است +
ان ارید الا الاصلاح ما استطعت وما توفیقی الا بالله، والصلوة علی رسوله، الراقم نظر محمد کرخي مسلم اولیا ...

۱۴۲۱/۱۲/۱۳ هـ

اوبوه نسخه یې دخو سلف خیر خلف ، دمدرسه جامعة اسلامیة منان
چوک مهتمم او شیخ الحدیث ته دمطالعې او تصحیح لپاره ورکړه چه هغه محترم
هم خپل تقریظ په هغه درخواست باخوښۍ لیک باندې لیکلی چه د محترمو
لوستونکو په خدمت کې وړاندې کوم ، جزاه الله تعالى احسن الجـزاء فـي
الأولى والعقبى بما يحبه ويرضاه. آمين

بسم الله الرحمن الرحيم

جناب محترم الحاج مولوی حبیب الحق صاحب حفظه الله تعالى ورعاه

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

وبعد : محترما د الله عزوجل په توفيق سره سی، دغه زیار او محنت چه
پس د اسلام او سیاست ترعنوان لاندی ، په کومه موضوعاتو باندې دخپل علم
او پوهې مطابق ، خالص ددین دخدمت په جذبه او مقصد شو ولیکله ، دا چه
پوهېږی کې هم شه د آیتونو ترجمه او تفسیر، دشه حدیثونو ترجمه او تشریح،
او دشه فقهي مسائلو ترجمه او توضیح، او دشه تاریخي وقایعو ته دکتابونو په
حواله اشاره سوی ، پاستدلال په ویل سوي دی.

هیلی لرم چه دا ستاسو کتاب په شکل چاپ او ټولنې ته وړاندې سی،
خو لوم چه ستاسو ودرانه حضور ته لی وړاندې کړم، ترڅو ستاسو خرسندی
دیو مشفق استاذ او مشر ترنظر تیر سی ، او ستاسو د علم او پوهې له مخې که چیرته
کومه غلطي یا د مذهب څخه مخالفت یا په استدلال کې خطا سوی وی ،
هغه اصلاح سی، او ترڅو د اسلام او مسلمانانو په ښه فائده تمام سی ،
او دا کتاب ستاسو په تزکیه سره مزین سی ، او زه بنده ته حوصله نوره هم
لوړه سی ، او دا به ستاسو د رحمت او شفقت څخه لری نه وی . مع السلام

تاریخ / شوال / ۱۴۲۱ هـ

هیله لرونکی : ستاسو خیر تلمیذ [illegible]

مولوی مطیع الله (عاقل)

الحمد لله على نعمائه والصلاة والسلام على أفضل أنبيائه وعلى آله ورفقائه — وبعد فقد أمعنت
في هذه المجموعة من الاسلام والسياسة برمتها وتعمقت ما فيها جملة فألفيتها مقرونة بالتدقيق
والصواب لما فيها من كثرة الخواص والاسرار وتبصرة لأولي الألباب والعقلاء ومعجبة للنواظر
ومطربة للخواطر تميل إليها الطباع وتلتذ بها الأسماع والكثير ما نقل المؤلف العاقل من
آيات الله العظام وأحاديث نبيه الكرام وأقوال الفقهاء الأعلام المعروفين
بالتحقيق والانصاف فأغنى الله عالم بفضله العميم وجزى الله مؤلفه بشكر سعيه ورفع
الكتاب يوم المزيد والثواب بحرمة النبي الكريم وآله والأصحاب
العبد الأثيم الحاج ! نور حبيب الحق حقاني عفي عنه الباري

۷- اوبیا دښه نیت اونیك عاقبت په خاطر ، اویا ددی لپاره چه خدا نخواسته داسلامی امارت دپالسی سره ټکر ونه لری ، اویایه شخصی مخالفین په مخالفت توجیه نه کړی ، نومی یوه نسخه کتاب دپورتنی غوښتن لیك سره د افغانستان داسلامی امارت دستری محکمی مرستیال اوپه کندهار کی دتمیزرئیس اودامیر المؤمنین د جهادی مدرسی استاذ ډیر قدرمن اومحترم الحاج مولوی شهاب الدین دلاور صاحب ته ورکړی ، ترڅو هغوی یه په خپله مطالعـــه کـړی اوکــه ضرورت وو دتمیز دعلماء کراموڅخه یوکمیسون ورته تعین کـړی ، ترڅــو نورهم داکتاب دمسلمانانو دښه استفادی وړ وګرځی ، داڅکه چـــه ددلاور صاحب علمی اوسیاسی پوهه اوتجربه دهیچا څخه پټه نه ده ، ځکـــه خــو دلاور صاحب د خپل سیاسی بصیرت په اساس په پاکستان اوسعودی عربستان کی داسلامی امارت سفیر مقررسو ، اوبیا دعلمی اوفقهی زکـــاوت پربنیـــاد داسلامی امارت دستری محکمی مرستیال اودتمیز درئیس په حیــث مقررســو ، اوبیا دتدریسی تجربی په نظرکی نولوسره دطالبانو دډیر خواهش اودعـــالیقدر امیر المؤمنین په غوښتنه ددرو ساعتونو لپاره په جهادی مدرسه کی دتدریـــس وظیفه اجراکوی ، زه دقدرمن ، محترم دلاورصاحب بی حده ممنون یم چـــه دخپل ټولو مصرفیتونو سره ئی بیاهم نه یوازی داچه خپل قیمتی وقـــت ددی کتاب ومطالعی ته ورکړی ، بلکی دمحترم په قول دتمیز دعلمـــاؤ څخـــه ئـــی یوډری کسیز هیئت هم ددی کتاب دمطالعی لـــپاره تعین کړی وو ، اوترخپل

پوره څېړنې نه وروسته ئې دا لاندنې تقریظ په کمپیوټر لیکلی دی، قدرمن مشر استاذ چه کومه ملاحظه لیکلې ده دغه په هکله باید ووایم ، که څه هم ددې شخص دالفاظو څخه دعربانو سره تعصب معلومېږي ، خو تاریخي حواله ئې دنورو تاریخي کتابونو په استناد واقعیت ارصحت لري ، زموږ مطلب هم دتاریخي حوالې ثبوت دی ، دمصنف صفائي اواخلاص مطلوب نه دی .

الله عزوجل دې د دنیا اوآخرت کامیابي درېـه برخـه کړي، اللهم ارضـی عنه وارضاه بمایـحبه ویرضـاه . آمین

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لاهله والصلوة على اهلها – وبعد :

څرنگه چې الله جلت عظمته مسلمان ته د دې توفيق ورکوي چې د ژوند په مختلفو شعبو کې په مختلفو لارو چارو د الله د مقدس دين خدمت وکړي نو دا پر هغه باندې د الله جل جلاله يو عظيم نعمت او مرحمت دی ، هغه څوک به ډېر نيکمرغه وي چې خپل وس او استعداد يې د خدای د دين د خدمت لپاره پکار اچولی او د وخت د ارزښت او اهميت نه په استفادې سره يې خان د خدای تعالی د دې عظيم نعمت څخه برخمن کړی وي

زموږ په اسلامي جامعه کښې ډېر داسې کسان شته چې د علم ، جهاد ، دعوت ، تدريس ، تاليف او داسې نورو په برخه کې يې خان ستړی کړی او خپل مسئوليت او مکلفيت يې پرځای کړی دی .

د دې کتاب (اسلام او سياست) مولف محترم (مولوي مطيع الله "عائل") هم د هغه خلکو نه صف کې دی چې د اسلامي جامعې لپاره يې په دې تاليف سره يو ستر او نه هيريدونکی خدمت وکړ ، خدای تعالی دې يې پخپل دربار کې خپنې قبول او مقبول وگرځوي . نوموړی چې يو ځوان ، با استعداده ، او محقق عالم دی ؛ د ډېر زيار او کوښښ نه وروسته يې د قرآن ، حديث او مستندو علمي کتابونو او ماخذونو په حوالو باندې يو داسې نايابه کتاب ليکلی چې په حاضر عصر کې ورته سخته اړتيا ليدله کېدله .

موصوف مولوی صاحب ، پخپل دغه کتاب کې چې (اسلام او سياست) دی ؛ د موضوع په اړوند ۷۹ عنوانه مختلف بحثونه راټول کړي چې هر يوه يې د کتاب محتوی خورا اوچته کړې او هر يو جدا د بحث او غيرنې قابل دی ، خو متاسفانه چې د زياتو مصروفيتونو په وجه ما پخپله بعضې موضوعات په دقيق ډول او بعضې سر سري مطالعه کړل چې واقعا د اسلامي سياست په لاره کې د هرچا لپاره يو مفيد او گټور اثر دی . خو دومره بايد عرض کړم چې په ځينو موضوعاتو کې لکه افغانستان ته د صحابه کرامو (رض) د راتگ او د هغوی لخوا د افغانستان فتح کېدلو کې له ځينو داسې تاريخونو نه استفاده شوې چې په هغه کې اسلامي معتقداتو ته احترام نه دی شوی . دغه تاريخي ماخذ چې "افغانستان در مسير تاريخ" دی غلام محمد غبار ليکلی دی ، نوموړی د صحابه کرامو جهاد ، چې غير اسلامي منطقو ته يې د اسلام رسول هدف و ؛ د تعصب په اساس عربي لښکرکشي معرفي کړې ده . چې دا د اسلامي نظر يې سره سمون نه خوري . نو که په دې اړه مناسب تجديد نظر وشي ښه به وي .

زه په اخير کې د محترمو لوستونکو څخه دا اميد لرم چې دغه نايابه تاليف د خپل ځان سره ولري او په تېنگه استفاده ورڅخه وکړي او د کتاب مولف (مولوی مطيع الله عائل) ته د دې عظيم محنت او خدمت په بدل کې له الله جلت عظمته نه عظيم ، عظيم اجرونه او عوضونه غواړم . الله تعالی دې د دغه تاليف چې يو خير جاری دی ؛ زموږ د مسلمانانو ورونو د استفادې سبب وگرځوي .

والسلام
۶/۴

الحاج مولوی [illegible] "دلاور"

د سترې محکمې مرستيال او [illegible]

۸- او بیا می یوه نسخه دیوعلمی کورنی روښانه ترراغ دخیر سلف خیر خلف ددارالعلوم الحقانیة پشاور ممتاز فارغ التحصیل . دامیر المؤمنین دجهادی مدرسی پیاوړی مدرس ، او دخپل وخت مقبول ترین عالم ، دالحاج مولوی خدایداد صاحب رحمة الله تعالی علیه نیکه صدقه جاریة . الحاج مولوی عبد الحکیم صاحب دام الله فیوضاته وبرکاته ، ته تقدیم کړه چه هغه هم ترمطالعی نه وروسته دکتاب په هکله خپل نظر په لاندی لیکڼی کی څرګند کړیدی ، تقبل الله عنه جمیع جهوده فی سبیل العلم والدین والاسلام والمسلمین . آمین

بسم الله الرحمن الرحیم ط

الحمد لله وحده وکفی والصلوة والسلام علی رسوله الذی اصطفی وعلی آله واصحابه المهدیین وعلی اتباعه الی یوم الدین وبعد

الله تعالی په هر زمان کښی موافق دخپل حکمت سره ددین پالون کی په مختلفو قسمونو کښی پیدا کړی دی یو قسم دغه قسمونو څخه تالیف دی په هغه امورکښی چه د الله تعالی د مکلف مخلوق احتیاج ورته وی چونکی مولوی صاحب مطیع الله عائل ددین دنورو خدمتونو په لړکښی خدمت د تالیف دکتاب (اسلام او سیاست) په مفیدطرز کړی دی نو الله تعالی دغه کتاب ده دپاره صدقة جاریه وګرځوی هالا دغه کتاب بعض مضامین وکتل څما په قاصر فکر کښی خو ډیر مفید را ته معلوم سوه نو انشاء الله تعالی نورئی به مفید وی څکه چه زکړه مشهوره مقوله دی (منت منو نه خروار) وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین (مولوی عبد الحکیم الحقانی)

عبد الحکیم عفی الله عنه

۱۴۲۲/۲/۲۱ ق

ټېـ او بيا مې ددې کتاب يوه نسخه ديو علمي کورني خير خلــف ، دغزنــي
دنانګه ملا صاحب رحمة الله تعالى عليه دکورنۍ روښانه څراغ ، اود فخرآســيا
دارالعلوم ديوبند ممتاز فارغ التحصيل اومفتي، اوسابق استاد ، اوتقريبا لس کالــه
ددرالعلوم ديوبند دمرکزي جامع مسجد امام اوخطيب پاتــه ســوی دی ، پــه
سعودي عربستان کې دجامعة الملك سعود فارغ التحصيل، چه په مختلفو علمــي
مسابقو کې ئې تقريبا نيم کلو سرد زر دتفوق مډالونه اخستي دي ، او حالا پــه
کراچي کې دجامعة العلوم الاسلامية علامه محمد يوسف بنوري ټاون داحــاديثو
استاد ، اود جامعة العلوم الاسلامية دعربي مجلې "البينات" مشر ليکونکی اوترتيب
کونکی حضرت مولانا **عبد الرؤف خان** صاحب غزنوي ته دمطــالعې لپــارد
ورکړی ، چه هغه محترم هم ترمطالعې وروسته پرځپل شخصي کاغذ په ښــکلي
خط او لاسليك سره دکتاب په هکله خپله رايه دلاندني تقريظ په شکل ليکلې ،
چه محترمو لوستونکو ته په هغه خط سره وړاندې کېږي ، الله تبارك وتعــالى دې
دده تــه نور هم ددين ، علم ، اسلام اومسلمانانو دخدمت توفيق ورکــړي ، او
الله تعالى دې کړي خــدمتونــه ټول محض قبول کړي ، او الله تعالى دې څخــې
راضي سي . آمــين

بسم الله الرحمن الرحيم

ABDUL RAUF KHAN AL-AFGHANI
TEACHER OF HADITH AND EDITOR OF
ARABIC MAGAZINE "AL BAYYINAT"
JAMIA T'UL ULOOM-UL-ISLAMIA ALLAMA
MOHAMMAD YOUSUF BANORI TOWN
KARACHI 74800-PAKISTAN.
PH : 4943333 - 4913570

عبد الرؤوف خان الأفغاني
أستاذ الحديث النبوي ورئيس تحرير مجلة "البينات" العربية
بجامعة العلوم الإسلامية علامه محمد يوسف بنوري تاؤن
كراتشي ٧٤٨٠٠ باكستان
هاتف: ٤٩٤٣٣٣٣ - ٤٩١٣٥٧٠

التاريخ ٢٧ صفر ١٤٢١ھ

DATE : ____________

الحمد لله وحده ، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده ، وبعد :

وطالبانو د اسلامي تحريك په برکت سره په اکثرو حصو د افغانستان کي اسلامي نظام نافذ شو ، او بحمد الله د اسي مبارکه فضاء قائمه شوه چه په تيرو نژدې پيړيو کي تاريخ د دې مثال نه شي پيش کولای . او هره فيصله د اسلام د مبارکو اصولو او د شريعت بيضاء په رڼا کي کيږي . له همدې جمله د اسلامي سياست پيژندل ، د اسلامي سياست او شيطاني سياست په مينځ کي فرق کول ، د اسلامي سياست د اهمو امورو څخه خبرول ، او اسلامي سياست ته عملي شکل ورکول د حاضر وخت له اهمو ضروريتونو څخه دی .

مولانا مولوي مطيع الله عائل صاحب - بارك الله في جهوده - "اسلام او سياست" په نوم د اکتاب ليکلي دی ، او يقيناً ډير محنت او کوشش ئي کړي دی ، او له مختلفو ماخذو نو څخه ئي اهم او ضروري احکام چه له اسلامي سياست سره مناسبت لري په ډير ښه ترتيب سره جمع کړي دي . او د ډ کو شو ضروري امورو حل ئي په ډيره ښه توګه پيش کړی دی . خصوصاً د بيت المال احکام او د خراج او ګمرکي د محصول په باره کي چه مولانا عائل صاحب کوم تفصيل کړی دی څخه ډير د قدر وړ او د حاضر وخت د ډيرو ضرورت پوره کوي . ما ته که څه هم د تفصيلي مطالعې وخت نه شو بيدا خو بيا هم له ځينو مختلفو ځايونو څخه مي د اجمالي مطالعې سعادت حاصل کړ ، او دا باور کوم چه دا کتاب به د لوستونکو د پاره ډير مفيد او ضروري وي ، الله دې وکړي چه دا کتاب په خواصو او عوامو کي مقبوليت حاصل کړي . او د مؤلف د پاره د دارينو د کاميابۍ او سرخروئي سبب وګرزي .

وما ذلك على الله بعزيز . كتبه الحقير عبد الرؤوف الغزنوي

الأستاذ بجامعة العلوم الإسلامية علامه بنوري تاؤن كراتشي باكستان